# ایمان پلورونکي

دویم ټوک



لیکوال
عنایت الله

Ketabton.com

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم ټوک

# ایمان پلورونکي

د سلطان صلاح الدین "ایوبي" د زمانې رښتیني کیسې
( د ښځو او ایمان جنګونه )

لیکوال : عنایت الله "التمش"
ژباړن : عبدالـواسع "صابـر"

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

## د کتاب پیژندنه

د کتاب پښتو نوم : ایمان پلورونکی

د کتاب اردو نوم : داستان ایمان فروشون کی [سلطان صلاح ایوبی کے دور حقیقی کهانیان عورت اور ایمان کی معرکه ارائیان] .

لیکوال : عنایت الله " التمش "

ژباړن : عبدالواسع " صابر "

د چاپ واک : د پیغام خپرندوی مرکز سره خوندي دی

اوسنی پته : ډهکی منورشاه قصه خوانی بازار پېښور
قندهار ارگ بازار صداقت کتابخانه
ننگرهار جلال آباد ښار د مخابراتو چوک
عبدالمجید مومند کتابخانه ............

تیلفون : ۲۵۶۳۸۵۳ - ۰۹۱

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په قاهره کې بغاوت او سلطان " ايوبي"

فلسطين لا د صليبيانو تر پښو لاندې زګيروي کول، بيت المقدس په صليب پورې تړاو درلوده ؤ، له دغه سپېڅلي ښاره لا وينې بهېدلې، د دغو خاېونو مسلمانان چې د صليبيانو د ظالمانه تيري په شکنجو کې راغلي وه ، مغلوبېدل، پړتکي يې وهلې، او د صلاح الدين ايوبي انتظار يې کاوه، هغوی ته دا پيغامونه رسيدلی وه ، چې صلاح الدين ايوبي د فلسطين ځمکو ته داخل شوی او د شوبک کلا د مسلمانانو په واک کې راغلې ، دا د هغوی له پاره زيری و، خو دغه زيری هغوی ته د اجل پيغام ثابت شو، صليبيانو د شوبک د ماتې بدله د بيت المقدس او نورو ښارونو او کليو له مسلمانانو اخيستل پيل کړي وو، هغوې د مسلمانانو مړاوي کول غوښتل، چې جاسوسي او ځارګري ته زړه ښه نه او د حملې پر وخت د مسلمانانو د مرستې جرئت ونه کړای شي، تر ټولو زيات ظلمونه د کرک پر مسلمانانو کيدل ، تر شوبک ورسته کرک يوه لويه کلا وه، چې عيسايانو پرې وياړ کاوه او همدغسې وياړ يې پر شوبک هم کاوه، خو د هغوی دغه وياړ د صلاح الدين ايوبي غوره چالونو او د هغه د مجاهدينو زړورتوب د شګو د زرو په څېر خور وورکړی و، اوس صليبيانو د کرک استحکام غوښت نو د هغو ځايو پر مسلمانانو يې تېری يو احتياطي تدبيرو ګڼلو، له صليبيانو سره وېره پيدا شوې وه، چې مسلمانان به صلاح الدين ايوبي ته اطلاعات ورکوي، له دې امله يې د دغه ځای مسلمانان د شوبک په څېر په بېګار کمپونو کې واچول.

... د فلسطين سويه زمونږ ستر عزم دی، خوله کرک نه د مسلمانانو را ايستل تر هغې هم بايد ستر مقصد وګڼل شي د اطلاعاتو د څانګې مشر سلطان صلاح الدين ايوبي ته ويل : دا د طلعت چنګېز په نامه يو ترکي ؤ حې د اطلاعاتو شپږ تنه يې له شوبک نه د تښتېدونکيو عيسويانو په لباس کې کرک ته لېږلي وو، هغوی درې مياشتې وروسته راغلي وو، د علي بن سفيان په موجوديت کې يې سلطان صلاح الدين ايوبي ته د هغه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای حالات داسې ښکارول ، چې صلیبي پوځ له شوبک تبنتېدلی او کرک ته رسېدلی په ډېر بد حالت کې دی، دغه جنګ بایللی عیسوي پوځ چې له شوبکه کرک ته ولاړ، د هغه ځای پر مسلمانانو یې ژوند حرام کړ، د مسلمانانو پرله پسې بندیانول پیل شول، مسلمانو ښځو له کورونو څخه وتل پرېښودل، چېرې یې چې پر کوم مسلمان شک راته، هغه یې نیوه او بېګار کمپ ته یې استاوه، هلته به له انسان نه داسې شی جوړېده چې خبرې یې نشوی کولای ، د سهار له تیارې به یې د ماښام تر تیارې پورې کار پرې کاوه، پر وچه ډوډۍ او اوبو یې ژوند تیرولو " مونږ همهلته تر ځمکې لاندې چارې سرته رسولي ، هلته چې څومره مسلمانان او د جګړې وړ دي ، هغوې له دې ځایه باید وویستل شی او په شوبک کې د پوځ په لیکو کې تنظیم شي، ترڅو چې د مرستې د رارسېدلو نه پرته پر کرک حمله وکړای شي .

چنګیز ترکي وویل: زمونږ په شته والی کې ځینی کسانود هغه ځای څخه د راوتلو اظهار هم کړی وه خو دا کار له دې امله ګران دی چې هر لوري ته صلیبی پوځ پروت دی او هغوې خپلې کورنۍ او په ځانګړې توګه ښځینه د عیسویانو لاسو ته پرېښودلای نه شي، په سملاسی توګه د دې خبرې اړتیا ده، چې پر کرک حمله وکړای شی او مسلمانانو ته نجات ورکړل شی .

تردې د مخه د اطلاعاتو یو کس دا خبر ورکړی وُ، چې د صلیبیانو نظر دا دی، چې سلطان صلاح الدین ایوبی به کرک کلا بند کړي، نو د صلیبیانو یو لښکر چې د یو صلیبي حاکم ریمانډ تر قوماندې لاندې دی، د شا له لوري حمله وکړي، سلطان صلاح الدین ایوبی لا د مخه خپلو قوماندانانو ته ویلي وو، چې صلیبیان به د شا له لوري حمله کوي، د دې وړ حالاتو له پاره هغه زیات شمېر پوځ ته اړتیا لرله، هغه د چنګېز د لهږلو پر وخت علی بن سفیان ته وویل د احساساتو غوښتنه خو دا ده چې مونږ باید په سملاسی توګه پر کرک حمله وکړو، اټکل کوم چې د هغه ځای مسلمانان په دوزخ کې پراته دي، خو د حقیقت غوښتنه دا ده چې د خپلو صفونو له

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


مستحکم کلکولو پرته یو ګام هم پورته نه کړم، ګزار هغه مهال پکار دی چې باور دې وي اغېز یې ښه وی، مونږ هغه مېړمنې او کوچنیان هېرولای نه شو چې د دښمن له لاسه خوار او ذلیل وژل شي، هغوی زمونږ بې نومه ورکي شهیدان دي، دا د قوم ستره قرباني ده، زه د هغوی د عزت او پت له پاره فلسطین نیول غواړم، که زما هدف دا نه وي نو بیا د جګړې مقصد ډاکه او لوټ تالان پاتې کېږي، هغه قوم چې خپلې کوچنۍ لوڼی او زامن هېر کړي، چې د دښمن د تېري له امله خوار او ذلیل ووژل کیږی ، داسې قام به بیا د غلو او لارې شوکوونکیو یوه ډله وي، د دغسې قام وګړي بیا له دښمن نه د انتقام اخیستلو پر ځای پخپله یو بل لوټوي، او یو بل ته دوکه ورکوي، د هغوی حاکم د قام په لوټنه مزې چړچې کوي، کله چې بیا دښمن هغوی کمزوري ووینی او یرغل پرې وکړی نو دوی بیا پوچ شعارونه ورکوي او قام ناخبره ساتي، له دښمن سره د پردې تر شا جوړ جاړی کوي، د خپل هیواد یوه برخه ځمکه او وګړي دښمن ته سپاري او باقی پاتې یې خپله واکمني جوړوي، ځکه هغه پوهېږي، چې دښمن یې نه بخښي، دا څو ورځې مزې چړچې په دې خاطر کوی چې د قام د وینو اخري څاڅکې هم په ډیر تلوسه ژر ژر وڅښي .

سلطان صلاح الدین ایوبي د داسی بې شمېره قومونو نومونه واخیستل او وې ویل. هغوی پراختیا غوښتونکي وه ، د هغوې په وړاندې ترډې پرته بل هیڅ هدف نه ؤ، چې پر ټوله نړۍ دې پادشاهي وکړي او د ټولې نړۍ خزانې دې راټولې او تر خپلو پښو لاندې دې ډېرۍ کړي، هغوی د نورو قامونو عزتونه پامال کړل خو بیا یې خپلې لوڼه او خوېندې د نورو په لاسو بې پته شوې، د دغسې قامونو واکمن د پردیو په خاوره کې مړه شول او نوم او نښان یې هم پاتې نه شو، هغه قامونه چې غیرتمن او دا احساس یې لاره چې د هغوی خاوره او ناموس د دښمن په ناولو لاسو پلیته شوی او باید بدله یې واخیستل شي- مونږ هم حمله کوونکي یو او صلیبیان هم، خو فرق دا دی چې هغوی له لرې لرې هیوادو څخه زمونږ د دین د نوم او نښان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دورکاوي له پاره راغلي دي، هغوی د دې له پاره راغلي دي، چې د مسلمانانو مېرمنې تر خپل واک لاندې راولي او له هغوی نه صلیبیان وزیږوي، مونږ د هغوی له پت نه د دفاع په خاطر حمله کړې ده، که مونږ د کفري توپان مخه ونه نیسو، نو بې غېرته به یو، مسلمانان به نه یو، او که د اسلام دفاع په دې ډول سره وکړو، چې د دښمن په انتظار په کور کې کښېنو، چې کله دښمن حمله وکړي، مونږ به یې پر خلاف جنګیږو او بیا په ویاړ سره ووایو، چې مونږ د دښمن حمله په شاه وتمبوله ، نو دا زمونږ د بې زړه توب نښه ده، د دفاع طریقه باید داسې وي چې کله دښمن ستا د وهلو لپار توره له تیکی راباسي، چې ستا تورې د هغه غاړه لا پخوا پریکړې وی هغه چې سبا حمله کوي ! ته پرې همدا نن حمله وکړې .

علی بن سفیان وویل: زما سره د دې یو علاج شته چې له سلطان نورالدین زنګي نه دې مرسته او کومک وغوښتل شي او پر کرک دې حمله شی .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : دا به هم زیانمنه وي له زنګي سره باید دومره پوځ موجود وي، که صلیبیان پر مونږ د شا له لوري حمله کوي، چې زنګي پرې هم د شا له لوري حمله وکړای شی، زه د مرستی غوښتلو قایل نه یم، د دې پر ځای زه دا هم کولای شم، چې چریکي ګروپونه کرک ته ولېږم او پر صلیبیانو ژوند نا آرامه کړم، هیله من یم چې زمونږ د اطلاعاتو ځوانان به د وینو په بیه د صلیبیانو جرړې پرې کوي، خو انتقام به یې د هغه ځای له بې ګناه مسلمانانو اخیستل کیږي، چریکان خو به د خپل کار سرته رسولو وروسته ځانونه بچ کړي هغوی خو هر ډول مشکلات زغملای شي، زمونږ تش لاسي خویندې وروڼه به ځپل کیږي، البته پردې وړاندیز غوروکړه چې له هغې ځایه مسلمانې کورنۍ څه ډول راویستل کیدای شی ، په حمله کولو کې به یو څه وخت ته اړتیاوي، مونږ د پوځ په لیکو کې زیات شمېر ځوانان شامل کړي، له کرک نه هم ځوانان راغلي او را روان دي .

زه احساس کوم چې مونږ باید د هغه ځای د مسلمانانو په باب خپله پالیسي بدله کړو! دا خبره د صلیبیانو د جاسوسي شبکې مشر هرمن په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې حال کې وکړه، چې د کرک خو تنه صلیبي پادشاهان، د هغوی پوځي قوماندانان او اداري مسوولین موجود وه، هغوی چې څومره خپل ماتې خوړلي پوځ ته کتل هغوی ته پر خپل عقل غوسه او د انتقام احساس غالبېده، هغوی خپله ماته د هر ژر پر سوبه بدلول غوښتل، په هغوی کې یوائې د استخباراتو مشر هرمن داسې یو سړی وو، چې په سړه سینه یې سوچ او خبره کوله ، هغه لیدل چې صلیبي ملګري یې د کرک پر مسلمانانو څه ور ظلمونه کوي، هغه وویل: تاسې همدا ډول رویه په شوبک کې له مسلمانانو سره کوله، چې په نتیجه کې هغوی د مسلمانانو له بېګار کمپ څخه هغه مسلمان پوځیان وتښتول، چې مونږ خطر ناک جاسوسان ګڼل او بندیان کړي مو وو، زه باور لرم چې هغوی ته د هغه ځای مسلمانانو پنا او هغوی د شوبک د کلا نني حالات ځارلي وو، سربېره پردې صلاح الدین ایوبي چې پر مونږ د کلا کوم دېوال را وران کړ ، په هغې کې هم د دننه مسلمانانو لاس و، هغوی ستاسې له ناروا تېریو دومره په تنګ راغلي وو، چې د ځانونو په قربانۍ کولو یې د مسلمان پوځ مرسته وکړه او کله چې د مسلمانانو د پوځ د مخکې لښکر لومړی ټولی شوبک ته را ننووت، مسلمانانو یې لارښوونه وکړه .

یو صلیبي قوماندان وویل: څکه مونږ د دې ځای د مسلمانانو زور او قوت ختمول غواړو، چې د هغوی همت او څواک به له منځه ولاړه شي

هرمن وویل : د دې پر ځای که تاسې هغوی خپل دوستان کړي، له تاسې سره به مرسته وکړي، که تاسې ماته اجازه راکړی، زه به هغوی په مینه او دوستۍ سره له دین بدلولو پرته د صلیب مرستیالان کړم، زه به هغوی د مسلمانانو پر خلاف وه جنګوم .

یو مشهور صلیبي پادشاه ریماند وویل: هرمنه ! تاسې هېر کړي دي کیدای شی ته به یو څو تنو مسلمانانو ته مادي لالچ او هغوی به له مسلمانانو سره خیانت ته تیار کړی ، خو ټول مسلمانان د اسلامي پوځ مخالف او ټول قام غدار کېدلای نه شي .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرمنه! ته پر هغو خلکو دومره باور مه کوه ! مونږ هغوی دوستان کول نه غواړو، مونږ د هغوی نسل له منځه وړل غواړو، هر صلیبي چې له کوم مسلمان سره مینه او دوستي کوي، نو د دي مطلب دا دی چې له اسلام سره مینه کوي، حال دا چې زمونږ هدف د اسلام له منځه وړل دي ، په کرک، یوروشلم، عکا ، عسقلان او هر چېرې چې د صلیب واکمني ده، هلته مسلمانان دومره تنګ کړی، چې یا هغوی مړه شي او یا د صلیب په وړاندې په ګونډو شی .

هرمن وویل: له مسلمانانو سره چې څه کیږي، صلاح الدین ایوبی له هغی نه پرلـه پسې خبریږي، تاسې هغه هڅولی، چې ژر تر ژره پر کرک حمله وکړي، خو دا مو هېره کړېده چې زمونږ پوځ په سملاسي توګه د اسلامي پوځ د حملې په وړاندې مقاومت کولای نه شی .

فلپ اګستس وویل: د دې حل دا نه دی چې مونږ دې مسلمانان پر سر کښېنوو، تاسې تر اوسه هم د مسلمانانو جنګي بنديان ژوندي ساتلي دي، هغوی ولې نه وژنی؟

ګې آف لوزينان وویل: څکه چې ایوبي به زمونږ جنګي بنديان ووژني، زمونږ سره د مسلمانانو دری سوه یوشپېته جنګي بنديان دي، او له مسلمانانو سره زمونږ دولس سوه پنځه او یا بنديان دی .

اګستس وویل: آیا مونږ د مسلمانانو د وژنې لـه پاره څلور صلیبیان وژلای نه شو؟ زمونږ هغه بنديان چې لـه صلاح الدین ایوبی سره دي بی زړه او ډارن وو، هغوی د جګړی په ځای بنديان شول، هغوی ژوندي پاتې کېدل غوښتل، هغوی چې د مسلمانانو په لاسو ووژل شي نو ښه ده خو ته په ډاډ سره مسلمان بنديان ووژنه .

د سر لبنکر په عهده يو صليبي وويل: آيا كه تاسې لـه مسلمانو اوسېدنکو سره د وحشيانو په څېر رویه وکړی او مسلمان جنګی بنديان د وژنی، نو صلاح الدین ایوبی ته به ماتې ورکړای شی؟ دا مهال د پوځ پر وړاندې مسئله دا ده : که صلاح الدین ایوبی پر مختګ وکړي، د هغه مخه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



به څنګه نیسو، د شوبک کلا ترې څه ډول نیول کېدای شي؟ که د کرک ټول مسلمانان ووژني، بیا به څه کېږي؟ تاسې ولې د صلاح الدین ایوبي په څېر پراخ نظري نه غوره کوی؟ آیا هرمن ویلای شي چې په مصر کې د هغه ځمکېزې چارې څه او بریالیتوب یې څومره دی؟

هرمن ځواب ورکړ چې څومره هیله کېدای شي، تر هغې هم زیات څګه علي بن سفیان له صلاح الدین ایوبي سره په شوبک کې دی، ما په قاهره کې د هغه له غیر حاضرۍ نه ښه ګټه پورته کړې، د قاهرې مرستیال ناظم الدین فاطمیانو د ځان ملګری کړی. ناظم الدین د صلاح الدین ایوبي ځانګړی باوری سړی خو اوس زمونږ په لاس کې دی، فاطمیانو د پردې تر شا خپل خلیفه ټاکلی، هغه په قاهره کې دننه د بغاوت او د سوډانیانو د حملې انتظار باسي، زمونږ پوځي افسران په سوډان کې سوډاني پوځ روزي صلاح الدین ایوبي چې په قاهره کې کوم پوځ پرېښی، د هغې دوه تنه مرستیال قوماندانان زمونږ په لاسو کې لوبېږي، له هغې خوا به سوډانیان حمله کوي، په قاهره کې به پاڅون او فاطمیان به د خپل خلافت اعلان کوي.

ریمانډ وویل: تاسې دا هېر کړي چې صلاح الدین ایوبي څومره چالاک سړی دی، هغه به پر کرک حمله وځنډوي او قاهرې ته به ځان ورسوي! ؟

ریمانډ وویل: د هغه د پاتې کېدو له پاره ضروري ده، چې همدلته مصروف کړای شي، یوه چاره دا هم ده چې د هغه مخه ونیول شي او د هغه یو پوځی عسکر هم قاهرې ته ونه رسېږي.

هرمن وویل: زه ډاډه یم په قاهره کې چې د هغه کوم پوځ دی، هغه به یې هیڅ په کار رانه شي، زما سړیو د هغه ځای په پوځ کې دا شکونه پیدا کړي چې هغوی یې په قاهره کې د دې له پاره پرېښي چې د غنیمت له مال نه بې برخې شي، او دا هم ورته وایي چې ایوبي په شوبک کې په سوونو عیسوي انجونې نیولي او پر سپاهیانو یې وېشلي دي، زما بریالیتوب دا دی، چې ما دغه خبره مسلمانو پوځي حاکمانو ته کړي او د هغوي په وسیله مې دغه اوازې خپرې کړي دي، داسې حالت مې پیدا کړي چې د قاهرې ټول پوځ به

(c) kitabton.com: The Digital Library



له سوډانیانو سره ملګری شي، صلاح الدین ایوبی به مجبور وي چې له دې ځایه خپل ټول پوځ په قاهره کې د بغاوت د غلي کولو له پاره بوځي، خو دا پوځ به هغه مهال رسیږي، چې قاهره به د فاطمیانو د خلافت مرکز او هلته به د سوډان پوځ واکمن وي، ضروري نه ده چې مونږ دلته پر صلاح الدین ایوبی حمله وکړو او هغه دلته ایسار کړو مونږ به هغه همداسې سر ګردانه پرېږدو، مونږ یې د مسلمانانو په لاسو وژل غواړو.

هرمن تینګار وکړ او بیا یې وویل: تاسې تر اوسه د مسلمانانو پر روحیاتو پوه نشوی همدا لامل دی چې تاسې زما مهمې خبرې نه منی، مسلمان که پوځي وي او د تمریناتو په جریان کې د هغه په دماغ کې دا خبره کېنول شی چې هغه د هیواد او قوم ساتونکی دی نو بیا د خپلې خاورې او خلکو له پاره ځان قربانوي، د نړۍ پادشاهي د هغه په قدمونو کې کېږده، هغه به عسکر اوسېدل غوره کړي، خو له خپل قام سره به خیانت ونه کړي او که په همدې عسکرو کې د نفساني خوندونو، شراب څښلو، واک او منصب هیلې پیدا کړای شي، نو بیا له خپل دین نه هم پرې تېریږي، مونږ چې کوم مسلمان پوځي حاکمان د ځان ملګري کړي، په هغوی کې مو همدغه کمزوري پیدا کړي او کوو یې ...

خو د پوځ خاین کول دومره آسان نه دی لکه څومره چې اداري واکمن د ځان تابع کول آسان دی.

هرمن وویل: اداري چارواکو د امیرانو او وزیرانو په ډلو کې د شاملېدلو هیلې زیاتې وی.

پدې خلکو د پادشاهی نیشه سپره وي، د مسلمانانو تاریخ وګوری، هغوی تر خپل پیغمبر وروسته د خلافت تر لاسه کولو له پاره یو تر بله وجنګېدل خو د هغوی جنرالانو په خورا صداقت خپل کارته دوام ورکړ، هغوی نور هیوادونه د خپلو تورو تر سیوري لاندې راوستل، او د اسلامي سلطنت د پراختیا هڅې یې وکړې، خو کله چې د هغوی چارواکو ولیدل، چې پلانی جنرال دومره منلی شوی چې د هغه د سوبو له امله ورته قام په

(c) ketabton.com: The Digital Library



درنه سترګه ګوري، نو واکمن او د هغه درباريانو هغه جنرال ته ناسم احکام لیږلي او هغه يې ذليل او رسوا کړی ، پخپله د خليفه مسند له مخالفينو محفوظ پاتې شوی نه دی، د مخالفينو سترګې د اسلامي حکومت د پراخنيا پر ځای د خلافت لاسته راوړلو په لور شويې ، جنرالانو بايکاټ کاوه او د هغوی فتحه شوې سيمې په کرار کرار له لاسه ووتی، نتيجه يې دا ده چې اوس مونږ په عربو کې ناست يو، صلاح الدين ايوبي له هماغو جنرالانو څخه يو دی، چې اسلامي سلطنت تر هغو پورې رسول غواړي، تر کومه ځايه چې پخوانيو جنرالانو رسولی و، په دې سرې کې ښه والی دا دی چې د بيورو کراسۍ او خلافت پروا نه کوي، هغه چې کله د مصر خلافت د خپلو هيلو پر وړاندې خنډ وليد نو خليفه يې عزل کړ، دغه زړور ګام هغه د قوي ځواک او خپلې پوهې او تدبر په رڼا کې پورته کړ.

هرمن خبرې کولې او ټولو صليبي واکمنو په غوره سره اورېدلې، هغه ويل: صلاح الدين ايوبي د خپل قوم دغه کمزوري پېژندلې، چې غير نظامي قيادت د واکمنۍ هيله من وی، او دغه هيله داسې ده، چې د ښځې، پيسې او له شرابو سره عادت کېدل ترې پيدا کيږی، مونږ يوازې هغه پوځيان پخپلو لاسو کې اخيستی شو چې د اقتدار غوښتونکی وی ، لدې امله مونږ زيات کوښښ په همداسې خلکو باندې کوو، د پوځ د کمزوري کولو لاره دا ده، چې هغوی د خلکو په نظر کې رسوا کړای شي، دا زما کار دی، چې کوم يې، تاسې ښايي زما خبرې تاييدنه کړی، خو زه يې په آسانۍ سره ماتې ورکولای نه شی! هغه يواځې د جګړې له پاره نه جنګيږي، د هغه د عزم او تصميم بنسټ د يوه داسې پروګرام په لور دی، چې د هغه ټول پوځ پرې پوهيږي، د هغه بنسټيز غوره والی دا دی، چې له خليفه يا غير نظامي قيادت نه او امر نه اخلي، هغه کوټلی مسلمان دی، هغه وايي چې د قرآن په احکامو باندې عمل کوم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


زما چې کوم جاسوسان په بغداد کې دي، هغوی خبر راستولي، چې ایوبي نور الدین زنګی هم د ځان ملګری کړی او له دې ځایه یې انقلابي وراندیزونه وراستولي ، پر کومو چې عمل کول پیل شوي ، یو یې دا چې امیر العلماء فتوای ورکړې، چې خلافت به یو او هغه به د بغداد خلافت وي، دغه خلافت به د نورو هیوادونو په باب د احکامو نافذولو او د روغې جوړې د خبرو اترو منظوري لومړی له نظامی قیادت نه اخلي، او چارې به یې د پوځي حاکمانو په لاسو کې وي، خلیفه به د لرې پرتو سیمو جنرالانو ته کوم فرمان لیږلی نه شي دریم دا چې د خلیفه نوم به په خطبه کې نه اخیستل کیږي، او د خلافت د اغیز ختمولو له پاره ایوبي احکام صادر کړي ، چې خلیفه او یا د هغه نائب او یا د کومې سیمې حاکم، چې کله په دوره بهرته ځي نو خلکو ته به په لارو کې د دریدلو، نارو وهلو او سلام کولو اجازه نه وي ؟

صلاح الدین ایوبی تر ټولو مهم کار دا کړی چې د سني او شیعه بېلتون یې له منځه وړی ، هغه شیعه ګانو ته په نظامي او اداري چارو کې پوره نمایندګی ورکړې ، او په ډېرو اغېزمنو لارو چارو یې شیعه علماء قایل کړي دي، چې داسې دودونه پرېږدي، چې له اسلام سره مخالف وي، ... د صلاح الدین ایوبي دا ډول کارونه زمونږ له پاره زیان رسوونکي دي، مونږ د مسلمانانو همدغه کمزوري استعمالول غواړو، اوس زمونږ له پاره دا ډول کوښښونه په کار دي چې د مسلمانانو اداري قیادت له صلاح الدین ایوبي او پوځ سره مخالف کړو.

یوازی اوس نه، بلکې د تل له پاره فلپ اګستس چې د مسلمانانو سره سخت دښمن و وویل : زمونږ دښمنی یوازی له صلاح الدین ایوبی سره نه ده بلکی زمونږ جګړه د اسلام پر خلاف ده، مونږ دا کوښښ باید وکړو چې که صلاح الدین ایوبی مړ شی قوم بل ایوبي پیدانه کړای شي، دا قوم باید د غلطو او بې بنسټه عقایدو پر وسله ووهل شي، په هغوی کې د پادشا کیدلو مینه د لهنتوب تر بریده پیدا کړی، عیاشان یې کړی، او داسی دود په کې پیدا کړی. چې دغه وګړي د تخت ناستی له پاره یو تر بله

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


وجنګيږي، او بيا دغه دول نا اهله خلافت د پوخ پر سرونو حاکمان کړي او زه په پوره باور سر ويلاى شم، چې دغه قوم به يوه ورځ د صليب غلامان وي، د هغوى تمدن او مذهب به د صليب په رنګ کې رنګ شي ، هغوى به د پادشاهۍ او خلافت د لاسته راوړنې له پاره لاس اوګرېوان وي، او د خپلو مخالفينو د خپلو له پاره به زمونږ مرستى غواړي، هغه مهال به زمونږ نه هيڅوک هم ژوندي نه وي، زمونږ ارواوې به يې ګوري، چې ما کومه وړاندوينه کړى ده، هغه ټکي په ټکي ريښتيا ثابته شوې ده، د اسلام د جرړو سستولو له پاره يهودان تاسې ته خپلې انجونې وړاندى کوي، هغوى وکاروي، يهودان يوازې د دې له پاره خپل دښمنان وګڼي چې هغوى بيت المقدس خپل مقدس ښار او فلسطين خپل وطن ګڼي، هغوى ته ووايې، چې فلسطين به ستاسې وي، په اخر کې به دا سيمه مونږ هم تاسې ته درکوو، اوس زمونږ ملګرتيا وکړى، خو دا احتياط به خامخا کوى، چې يهودان ډېر چالاک قوم دى ، هغوى ته چې کله هم ستاسې له لوري خطر متوجو شو نو ستاسې مخالف کيږي، د هغوى دولت او انجونې وکاروي او په بدله کې يې ورته فلسطين ورکړى .

د شوبک او کرک له کلا ګانو ډېره لرې يوه پراخه سيمه پرته وه، چې له خاورو او شګو جوړه او د شګو او خاورو په غونډيو کې راګېره وه، دغه سيمه تقريبًا يو نيم لک مربع ميله پراخه او پلنه وه، په دې کې ډېره سيمه شګلنه او ميداني وه او ژورې کندې يې هم لرلى، لرې لوړې څوکې هم پکې وې، هغه وخت چې صليبي واکمنو د اسلام د بيخ ايستلو پلانونه پلى کول نو په زررونو پياده او په آسونو او اوښانو سپرو لښکرو منډې ترړې وهلې، د تورو او برچو ځلکا له ورايه ښکارېده، د آسونو او اوښانو د ځغاستى له امله ګردونو په آسمان کې وريخ جوړه کړې وه، په دغه دوړو او ګردونوکې بر چې هم وارېدلې او غشي هم، پياده عسکرو تر آسونو د مخه کبدو کوښښ کاوه، د آسونو سپرو پر کندو خېزونه وهل، شاو خوا د غونډيو پر څوکو دوه دوه سپاهيان کرار کرار ګرځېدل، د يوې غونډۍ په لمن کې د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اور لمبې راپورته کېدې، له غونډې پورته تللې او بیا به غلې شوې، شور او ځوږ آسمان ښوراوه .

صلاح الدین ایوبي پر آس سپور له یوې دنګې څوکې یې دغه نظاره په غور سره لیدله، هغه له ډېره وخت د دغه میدان پر شاو خوا غونډیو ګرځېده او دوه مرستیالان یې هم ورسره وو.

یوه مرستیال یې وویل: زه په باوري توګه ویلای شم چې په څومره چټکتیا سره نظامي زده کړه روانه ده نو نوي سپاهیان به انشاء الله په څو ورځو کې پوره تجربه تر لاسه کړي .

بل مرستیال یې وویل: کوم سپاره چې تاسې له هغه پلنې کندې په خېز وهلو ولېدل، هغه ټول له کرک نه راغلي سپاره دي، ما هغوی نا آشنا ګڼل، خود غشي ویشتونکیو ننبه ویشتل هم معیاري کېږي.

د جګړې د ډګر دغه منظره په اصل کې عسکري روزنه وه، د کومې په باب چې صلاح الدین ایوبي ډېر کلک احکام صادر کړي او له شاو خوا سیمو زیات شمېر سپاهیان جذب کړای شوي وو، له کرک نه هم زیات شمېر ځوانان په پټه راتښتېدلي وو، دا د سلطان صلاح الدین ایوبی د اطلاعاتو کمال و، چې له کرک نه یې هم ځوانان راوستي وو، د شوبک هغه مسلمانان چې د صلیبیانو تیري یې سملي ( زغملی ) وو، په ډېر جوش او خروش د سلطان صلاح الدین ایوبی په پوځ کې شامل شول ، چې د هغوی د نظامي روزنې چار همالته سمبال شوې وه، سلطان صلاح الدین ایوبی له دې کار سره ځانګړې مینه درلوده ، خو هغه خپل مرستیال باوري کاوه، چې نوي عسکر به په لږه موده کې تمرین کړای شي او د ازمېښت د پاره به چمتووي .

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل: سپاهیان یوازې د وسلو په استعمال او بدني تکړه توب له مخې نه ازمایل کېږي! د عقل او احساس کارونو ته هم اړتیا وه ده، زه داسې پوځ ته اړتیا نه لرم چې په پټو سترګو پر دښمن یرغل کوي او یوازې پر وژنه پوهېږي، زما داسې پوځ ته اړتیا ده، چې هغوی ته څرګنده وي چې دښمن یې څوک دی؟ د دښمن اهداف څه دي؟ زما لښکرو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته باید معلومه وي، چې هغوی د الله جل جلاله د لارې سپاهیان دي، او د هماغه په لاره کې جنګیږي، دا جوش او خروش چې زه یې وینم، د هر ضروري دی خو چې دوی ته خپل مقصد ځرګندنه وي، خپل حیثیت و نه پیژني، جذبات یې د هر ژر سړیږي هغوی ته ووایی او په ذهن کې یې کېښنوی چې مونږ فلسطین ولې نیول غواړو؟ هغوی ته ووایاست چې غداري څومره ستر جرم دی ! هغوی وه پوهوی، چې تاسې یوازې د فلسطین له پاره نه ! بلکې د اسلام د ساتنې، سر لوړی او پراختیا له پاره جنګیږی، تاسې د راتلونکیو نسلونو د عزت ، پت او وقار له پاره د جګړی ډګر ته خی، تر عملي زده کړې وروسته هغوی ته وعظ وکړی او خپل ملی ستر توب پرې روښانه کړی .

یوه مرستیال یې وویل: خوږه مشره! هغوی ته هر ماښام وعظ کیږي، مونږ له هغوی نه الله مه کړه وحشیان نه جوړوو.

صلاح الدین ایوبي وویل: د دې خیال هم وساتی چې د هغوی په زړونو کې د مسلمان قوم د هغو انجونو مظلومانه حالت هم انځور کړی چې د کفارو له خوا تښتول شوی پت او عزت یې لوټیږي.

هغوی ته د قرآن هغه پاڼې هم وریادوی، چې صلیبیانو تر پښو لاندې کړې ، او هغوی ته هغه جوماتونه هم وریادوي چې کفارو پکې خپل آسونه او څاروي تړلي او تړی یې، د لوڼو پت او د جوماتونو احترام د مسلمانانو د عظمت نښې دي، هغوی ته ووایی په کومه ورځ چې تاسې له خپلو ذهنونو د خپلو لوڼو عصمت او د جوماتونو درناوی وویسته په هماغه ورځ به مو دا دنیا د ځانونو له پاره جهنم کړې وي، او په اخرت کې چې کوم عذاب راتلوونکی دی، د هغې خو کوم تصور هم نشی کولای.

پر غونډیو چې کوم دوه دوه او څلور څلور سپاره ګرځېدل هغه پیره داران وو، د صلیبیانو د حملی وېره موجوده وه، تر د هر لرې ځایه پوځونه موجود وو، خو بیا هم د تمرین د دغه ساحې شاو خواته د پیری ارتیا وه، له دغو پیره کوونکیو یو یادوه چې د غونډۍ پر سر روان وو، ودرېدل، هغوی ته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لانـدې د يـوه دبـرى د پاسـه صـلاح الـدين ايـوبي ولاړ ښکارېـده د پيـره کوونکيو لوري ته يې شا وه، فاصله به دوه دوه نيم سوه گزه وه، يوه پيره دار وويل: کم بخت مونږ ته شا کړې ده، که له دې خايه يې پر غشي وه ولم، نو زړه يې سوري کولای شم، ستا څه خيال دی؟ ملگری يې وويـل: بيـا بـه چېرى تښتي؟ هغه ورتـه وويـل، هو! ته صحيح وايې، کـه دغـه خلک مونږ ونيسي او و مو وژني هيڅ خبره نـه ده، خو کـه ژونـدي يې ونيولو نو داسې سزاگانې بـه راباندې تېرې کړي، چې مونږ بـه بيا ورتـه د ټولـو انډيوالانو نومونه ښيو.

هغـه ملگري يې ورتـه وويـل: دا کـار د هغـه ساتونکيو تـه پرېږده ! کـه د صلاح الدين ايوبی وژل دومره آسان وای، نو تر اوسه به ژوندی نه وو.

هغه بل ملگري يې وويل: دا کار اوس کول په کـار دي، اورېدلي مې دي چې فاطميـان وايـي: تاسې لـه څـه کولـو پرتـه زمونږ نـه ډېرې زيـاتې پيسـې اخلې ! خو چاری ترسره کولای نشی .

لومـړی ملگـري يـې وويـل: زه هيلـه لـرم چـې دا کـار بـه ډېـر ژر وشـي ، اوريدلی مي دي چې حشيشيان ( چرسيان ) پدی کـار کې ډېر زړور دي د وژنې په چار کې له سره تيرېږي، تر اوسه خو هغوی هيڅ ونه کړل، زه لـه دې نه هم خبر يم چې د ايوبي په ساتونکيو کې درې تنه حشيشـيان ( چرسـيان ) شته، دا خو د هغوی پوره کمـال دی چې تر ساتونکي ټولي پوري رسېدلي دي، او څوک پرې پوه شوي هم نه دي، خو هغوی به يې کله وژني ؟ وېرېږي به ... هغوی خبرې کولې او مخکې روان وو.

مؤرخين ليکی چې له مصر نه د صلاح الدين ايوبي د نشتوالی پر وخت هلته د مخالفينو تر څمکی لاندې کوښښونه راڅرگند او داسې حـالات تـرې پيدا شول چې يوازې معجزې يې مخه نيولای شوه، يوه خبره دا وه چې کوم فـاطمی خلافـت معزول شـوی او د ورانکارولـه نيولـو وروستـه پـه څرگنـده خاموشه شوی و، خو په ايرو کې د بلې سپرغۍ په څېر يې سرايت کـاوه، د دې توطی تر شا صليبيان وو . او عملي کوونکی يې هغـه مسـلمانان مشـران

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا کې یې خضر الحیات پرمخې پروت ولید، په ناڅاپي توګه د چا فکر شو چې د خضر ښي لاس ګوته پر ځمکه او په خاوره کې یې په ګوته څه لیکلي وو او مړ شوی و، پر ځمکه هغه لیکلي وو مصلح د "ح" توری یې پوره کړای شوی نه و، د دغه حرف کړېدو ته په رسېدو یې ساوتلې وه، مړی پورته کړای او دغه کلمه وه ساتل شوه، یو سړی یې د کوتوال (د اوسني زمانې امنیه قوماندان) غیاث بلبیس پسې په منډه ولیږه، همدا ویل کېدای شول چې خضر د خپلې مړینې پر وخت پر خاورو د خپل قاتل نوم لیکلی دی، غیاث بلبیس کوتوال هم او د مصر د ژاندارم پولیسو قوماندان هم وُ چې دا هم د سلطان صلاح الدین ایوبي باوري حاکم و، د علی بن سفیان په څېر د ښاري جرایمو ماهر پلټونکی و.

غیاث بلبیس له رارسېدو سره سم پر ځمکه لیکل شوی لفظ مصلح په غور سره وکوت، په دې کې د ښار د امنیې مرستیال قوماندان مصلح الدین د خضرالحیاه له مړینې په خبرېدو هم راورسېده، غیاث بلبیس د هغه له لېدو سره پر ځمکه پښه راکښله او د مصلح کلمه یې ورانه کړه، څرنګه چې مصلح الدین د ښار د امنیې مرستیال قوماندان و، نو ځکه د کوتوالي محکمه د هغه تر لاسه لاندې وه، هغه بلبیس ته په امرانه لهجه وویل، د قاتل پته باید تر سهار د مخه ولګول شي، زه تر ډېره انتظار کولای نشم بلبیس هغه ته ډاډ ورکړ، چې قاتل به ډېر ژر و نیول شي، او بیا ترې روان شو، په همدې شپه بلبیس د خضر الحیات مرستیال او د هغه په دفتر کې ټول هغه وګړي راوه غوښتل، چې هغه ته نږدې وو، وپوښتل شو چې د وژل کېدو په ورځ د هغه کارونه څه وو، له هغو خلکو نه معلومه شوه چې نن ورځ د اداري مشرانو یوه غونډه وه، چې د پوځ کوم نماینده پکې نه و، د خضر مرستیال د هغه د کومک له پاره په غونډه کې هم شامل وُ په غونډه کې د مالیو په لړ کې د پوځ مصارف تر څېړنې لاندې راغلل، نو خضر وویل: په مصر کې باېد ځنې لګښتونه و درول شي، ځکه چې د مصر امیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلاح الدین ایوبي په شویک کې د ډېر زیات عسکر ځېره کړیدي، چې د هغوی له پاره زیاتو پیسو ته اړتیا ده .

د پولیسو مرستیال قوماندان مصلح الدین یې مخالفت وکړ او وې ویل د پوځ مصارف غیر ضروري دي، د نور پوځ د ځېره کولو پر ځای مونږ باید د موجوده پوځ مسایلو ته پاملرنه وکړو، چې لا د مخه زمونږ لپاره یوه ګرانه مسئله جوړه شوې ده،هغه وویل چې په مصر کې کوم پوځ موجود دی، په هغوی کې بې باوري او بدامني لیدل کیږي، له شویک نه چې کوم د غنیمت مالونه لاسته راغلي، په هغو کې هیڅ برخه دې پوځ ته راو نه لېږل شوه. خضر الحیاه وویل: تاته معلومه نه ده چې د مصر امیر صلاح الدین ایوبي د غنیمت د مالونو د نه وېشلو هدایت کړی دی او په اوسني وخت کې دا ډېره ښه پرېکړه ده، د غنیمت د مالونو په هیله د جنګېدونکي پوځ کومه ملي جذبه او دیني نظریه نه وي .

پر دې مسئله بحث په تونډو خبرو واوښت، مصلح الدین تر دې پورې وویل چې د مصر امیر له مصري عسکرو سره دومره ښه رویه نه کوي، لکه له شامي او ترکي سپاهیانو سره یې چې کوي، هغه په غوسه کې ځنې نورې ناروا خبرې هم وکړې، چې په خواب کې یې خضر وویل: مصلحه ! ستا په ژبه صلیبیان او فاطمیان خبرې کوي .

له دې وینا سره غونډه له خوږ نه ډکه شوه او پای ته ورسېده، د خضر الحیات مرستیالانو وویل : چې له غونډې وروسته مصلح الدین د حضر الحیات دفتر ته راغی، هلته بیا ګرمې خبرې اترې وشوې، مصلح الدین خضر الحیات پردې قانع کاوه چې مصري پوځ داډه نه دی ، هغه بیا مخکینۍ خبرې تکرار کړې، چې په غونډه کې یې کړې وې ، خضر الحیات وویل: که همداسې وي زه دا مسئله ستا له لوري د مصر امیر ته وړاندې کوم، خو زه به ورته خامخا لیکم چې تا د ټول مجلس په مخکې ویلي وو، چې د مصر امیر په پوځ کې امتیازي رویه خپله کړې ده، او زه به ورته دا هم لیکم چې تا زمونږ پردې خبره د باوري کولو کوښښ کاوه، چې سلطان

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېرمنې يې وويل: هغه پر مخ نقاب غوړولی و، خو ستا پرده پورته شوه، ما اوس و پېژندلې، مصلح الدين د څه ويلو کوښښ کاوه خو مېرمنې يې هغه خبرو ته پرې نه ښوده، ورته وې ويل: زه ګومان کوم چې تا د بيت المال پيسې خوړلې دي او خضر الحيات دربان دی پوه شوی وه نو تا د کرايې په قاتل هغه له مخې لرې کړ

مصلح الدين وويل: پرما د دروغجن تورونه مه پورې کوه، زما پيسو خوړلو ته څه اړتيا ده؟

مېرمنې يې وويل: ستا ورته نشته، خو د هغې فرنګۍ ورته شته! چې تاله نکاح پرته په کور کې ساتلې ده مېرمنې يې له ډېره سوزه وويل: ستا د شرابو له پاره پيسو ته اړتيا ده، که دا تور غلط وي، نو ووايه چې دا د څلورو آسونو بګۍ له کومه راغله؟ دې کورته چې هره شپه ډمانې راځي، دا مفتې راوستل کېږي؟ د شرابو کومې مېلمستياوې چې ورکول کېږي، د هغو لپاره پيسې له کومه راځي؟

مصلح الدين د قهر او محبت په ګډه وډه لهجه ورته وويل: د الله له پاره غلې شه، ما خو معلومولو ته پرېږده، چې هغه سړی څوک دی؟ چې دغسې خطرناکه توطيه يې و کاروله، او ولاړ، اصلي حقيقت به تاته پخپله روښانه شي!

مېرمنې يې وويل: زه اوس غلې پاتې کېدای نه شم. تا زما سينه د انتقام له اوره ډکه کړې ده، زه به ټول مصر ته وايم چې زما څښتن قاتل دی، د يوه مؤمن قاتل، ته زما د مينې قاتل يې، زه به درنه د خپلې مينې بدله اخلم.

مصلح الدين ورته عذر زاري وکړې، مېرمن يې غلې کړه او هغه يې قايله کړه چې تر دوه ورځو بايد غلې وي، چې هغه سړی ولټوي او ثابته کړي چې هغه قاتل نه دی هغه مېرمنې ته دا هم وويل، چې غياث بلبيس خو کسان نيولي دي او قاتل به هم ډېر ژر و نيول شي.

شپه تېره شوه، راتلونکې ورځ هم تېره شوه، مصلح الدين له کوره غايب و، د هغه دويمه مېرمن يا ياره هم چېرې ونه ليدل شوه، له ماښام وروسته مصلح الدين کورته راغی او د لومړۍ مېرمنې کوټې ته ورغی، له هغې سره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د مينې او محبت خبرې کولې مېرمن د هغه په دوکه کې راتلل نه غوښتل، خو د مينې په جال کې ګېره شوه .

مصلح الدين هغې ته وويل چې هغه سړي لټوي چې هغه ته يې سل اشرفۍ ورکړې دي... لږه شېبه وروسته يې مېرمن ويده شوه، په دې شپه مصلح الدين ملازمينو ته رخصتي ورکړې وه، په کور کې داسې چوپتيا وه، چې پخوا تر دې کله هم نه وه، مصلح الدين تر ډېره د ويدې مېرمنې په کوټه کې وه بيا پاڅېده وه ووت .

نيمه شپه به وه، يو سړي د هغه د کور له بهرنې ديوال سره شاو لګوله، ودرېده، بل سړی د هغه پر اوږو ودرېده، دريم د هغه پر اوږو پر ديوال واوښت، دننه يې ځان خوړند کړ او بيا يې وه غورځاوه، هغه له دننه څخه لويه دروازه بېرته کړه، دواړه ملګري يې دننه ورغلل، په دې کور کې به هره شپه ساتلې سپي پرانستي و، په دې شپه سپي هم پخپل ځای کې تړلي پاتې و، ښايي چې ملازمينو به د تللو پر وخت کې له ياده ويستي و، چې سپي خو پرانزي، درېواړه سړي برنډې ته ورغلل، تياره ډېره ژوره وه، هغوی په کرار کرار ولاړل، په توره تياره کې يو بل پسې روان وو، پر هغه دروازه يې لاس کېښوده چې د مصلح الدين لومړی مېرمن چې هغه به د فاطمې په نامه يادوله ويده وه، دروازه يې بېرته کړه، کوټه تياره وه، درېواړه سړي دننه ورغلل، او په تياره کې يې لاسونه تپول چې د فاطمی پالنګ يې ومينده، د يوه سړي لاس د فاطمې پر مخ ولګېده، چې سترګې يې خلاصې شوې، هغې وه ګڼله چې د مصلح الدين لاس به وي، هغې لاس ونيو، پوښتنه يې وکړه چېرې ځې ؟

د دې په خواب کې يو سړي د هغې پر خوله توټه واچوله او يو څه يې په خوله کې ورتخته کړ، بيا په سملاسي ډوله درې تنو هغه له لاس پښو ونيوله او يوه يې پر بله توټه خوله کلکه وتړله، يو سړي د بوړۍ خوله خلاصه کړه، دوه نورو فاطمه په رسيو کلکه وتړله او د بوړۍ خوله يې بنده کړه، هغوی بوړۍ له ځان سره واخيسته او بهر ووتل، د لويې دروازې نه هم ووتل، په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه غریبه ښځه وه، هغې ته پته وه چې د کوتوالی زېر زمیني ته تللو سره دروازغ او رښتیا بېلېږي، خو تر دې د مخه یې د بدن غړي سره جدا کیږي، خدمتګاره په ژړا شوه وې ویل: که رښتیا وایم نو بادار سزا راکوي او که دروازغ وایم نو تاسې سزا راکوی، بلبیس د هغې حوصله برابره کړه او هغې ته یې د پوره امان ډاډ ورکړ، خدمتګارې وویل: ما د قتل په دویمه ورځ یوازې همدومره لیدلي وو، چې یو نقاب پوښ سړی راغلی و، مصلح الدین بادار هغه ورځ په کور کې نه و، هغه سړي فاطمه بهر وه غوښته، هغه سړی د لوېې دروازې نه بهر او فاطمه دننه وه، هغه ورسره مخامخ نه شوه، ملازمینو هغه لیدلي وه، خو څوک نږدې ورغلي نه وو او نه یې اوریدلي وو، چې د هغوی تر منځ څه خبرې شوې وې، هغه نقاب پوښ سړی ولاړ او فاطمه بېرته راغله یوه کوچنۍ د پیسو کڅوړه یې په لاس کې وه، فاطمې سر خوړند کړی و، او کوټې ته ولاړه ... په یو بل ماښام مصلح الدین ځلورو نوکرانو او خدمتګارو ته رخصت ورکړ او خپلو خپلو کورونو ته ولاړل .

بلبیس پوښتنه وکړه تر دې د مخه هم په یوه شپه کې ټول ملازمین رخصت شوي وو؟

خدمتګارې ځواب ورکړ، هیڅکله نه ! حیرانوونکې خبره ده چې بادار مو ویلې چې نن شپه سپي هم تړلي پریږدی تر دې د مخه به یې د شپې سپي ایله کاوه، ډېر سړیخور سپي دي، د بېګانه خلک په بوی پېژني او خوري یې .

غیاث بلبیس پوښته وکړه: د مصلح الدین او فاطمې اړیکې څنګه وې؟

خدمتګارې وویل : ډېرې سستې وې بادار مو څه موده وشوه، یوه ښکلې او ځوانه انجلۍ راوستې ده، چې بادار یې خپل غلام کړی دی، فاطمې او بادار مو سره خبرې هم نه کولې.

غیاث بلبیس خدمتګاره جلا کېښنوله او مصلح الدین یې دننه راوه غوښت او بهر ووت، چې بېرته راتـه دوه سپاهیان ورسـره وو، هغـوی مصلح الدین له ښې او کیڼ لاسه ونیوه او بهر یې بوته. مصلح الدین ډېر احتجاج وکړ، بلبیس د دې امر په کولو سره بهر ووت خو دومره یې وویل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com:



چې دا بندي کړی! دویم امر یې دا وکړ، چې د مصلح الدین پر کور پیره ودروی او ځوک بهر تللو ته پرې نږدي !

هغه مهال فاطمه له قاهرې نه د بهر لرې شمال لورې ته یو داسې ځای ته رسېدلې وه، چېرې چې شاو خوا لوړې غونډۍ شنې ونې او اوبه هم وې، دا ځای له عمومي لارې نه یوې خواته وه، فاطمه هلته لمر خاته وخت رسول شوی وه، آسونه ودرول شول، د فاطمه له خولې او مخه توټه پرانستل شوه او لاس پښې یې هم ایله شول، هغه په هوش کې نه وه، هغه د درې نقاب پوښانو په ولکه کې وه، درې آسونه ولاړ وو، فاطمې چیغې کړې ، نقاب پوښانو فاطمې ته اوبه ورکړې او یو څه خواړه یې پرې وخوړل، هغه نه په سد کېده، د هغې نس ته چې اوبه او خواړه ورغلل او تازه هوا یې تنفس کړه، په بدن کې یې قوت پیدا شو، ناڅاپه پاڅېده، منډې یې کړې، درې واړه تښتوونکې یې ناست وو، هغوی ورته کتل وړاندې ولاړه، د یوه کمره تر څنګ ورغله، یو تن نقاب پوښ پورته شو او پر آس سپور ورپسې شو، په منډه ورغی او فاطمه چې په منډو منډو ستړې شوې، پرته وه، راپورته یې کړه پخپله یې پر آس کښېنوله او تر شا یې کښېناست، بېرته یې خپلو ملګریو ته راوستله .

یو تن تښتوونکی ورته وویل: تښتې !، تر کومه ځایه به وه تښتې؟ له دې ځایه خو کوم قوي انسان هم په تېښته تر قاهرې رسېدلای نه شي، فاطمې ژړل، چیغې یې وهلې او کنځلې یې کولې، یوه نقاب پوښ ورته وویل : که مونږ تا بیرته قاهرې ته بوځو، نو هم ستا له پاره د پناه ځای نشته، ته مونږ ته خپل ځښتن سپارلې یې. فاطمې په زوره چیغه کړه وې ویل دا دروغ دي .

تښتوونکي سړي ورته وویل: دا رښتیا دي مونږ ته د مزدورۍ په توګه اخیستې یې، تا زه ونه پېژندلم، ما تاته د شلو اشرفیو کڅوړه درکړې وه، تا خپل ځښتن ته وویل: ته قاتل یې، او تا دا ناپوهي هم وکړه، چې هغه ته دې یارې لا د مخه ستانه پوزی ته راغلی و، د هغه یارې لا د مخه د هغه پر زړه او دماغ قبضه کړې وه؟ زه تاته ویلای نه شم

Scanned by CamScanner

Scanned by CamScanner

(c) kitabtoon.com: The Digital Library



وژل آسان نه وو، هغې آسونو ته وکتل، له آسونو زینو نه کښته کړای شوي نه وو، هغه په کرار پاڅېده او په کراره يې يوه آس ته ځان ورساوه، لمر د غونډيو شاته روان و، او فاطمې ته ځرګنده هم نه وه، چې له قاهرې نه کوم لوري ته او څومره لرې ده هغې دا خطره پر ځان ومنله، چې د بېديا په پراخۍ کې به د بېلارۍ له امله مړه شي خو ځان به د دغو کسانو څخه ضرور ژغوري .

هغې پر آس له سپرېدو سره آس ته قمچين ورکړه، د آس د سومانو غږ درېواړه تېښتوونکي راويښ کړل، هغوی فاطمه د يوې غونډۍ خواته په ورتللو ليدلې وه، دوه تنه تېښتوونکي پر آسونو سپاره شول، او د هغې پسې آسونه په ځغاسته کړل، د فاطمې له پاره ګرانه دا وه، چې هغې ته له غونډيو نه د وتلو لار معلومه نه وه، د بېديا غونډۍ د څېرونکيو حيواناتو په څېر وې، يوازې بېدياني وګړي ترې ځانونه ويستلی شي، فاطمې يوه داسې لاره ونيوه، چېرې چې يوې بلې غونډۍ يې مخه نيولې وه، هغه چې هلته ورسېده، شاته يې وکتل چې تېښتوونکي ورپسې په چټکتيا را روان دي، هغې آس پر غونډۍ وه خېژاوه او قمچين يې ورکړه، ښه آس و، پورته وخوت او بلې خواته کښته شو، هغې آس يو لوري ته وګرځاوه، لاره يې وميندله، تېښتوونکي هم راورسېدل، فاصله په کمېدو وه، د فاطمې پر خپلو سترګو باور نه راته، چې هغې د سمندر په څېر پراخه بېديا کې څلور تنه پر اوښانو سپاره خپل لوري ته د راتګ په حال کې وه ليدل، هغې چيغې پيل کړې، هلې غله دی، هلی غله دي وه مې ژغوري او ځان يې هغوی ته ورساه .

فاطمې پسې د دوارو نقاب پوښو غلو آسونه هم راښکاره شول، چې اوښ سپاره يې وليدل، د خپلو آسونو واګې يې راټينګې کړې او آسونه يې هم وګرځول، اوښ سپرو اوښان وځغلول، يوه په لينده کې غشی کېښود، وار يې وکړ، غشی د يوه آس په ورمېږ کې ښخ شو، آس له درده څېزه کې کړې، تيندک خور شو او له واکه وه ووت، سپور ترې کوز شو، اوښ سپرو ورته د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړې بلنه ورکړه، نو هغه بل یې هم آس ودراوه، هغوی ته څرګنده وه، چې د څلورو اوښ سپرو او غشي ویشتونکیو سره مخ دي.
دا فاطمي ورته وویل، چې د دوی یو ملګری د غونډیو په منځ کې دی، دا دواړه یې ونیول، دا څلور واړه اوښ سپاره د سلطان صلاح الدین ایوبي د پوځ د کومې ګزمې سپاهیان وو، سلطان صلاح الدین ایوبي په ټوله بېدیاکې ګرځنده پیرې خپرې کړې وې، چې د ناڅاپي حملې خطره نه وي، او صلیبي ورانکاري مصر ته داخل نه شي، د دغو ګرځنده ګروپونو ډېره ګټه وه، هغوی زیات شمېر شکمن کسان نیولي وو، اوس یې دا نقاب پوښان ونیول، فاطمې هغوی ته وویل، چې هغه یې څه ډول دلته راوستې ده، د چا مېرمن ده، هغې دا هم وویل چې د مصر د مالیې ناظم وژل شوی دی، د هغې مېړه مصلح الدین قتل کړی دی، چې د ښار ناظم دی او قاتل د دې درېواړو نه یو دی.
دریم نقاب پوښ هم ونیول شو، له هغوی نه خنجرونه واخیستل شول، لاسونه یې شاته وتړل شول، د هغوی یو آس د غشي لګېدو له امله تښتېدلی و، پر یوه آس یې دوه نقاب پوښان او پر یوه یې یو کېنېناوه او خپل قوماندان ته یې وروستل، فاطمه هغوی پر اوښ کېښنوله، د دغه اوښ سپاهي له خپل یوه ملګري سره سپور شو، د دغه کاروان په وړاندې څلور میله واټن و، چې هغوی تر لمر پرېوتو پورې وواهه، دا ځای د خرماو یو باغ و، چې خیمې هم پکې وهل شوې وې، دا د دغه بېدیانیو ګزمه سپاهیانو مرکزو، فاطمه یې قوماندان ته وروسته او پر درېواړو تښتوونکیو نقاب پوښانو یې پیره ودروله، هغوی سبا ورځ قاهرې ته لېږل کېدل.
صلیبیانو پرېکړه کړې وه چې هغوی به په کرک کې ناست د صلاح الدین ایوبي انتظار نه کوي، هغوی د پوځ ویشل پیل کړي وو، د فرانسې پوځ ته یې د صلاح الدین ایوبي د پوځ د مخې نیولو له پاره د تیاري امر کړی و، د ریماند پوځ ته یې د مسلمانانو پر پوځ د شاه له لوري حملې کولو امر کړی و، د کرک کلا د دفاع له پاره یې د جرمني پوځ ټاکلی وه د فرانسې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوخ لوړ پوړي قوماندانان د هیواد نیوني او پادشاهۍ د پراختیا هیله من و، په هغوي کې دا یوه خبره شرېکه وه، چې مسلمانان باید له منځه یووړل شي، خو د هغوی په زړونو کې چې کوم اختلافات وو، هغې پر پرېکړو اغېزه کوله.

مؤرخ لیکي چې صلیبیان پر توطئو پوهیدونکي وو، او د مسلمانانو کومې سیمې به یې چې ونیولې، هلته به یې عامه وژنه او بې پتي پیل کوله، د دې پر خلاف به صلاح الدین ایوبي د میني او اخلاقي اصول داسې په ښه توګه کارول، چې دښمنان یې هم تابع کېدل، سربېره پردې صلاح الدین ایوبی په خپل پوخ کې داسې ښېګړې پیدا کړې وې، چې د لس کسه سپاهیانو چریکی ګروپ به د دښمن زرکسیز کنډک ګډوډ کړ او غایب به شول، دغو وګړیو د ځانونو قرباني معمولي ګڼله، صلاح الدین ایوبی به چې په کوم انداز سره د جګړې په ډګر کې لږشان پوخ منظم کاوه، هغې به لوی پوخ هم ناتوانه کاوه، د شوبک او کرک په ډګرونو کې هم هغه دا ډول نظامي پوهه کارولې وه، صلیبیانو د هغې معلومات واخیست، د خپل پوخ بدني او احساساتي ځرنګوالي ته یې وکتل، نو هغوی د نیغی او مخامخ حملې خیال پرېښود، او کومه بله لاره یې وسنجوله، خو د دغه لارې چارې په باب هم شکمن وو، د دې چاره یې دا وسنجوله، په مصر کې د بغاوت راپورته کولو او پر مصر حملې کولو ته پاملرنه واړوله.

د مصر د مرستیال ناظم مصلح الدین له لوري ورته ډاډمن راپورونه راتلل، هغوی تـه لا دا خبر رسیدلی نـه و، چې د مصر د مالـې ناظم خضر الحیات وژل شوی، او مصلح الدین نیول شوی کرک ته د دې خبر د رسیدلو له پاره لږ تر لږه پنځلس ورځې واټن وُ، ځکه چې په لاره کې د سلطان صلاح الدین ایوبی پوخ پروت وُ، له زیاتو ورځو وروسته یو قاصد په هغې شپه صلیبیانو ته ورسېده، په کومه شپه چې فاطمه تښتول شوې وه، هغه راپور ورکړ چې د بغاوت له پاره شرایط بالکل برابر دي، خو سوډانیان اوس د حملې له پاره تیار نه دی ځکه له هغوی سره د آسونو کمی دی، خو اوښان ورسره زیات دی، هغوی لږ تر لږه پنځه سوه اعلی آسونو ته اړتیا لري.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ژر تر ژره حمله وکړي. همدومره باید ورسره زینونه هم وی د فرانسوي پوځ قوماندان وویل چې پنځه سوه مجهز آسونه باید فوراً ولېږل شي، او له هغوی سره باید شپږ اوه قوماندانان هم ولېږل شي، چې د سوډانیانو د جنګي استعداد جاج واخلي او ژر تر ژره حمله وکړي.

له صلیبیانو سره د آسونو کمی و، هغوې په کرک کې اعلان وکړ، چې پر مصر د حملې له پاره په سملاسی توګه د پنځه سوه آسونو اړتیا ده نو عیسوی اوسیدونکیو په درې څلورو ورځو کې آسونه برابر کړل او په داسې لارې یې سوډان ته ولېږل چې دوي باوري وو چې نیول کیږي به نه، د هغوی لاربنود هماغه جاسوس وو چې د آسونو د غوښتنې له پاره راغلی و، هغه سوډانی اوله درې کلو راسې یې جاسوسي کوله، له دغو آسونو سره اوه اته پوځي افسران هم وو، چې باید د سوډانیانو د حملې قیادت یې کړی وای، هغوی ته یقین ورکول شوی و، چې له دې ځایه د صلاح الدین ایوبي پوځ نه درپرېښودل کیږي...

صلاح الدین ایوبي ته همدومره معلومه وه، چې د مصر حالات ښه نه دي، خو دا ورته هم څرګنده نه وه چې له حالاتو ځینی اور غورځوونکی غر جوړ شوی او د چا ودېدو په حال کې دی، علی بن سفیان، سلطان صلاح الدین ایوبی ته ډاډ ورکړی و، چې هغه د استخباراتو جال خپور کړی دی، هغوی به یې له خطراتو نه د مخه خبر وي، هغه د خضرالحیات له وژنې او د مصلح الدین له نیول کېدو هم خبر نه و، غیاث بلبیس ته مشوره ورکړل شوې وه، چې سلطان صلاح الدین ایوبي ته خبر ولېږي، خو هغه په دې وینا ځنډولی وه، چې کله تحقیقات مکمل شی سلطان صلاح الدین ایوبی به له اصلی حالاتو خبر کړای شی.

فاطمه د ګزمه سپاهیانو قوماندان د شپې له خوا په یوه جلا خېمه کې وساتله، د سهار خره لا خپره شوې نه وه، چې هغه او درې تنه مخ پټې تښتوونکي یې له اته کسه ساتونکیو سره د قاهرې په لور ولېږل، دغه کاروان تر لمر پرېوتو وروسته قاهرې ته ورسېده او راسا کوتوالي ته ورغی،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



غیاث بلبیس د دغه پېښې په څېړنه بوخت و، هغه مهال په زېر زمیني کې و، هغه د مصلح الدین کور تالاشي کړ او له هغې ځایه یې د هغه بدکاره ښځه ونیوله، هغې ښځې ځان ازبکي مسلمانه ګڼله، هغې د بلبیس د بې لارې کولو ډېره هڅه وکړه، د دې په ځواب کې بلبیس هغې ته هغه کوټه له ورایه وښودله، چېرې چې ډېر کلک سړي هم د خپلې سینې رازونه راسپړي، انجلي ومنله چې هغه عیسوي او له یو روشلم نه راغلې ده، هغې له دې اعتراف سره بلبیس ته د خپل بدن او دولت ورکولو لالچ پیل کړ، بلبیس چې د مصلح الدین له کوره کوم دولت لاسته راوړی و، هغه یې ماغزه لړزولي وو، هغه پوه شوی و، چې مصلح الدین څنګه د صلیبیانو په جال کې نښتی و، پخپله انجلي دومره ښکلې او زړه وړونکې وه، چې د رد کولو لپاره یې ډېرین زړه ته اړتیا وه.

بلبیس خپل ایمان محکم وساته، هغه ته څرګنده شوې وه چې دا کومه ستره توطئه ده، چې جرړې یې له یروشلم سره نښتې دي، بلبیس جنی ته وویل چې هغه دې ورته ټولې خبرې ووایي، انجلي ځواب ورکړ، ما چې څه ویلای شول هغه مې وویل تر دې زیات که څه وایم، دا به له صلیب سره خیانت وي، ما پر صلیب لاس ایښی او سوګند مې یاد کړی دی، چې د خپل هدف په سرته رسولو کې به خپل ځان قربانوم، زما سره چې هر ډول رویه کول غواړې وکړه، هیڅ نه وایم، که ما خوشې کړې او یروشلم او یا کرک ته مې ورسوې، نو چې څومره پیسې غواړې، ستا په پښو کې به کېښودل شي، مصلح الدین له تاسې سره بندي دی، نو ځکه له هغه نه پوښتنه وکړه، ښایي چې یو څه درته ووایي.

بلبیس له هغې نه زیاتې پوښتنې ونه کړې، هغه مصلح الدین ته ورغی مصلح الدین په ډېر بد حالت کې و، هغه یې له چت سره ځوړند کړی و، داسې چې له اوږو نه یې تړلی و، او پښې یې له ځمکې نه په هوا کې وې، بلبیس له ورتګ سره له هغه نه پوښتنه وکړه مصلح الدین دوسته! د څه چې درنه پوښتنه کوم راته یې وې وایه، ستا مهرمن چېرې ده؟ او هغه دې په چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې تښتولې ده؟ اوس به یو څه نورې خبرې هم وایې، ستا یارې خپل ځان ښودلی دی .

مصلح الدین ورته په قهر وویل: رذیله ما پرانزه، چې د مصر امیر راشي، زه به پر تا باندې همدغه حالت راولم کوم چې تا پر ما راوستی دی .

په دې کې د بلبیس د اداري یو مؤظف سړی راغی او هغه ته یې غوږ کې څه وویل: له حیرانتیا د هغه سترګې ودرېدې، په منډه له زیر زمینی نه ووت، پورته ووخوت، هلته د مصلح الدین مېرمن او د هغې درې تښتوونکی سړی ناست وو، فاطمی هغه ته وویل چې څه ډول وتښتول شوه او څنګه دا درېواړه ونیول شول .

بلبیس فاطمه او نور درېواړه مجرمان زېر زمینی ته بوتلل او د مصلح الدین مخی ته یې ودرول، مصلح الدین چې هغوی ولیدل، سترګې یې پټی کړې څکه د لیدلو توان یې نه درلوده .

بلبیس ترې پوښتنه وکړه په دې درېواړو کې قاتل کوم یو دی؟ مصلح الدین غلی و، بلبیس ترې درې کرتې پوښتنه وکړه، خو هغه بیا هم غلی و، بلبیس د زیر زمینی یو تن ته اشاره وکړه، هغه سړی رامخی ته شو، له مصلح الدین نه یې غبرږه تاوه کړه او ځان یې ورپورې ځوړند کړ، د دې سړی وزن د مصلح الدین تخرګونه سره په جلا کېدو کړل، چې په رسیو تړل شوي وو، هغه له درده چیغی کړي وې ویل منځنی یې قاتل دی .

بلبیس هغوی درېواړه یوه جلا ځای ته بوتلل او هغوی ته یې وویل. چې ووایې تاسې ځوک یې او دا تولـه لړیـ څنګه روانه شویده ؟ او که نه نو له دې ځایه به ژوندي ولاړ نه شې! هغوی پخپلو کې مشوره وکړه او قایل کېدو ته یې غـاړه کېښـوده، بلبیس هغوی سره جلا جلا کړل او فاطمه یې پورته وخېژوله، فاطمی هغوی ته هماغه خبرې وکړې، چې د مخه یې ورته کړې وې، هغې د خپل ځان په باب وویل، چې مور یې سودانی او پلار یې مصری دی، درې کاله کېږي چې له خپل پلار سره مصر ته راغلې یم مصلح الدین زه ولیدلم او زما پلار ته یې سړي راولېږل، ماته څرګنده نه ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څومره پيسو خبره وشوه پلار مې زه د مصلح الدين په كور كې پرېښودم او د پيسو يوه كڅوړه يې له ځان سره يوړه، مصلح الدين يو عالم او څو كسه سړي كورته راوغوښتل او په اصولي ډول مو نكاح وشوه او زه د مصلح الدين منكوحه مېرمن شوم، هغه له ما سره زياته مينه كوله او مينه زما كمزوري وه، د پلار له لوري راسره دومره مينه شوې نه وه، ما ګومان كاوه چې زه دلته پلار د پلورلو له پاره راوستلې وم، ماته له مصلح الدين نه هيڅكله شكايت پيدا شوى نه و، چې هغه به ګونډې دومره بد سړى وي، هغه شراب نه څښل، د بهرنيو فعاليتونو په باب يې راته هيڅ پته نه وه.

صلاح الدين ايوبي چې د شوبک په لور كوچ وكړه ، تر هغې وروسته په سملاسي ډول په مصلح الدين كې يو بدلون راغى هغه به د شپې تر ډېره وخته له كوره بهر و، يوه شپه فاطمې وليدل چې په شرابو خمار كور ته راغى، د فاطمې پلار شرابي و، هغې د شرابو بوى او شرابيان پېژندلاى شول، هغې له مصلح الدين سره د مينې له امله دا هم وزغمل، بيا به كورته شپې له خواشكمن سړي راتلل، يوه شپه مصلح الدين فاطمې ته د پيسو دوه كڅوړې او څو طلاوې وركړې او په كور كې يې كېښودې، او يوه شپه چې هغه په شرابو كې غرق نشه شو، نو فاطمې ته يې وويل كه د مصر شمالي سيمه چې د روم تر بحيرې پورې غزېدلې ماته را كړاى شي او كه د سوډان له پولو سره تړلې سيمه؟ ستا چې كومه خوښه وي، ته به يې ملكه او زه به يې پادشاه يم. فاطمه دومره هوښياره جنۍ نه وه، چې په دې لړ كې يې له هغه نه پوښتلي واى، هغې دا ګڼلې وه چې مېړه يې ډېر شراب څښلي او پرتې وايي، په هوش كې به هغه د غسې خبرې نه كولې، بيا يوه ورځ يوه ښكلې انجلۍ د هغه كورته راوستل شوه، دوه سړي ورسره وو د انجلۍ يې هم په كور كې وه نكاح يې شوې نه وه، دغې انجلۍ د فاطمې د ملګرتيا زياته هڅه وكړه، خو هغې له جنۍ كركه كوله. هغې جنۍ تر<ي مېړه خپل كړ، ترديې وروسته د خضرالحيات وژنه پېښه شوه.

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



د درېوارو مخ پتیو مجرمانو په لومړي سرکې بلبیس ته غلطې خبرې وکړې، خو بلبیس هغوی لارې ته راوستل درېوارو چې جلا جلا کومې خبرې وکړې، له هغو نه څرګنده شو، چې درېواړه د فدایانو د ډلې سړي دي، هغوی د صلیبیانو له لوري د مصلح الدین سره ملګري شوي وو، مصلح الدین ته بې شمېره دولت او یوه انجلۍ ورکړل شوې وه، او دا وعده هم ورسره شوې وه، چې که د صلاح الدین ایوبي پر خلاف یې پاڅون بریالی کړ، نو د مصر له پولو سره جوخت به یو جلا ریاست د هغه له پاره جوړېږي، چې واکمني به یې د مصلح الدین او عیسوي انجلۍ. په واک کې وي، مصلح الدین لوړ پوړي چارواکي د خان ملګري کول پیل کړي وو، خو خضرالحیات یې نه ملګری کېده، پرمالیه او بیت المال قبضه اړینه وه، چې د خضرالحیات په شته والي کې یې امکان نه لاره، د خزانې ساتونکې تولۍ د سر تېرو سپاهیانو تاکل شوې ډله وه، مصلح الدین د خضرالحیات له وژنې سره د دغه کنډک بدلول غوښتل او پر ځای یې باید بغاوت ته تیار سپاهیان او دوه تنه حشیشیان (افیمیان) ټاکلي وای، دیاد شویو درې کسانو کار د هر هغه چا وژنه وه، چې پرېکړه یې مصلح الدین کړې وای، هغوی ته د دې کار اجوره په پرله پسې توګه د صلیبیانو له لوري ورکول کېده، څرنګه چې هغه دغه کار د کسب په شکل کاوه، نو ځکه یې له بلې لارې هم د مزدورۍ اخیستنې کوښښ هم کاوه، نو ځکه یې له مصلح الدین نه پنځوس اشرفۍ او دوه طلاوې هم غوښتلې، چې هغه د خضرالحیات تر وژنې وروسته ورنه کړې، هغه ورته ویلي وو، چې تاسې ته پوره اجوره درکول کېږي، هغوی ورته د وژنې ګواښ وکړ او مصلح الدین ورته په بدل کې د خپلې ښځې وړاندیز وکړ او ورته وې ویل چې تاسې ته به د دې نه ښه قیمت په لاس درشي ځکه فاطمې له هغه سره پدې هکله مرسته نه کوله.

مصلح الدین لا تردې وخته په چت کې ځوړند و، هغه چې کله د تحقیقاتو له پاره پرانستل شو. بې هوښه شوی و، د جاسوسې نجلۍ کوټې ته چې ورغلل هغه مړه شوې وه، له خولې یې ځګونه تللي وو، طبیبانو چې ولیدله

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



، وې ویل چې زهر یې خوړلي دي، له هغې سره یوه وړه کڅوړه پرته وه، د هغې نه له ورایه څوګند بده، چې زهر پکې بند شوي وو، چې نجلۍ د خپلو جامو په کومه برخه کې پټه کړې وه ... د پر وخت وروسته مصلح الدین په هوش راغی، خو هغه اپلتې یې غرولې، په خبرو خبرو کې به غلې شو او بیا به یې په غټو غټو توکو ته کتل، بیا به یې بې مفهومه خبرې کولې، طبیبانو پرې دارو وخوړل، خو د هغه دماغ د جزا اونیول کېدو له تکلیفه ګډ وډ شوی و.

په هماغه شپه غیاث بلبیس ته یو عزتمند سړی راغی، د هغه نوم زین الدین علي و هغه بلبیس ته وویل چې هغه ته څرګنده شوې ده، چې کوم جاسوس او څو تنه ورنکاري نیول شوي دي او هغه هم یو څه څرګندونې کول غواړي، زین الدین د سیاسي او ټولنیزو چارو د ډګر ستر مشر و، هغه پیر او لاربنود نه و، خو ستر ستر حاکمان یې مریدان وو هغه ته د حاکمانو او ټولنې د لوړې طبقې په خلکو کې له درې څلورو کسانو له لوري معلومه شوې وه، چې د سلطان صلاح الدین ایوبي او د هغه د پوځ د غیر حاضرۍ له امله دښمن ګټه پورته کوي او په داسې چالاکۍ سره د سازش او بغاوت زهر خپروي، چې د چا نیول آسان نه دي، زین الدین - غیاث بلبیس او د علی بن سفیان مرستیال حسن بن عبدالله ته د څه ویلو پر ځای په شخصي توګه د دغه ورانکاری د درک لګولو هڅی پیل کړې وې، د پوځ غټ او واړه افسران به هم د هغه مجلس ته راتلل، له هغوی نه یې د زیاتو خبرو معلومات تر لاسه کړي وو، او د زیات شمېر کسانو نومونه او د هغو کړنې ورته څرګندې وې، هغه په اصل کې په ځانګړې توګه د ورانکارو پر خلاف خپله دله جوړه کړې وه، چې خورا حساس رازونه یې لاسته راوړي وو.

یوه مصري تاریخ لیکونکي پخپل کتاب سلطان صلاح الدین ایوبي کې د توطئو او بغاوت د ځپړنې شمله د زین الدین او علی بن سفیان پر سر تړلې ده، او د درې څلور کسه موزخینو حواله یې وړاندې کړې ده، خو د هغه زمانې چې کومې لیکنې ساتل شوي دي، له هغو نه څرګندېږي، چې د مالي چارو د ادارې د مشر خضرالحیات له وژنې د صلیبیانو دا توطئه رسوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې وه، چې د وسیلې په توګه یکې هماغه مسلمانان کارېدل چې صلاح الدین ایوبي پرې باور لاره، په هر حال د دغه ستر شخصیت د ځانګړیو خپړنو او د هغو لاسته راوړنه یوه داسې کارنامه وه، چې موزخینو ورته پر ځای شاباسی ورکړی دی، هغه بلبیس ته وویل چې لا یو څو ورځی نور هم خپلو څېړنو ته دوام ورکول غواړي، تر څو تولې توطئې په نخښنه کړای شي، خو د نیول شویو ورانکاریو خبره ښار کې مشهور شوه چې د هغه له امله یې نور ملګري پټ شول هغه یې ورته نومونه او درکونه وښودل او خپل مخبران یې هم بلبیس ته وسپارل ، حسن او بلبیس پریکړه وکړه چې صلاح الدین ایوبي ته دې په سملاسي ډول اطلاع ورکړل شي او د دې کار لپاره یې همدا زین الدین وټاکه، په هماغه ورځ یې د دولس تنه سپرو سپاهیانو په بدرګه د شوبک په لور ولېږه .

* * *

په دریم ماښام دغه کاروان شوبک ته ورسیده، سلطان صلاح الدین ایوبي چې کله زین الدین ولیده، نو حیران هم شو او خوښ هم د هغه له شخصیت نه خبر و، د غېږي روغبړ یې ورسره وکړ، زین الدین وویل : ما کوم ښه خبر راوړی نه دی، د مالیې رئیس خضر الحیات وژل شوی دی ، او شوی دی ... د سلطان رنګ ژېړ شو.

زین الدین هغه ته داد ورکړ او تفصیلات یې ورته وویل : د هغه پوځ په باب یې چې په مصر کې و، ورته وویل. د هغوی تر منځ بې باوری خپره شوې ده، دغسې آوازې خپرې شوي دي چې د شوبک فاتح پوځ په سرو او سپینو زرو مور کړای شوی او عیسوی انجونې هم ورته سپارل شوي دي، په مصري پوځ کې دا وېره هم خپره کړای شوې چې د سوډانیانو یو ستر لښکر پر مصر د حملې په حال کې دی، چې د مصر لږ شان پوځ یې مخه نیولی نه شي اود مصري پوځ ټول سپاهیان به ووژني، او صلاح الدین ایوبي هم دا غواړي چې مصري پوځ ووژل شي، سر بېره پردې دا آوازه هم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوره ده، چې سلطان صلاح الدین ایوبي د جګړې په ډګر کې سخت زخمي شوی دی، کېدای شي چې ژوندی پاتې نه شي، د هغه قوماندنان هلته خپلسري شوي دي زین الدین وویل چې هلته د سلطان صلاح الدین ایوبي د زخمي کېدلو خبر باوري ګڼل شوی دی، نو ځکه د مصلح الدین په څېر حاکمان مصر د صلیبیانو په مرسته په کوچنیو کوچنیو برخو ویشل او د خپلواکو ریاستونو د جوړولو لارې چارې لټوي.

سلطان صلاح الدین ایوبي د وخت ضایع کولو پرته ډېر چټک قاصد راوغوښت او د نور الدین زنګي په نامه یې په یوه پیغام کې د مصر ټول حالات ورته ولیکل او له هغه نه یې پوځي مرسته وغوښته، هغه ورته ولیکل چې که زه دلته پاتې کېږم، نو مصر له لاسه وځي او که ځم نو د شوبک سوبه په ماتې باندې بدلیږي، نیول شوې سیمه باید په هیڅ حالت کې هم له لاسه ورنه کړل شي، ما تر اوسه دا پرېکړه ونه کړی شوه، چې دلته پاتې شم او که مصر ته ولاړ شم، هغه قاصد ته وویل. چې شپه ورځ دې آس ځغلوي، که آس یې سترې شي، چې هر څوک سپور یې مخې ته ورشي له هغه سره دې بدل کړي او که څوک انکار وکړي نو .... خو خپل رفتار دې نه کموي، هغه ته یې دا لارښوونه هم وکړه، چې که د دښمن په ګېر کې راشي، نو د ځان ویستلو کوښښ دې وکړي او که ونیول شي، نو دا پیغام دې په خوله او تېردې کړي، خو چې پیغام د دښمن لاسته ورنه شي، قاصد روان شو، سلطان صلاح الدین ایوبي همدغسې یو بل استاذي راوغوښت او هغه یې د خپل ورور تقي الدین په لور د پورتنیو لارښوونو سره ولېږه، هغه په وروستي پیغام کې خپل ورور ته ولیکل، له تاسره چې هر څه دي، هر څومره جنګیالي سپاهیان چې راټولولی شي، پر آسونو سپاره شي او قاهرې ته خانونه ورسوي، په لاره کې له ارتیا پرته مه تم کېږي، زه نه پوهېږم چې له تاسې سره به کوم ځای کې ګورم ؟ او ګورم به هم او که نه؟ که په قاهره کې مو سره ونه لیدل او زه ژوندی پاتې نه شوم، نو د مصر امارت پخپل لاس کې واخله، مصر د بغداد د خلافت ملکیت دی او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله جل جلاله د دغه ملکیت د ساتني مسوولیت ایوبي کورنۍ ته سپارلی دی، تر روانېدو د مخه د محترم پلار ( نجم الدین ایوب ) لاسونه ښکل کړه او ورته ووایه چې پر ملا دې وتپوي، بیا د مور مرحومې مزار ته ورشه، د هغه روح ته دعا وکړه، راځه! الله جل جلاله ستا ملګری دی، زه چې هر چېرې یم هلته به انشاء اللله د اسلام بیرغ نه راښکته کېږي، ته په مصر کې د اسلام توغ سر لوړی وساته، دغه قاصد هم ولېږل شو.

د دغو دوارو استازیونه چې کوم سلطان نورالدین زنګی ته ورسېده، د هغه برنـي حالت دا و چې چپ لاس یې د توري په ګذارونو ریچې ریچې شوی و، او په ملا کې یې غشی خښ و، هغه د زنګی په پښـو کې پرېوت، همدومره وه یې ویلای شول، چې په لاره کې د دښمن سره مخ شوی وم، بیا مې هم پیغام راورساوه.

هغه پیغام د سلطان زنګي په لاس کې کېښود او شهید شو، د نور الدین زنګي پوځ چې کله د شوبک کلاته په نږدې کېدو شو، نو په کلا او ښار کې اعلان وشو، چې د صلیبیانو پوځ دی، لـه یوې شپې ضایع کولو پرته د شوبک پوځ د مقابلې تیاری وکړ، خو په ګردکې چې کوم بېرغونه را ښکاره شول، هغه د مسلمانانو بیرغونه وو، بیا له دورو نه د تکبیر ملکو تی نارې راپورته شوی ، له کلا نه سلطان صلاح الدین ایوبي لـه مرستیالانو سره د استقبال له پاره مخې ته ورغی اوښه راغلاست یې ورته وویل .

* * *

درې څلور ورځې وروسته چې په قاهره کې کوم پوځ و، هغې ته په میدان کې د راټولېدو حکم وشو، پوځیانو پوښتنې کولې چې څنګه ورته د تیارسۍ امر شوی دی، ځینو ویل، چې بغاوت به وي، ځینو ویل چې د سوډانیانو یرغل را روان دی، تر قوماندانانو پورې یې څوک خبر نه وو چې د دغو راټولېدو هدف څه دی؟ دغه امر د پوځ لـه مرکزي قوماندانۍ نه شوی وو، کله چې ټول فوځ په خپل ترتیب په میدان کې راټول شو، له یوه لوري شپېږ اوه آسونه د میدان لوري ته په څغاسته راښکاره شول ټولو چې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیدل، حیران پاتې شول، تر ټولو د مخه صلاح الدین ایوبي را روان و، ټول تري خبر وو، چې هغه په شوبک کې دی، سلطان صلاح الدین ایوبي حیرانوونکی حرکت وکړ هغه له پرتوګ پرته نوري ټولی جامې وویستلې، سر یې هم لوڅ کړ، او د پوځ د ټولو صفونو په مخ کې پر آس سپوز په ډګ ډګ تېر شو نیا د پوځ مخې ته راغی او په لوړ غږ یې وویل: زما په بدن باندې چا کوم زخم ولیده؟ آیا زه مړ او که ژوندی یم؟

یوه اوښ سپاره وویل د مصر د امیر بخت دې لوړ وي، مونږ ته ویل شوي وو، چې تاسې زخمي شوي یاست او د رغېدو نه یاست سلطان صلاح الدین ایوبي یو ځل بیا په لوړ غږ وویل چې تر وروستی صفه رسېده که دا خبر دروغ وي نو هغه ټولې آوازې هم دروغ دي، چې ستاسې غوږونو ته رسول شوي دي، هغه وویل: د کومو مجاهدینو په باب چې تاسې ته ویل شوي وو، چې په شوبک کې سره او سپین زر لوټوي، او له عیسوي انجونو سره مزې چړچې کوي، هغوی د فلسطین په شګلنو دښتو کې له یوې کلا نه بلې او له بلې نه د بلې فتح کولو په تیاریو کې اخته او د سپېڅلیو احساساتو په سمندر کې لامبو وهي. هغوی ولې د لوږې تندې مري؟ یوازې د دې له پاره چې ستاسې د میندو، خویندو او لوڼو پت او عزت له صلیبي وحشیانو وژغوري، په شوبک کې مونږ د مسلمانو انجونو د هغوی د مور او پلار دا حال لیدلی دی چې لونه یې له عیسویانو سره دي او مور او پلار یې د همغوی په بېګار کمپونوکې له تکالیفو تېرو لومري، اوس، کرک، یروشلم او د فلسطین هر کلی چې د عیسویانو په واک کې دي، له مسلمانانو سره همدغه چلند کیږي، له جوماتونو طبیلې جوړې شوي، او د قرآن عظیم سپېڅلې پاڼې په کوڅو او بازارونو کې د هغوی په پښو کې رغړېږي او مونږ به مزی او چړچې کوو؟

دا وینا دومره جذباتي او پاروونکې وه، یو قوماندان چیغه کړه وې ویل: بیا نو مونږ دلته څه کوو؟ مونږ ولې د جګړې ډګر ته نه بېول کیږو؟

Scanned by CamScanner

سلطان صلاح الدين ايوبي ورته وويل: تاسې دلته د دې له پاره کېښنول شوي ياست چې د دښمن خپرې کړای شوې آوازې واورئ ! او پر هغو باور وکړئ ! تاسې دلته د خپل بيرغ پر خلاف بغاوت وکړئ ! چې سوډانيان له صليبيانو سره يو ځای د مصر خاوره ونيسي او ستاسې لوڼې هم بې پته کړي! تاسې د قرآن پاک پاڼې په خپلو لاسو ولې بهر نه غورځوئ؟ آيا تاسې د قرآن بې حرمتي پر صليبيانو کول غواړئ؟ تاسې چې د خپلو ايمانونو ساتنه کولای نه شئ، د خپل قوم د پت ساتنه به څنګه وکړئ ؟

په ټول پوځ کې وراخطايي پيدا شوه، صلاح الدين ايوبي وويل: تاسې ته دلته څو تنه قوماندانان نه ښکاري، زه به هغوی تاسې ته دروښيم.

هغه يوه لوري ته اشاره وکړه، لس يوولس کسه سړي چې په غاړو کې يې رسی اچول شوې او لاسونه يې شاته تړل شوي وو د پوځ مخې ته راوستل شول، هغوی يې د صفونو مخې ته تېر کړل، سلطان صلاح الدين ايوبي اعلان وکړ، دا ستاسې قوماندانان وو، خو دا د هغه قوم دوستان دي، چې ستاسې د دين، پيغمبر او هېواد دښمنان دي، دا دي نيول شوي دي، سلطان صلاح الدين ايوبي پوځ ته د خضر الحيات د وژنې او د مصلح الدين د نيول کېدو ټوله پېښه واوروله او مصلح الدين ميدان ته راوستل شو، هغه لا تردې وخت هم د لېونتوب په حالت کې و، سلطان صلاح الدين ايوبي هغه تېره شپه په کوتوالی زندان کې لېدلی و، هغه سلطان صلاح الدين ايوبي پېژندلی نه و هغه د خپل رياست او خپلواکۍ خبرې کولې، اوس سلطان صلاح الدين ايوبي هغه پر آس کښېناوه او د پوځ مخې ته يې راووست، هغه چې پوځ وليده په لوړ غږ يې وويل. دا خو زما پوځ دی، د مصر د حکومت پر خلاف بغاوت وکړئ، زه ستاسې پادشاه يم، صلاح الدين ايوبي د مصر دښمن دی، تاسې هغه ووژنئ.

هغه خبرې کولې او لکه د لېونو په څېر يې له خولې نه ځګونه روان وو، د پوځ له صفونو د شغ غږ راغی او يو غشی مصلح الدين په مرۍ کې ښخ شو، هغه د پرېوتو په حال کې و، چې څو نور غشي يې پر بدن ننه وتل،

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلاح الدین ایوبي چیغې کړې او غشي ویشتونکې یې منع کړل، قومدانانو غشي ویشتونکیو ته د را مخکې کېدو وویل، له هغوی نه یوه یې وویل، مونږ یو خاین وژلی دی، که دا قتل وي نو زمونږ غاړې حاضرې دي، سلطان صلاح الدین ایوبي هغوی وبخښل، د هغه په بدن کې لاتر دې وخته یوازې پرتوګ و، نور بدن یې لوڅ و، هغه جلا د همالته راوغوښتو او هغه خاینان چې د پوځ مخې ته درول شوي وو، د هغوی سرونه یې همالته له تنو نه جلا کړل.

هغه د یوه بل حکم په کولو ټول په حیرانتیا کې واچول، امر یې وکړ چې دا پوځ به له دې ځایه نیغ (مستقیم) د جګړې ډګر ته ځي، ستاسې شخصي او نور سامانونه به تاسې پسی راوړل کیږي، پوځ کوچ وکړه، مطلب یې دا و چې مصر به بې پوځه پاتې کیږي، سلطان صلاح الدین ایوبي د غدارانو پرې کړای شو یو سرونو ته وکتل او له چا سره یې په خبرو پیل وکړ، سلګۍ غوندې یې وکړه او پر مخ یې غبرګې اوښکې راغلې، جامې یې واغوستې او یوه لورې ته ولاړ، هغه خپلو ملګریو حاکمانو ته وویل. زه دا خطره وینم چې دښمن به زمونږ په قوم کې همداسې خاینان پیدا کوي او داسې یوه ورځ به راشي چې د غدارانو ورمېږونه پرې کوونکي به هم دښمن ته دوست وايي، دوستانو! که اسلام سرلوړی لیدل غواړئ نو دوست او دښمن وه پېژنی !!!

د مصر کومو حاکمانو ته چې څرګنده نه وه چې پوځ ته ولې د تللو امر شوی، هغوی ته یې وویل- چې دا پوځ دلته بې کاره ناست و، ما ورته امر وکړ، چې دلته یې بېکاره مه پرېږدئ، جنګي تمرینات پرې وکړئ، له ښاره یې لرې بوځئ او وخت په وخت یې په جګړیز حالت کې وساتئ، ذهني روزنه یې هم وکړئ، خو زما امر عملي نه کړای شو، ما دولس تنه مسئوولو حاکمانو ته د مرګ سزا ورکړه، هغوی د یوې توطئې له مخې پوځ اوزګار وساته، عسکرو په جواری او نشو ساعت تېرول پیل کړي وو او ذهنونه یې آوازو منلو ته تیار شوي وو، تاسې ښایي فکر کوئ چې مصر بې پوځه پاتې شو، مه وېرېږئ، پوځ راروان دی کوم پوځ چې شوبک فتحه کړی دی، هغه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاهرې ته داخل شوى ، هغوى په ماپسې رالېږديدلي، هغه پوځ دښمن او د هغوى ګناهونه له نږدې ليدلي، څوک يې باغي كولاى نه شي، د هغه سپاهيانو شهيدانو ته دوكه وركولاى نه شي، او دا پوځ چې له دې ځايه ځي، پر كرک به حمله كوي، كوم سپاهي چې يو ځل له دښمن سره مخامخ او وه جنګيږي، بيا يې هيڅ ډول لالچ غدارۍ ته تياروَلى نه شي .

دغه بدلون داسې پېښ شوى و، چې كله سلطان صلاح الدين ايوبي، نورالدين زنګي او خپل ورور تقي‌الدين ته استازي ولېږل، پخپله په پټه د قاهرې په لور روان شو، خپلو مرستيالانو ته يې قومانده وسپارله او كوټلې لارښوونې يې ورته وكړې، چې له غيرحاضرۍ نه يې هيڅوک خبر نه شي، هغه ورته ويلي وو، چې زنګي به خامخا مرسته راوليږي څومره پوځي مرسته چې هغه راوه لېږي، همدومره پوځ قاهرې ته راوه لېږئ، خو په لاره كې دې زيات پړاوونه نه كوي، له دې نه سلطان صلاح الدين ايوبي دوه هدفه لرل، يو دا چې كه د مصر پوځ باغي شو، نو د جګړې له ډګر نه راغلى پوځ به بغاوت غلى كړي او كه حالات ښه شول، نو د مصر پوځ به محاذ ته ولاړ شي او د محاذ پوځ به مصر ته راشي، سلطان صلاح الدين ايوبي چې قاهرې ته ورسيده، په قاهره كې د هغه شتوالى پټ وساتل شو، په هماغه شپه يې د زين الدين په لارښوونه ټول خاينان په ويدو ونيول، پر څو نورو ځايونو كې يې هم تالاشي وكړه، هغو درې تنو حشيشانو هم د ځينې كسانو نومونه ښودلي وو، هغوى هم وه نيول شول، د هيچا د رتبې او مرتبې خيال ونه ساتل شو.

فاطمه د سلطان صلاح الدين ايوبي له امر سره سمه زين الدين ته وه سپارل شوه، او ورته وويل شوه چې په يوه موزون ځاى كې يې د نكاح چاره تر سره كړي، اوس سلطان صلاح الدين ايوبي د تقي الدين انتظار كاوه، هغه دوه درې ورځې انتظار وكړ، تقي الدين له دوه سوه سپرو سره راورسېده، صلاح الدين ايوبي هغه ته د مصر حالات او پېښې او راتلونكى پلان وركړ او پر خپل ځاى يې وټاكه، او دا يې ورته اجازه وكړه چې سوډان

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې تر نظر لاندې ساتي او چې کله ضروري او مناسبه وګڼي حمله دې پرې وکړي.

د دغو لارښونو او احکامو وروسته صلاح الدین ایوبي شوبک ته روانېدو، چې په همدې شیبه کې علي بن سفیان چې له هغه سره راغلی و د کرک صلیبیانو ستاسې له پاره ډالۍ رالېږلې ده. که لږ څه نور وویل انتظار وکړی ډالۍ به وګورې علي بن سفیان سلطان صلاح الدین ایوبي حیران پرېښود بهر ووتو هغه سلطان صلاح الدین ایوبي ته هم د بهر را تللو بلنه ورکړه.

سلطان صلاح الدین ایوبي پر آس سپور له علي بن سفیان سره روان شو، لږ څه وړاندې په میدان کې پنځه سوه آسونه ولاړ وو، پر هر آس زین هم و، له دغو آسونو لږ اخوا اوه اته صلیبیان پر رسیو تړلي ولاړ وو، او د خپل پوځ یې یو سرحدی کنډک هم د تیارسۍ په حال کې ولاړو، سلطان صلاح الدین ایوبي وپوښتل دا آسونه له کومه راغلي دي؟ علي بن سفیان یو سړی راوباله او د سلطان صلاح الدین ایوبي مخې ته یې ودراوه وې ویل: دا زما د استخباراتو سړی دی، دا له درې کلو راسې د صلیبیانو له پاره جاسوسي کوي، دی د صلیبیانو او سوډانیانو تر منځ د اړیکو کار کوي، هغوی دی خپل جاسوس ګڼي، خو دا په اصل کې زما سړی دی، دی کرک ته تللی او صلیبي شاهانو ته یې د سوډانیانو پیغام رسولی و، چې هغوی ته د پنځه سوه آسونو او زینونو اړتیا ده، هغوی ورته له آسونه سره دا څو تنه خپل پوځي افسران هم ورکړل دوی د هغه سوډاني لښکر د قیادت له پاره روان وو، چې پر مصر د حملې له پاره تیارېږي، زما دې زمري دوی دې خوا راتا وګړل او په جال کې یې ورننبلول خپله سرحدي قشله یې راوغوښته خپله پېژند ګلوي یې ورسره وکړه او دغه کنډک دا پنځه سوه آسونه او دا صلیبي افسران قاهرې ته راوستل.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



علی بن سفیان صلیبي افسران د نورو معلوماتو تر لاسه کولو له پاره خپل مرستیال حسن بن عبدالله ته وسپارل او پخپله له سلطان صلاح الدین ایوبي سره د شوبک په لور روان شو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com Digital Library



## د کنډرو هډ

د توطئو او تګیو د مجرمانو وینې لا د قاهرې شګو زغملې نه وې، چې د سلطان صلاح الدین ایوبي ورور تقي الدین د هغه په بلنه قاهرې ته له دوه سوه سپرو سره راورسېده. د توطئې د مجرمانو مړي پرې شوي وې، او داسې ښکارېدل، چې د قاهرې شګې د دغو مجرمانو له وینو جذبولو ځان زغوري، چې له صلیبیانو سره یو ځای شوي او د اسلامي امت د بېړۍ د راکښته کولو په هڅوکې مصروف وو. سلطان صلاح الدین ایوبي د هغوی ټولو مړي وکتل، د هغوی پرېکړای شوي سرونه یې پرېږي روحه سینو اېښي وو، یوازې یو مړی چې تر ټولو د لوړې مرتبې خاین او د سلطان صلاح الدین ایوبي مکمل باوري سړی و، دا د قاهرې مرستیال ناظم مصلح الدین و، د پوخ په مخکې چې کله د مصلح الدین جرمونه ویل کېدل د اسلام یو احساساتي سپاهي په لینده کې غشی اېښی او د مصلح الدین له مړي نه یې تېرو بېر ایستلی و، سلطان صلاح الدین ایوبي د سپاهي دغه غیر قانوني حرکت بخښلی و، چې یو د ایمان ښښتن هم د اسلام پر خلاف خیانت زغملی نه شي، همدې سلطان صلاح الدین ایوبي پخپل پوځ کې دایمان قوت پیدا کړی و.

د دغه مړو په لیدلو د صلاح الدین ایوبي په مخ کې د خوښۍ څرک هم نه لیدل کېده، چې د هغه په صفونو او د حکومت په نظام دومره زیات شمېر توطیه ګر او خاین کسان نیول شوي دي او هغوی ته د مرګ سزا ورکړل شوې ده، د هغه څېره غمجنه، او سترګې یې سرې وې، لکه د اوښکو نه بهېدلو هڅه چې کوي، په قهر خو ډېر زیات و، چې څرګندونه یې هغه په دې الفاظو وکړه: له دوی نه به د یوه جنازه هم نه ادا کېږي، د دوی مړي به یې خپلوانو ته نه ورکول کېږي، چې کفن هم ورنکړي، د شپې په تیاره کې یې په یوه ژوره کنده کې وه غورځوی، خاورې پرې واچوی او ځمکه پرې هواره کړي، چې په دې دنیا کې خو یې د مړی پته هم ونه لګېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سلطان صلاح الدين ايوبي اعتمادي ملګري قاضي بهاوالدين شداد ورته وويل: محترم اميرا د کوتوال بيان او د ګواهانو شاهدي بايد و ليکل شي او په يوه دوسيه کې وساتل شي، چې د دې ګوتنيونی ځای پاتې نه شي، چې دا پرېکړه يوازې د يوه کس وه، ستاسې پرېکړه په حقه ده، له پوره انصاف نه کار اخيستل شوی، خو د قانون غوښتنه بل څه ده.

آيا قرآن دا حکم کړی دی، چې له کفارو سره د ملګري شويو مسلمانو چې د اسلام جرړې پرې کوي، هغوی ته دې دا حق ورکړل شي، چې د عدالت په مخکې ودرېږي، د دیندارو او الله جل جلاله او رسول الله صلی الله عليه وسلم د عظمت ساتونکی دې دروغجن ثابت کړي؟

سلطان صلاح الدين ايوبي دا خبره له خورا صبر او زغم وروسته وکړه، چې د يو باديانته مسلمان قهر او غوسه تري له ورايه ښکارېده، هغه ټولو حاکمانو ته چې هلته موجود وو په خطاب کې وويل: که ما پر دوی بې انصافي کړي وي، نو ماته د دومره زياتو مسلمانانو د وژنې په بدله کې د مرګ سزا راکړی او زما مړی له ښاره لرې وغورځوي، چېرې چې دښتې ګيدړې او کارغان زما هډوکي هم د ځمکې پر مخ پرې نږدي، زما ملګريو! خو ماته له سزا راکولو د مخه قرآنکريم سر تر پای ولولی! که قرآن ما ته سزا راکوي، نو زما غاړه حاضره ده!

کوم بل چا وويل: . قدرمنه سالاره! بې انصافي شوی نه ده، د قاضي شداد مقصد دا دی، چې د قانون بې ارزې ونشي سلطان صلاح الدين ايوبي وويل: زه پوه شوم د هغه مقصد د آيينې په څېر روښانه دی، زه تاسې ټولو ته يوازې همدومره ويل غواړم، چې د وخت حاکم په ځانګړې ډول پوهېږي، چې څوک ورته د غدارۍ په جرم مخې ته راوستل شي، چې دا خاين دی، نو دا د وخت د واکمن مسئووليت دی، چې هغه د شهادتو او د قانون په نورو پېچلتياو کې له پرېوتو پرته خاين ته هماغسې سزا ورکړي، څنګه يې چې حقدار دی، که هغه له سزا ورکولو تېښته کوي، وېرېږي او وړاندې وروسته کوی يې، نو دغسې حاکم پخپله خاين دی او يا خو لږ تر

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


لړه نا اهل او بې ايمانه خامخا دي، هغه وېره لري، چې که قاضي ته ورشي، نو مجرم به هم هغه ته مجرم ووايي، زما زړه پاک دی، ما د غدارانو په صف کې ودروي، الله جل جلاله به ترې ما جلا کړي، که ستاسې زړونه د کعبې د رب په رڼا روښانه وي، نو له مجرمانو سره د مخامخېدو نه مه وېرېږئ، خو زما دوست بهاوالدين چې کومه مشوره راکړې ده، پر هغې عمل وکړئ، کاغذونه تيار کړئ او پر محترم قاضي صاحب پرېکړه و ليکئ، څرګنده ده چې دا پرېکړه به د هغه نه وي، وه ليکئ چې د مصر امير چې د پوځ اعلی قوماندان هم دی، هغه خپل ځانګړي اختيارات کارولي او مجرمانو ته يې د مرګ سزا ورکړې ده، چې جرمونه يې بې له شکه ثابت شوي وو .

سلطان صلاح الدين ايوبي خپل ورور تقي الدين ته وکتل، هغه ستړی او له ډېر لرې سفر نه راغلی و، سلطان صلاح الدين ايوبي هغه ته وويل زه ستا په مخکې بې خوبي او ستړيا وينم، خو ته آرام کولای نه شې، ستا سفر لا پای ته رسېدلی نه دی، بلکې اوس به پيل کيږي، زه بايد شوبک ته ولاړ شم، خو له تاسره به له ضروري خبرو اترو وروسته انشاء الله روانېږم .

د ښار ناظم وويل: کومو کسانو ته چې د مرګ سزا ورکړل شوه، د هغوی له کونډو او بچيانو سره څه وکړو؟

سلطان صلاح الدين ايوبي وويل : د هغوی له پاره زما پر هماغه احکامو عمل وکړئ، چې تر دې د مخه مې د غدارانو د کورنيو په باب صادر کړي دي. خو دا يې هم وويل: چې د کونډو په باب څېړنه وکړئ چې هغوی خو به د خپلو مېړونو په څېر د دښمنانو په جال کې نښتې نه وي ، په مونږ کې خوښځپالنې هم خاينان پيدا کړي دي، تاسې وليدل، چې صليبيانو زمونږ د ورونو ايمانونه د ښايسته ښځو په مقابل کې وېېرودل په هغوی کې چې کومې کونډې نېکې او مؤمنې دي، د هغوی ودونه يې له خوښې سره سم وکړئ، پر يوې هم خپله پرېکړه ونه تپئ، خو پام کوئ، چې کومه ښځه بې سر سيوري پاتې نه شي، او له با عزته ژوند بې برخې نه شي، او د اړتيا په حال کې پرې نه ښودل شي، خو د دې خبرې هم خيال وساتئ، چې څوک

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغوی غوږونو ته دا خبره ونه رسوي، چې خاوندان یې بې ګناه وژل شوي دي، د هغوی په ذهنونو کې دا خبره کښېنوی، چې تاسې خوش بختی یې، چې له هغو مجرمانو مېړنو مو نجات ومینده ... د هغوی د اولادونو روزنه په خصوصي ډول وکړی، ټول مصارف یې له بیت المال نه ورکړی. د خاینانو بچي خاینان نه وي په دې شرط چې پالنه او روزنه یې صحیح وشي، دا په ټولو مسلمانانوحق لری چې د هغوی ښوونه او روزنه په مینه او اخلاص سره وکړی.

* * *

سلطان صلاح الدین ایوبي غوښتل چې بېرته ژر ولاړ شي، له هغه سره فکر و چې د هغه په نشتوالي کې صلیبیان حمله ونه کړي د نور الدین زنګی رالېږل شوی پوځ د شوبګ او کرک سیمو ته رارسېدلی و، د قاهرې پوځ لا ور روان و، خو دغه دواړه پوځونه باید له سیمې سره بلد کړای شوي وای، هغه خپل دفتر ته ولاړ، او خپل ورور تقی الدین، علی بن سفیان، حسن بن عبدالله، غیاث بلبیس او څو تنه نور مرستیالان او حاکمان یې راوغوښتل، هغه زیاتره لارښوونی تقی الدین ته کول غوښتل، چې د هغه په غیر حاضرۍ کې به یې ورور تقی الدین د مصر حاکم او د پوځ اعلی قوماندان وي، او ده ته به همدومره واک حاصل وي، څومره چې صلاح الدین ایوبي پخپله لرلو.

سلطان صلاح الدین ایوبي خپل ورور ته وویل: تقی الدینه! له همدې اوس نه له زړه نه اوباسه چې ته زما ورور یې! که نا اهلي، بد دیانتي، لټی، خیانت، سازش او یا بې عدالتي دې وکړه، د هماغومره سزا مستحق به ګڼل کېږې چې د اسلامی شریعت په قانون کې لیکل شوې ده.

تقی الدین وویل: محترم امیر صاحب! زه خپل مسئوولیتونه ښه پېژنم او له هغو خطرونه هم خبر یم، چې مصر ورسره مخ دی.

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل: یوازی مصر ته نه بلکې ټول اسلامی امت ته ورپېښې دي او د اسلام د پر مختګ او اسلامي سلطنت د پراختیا

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او استحکام په لارو کې ستر خنډونه دي، تل ياد ساته، هر هغه سيمه چې اسلامي سلطنت ورته ويل کېږي، هغه د کوم فرد يا ډلې جاګير نه دی،د الله جل جلاله ځمکه ده او تاسې ټول د هغې ساتونکي او امانتګر ياست ، د دې خاورې زره زره او بخرې ، بخرې تاسې سره امانت ده، د دې ځمکې خاوره هم چې د کوم کار له پاره کارول غواړې نو فکر وکړه چې د کوم بل انسان حق لاندې نه کړې، په الهی امانت کې خيانت ونه کړې - تقی الدينه ! زما خبرې په غور سره واوره! د اسلامي نړۍ تر ټولو ستره بدبختي دا ده، چې په همدې مسلمانانو کې د خاينانو، شر خوښوونکيو او د سيسته کارانو شمېر ډېر زيات دی، په هيڅ قوم کې هم دومره خاينان پيدا شوي نه دي، لکه په مسلمانانو کې چې پيدا کيږي، ان تر دې چې د جهادي کارنامو له مخې وياړلی تاريخ ، د خيانتونو تاريخ ترې هم جوړ شوی دی ، او د خپل قوم پر خلاف توطئې جوړول زمونږ کلتور ګرځېدلی دی... تقی له علی بن سفيان نه پوښتنه وکړه! زمونږ هغه جاسوسان چې د صليبيانو په سيمو کې کار کوی وايي چې صليبي واکمن، مذهبی مشران او پوهان د مسلمانانو د دې کمزورۍ نه خبر دی چې مسلمانان د ښځو، پيسو او واکمنۍ په خاطر په خپل دين، وطن او قوم پر غلامۍ هم ډيل نه کوي .

سلطان صلاح الدين ايوبي د غونډې ګډون کوونکيو ته وکتل ، وې ويل: زمونږ د استخباراتو کسانو مونږ ته ويلی دي، چې صليبيانو خپلو جاسوسانو ته په ذهنونو کې دا خبره کيښنولې چې د مسلمانانو تاريخ چې څومره له فتوحاتو ډک دی، همدومره يې د غداريو تاريخ هم دی، مسلمانانو دومره سوبې کړې نه دی څومره چې پکې غداران پيدا شوي دي، د رسول الله صلی الله عليه وسلم او خلافت راشده وروسته مسلمانان د منصب تر لاسه کولو له پاره د يو بل پر خلاف راپورته او په جګړو اخته شول ، هغوی د واکمنۍ په خاطر يو بل ووژل، يو سړی به خليفه يا امير وټاکل شو، نو د خلافت او امارت بل هيله من به د هغه پر خلاف تر دې بدترسازشونه وکړل ان چې په پټه به يې د اسلام له دښمنانو هم مرسته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغوښته او د چا لاس ته به چې خلافت او امارت ورغی هغه به هر هغه مشر ووازه، چې د ده خلافت او واکمنۍ ته تري خطر وو ، ملي پرتم پای ته ورسېده او ځانګړې واکمنې پاتې شوه بیا د همدې ځانګړې واکمنۍ او ګټې ساتنه پیل شوه، د هیواد پراختیا پای ته ورسېده، بیا د سلطنت دفاع کمزوري شوه او بیا سلطنت، . . . صلیبیان زمونږ د دې تاریخي کمزورۍ نه خبر دي، چې زمونږ وګړي د شخصي واکمنۍ د ساتنې او استحکام لپاره د سلطنت ډېره لویه برخه هم له لاسه ورکولای شي ، همدا زمونږ د تاریخ په برخه دي. . .

تقي الدین او زما ملګریو! کله چې ماضي ته ګورم او چې کله په اوسني وخت کې د خاینانو زیاتوالي او د توطئو جالونو ته ګورم، نو دا خطراحساسوم، چې یوه ورځ به داسې راشي ، چې مسلمانان به د تاریخ له لیکنو سره هم خیانت کوي، هغوی به د قوم په سترګو کې خاورې اچوي چې د پردې تر شاه به یې له دښمنانو سره دوستي وي، پر خپلو ماتو او شکستونو به پرده اچوي، د اسلامي سلطنت جرړې به وچې شي ، په مسلمانانو کې به یو داسې نسل پیدا شي، چې له هغوی سره به یوازې یوه ناره پاتې وی اسلام زنده باد هغه نسل به له تاریخ نه ناخبره وي، هغه نسل ته به هیڅوک دا خبره نه کوي، چې د اسلام ساتونکي او لوړوونکي هغه کسان وو، چې شګلنو دښتو، غرونو، درو او پردیو هیوادونو ته ولاړل او وه جنګېدل، هغوی پردریابونو اوسیندونو تېر شول، هغوی چې زخمیان شول، چا یې پر زخمونو پټۍ کې نه اېښودې، که هغوی شهیدان شول، نو ملګریو ته یې د قبر ایستلو وخت په لاس ورنغی، هغوی خپلې وینې یې وبهولې، خپلې هم او د دښمن هم او شاته یې د خلافت په ماڼو کې شراب بهېدل، د لوڅو نجونو ګډاګانې وي صلیبیان پر خپلو پیسو او خپلو لوڼو زمونږ خلیفه ګان او امیران رندوي، کله چې هغو خلیفه ګانو وه لیدل چې قوم د هغو توریالیو پلوي کوي چې په اروپا او هندوستان کې یې د اسلام بیرغونه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړ کړي، نو بیا همدغو واکمنانو د اسلام پر هماغو مجاهدینو د لوټ تالان او زنا په څېر تورونه پورې کړل، هغوی یې له مرستو او رسد نه بې برخې کړل .

ماته د قاسم هغه تاند او ښکلی زلمی زوی رایادیږي، چې هغه د ډېر کم عمر پر مهال د هندوستان یو ځواکمن پادشاه ته ماتې ورکړه او د هندوستان دومره پراخه سیمه یې تر واک لاندې راوسته چې هغه پوځي مرسته او خوراکي شیان نه غوښتل، د فتحه شویو سیمو له خلکو سره یې داسې رویه وکړه چې هندوان یې غلامان شول او د هغه له مهربانی نه اغېز من او مسلمانان شول، ماته چې دغه هلک رایادیږي، زړه مې درد کوي، د هغه مهال واکمن له هغه سره څه ډول چلند کړی و؟ پر هغه یې د زنا تور ولګاوه او د مجرم په توګه یې بېرته راوه غوښت، سلطان صلاح الدین ایوبي ته سلګۍ ورغلې او غلی شو.

بهاو الدین شداد په خپلو یادښتونو کې لیکي: زما ګران دوست صلاح الدین ایوبي به چې د خپلو سرتېرو مجاهدینو په سوونو شهیدان ولیدل، نو د هغه په سترګو کې به ځلا او مخ کې ښکلا ښکارېده، خو چې یوازې یو خاین ته به یې د مرګ سزا ورکړه او د هغه مړی به یې ولیده نو رنګ به یې مړاوی شو او له سترګو به یې اوښکې روانې شوې...

د محمد بن قاسم له یادولو سره هغه په سلګو شو، ما ورته کتل چې هغه خپلې اوښکې تم کړې بیا یې وویل: دښمن د هغه هیڅ ونه کړای شول، خو خپلو شهید کړو ، دښمنانو خو محمد بن قاسم د فاتح په توګه ومانه خو خپلو ورته زنا کار ووایه، صلاح الدین ایوبي د طارق بن زیاد یادونه وکړه او په هغه ورځ هغه دومره احساساتي شوی و، چې ژبه یې نه درېده، حال دا چې هغه به ډېرې لږې خبرې کولې، رښتیا خوښوونکی وو پر مونږ ټولو چوپتیا خوره وه، او مونږ ټولو په خپل بدن یو ارپانوونکی اغېز احساساوه، صلاح الدین ایوبي بې شکه چې یو ستر قاید او لاربښود و، هغه ماضی نه هېروله، د حال له خطرو سره یې مقابله کوله، او راتلونکې حالات یې تر نظر او څارنې لاندې ساتل .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبي وویل : د صلیبیانو سترګې زمونږ راتلونکې ځاري، صلیبي واکمن او پوځي قوماندانان وایي چې مونږ به اسلام د تل له پاره ختموو، هغوی زمونږ سلطنت تر ولکې لاندې راوستل نه غواړي، هغوی زمونږ زړونه د نظریاتو په تورو غوځول غواړي، زما استخباراتو ماته ویلي دي، چې د صلیبیانو تر ټولو زیات اسلام دښمن پادشاه فلپ اګستس وایي، چې هغوی خپل قوم ته یو مقصد په ګوته کړی دی، اوس به د صلیبیانو راتلونکی نسلونه د دغه هدف او موخې له پاره کار کوي دا ضروري نه ده چې هغوی به دغه مقصد د تورې په زور لاسته راوړي، له هغوی سره یو څو نور چالونه هم شته ...

تقی الدینه! څرنګه چې هغوی راتلونکي وخت ته سترګې په لار دي، همدغسې مونږ هم باید خپله اینده په نظر کې ولرو، څرنګه چې هغوی زمونږ په منځ کې د خاینانو پیدا کولو تخم کرلی دی، همدغسې زمونږ هم باید داسې لارې چارې غوره کړو، چې د غدر او خیانت مکروبونه د تل له پاره ورک کړو، د خاینانو پرله پسې وژنه کوم علاج نه دی، غداری ته میلان باید پای ته ورسول شي، د واکمنۍ د هوس په پای ته رسولو او د رسول الله له دین سره مینه یې اساسی علاج دی، دا په هغه حالت کې پیدا کېدای شي، چې د قوم په سترګو کې د دین د دښمنانو تصور موجود وي، مسلمانانو ته باید څرګنده وي، چې د صلیبیانو په تمدن کې دومره بې حیا یې ده، چې ډېره زړه وړونکې ده او ملتونه د هغوی په تمدن کې ډېر ژر ډېبیږي او جذبیږي ، په هغوی کې شراب هم روا دي د ښځو له پردیو سره ګډیدل ، او ځانله اوسېدل هم روا دي، زمونږ او د هغوی تر منځ دا تر ټولو ستر فرق دی، چې مونږ د پاک لمنۍ ساتونکي یو او هغو د ناموسونو سوداګر، همدا هغه بیلتون دی چې زمونږ ځني مسلمانان ورونه یې له منځه وړل غواړي تقی الدینه! ستا د یوې جګړې ډګر د ځمکی پر مخ دی، او دویم تر ځمکی لاندې، یوه جګړه دې د دښمنانو پر خلاف ده او بله د خپلو پر خلاف، که په مونږ کې خاین وګړي نه پیدا کېدای، نو اوس به مونږ دلته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو، د اروپا په زړه کې به ناست وو او صلیبیانو به د خپلو ښکلو لوڼو پر ځای کومه غور وسله زمونږ پر خلاف کاروله او غوره جنګی چالونه به یې کارول، که زمونږ د ایمانونو تودوخه زیاته وی، نو تر اوسه به مو صلیبیان د خاشاکو په څېر سېزلي وو.

تقي الدین وویل! زه ستاسې پر زیاتره مشکلاتو اوس وه پوهېدم، محترم نور الدین زنګی هم په مکمل ډول خبر نه دی، چې په مصر کې تاسې د خاینانو د پوځ تر منځ راګېر یاست، تاسې باید له هغوی نه مرسته غوښتې وای، هغه به مرسته درسره کړې وه.

سلطان صلاح الدین ایوبي ځواب ورکړ: تقي الدینه وروره! مرسته یوازې له الله جل جلاله نه غوښتل په کار دی، که مرسته له خپلو وغواړې او که له پردو نه، د سړي ایمان کمزوری کوي، د صلیبیانو پوځ په زغرو کې پټ دی، زما عسکرو معمولي جامې اغوستې وي، بیا یې هم صلیبیانو ته ماتې ورکړې ده، که ایمان د فولادو په څېر کلک وي نو بیا زغرو ته اړتیا نه شته، زغرې او خندقونه د ځان ساتنې احساس پیدا کوي او سپاهي پخپل ځان کې بندي کوي یاد ساته د جګړې په ډګر کې له خندق نه بیرون اوسه، ګرځه راګرځه، جنګېږه، د دښمن شاته مه ځه، هغه خپلې شاته راوله، د جګړې مرکز قایم او ټینګ ساته، اړخونه خپاره کړه او دښمن په دواړو اړخونو کې راګېر کړه، احتیاطي پوځ هغه ځای ساته، له کومه ځایه چې پر دښمن د شا له لورې حمله کولای شي، له چریکانو پرته هیڅکله جګړه مه کوه، د چریکي ګروپونو په وسیله تل د دښمن ذخېرې او ګودامونه له منځه وړه، هغه خوراکي مواد او ذخیره چې د دښمن سره د جګړې په ډګر کې وي او هغه چې ورپسې راوړل کیږي، چریکان د دښمن د څارویو د له منځه وړلو او وېرولو له پاره وکاروه، له مخامخ ټکر نه ځان ساته، جګړه اوږده کړه، دښمن وارخطا وساته، زه چې کوم پوځ شاته پرېږم، دا د جګړې له ډګر نه راغلی دی، په دې پوځ کې له خپل سر سره لوبې کوونکي چریکي ځوانان او ګروپونه شته، دوی ته یوازې د اشارې اړتیا ده، ما په دې پوځ کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


ایمان تودوخه ژوندۍ ساتلې ده، چېرې داسې ونه شي، چې ته خپل ځان پادشاه وګڼې او د دوی ایمانونه سست شي، پر مونږ چې کومه حمله کېږي هغه زمونږ پر ایمانونو حمله ده، د صلیبي تهذیب اغېزې د بېرې په چټکتیا سره په مصر کې خپرېږي.

سلطان صلاح الدین ایوبي خپل ورور تقي الدین ته په تفصیل سره وویل چې په سوډان کې پر مصر د حملې له پاره تیاری روان دی، په سوډانیانو کې اکثریت د هغه ځای د حبشانو دی چې عیسویان نه بلکې مسلمانان دي، په هغوی کې هغه مسلمانان هم دي، چې د مصر د پخوانی پوځ خپلسري سپاهیان دي او د بغاوت په جرم له پوځ نه شړل شوي وو، سلطان صلاح الدین ایوبي وویل: خو په کور کې ناست د دښمن د راتګ انتظار مه کوه، استخبارات به تاته پرله پسی خبرونه درکوی حسن بن عبدالله درسره دی، هر کله چې دی دا احساس کړی چې دښمن د تیری او حملی اراده لری د وخت ضایع کولو پرته حمله پری وکړه او دښمن د تیاري په حالت کې له منځه یوسه، خو خپل شا لوري ته نظم کلک او برابر ساته، قوم د جګړی له حالاتو نا خبره مه ساته که الله مه کړه ماتې وخورې، نو خپلې سهوې او او پیسو کیږي، د همدې قوم زامن شهیدان او معیوب کیږي، په دې خاطر قوم تل پر خپل ځان باوري وساته، جنګ د پادشاهانو لوبه مه ګڼه، دا یوه ملي مسئله ده، په دې کې ملت له خپل ځان سره وساته، ما چې کوم فاطمی غلطۍ ومنه قوم ته ووایه چې د ماتې لاملونه څه وو، جنګونه د قام په وینو خلافت ړنګ کړی و، هغه زمونږ پر خلاف فعالیت کوي، معلومه شوې ده چې هغوی په پټه خپل خلیفه هم ټاکلی دی، د هغوی خلیفه العاضد مړ شوی دی، خو هغوی خلافت په دې هیله ژوندی ساتلې دی چې سوډانیان به پر مصر حمله کوی او صلیبیان به بیا مصر ته راشي دا خاوره به ونیسی او د حکومت واګې به زمونږ په لاسه راکړی، فاطمیانو ته د حسن بن صباح د وژونکی ډلې ملاتړ هم په برخه دی، زه علی بن سفیان له ځان سره بیایم، د هغه مرستیال حسن بن عبدالله او کوتوال غیاث بلبیس به له تاسره وي،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی به د پټو چلونو په پلټنه بوخت وي... د نویو پوځیانو ښېره کول چټک کړه او دوامدار جنګي تمرینات کوه .

حسن بن عبدالله وویل: لږه موده کېږي چې مونږ ته خبرونه راځي، چې د مصر له جنوبي سیمو ځوانان په پوځ کې نه ښېره کېږي، دا هم څرګنده شوې ده چې د هغو ځایونو خلک له پوځ سره مخالفت ته تیارېږي، علی بن سفیان پوښتنه وکړه: معلومه کړې موده چې لامل یې څه دی؟ حسن بن عبدالله وویل: زما دوه تنه جاسوسان هلته وژل شوي هم دي، له هغه ځایه خبر اخیستل آسان کار نه دي، خو بیا هم ما نوي جاسوسان لېږلي دي کیدای شي څه نوي خبرونه راوړي .

غیاث بلبیس وویل: زه له خپلو وسیلو معلومات تر لاسه کوم، ګومان کوم چې د هغې پراخې سیمې خلک په کومه نوې افواه غولیدلي دي، هغه سیمه ډېرې مشکلې لارې لري، وګړي یې کلک او سخت دي، خو په عقیده کې سست او خیال پرست دي .

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل: خیال پرستي ډېر ستر لعنت دی، هغه سیمه تر څارنې لاندې ساتی او د هغه ځای خلک له توهماتو وژغوری .

* * * *

دری څلور ورځې وروسته د کرک په کلا کې هم یوه غونډه جوړه شوه، دا د صلیبي واکمنو او اعلی قوماندانانو غونډه وه، هغوی ته خو دا خبره څرګنده وه چې سلطان صلاح الدین ایوبي د فلسطین یوه کلا ( شوبک ) تر ې نیولې ده، او اوس به پر کرک حمله کوي، هغوی همدې احساس وارخطا کړي وو، چې که مسلمانانو کرک هم د شوبک په څېر فتحه کړ، نو بیا به د یروشلم ( بیت المقدس ) ژغورل ډېر ګران وی صلیبیان پوه شوي وو، چې سلطان صلاح الدین ایوبي له تیاری سره سره مخ پر وړاندې را روان دی، هغه یو ځای نیسي، بیا د پوځ کمی په نویو عسکرو پوره کوي ، هغه نوي له زړو عسکرو سره روزي او چې کله یې باور راشي، چې نوي عسکر د مقابلې وړ شوی دی، رامخی ته کیږي له همدې امله هغوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرک کلا دفاع کلکوله، او له کلا نه بهر یې د جګړې پلان هم جوړ کړی و، خو په دې غونډه کې هغوی پخپل پلان کې د بدلون کولو اړتیا احساس کړه، ځکه چې د هغوی د استخباراتو مشر هرمن هغوی ته د سلطان صلاح الدین ایوبي، د هغه د پوځ او د مصر د تازه حالاتو په باب خبرونه اورولي وو.

صلیبي جاسوسانو کرک ته په ډېره لږه موده کې دا خبر رسولی وه، چې سلطان صلاح الدین ایوبي هغه پوځ قاهرې ته بیولی، چې دلته جنګېده او د شوبک کلا یې نیولې وه او په قاهره کې چې کوم پوځ وه هغه یې په ډېره چټکتیا شوبک ته رالېږلی دی، له بلې خوا نور الدین زنګی د خپل غوره پوځ مرسته دلته رارسولې ده. د سلطان صلاح الدین ایوبي ورور تقی الدین له دمشق نه قاهرې ته رسېدلی دی، چې هلته به د خپل ورور سلطان صلاح الدین ایوبي ځای ناستی وي، سلطان صلاح الدین ایوبي قاهرې ته تللی و هلته یې دسیسه کارانو ته د مرګ سزاګانې ورکړې او اوس بېرته د فلسطین په لور را روان شوی دی. د صلیبیانو له پاره دا خبره ښه نه وه چې د قاهرې ښار نایب ناظم مصلح الدین نیول شوی او د خیانت په جرم اعدام شوی هم دی، مصلح الدین د صلیبیانو د کار سړی و، د صلیبیانو د جاسوسی نظام مشر هرمن غونډه له دغو بدلونونو خبروله وې ویل: د مصلح الدین د وژل کېدو له امله خو مونږ ته زیان رسیدلی دی، خو د تقی الدین مقرري زمونږ په ګټه ده، هغه بې شکه چې د صلاح الدین ایوبي ورور دی، خو هغه صلاح الدین ایوبي نه دی، زما ورانکاري جاسوسان به د هغه په تېر ایستلو بریالی شي، دا ښه خبره ده چې سلطان صلاح الدین ایوبي او علی بن سفیان په قاهره کې نه وي.

ریمانډ پوښتنه وکړه، زه حیران یم چې هغه ستا د فدایانو ډله څه کوی؟ هغوی خو به دوه مخیزه لوبه نه کوی؟

بدبختانو تر اوسه سلطان صلاح الدین ایوبي ونه وژلی شو، حو زمونږ ډېرې پیسې په دوی بې ځایه ولاړې.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرمن وویل: پیسی نه ضایع کیږي، زه هیله لرم چې صلاح الدین ایوبي به د جګړې تر مرکزه هم راونه رسیږي، له هغه سره څلورویشت تنه محافظین قاهرې ته تللي دي، چې څلور پکې د فدایانو له ډلې دي، د هغوی وخت رارسېدلی دی، ما یې چاره سنجولې ده، سلطان صلاح الدین ایوبي به په لاره کې ووژني.

فلپ اګستهس وویل: مونږ باید په خوش باوریو اخته نه شو، فرض کړی چې که صلاح الدین ایوبي ونه وژل شو او روغ رمټ تر محاذه راورسېده، له هغه سره خو اوس دمه پوځ دی، نوي عسکر یې هم روزلي دي، او د نور الدین زنګی مرسته هم ورته رارسېدلې ده، د شوبک په څېر مستحکمه کلا یې هم نیولې ده اوس به ورته له قاهرې نه خوراکي مواد نه راځي، په شوبک کې یې دا هر څه پریمانه راټول کړي دي، په دغسې حالاتو کې باید مونږ څه وکړو؟ زه خو هغه ته دا موقع ورکول نه غواړم چې هغه دې کرک کلا بند کړي او مونږ دې د کلا بندۍ په حال کې وجنګېږو.

اوس باید زمونږ خبره تر کلا بندۍ ونه رسیږي، یو بل صلیبي واکمن وویل: مونږ باید بهر جګړه وکړو او په داسې شکل چې شوبک مو کلا بند کړی وي.

فلپ اګستهس وویل: سلطان صلاح الدین ایوبي بیدیانی ګیدړ دی، هغه نه په بېدیاکې ماتې ورکول آسان کار نه دي، هغه به مونږ ته د شوبک د کلا بندۍ موقع او اجازه راکړي، خو مونږ به کلا بند کړي، زه د هغه پر چالونو پوه شوی یم، که تاسې هغه مخامخ جګړې ته راوستلای شي، زه ستاسې د برې ضمانت کوم، خو هغه به هیڅکله مخ په مخ جګړه ونه کړي.

تر ډېرو بحثونو وروسته پرېکړه وشوه، چې نیم پوځ دې له کلا نه بهر وه لېږل شي او د صلاح الدین ایوبي پوځ ته مخامخ دې خېمې ووهی، او د هغه پوځ دې تر دقیقې څارنې لاندې ساتي، په دې پلان کې د بهر جنګېدونکي پوځ په باب پرېکړه وشوه، چې که د بهرني پوځ شمېر د صلاح الدین د پوځ درې چنده نه وي نو دوه چنده خو دې خامخا وی د شاله لوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



حملې له پاره جلا پوځ وټاکل شو، او په پلان کې دا خبره هم وټاکل شوه، چې د مسلمانانو پوځ ته به رسد له شوبک نه راځي، په دې خاطر د شوبک او مسلمانانو د پوځ تر منځ فاصله باید د چریکي ګروپونو د حملو لپاره وه ټاکل شي پوځي قوماندانانو پرېکړه وکړه، چې د مخامخ لوري نه دې دومره زیات شمېر پوځ حمله وکړي، چې صلاح الدین ایوبي په مخامخ جګړه کولو مجبور شي، په اصل کې صلیبیان پر خپل زغره وال پوځ غره وو، د هغوی زیاتره پوځیانو زغرې اغوستی وې، پر سرونو یې اوسپنیزې خولۍ وې، له وچولیونه تر خولو پورې یې مخونه پر اوسپنیزو خولونو پوښلي وو، هغوی اوښانو ته هم زغرې اغوستې وې، د اوښانو پر سرونو یې هم اوسپنیز غلافونه غوړولي وو، او له اړخونو سره یې د اوسپنې پترې ځړېدلي وو، چې د غشیو مخه یې نیوله، هغوی هڅه کړې وه چې ډېر ښه آسونه تر لاسه کړي، که د اروپا یې هیوادونو آسونه په عربي بیدیا وو کې ژر ستړي کېدل، او جل وهل، صلیبیانو عربي آسونه اخیستي وو، خو شمېره یې دومره زیاته نه وه، هغوی د مسلمانانو له کاروانونو آسونه غلا کول پیل کړي وو، د سلطان صلاح الدین ایوبي آسونه ډېر ښه وو، د عربي نسل دا آسونه په بېدیاوو کې له تندې بې نیازه تر ډېره په آسانۍ ځغاستل.

پر دغو جنګي تیاریو سر بېره چې صلیبیانو د نظریاتي جنګ کومه جبهه پرانستې وه د هغې په باب یې د استخباراتو مشر هرمن رپوټ ورانديې کړ، چې سلطان صلاح الدین ایوبي به د مصر له جنوبي سیمو نوي عسکر تر لاسه نه کړي شي، دا هماغه سیمه وه چې د علی بن سفیان مرستیال حسن بن عبدالله یې په باب خبر ورکړی و، چې د هغه ځای خلک اوس په پوځ کې نه شاملیږي، لا چې ځنی وګړي یې د پوځ مخالف شوي هم دي، دا د زحمت کښو او جنګیالیو خلکو سیمه وه، چې له سلطان صلاح الدین ایوبي سره یې ډېر ښه جنګیالي وو، خو اوس د هرمن له خبرونو څرګندېدله چې صلیبي ورانکاري هلته رسیدلي دي، هلته خبره تردې رسېدلې وه، چې حسن بن عبدالله د دې خبرې د معلومولو له پاره چې ولې د هغه ځای خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوځ مخالف شوي ؟ دوه تنه جاسوسان لېږلي او دواړه وژل شوي وو، د هغوى مړى هم په لاس ورغلي نه وو، دغه سيمه چې ډېره پراخه او پلنه وه، د جاسوسانو لپاره يوه مستحکمه کلا ګرځېدلې وه له هغه ځايه هيڅ معلومات په لاس نه راتلل، همدومره معلومه شوې وه، چې د هغه ځاى خلک مسلمانان دي، خو په عقيدوى توګه سست او اوهام پالونکي دي.

هرمن له تفصيلاتو پرته وويل چې د هغه ورانکاري بريالى دى هغوى به اوس د مصر په ټولو سرحدي سيمو کې همدا ډول چلند خپلوي او خپروي او بيا به يې د مصر دننه سيمو ته د داخلېدو هڅې کوي، هغه هيله څرګنده کړه چې د مصر کلي به يې هم تر اغېز لاندې راشي، هغه وويل: زه د مسلمانانو يوه داسې خامي د همغوي پر خلاف کاروم، چې هغوي يې خپله نيکى ګڼي، مسلمانان د ملنګانو، فقيرانو، وظيفو او چيلو کوونکيو عاملانو او ملايانو او په ګوښه کې د ناستو ذکر کوونکيو مجذوباتو ډېر ژر مرېدان کيږي، دا ډله د اسلامي پوځ د هغو قوماندانانو مخالفه ده کومه چې زمونږ پر خلاف جنګونو کې يې شهرت ميندلى دى، دا ملنګان خلک په دې باورکوي، چې الله جل جلاله د همغوي اوري او همدوى د الله جل جلاله خاص بنده ګان دي، هغوى يوازى شهرت پيدا کول غواړي، په هغوي کې د جګړې ډګر ته د تللو جرئت نه شته، له دې امله هغوى په خانقاه کې ناست هماغه شهرت تر لاسه کول غواړي چې قوماندانانو د جګړې په ډګر کې ګټلى دى، کـه د انصاف او نـاپيلتوب لـه نظره وکتـل شـي، نـو د مسلمانانو دغه پوځي مشران چې په هغوى کې سلطان صلاح الدين ايوبي او نور الدين زنګي هم شامل دي، د قدر وړ انسانان دي، په هغوى کې چې چا تر اروپا پورې اسلام خپور کړ او هسپانيه يې پخپل حکومت کې شامله کړې و، په صحيح توګه د دې حقدار دي چې مسلمان قوم پرې وياړي، خو د هغوي وروستيو خليفه ګانو خپل نومونه په خطبو کې شامل کړل او د مجاهدو قوماندانانو اهميت يې راکم کړ، د دې سره سره په مسلمانانو کې د تش په نامه مولويانو او عالمانو يوه ډله پيدا شوه، چې له عمل نه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویرېدل، هغوی دا وګڼله، چې هر څه د مولوی حق دي، خو هغوی د وروستیو عیاشو خلیفه ګانو تر څنګ د جهاد معنی مسخ کړی وه چې خلک جهاد ته د تللو پر ځای په بې عمله واکمنانو راټولوي او هماغوی د الله تعالی غوره کړای شوي بنده ګان وګڼي، د هغوی مرموزې خبرې او جادو ګرانه انداز خلک داسې ګڼي چې د دغو غوره انسانانو په سینو کې پټ رازونه پراته دي ، چې الله جل جلاله هر بنده ته ښودلي نه دي، له دې امله ساده انسانان د دوي په جال کې راګېر شي، هرمن وویل زه په اصل کې همدغسې ملنګان استعمالوم، د مسلمانانو دغه کمزوري مونږ ته ډېره ګټه رسوي، زه مسلمانانو ته همدغه د اسلام خبری اوروم خو د اسلام له اساسی روح نه یې پرې لرې باسم، تاریخ ګواه دی چې یهودانو په نظریاتي ورانکارۍ سره اسلام په کافی توګه کمزوری کړی دی، زه د هماغوی پر اصولو کار کول غوارم .

همدا هغه جبهه وه چې تل به یې په باب سلطان صلاح الدین ایوبی فکر مند و، او د وارخطایي لامل یې دا وه چې په دې جبهه کې یې د خپل قوم وګړي پر خلاف جنګېدل، او څوک پرې نه پوهېدل .

* * * *

سلطان صلاح الدین ایوبي، تقی الدین او خپلو هغو حاکمانو ته چې په قاهره کې پاتې کېدل لارښوونې وکړې او د جګړې له ډګر څخه د ( کرک ) په لور روان شو، له هغه سره د څلور ویشتو محافظینو ډله وه ، صلیبیان یې له باډیګارډانو ځینی خبر وو او له دې نه هم خبر وو چې په هغوی کې د دوی اړوند څلور کسه د فدایانو د ډلې وو، چې د ډېرې چالاکۍ او زړورتوب له امله آن په ساتونکې ډله کې شامل کړی شوي وو، د هغوی هدف د سلطان صلاح الدین ایوبی وژل وو، خو وخت په لاس نه ورته، ځکه چې د ساتونکي ټولی شمېره به تر څلور ویشتو ډېر زیات و او د هغوی به تل بدلېده هیڅکله هم داسې شوي نه وو، چې دغه څلور تنه فدایانو دې یو ځای پیره شوي وي د ساتونکي ټولي قوماندان به تل هوښیار او تیارسی

(c) ke[...].com: The Digital Library


اوسېده، خو هغه په دې نه پوهېده چې په ملګريو کې يې قاتلان هم شته، هغه به تل ويښ و چې کوم ساتونکی پخپله دنده کې بې پروايي ونه کړي، اوس سلطان صلاح الدين ايوبي په سفر کې وه هغه پخپله ويلي وو، چې د ساتونکي پوځ ټول سپاهيان له ځان سره نه بيايو ځلور ويشت سپاهيان بس دي، حال دا چې په لاره کې د صليبي چريکانو خطره هم وه.

سلطان صلاح الدين ايوبي له قاهرې نه تنکۍ غرمه روان شوی و، نيمه شپه يې په سفر او پاتې يې په آرام کې تېره کړه، د سهار په تياره کې يې د کوچ کولو امر وکړ، د غرمې لمر آسونه بې دمه کړل، نو په يوه داسې ځای کې دغه کاروان تم شو چېرې چې اوبه هم وي، ونې هم او د کمرونو سيوري هم و، لږه شيبه وروسته د سلطان صلاح الدين ايوبي لپاره خيمه ودرول شوه، او دننه پکې سفري بستره وه غوړول شوه، له خوراک، څښاک نه چې اوزګار شو، سلطان صلاح الدين ايوبي د آرام او دمې لـه پاره اړخ ولګاوه، دوه تنه ساتونکي دګېرديۍ مخې او شاتنه به پيره وه درېدل، نور ساتونکي نږدې تر يوه سيوري لاندې کښېناستل، يو څو تنه يې آسونو ته د اوبو ورکولو له پاره ولاړل، علي بن سفيان او نور حاکمان چې لـه سلطان صلاح الدين ايوبي سره ملګري وه د يوې ونې سيوري لاندې وغزېدل، هغوی کېږدۍ درولی نه وي، دغه ځای داسې و، چې د سلطان صلاح الدين ايوبي خيمه ترې لږ شانتې پناه وه، د بېديا لمر ځمکه او آسمان سېزل چاته چې چېرته سيوري ښکاره شو، هماغلته کښېناست يا څملاست.

دا لومړی ځل و چې د سلطان صلاح الدين ايوبي پر خېمه چې کوم دوه کسه ساتونکي پيره شول، دواړه د افيمانو له ډلې وو، چې لـه يوې مودې د داسې موقع ميندلو په لټه کې وو، دا وخت ځکه ډېر موزون و، چې زياتره ساتونکي د آسونو اوبه کولو ته تللي وو، اوبه ديوه کمره بلې خواته وې، د کاروان سامان وړونکي اوښان هم اوبو ته بيولي وو، کوم ساتونکي چې لـه دوه پيره دارانو پرته پاتې وو، په هغوی کې هم دوه تنه نور افيميان وو، هغوی په اشارو اشارو کې موقع مناسبه وګڼله او پر سلطان صلاح الدين

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ايوبي يې د حملې پرېکړه وکړه، د سلطان صلاح الدين ايوبي د خيمې مخې
ته ولاړ ساتونکی پرده لږه پورته کړه، دننه يې وکتل او بهرنيو ملګريو ته يې
اشاره وکړه، سلطان صلاح الدين ايوبي په دې حالت کې په درانه خوب
ويده و، چې شا يې د خيمې د دروازې لورې ته وه، يو ساتونکی ورو دننه
ورغی هغه خنجر راونه ويسته او يوازې يې توره راويستلې وه، بلکې د هغه
په لاس کې چې کومه برچه وه هغه يې هم له خيمې نه بهر ايښې وه، د هر
ساتونکی په څېر دی هم يو قوي ځوان و، له ورايه خو هغه که د سلطان
صلاح الدين ايوبي دوه چنده غټ نه و، نو يو نيم چنده خو خامخا وه هغه
په کرار کرار تر سلطان صلاح الدين ايوبي ورغی او د برېښنا د پړک په څېر
يې سلطان صلاح الدين ايوبي له مرۍ نه په دواړو لاسو ونيو، سلطان
صلاح الدين ايوبي راويښ شو، هغه په ډډه هم واوښت، خو ځومره کلکه
چې د هغه مرۍ نيول شوې وه، له هغې نه ځان خلاصول ګران وو، د اسلام د
دی زړور جنرال ژوند يوازې څوشيبې پاتې وې، اوس هغه پر مخې پروت و،
حمله کوونکی يې پر ملا ګونډه زور کړه او يو لاس يې د هغه له ورمېږ نه
لرې کړ، په بل لاس يې د سلطان مرۍ کلکه ونيوله، هغه د خپل ملا بند نه
يوه پوړۍ غوندې راو ويستله، په همدې يو لاس يې پرانستله او د سلطان
صلاح الدين ايوبي په خوله کې يې د ورکولو کوښښ کاوه، هغه سلطان
صلاح الدين ايوبي په زهرو وژل غوښتل، ځکه چې له مرۍ تاوه ولو يې
څرګنديدله چې مرۍ يې خفه کړای شوې ده، سلطان صلاح الدين ايوبي
ناتوانه وه پر ملا يې يو قوی ځوان ناست او له مرۍ نه يې نيولی وه ساه يې
بنده شوې وه، د هغه خوله خلاصه وه، خو د پوړۍ په ليدو يې بنده کړه،
هغه د مرګ په حال کې هم خپل حواس پر ځای ساتلي وه، سلطان صلاح
الدين ايوبي له خپل کمر بند نه د تورې په څېر خنجر راوويسته، چې هغه به
د ګانځ په څېر تر ملا تړلی و، حمله کوونکي د هغه په خوله د زهرو ورکولو
کوښښ کاوه نووی نه شول ليدی چې سلطان صلاح الدين ايوبي خنجر را
ايستلی دی، سلطان صلاح الدين ايوبي خنجر د هغه په نس کې ننه ويست

Scanned by CamScanner

بیا راکش کړ او یو ځل بیا یې د حمله کوونکي پر ګیډی ورډننه کړ، حمله کوونکی د سنډا په څېر وچې دومره زر مر کېدای نه شو، سلطان صلاح الدین ایوبي هغه سپاهي وچې د خنجر له ګذار او مقصد نه خبرو، هغه خنجر د حمله کوونکی له ګیډی نه راونه ویست همالته یې پکې وګرځاوه او لاندې یې دیکه ورکړه، د حمله کوونکی کولمې او لړی راوه ووت.

د حمله کوونکي له لاسه د سلطان صلاح الدین ایوبي مری خلاصه شوه، د بل لاسه نه یې د زهرو پوړی پرېوته، سلطان صلاح الدین ایوبي خپل بدن وښوراوه او حمله کووکی یې دیکه کړ، نو حمله کوونکی له کټ نه لاندې پرېووت، اوس هغه د پاځېدو نه و، دغه جګړه تقریبًا په څو شیبو کې پای ته ورسېده، خو له خیمی نه بهر بل ساتونکی ولاړ و، هغه په خیمه کې درب غوندي واورېده پرده یې پورته کړه او دننه یې وکتل، هلته یې بله دول نقشه ولیدله، هغه توره ایستلی راغی او پر صلاح الدین ایوبي یې وار وکړ، خو سلطان د خیمې منځنی ستنه د تورې مخی ته ورکړه، او پر توره د خیمې ستن وه لګېده، خو صلاح الدین ایوبي لکه څنګه چې پیدایښي تورزن و، څنګه چې د حمله کوونکی توره پرستن وه لګېده، له بلې خوا نه سلطان پر ګذار کوونکی د خنجر وار وکړ، حمله کوونکی هم جنګیالی و، ځکه د ساتونکیو په ډله کې شامل کړای شوی و، خپل ځان یې بچ کړ، له دې سره صلاح الدین ایوبي د ساتونکیو قوماندان ته ورغږ کړ، حمله کوونکی بل وار وکړ، صلاح الدین ایوبي یې له مخی نه لرې شو، خو په همدې حالت کې یې ځان د هغه څنګ ته ورساوه، دا ځلی حمله کوونکی خان د صلاح الدین ایوبي له خنجر نه ونه ژغورلای شو، د صلاح الدین ایوبي له غږ سره دوه تنه ساتونکي خیمې ته راغلل، دواړو پر سلطان صلاح الدین ایوبي حمله وکړه په دې وخت کې سلطان صلاح الدین ایوبي دویم ساتونکی هم زخمی کړی و، خو هغه لا جنګېده.

سلطان صلاح الدین ایوبي خپله حوصله له لاسه ورنه کړه، الله جل جلاله یې مرسته وکړه چې د ساتونکیو قوماندان خېمې ته راورسېده، هغه نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


ساتونکیو ته غبرونه وکړل او پخپله د صلاح الدین ایوبي په وینا له حمله کوونکیو سره په جګړه شو، په دې کې څلور پنځه ساتونکې نور هم راوه رسېدل، بلې خواته علي بن سفیان او نورحاکمان د شور او زوږ په اوریدو راغلل، چې خېمې ته یې وه کتل رنګونه یې والوتل، څلور کسه ساتونکي په وینو لړند پراته وو، دوه یې مړه وه درېم یې د مړینې په حال کې و چې خېټه یې له سره تر پای څېرې شوې وه او پر سینه یې هم دوه ژور زخمونه خوړلي وو، د څلورم په نس کې یو زخم او په ورانه هم لګېدلی و، په ځمکه ناست او زاري یې کولې زه ژوندی پاتې کېدل غواړم ما د خپلې خور له پاره ژوندی پرېږدی صلاح الدین ایوبي خپل ساتونکی منع کړلو هغوی دومره پارېدلی وو، چې کله یې درېم ساتونکی د ساه اخیستلو په حال کې وه لیده، مری یې پرې کړه، څلورم یې صلاح الدین ایوبي له مرګه وژغوره، دا د ترحم ولولې هم وي او ضرورت هم، چې ددسیسی په اړوند بیان ترې واخیستل شي او د دغی توطئی سر او بېخ هم ترې څرګند شوی وای.

د سلطان صلاح الدین ایوبي طبیب له دغه کاروان سره موجود و، هغه جراح و، چې هر ځای به ورسره و، صلاح الدین ایوبي هغه ته وویل چې دغه زخمي باید په هر حالت کې ژوندی وه ساتل شي، خو صلاح الدین ایوبي پخپله ګرېبدلی هم نه وه، هغه سا او تیګاه و، خو په احساساتی توګه ډاډه ښکارېده، د قهر او غوسې نښې پکې نه وې، هغه موسکی شو وې ویل زه پدی هکله حیران نه یم داسې باید شوی وای!

د علي بن سفیان احساساتی حالت بدل شوی وو دا د هغه (مسئوولیت) و، چې هر څوک د ساتونکیو په ډله کې تاکل کیږي د هغه په باب باید مکمله څېړنه وشي چې خامخا باید باوري سړی وي، اوس د دې خبرې څېړنه په کار وه چې ساتونکیو کې اوس هم کوم ورانکاري پاتی دی او که نور یې سم او مخلص سړي دي ... د صلاح الدین ایوبي پر بستره هغه پوړی پرته وه، چې حمله کوونکی د هغه په خوله کې ورکول غوښتل، دا یو ډول سپین پوډر وو، چې یو څه یې په بستره باندی توی شوي وو، طبیب هغه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


سپين پوډر وکتل، او چې کله يې واورېدل چې دا يې د صلاح الدين ايوبي په خوله کې اچول غوښتل، د طبيب رنګ والوت، هغه وويل دا داسې زهر دي، چې يوه ذره يې د انسان له ستوني تېره شي، ډېر ژر په آسانۍ سره مړ کېدای شي، هغه يې تريخوالی نه احساسوي او نه پخپل بدن کې کوم بدلون ګوري، طبيب د صلاح الدين ايوبي بستره پورته کړه، بهر يې وه لېږله او پاکه يې کړه.

سلطان صلاح الدين ايوبي زخمي راپورته کړ او پر خپله بستره يې څملاوه و هغه په نس کې په توره لګېدلی و او دويم زخم يې په ورون خوړلی و، د نس زخم يې نه ښکارېده سر سري غوندي و، خو د ورانه زخم يې ښه ژور او پراخه و، هغه بيا بيا له صلاح الدين ايوبينه د خپل ژوند سوال کاوه، د هغه په زړه کې له صلاح الدين ايوبي سره کومه دښمني نه وه او نه يې ورسره عقيدوي اختلاف لاره، هغه يوازې د کرايې قاتل و، له خپلو تپې کيدو او نيول کېدو سره يې د پېغلې خور غمونو په سر اخيستی و، په وار وار يې د هغې نوم اخيسته او ويل يې چې زه مسلمان يم زما ګناه وبخښي او د يوې مسلمانې خور په خاطر راته بخښنه وکړي.

سلطان صلاح الدين ايوبي له زغم نه په ډکه لهجه ورته وويل: مرګ او ژوند د الله جل جلاله په واک کې دي، تا وه ليدل چې څوک وژني او څوک ژوندي ساتي، خو دوسته! دا مهال چې ستا روح د چا په واک کې دی ته هغه ويني، خپلې ګناه ته وګوره، خپلې ناتوانۍ ته وګوره، زه به تا ژوندی له خپلو ملګريو سره بهر وغورځوم، بېديانۍ ګېدړې او مرغان به دې په داسې حال غوښې کې خورې چې ته به ژوندی يې، په هوش کې به هم يې، خو تښتېدلی به نه شې، بوټۍ بوټۍ به مړ شې او د خپلې ګناه سزا به په خپلو سترګو ووينې.

زخمي په ډېر تکليف راپورته شو او صلاح الدين ايوبي يې له دواړو لاسو ونيو او په چيغو چيغو يې وژړل، صلاح الدين ايوبي ترې پوښتنه وکړه، ته څوک يې؟ له کوم ځايه راغلی يې؟ زما سره دې څه دښمني وه؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زخمي ځواب ورکړ: زه د فاطمیانو سړی یم، مونږ څلور واړه د چرسیانو له ډلې وو، څوک دوه کاله او څوک څلور کاله د مخ ستاسې په پوځ کې شامل شوي وو، مونږ ته دا زده کړای شوي وو چې ستاسې ساتونکی ټولي ته څه ډول رسېدلای شوه... هغه خبرې پیل کړې او د راز خبرې یې وکړې، هغه وویل چې په ساتونکې ټولي کې همدا څلور قاتلان وو، د هغه د خبرو پر مهال صلاح الدین ایوبي طبیب ته وویل چې ته د مرهم پټۍ کار ته دوام ورکړه، طبیب پټي ته یوه دوا ورکړه او د وینې بندولو هڅې یې پیل کړې، هغه زخمي‌ته ډاډ ورکړ چې روغ به شي، زخمي په خپلو خبرو کې وویل چې د معزول فاطمي خلیفه او حشیشیانو تر منځ ژمنه شوې وه فاطمیانو له صلیبیانو مرستې اخیستی او اخلي یې او بیا یې د دې خبرو تفصیل ووایه، تر ډېر وخت وروسته طبیب د زخمي مرهم او پټۍ سرته ورسوله، اصلي مرهم خو د صلاح الدین ایوبي مهرباني وه، چې د بدلې اخیستلو څوک په کې نه و.

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل: مړي بهر ګذار کړی او د زخمي په باب یې علي بن سفیان ته وویل چې له همدې ځایه یې قاهرې ته واستوی او کوم ځایونه یې چې ښودلي دي د هغوی پر خلاف اجراات وکړی، زخمي ډېر د خبرنه یې علي بن سفیان ډېره ښه کولای شوه، ټپي یې هماغه وخت پر اوښ په ځانګړې طریقه څملاوه او د علي بن سفیان سفر بېرته د قاهرې په لور پیل شو.

پر سلطان صلاح الدین ایوبي څو کرتې قاتلانه حملې شوي دي، خو د هغو ټولو یادونه په تاریخ کې راغلې نه ده، یوازې د پورته ډول دوه حملو یادوه شوې ده، یو ځلې یوه فدایي وژونکي د ویدو په حالت کې پر سلطان صلاح الدین ایوبي د خنجر وار کړی و، چې خنجر یې په پګړۍ کې لګېدلی و، او سلطان صلاح الدین ایوبي‌پرې راوېښ شوی و، چې هغه هم قاتل د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبي لـه لاسه وژل شوی و، د هغه په ساتونکی ټولي کې څو کسه وه نیول شول چې کرایې وژونکي وو.

* * *

د مصر سوېل لویدیځې سیمې چې د سوډان له پولو سره نښتی وې له سوونو کلو نور راسې پکې د تاو راتاو ودانیو کنډرې وی هغه د مصر سرحد څه بل ډول و، صلاح الدین ایوبي به ویـل چې مصر په اصل کې سرحد نه لري، خو بیا هم سوډانیانو یو خیالی غونډې سرحد جوړ کړې و، د کنډرو شاو خوا سیمو ته په ګرانه خلک ورتلل، ویل کیدل چې د فرعونانو په وختو کـې دا سـیمه شـنه او خړوبـه وه او هلتـه اوبـه زیـاتې وې، وچ خوړونـه او د سیلابونو زور او وچ خوړونه هم وو، چېرته به کمرونه د یوې پایې په شکل او چېرې به شګلن ګټونه وو، چې شکلونه یې د یو سترې پخوانـۍ ودانـۍ د کنډرو په څېر وو، یو ځای به یـوه غونډۍ د ستنې په څېر نېغه ولاړه وه او بل ځای به د یوه دېوال په څېر ولاړه وه چېرې به چې ځمکه هواره وه، هلته به شګې وې، لوړ او ټیټ کمرونه او ګټونـه به هم وو، د دې سیمې په شاو خوا کې یو ځای ځای اوبه هم وې، هلته به ونې غی وی اوسیدونکیو به یې کرکیله هم کوله، زیات وکم څلوېښت میله اوږده اولس دولس میله پلنه دا سیمه ودانه وه، اوسیدونکی یې مسلمانان وو، لږ شان وګړي یې نا مسلمان وو، خو د هغوی عجیبی غریبې عقیدې وی.

د فرعونیانو د ودانیوله کنډرونه به خلک وېرېدل، د هغې شاو خوا سیمه هم داسې وه چې پـه لیـدونکي بـه یـې وېـره راتلـه، لـه هغې ځایـه څـوک نـه تېرېدل، خلکو به ویل چې د هلته د فرعونیانو بلاګانې اوسې، چې د ورځې هم د حیواناتو په شکل ګرځي، کله د اوښ سپرو سپاهیانو په څېر او کله د ښکلیو نجونو شکلونه راڅرګندېږي، د شپې هم لـه دغـو ځایونو ویروونکی غږونه راځي، تقریبًا له یوه کال راهسې د دغه ځای په باب د خلکو تلوسې زیاتې شوې وې، تر دې د مخه چې د صلاح الدین ایوبي په لښکرو کې د ځوانـانو د شـاملولو پروګرام پیـل شـوی و، نـو پـوځي مـامورین هم پـه دغـو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيمو کې ګرځېدل راګرځېدل، د دغه ځای اوسيدونکيو هم هغوي خبر کړي وو، چې د کنډرو لوري ته به نه ورځي، هغوی ته د خطر ناکو غرونو، وېروونکيو شيانو او بلاګانو کيسې اورول شوې وې، له دې سيمې نه زيات شمېر ځوانان په پوځ کې ځېره شوي وو خو چې بيا وروسته پوځي مامورين ورغلل، نو د هغوی ارادی بدلی شوی وی ، په سرحد کې ګزمه کوونکيو پوځيانو رپوټ ورکړی و، چې د ګزمې سپاهيان هم دغه سيمې ته دننه نه ورځي و او هغوي هم دې لوري ته کوم انسان هم په ورتلو ليدلی نه و، خو اوس ځنې خلک ګوري چې دغو کنډرو ته ورځي او له هغې ځايه بېرته راتلونکي وېريدلي نه وي، لا چې ډاډه غوندې هم ښکاري، تر دې وروسته دا خبر راغی چې هره پنجشنبه تر ماښام په هغو کنډرو کې مېله غوندې جوړېږي او تردې وروسته دا پېښه وشوه چې د سرحدي پوليسو څلور پنځه سپاهيان بې درکه شول، د هغوی په باب راپور ورکړ شوی و چې باغيان شوي دي .

سلطان صلاح الدين ايوبي که له يوې خوا دښمن هيوادونو ته خپل استخباراتی کسان ليږلي وو، بلی خواته يې د هيواد په دننه کې هم د استخباراتو جال خپور کړی و، نامسلمانو مؤرخينو په ځانګړې توګه صلاح الدين ايوبي ستايلی دی، چې هغه د اوسنی وخت استخباراتو او کوماندو يې جنګ ته ځانګړې پاملرنه کړې او نوې لارې چارې يې غوره کړې وې او دا يې ثابته کړې وه چې يوازې د لسو کسو کوماندو يې سپاهيانو نه د زر نفروپوځ کار اخيستل کېدای شي، دا ښيله خبره ده چې د مسلمانی له امله اروپايي مؤرخينو د صلاح الدين ايوبي دغه فاتح ته په تاريخ کې هغه مقام ورکړی نه دی، لکه څنګه يې چې ورکول په کار وو، خو د هغه مهال مؤرخينو چې کومې ليکنی کړي دي، له هغو نه څرګندېږي چې د اسلام دغه ستر سپاهي، د استخباراتی چريکي او کوماندويي جنګونو څومره اعلی پوهېدونکی و، د هيواد په دننه کې يې استخباراتي چينلونو د ګوټ ګوټ څارنه کوله او د پوځ د قوماندې مرکز ته يې راپورونه ورکول، دا د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د نظام غوره والی و، چې د مصر د ډېرو لرې پرتو سیمو د حالاتو په باب هم خبرونه مرکز ته رسېدل، د څه په باب چې ویل کېدل چې دغه کوچنۍ سیمه به ګواکې د هیچا هم په یاد نه وي، خو استخباراتو چې د هغه ځای د خلکو د هغې بدلون وکوت، خبر یې ورکړ، هغوی ته لا دا هم معلومه نه وه چې په کنډرو کې دننه څه کېږي ؟ تر دې اطلاع وروسته د استخباراتو دوه کسان ووژل شول .

د هغه ځای خلکو نه یوازې دا چې هغو کنډرو ته ورتلل پیل کړل، لا چې د فرعونیانو دغو زړو ودانیو ته هم ورتلل، چې د مخه یې د هغو ځایونو په خیال کې راتللو سره هم ویښتان زیږه کېدل، څه موده د مخه دغه کار داسې پیل شوی و، چې یوه کلی ته یو تن اوښ سپور راغی، دا بېګانه مسلمان او مصری و، د هغه اوښ د ښه نسل او روغ رمټ و، دغه مسافرد کلی خلک راټول کړل او داسې کیسه یې ورته واوروله چې له غربت نه په تنګ راغلی وم، له کوره د غلا او لارو شوکولو په نیت راووتم، پیاده وم او په دې هیله دې سیمې ته راغلم، چې دلته کومه آبادي نه شته نو ځکه به د غلا کولو وروسته نه نیول کیږم، ډېرې ورځې پیاده ګرځېدم، خو هیڅ ښکار مې ګوتو ته رانغی، بالاخره دغو کندو ته چې هیڅوک نه ورتلل ورغلم او راپرېوتم په بدن کې مې توان پاتې نه و، آسمان ته مې لاسونه پورته کړل او له خدایه مې مرسته وغوښته، بیا مې یو انګازې لرونکی غږ واورېده - ته نېک بخته یې چې تر اوسه درنه کومه ګناه ونه شوه، یوازې د ګناه نیت دې کړی دی، که تا څوک لوټلی او دلته راغلی وای، نو له بدن نه به دې د هډکو پنجره جوړه شوې وه، او د شیطان ګومارلیو بریڅو به ستا غوښې په ژوندینه ټوټه ټوټه کړې وای او ستا په مخ کې به یې خوړلی وای .

اوښ سپور وویل: چې دغه غږ زه بې هوشه کړم، خو دا مې احساسوله چې څوک مې راپورته کوي، چې سترګې مې وغړولې نو ناست وم، او مخی ته مې یو سپین ږیری بوډا ولاړ و، چې د شیدو په څېرسپین او له سترګو یې د نور وړانګې راوتلې، زه پوه شوم چې کوم آواز مې اوریدلی و، هغه د دې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بزرگ و . زما ژبه گونګې شوه اورېدمه، بزرګ سړي راپورته کړم راته وې وویل. مسافره مه وېرېږه، دا ټول وګړي چې دلته له راتلو ویرېږي بدبختنه دي. مغوی دلته شیطان نه راپرېږدي، ته ولاړ شه او خلکو ته ووایه چې دلته اوسی د فرعونانو خدایي له منځه تللې ده، دا د حضرت موسی علیه السلام هیواد دی، حضرت عیسی علیه السلام به هم دلته له آسمانه راکوزېږي، اوس به د اسلام ځراغونه له همدې کندوو نه روښانه کیږي، چې رڼا به یې ټوله نړۍ روښانه کړي، ولاړشه خلکو ته زما پیغام ورسوه او دلته یې رلاوله، اوښ سپور بېګانه سړي وویل زه پاڅیدلای نه شوم، تللی نه شوم، بدن مې وچ کلک شوی و، سپین ږیري بزرګ راته وویل: پورته شه او پنځوس قدمه د شمال په لور ولاړ شه، شاته مه ګوره، وېرېږه مه، خلکو ته پیغام ورسوه او کنه زیان به دروررسیږي، یو چو شوی اوښ به ووینې، له هغه سره به خواړه او اوبه هم وي، او له هغه سره چې نور هر څه وي هغه به هم ستا وي .

اوښ سپاره خلکو ته وویل:- چې زه راپورته شوم په بدن کې مې توان راپیدا شو، زه وېرېدم چې دا به د کوم فرعون بد روح وي، شاته مې ونه کتل، د بد روح له وېرې مې قدمونه شمېرل، او لاره مې ورکه کړه، پنځوس قدمه وروسته دا اوښ تړلی و، خواړه هم پرې تړلي وو، خواړه مې وخوړل او اوبه مې وڅښلې، زما په بدن کې دومره طاقت پیدا شوی چې د مخه راکې نه و، هغه یوه کڅوړه پرانسته او خلکو ته یې وښودله، چې د سرو زرو اشرفۍ پکې وې، دا کڅوړه هم پر اوښ تړلې وه، زه پر اوښ راسپور شوم او ستاسی کلي ته راغلم تر دې وروسته یې خلکو ته د سپین ږیري بزرګ پیغام واوراوه او ولاړ د هغه د کیسي اورولو انداز دومره اغېزمنه وه چې د خلکو په زړنونو کې کنډرو ته د تللو لېوالتیا پیدا شوه، خو د کلي سپین ږیریو وویل چې دا بېګانه سړی داسې نه وي چې د هغو کنډرو د شرارتونو یوه برخه وي، . . . په بشري فطرت کې دا کمزوري ده چې د پټو شیانو د راسپړلو او رازونو پیدا کولو هڅې کوي، په کومو بدنونو کې چې د ځوانۍ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینې وي، هغوی خطرونه پر ځانونو مني، د کلي ځوانانو اراده وکړه چې هلته به ورځي، د اشرفیو جادو اغېزه ناکه وه، چې خلکو ترې ځانونه بچ کولای نه شول.

* * *

په دې ځلوېښت میله اوږده اولس میله پلنه سیمه کې چې څومره کلي وو، له هغو ټولو نه خبرونه راغلل چې یوه بېګانه مسافر دغه کیسه اورولې ده، ځنې خلک په تشویش کې وو، او ځینې نور د تشویش او پرېکړې تر منځ سر ګردانه وو، خو هلته له ورتللو ټول وېرېدل، ځینې هم ورغلل خو د ژور خوړونو او کمرونو سیمه یې له ورایه وه لیده او له ویرې بېرته راغلل، څو ورځې وروسته دوه تنه ځلمي پر اوښانو سپاره په ټوله سیمه کې وګرځېدل، هغوی هماغسې خو لږه مختلفه کیسه واوروله هغوی ډېر لرې په سفر پر آسونو روان وو، دوه یا بوګان هم ورسره وو چې قیمتي مالونه پرې بار وو، دا د سوداګرۍ مال و، چې سوډان ته یې وووړ، په لاره کې غلو لوټ کړل، له مال سره یې ترې آسونه او یابوګان هم واخیستل او هغوی دواړه یې ژوندي پرېښودل، دواړه د کمرونو او خوړونو سیمې ته راغلل له ولږې، تندې، ستړیا او غمونه بې هوښه پرېوتل، هغوی هم سپین ږیري بزرګ ولیدل، دوی ته یې هم هماغه پیغام ورکړ او ورته وې ویل: تاسې شیطاني وحشیانو لوټ کړي یې، تاسې د الله جل جلاله نېک بندګان یې، ولاړ شي، پنځوس قدمه وروسته به دوه اوښان ووینی او پر هغوی چې څه ترلې وي، هغه به اوښانو سره ستاسې وي، خو په خپلو کې به جنګ نه کوی، ګنی د تل له پاره به راندہ شي هغوی ته هم سپین ږیری بزرګ ویلي وو، چې هر کلي ته ورشي او دې خلکو ته ووايي چې له کنډرونه مه وېرېږی.

تردې وروسته دغسې ډېر روایتونه د یو بل له خولې واورېدل شول، چې په هغو کې د وېرې او ډار هیڅ اغېز نه و، لا چې دومره جاذبه پکې وه، چې خلکو د کنډرو پر شاو خوا ګرځېدل پیل کړل، هغوی ځینی کسان کنډرو ته د ورتګ او بېرته راتلو په حالت کې هم وه لیدل، هغوی وویل چې په کنډرو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې یو سپین ږیری بزرگ دی چې غیب حالونه وایي، او د آسمانونو په باب خبرونه وایي، دا هم وویل شول، چې هغه امام مهدي دی، چا وویل چې حضرت موسی علیه السلام دی، او چا به ورته حضرت عیسی علیه السلام ویل، دا یوه خبره په باوري توګه ویل کېده چې هغه که هر څوک دی خو د الله جل جلاله رالېږلی بنده دی. هغه له ګناګاروسره نه ګوري، نه یې هغوی لیدلی شي، هغه ته د ورتلو له پاره باید نیت پاک وي، دا هم واورېدل شول چې مړي هم ژوندي کوي ... دغو جادو ګرانه او پټو پټو خبرو او کیسو خلک کنډیزې سیمې ته وروستل، چې مخکې ولاړل، خلکو د لومړي ځل له پاره هغه کنډرونه ولیدل، له کومو نه چې وېرېدل، هغو ته دننه هم ورغلل، دا د غلامانو هستوګنځی، غارونه، کوټې او ورکې راورکې لارې وې، یوه ډېره پراخه کوټه چې چت یې ډېر لوړ وه، جالی پرې راځړول شوې وه او چاپېریال یې له هیبته ډک و، خو هلته خوږ بویي خپره وه، چېرې به چې پوړی کښته تللې او بیا به ژېر زمینیو کې پای ته رسېدلې.

دا د هغو فرعونانو ودانۍ وې چې خپل ځانونه یې خدایان ګڼل، هغوی به ځینو خلکو لیدای شول، خلک به یې په دغو ودانیو کې راټولول او هغوی به یې یوازې اواز اورېده، دا آواز به له تونلونو راتېرېده چې هلته غټې غټې کوټې وې خو چا لیدلی نه شوې، خبرې کوونکی به د تونل په بل سرکې و، چې هیڅوک نه پوهېدل چې هغه کوم ځای دی، هغه به دا د خدای آواز ګاڼه، چې عامو وګړیو لیدلی نه شو، په دغو لویو کوټو کې د رڼا له پاره داسې ترتیب نیول شوی و، چې څراغونه نه ښکارېدل خو کوټې دننه روښانه وې، د آیینې په څېر به د اوسپنې له سپینو څادرونو نه کار اخیستل کېده، چې د هغو تر شا مشالونو رڼا به یې منعکس کوله... دا خو پخوانۍ خبرې وې اوس د صلاح الدین ایوبي په زمانه کې په دغه پخوانۍ ودانۍ کې د هماغو آوازونو انګازې شوې، چې خلکو خدایي آوازونه ګڼل، په لږ وخت کې د خلکو له زړونو د کنډرونو وېره ووتله، هغوی به چې کله هغه لویې کوټې ته ورتلل لومړی به له تیاره او پراخو او اوږدو تونلونو تېرېدل، مخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته به يې يوه پراخه او لوړه کوټه راتلله، چې په هغې کې به رڼا وه خو مشال به نه ښکارېده، هغه به دا نګازې (انعکاس) په څېر غږ راتـه مونږ تاسې لـه تيارو را وويستلی او رڼا تـه مو راوستلی، دا د کوه طور رڼا ده، دا رڼا پـه زړونو کې داخل کړی د فرعونيانو بد روحونه هم مړه شوي دي، اوس دلته د موسی عليه السلام نور دی، او دا نور به عيسی نور هم روښانه کړي، الله تعالی ياد کړی .

خلکو به سترګی برندې نيولې او په وازو کوميو به يې کلمه طيبه ويله ، که پـه دې آوازونـو کـې د الله تعلی ، موسی عليـه السـلام ، عيسـی عليـه السلام او پاکې کلمې يادونه نه کېدای، کېدای شو چې پر خلکو يې اغېز کړی نه وای، هغوی ټول مسلمانان وو او چې هر څه يې کول او منل د خپـل دين په نامه يې منـل، او چې کله يې دا غږ واورېده، چې د الله جل جلالـه رسول صلی الله عليه وسلم ته خدای د حرا پـه غـار کـې پيغمبري وربخښلـې وه، تاسې بـه هـم د دغـو غـارونو پـه تيـارو کـې الهی نـور ووينی نو خلکو سرونه ټيټ کړل او دغه آواز يې چې په انګازو کې د جادو او هومره اغېـزو، پر خپلو زړونو نقش کړ، خو خلکو دغه هستی تـه وررسېدل غوښتـل، د چا چې دا غږ او مسـافرو تـه يـې اوښـان، خـواړه او اشرفی ورکـولې، د خلکـو تلوسې زياتېدلې، هغوی به چې خپلو کورونو ته تلل، نو هغـوی تـه بـه ښځـو ويـل، چـې يـو بېګانـه سړی راغلـی و، چـې د کنډرونو د ملـنګ د کرامـاتو کيسې يې کولې، هغه ويل چې هغه درويش يې ليدلی دی .

يوه ورځ په دغو کليو کې د يوه لوی کلي له امـام نـه خلکو پوښتنه وکړه، هغه وويل: هغه يو نيـک سړی دی، يوازی لـه ښـه کسـانو سره وينـي، غـوره هغه وي چې جنګ جګړی نه کوي، پـه سوله او امـن کـې ژونـد تېـروي؛ دغـه ملنګ د حضرت عيسـی عليـه السـلام پيغـام راوړی دی، پـه دې پيغـام کـې محبت دی او جنګ جګړی نشته، په دې پيغام کې نصيحت دی چې څوک مه زخمي کوي، بلکې پر ټپونو يې ملهم کيږدی... کـه تاسـې د دغـو اصولو سره سم ژوند تېروی نو ستاسې ژوندون به بدل شی .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د یوه جومات امام هم د هغه آواز حق وګانه، نو بیا د شک او ګومان ځای پاتې نه شو، د خلکو ډلې ډلې کنډرو ته ورتلل پیل شول بیا اعلان وشو چې هره پنجشنبه به د دننه تللو اجازه وي او ماښام به میله جوړیږي، لکه چې له هماغې وروسته د پنجشنبې ورځ ځانګړې شوې او له دې سره ښځو ته هم د ورتللو اجازه ورکړل شوه، اوس کنډرو ته څوک پخپل سر ورتللی نه شول، د پنجشنبې په ورځ به هلته شاو خوا میله جوړه وه، د لرې لرې ځایونه ځینې به خلک پر آسونو، اوښانو، کچرو او پیاده هم راتلل، او تر ماښامه به یې کنډرو ته د ورتلو انتظار کاوه ... د کنډرو دننه حیرانوونکې ړې یو انقلاب راغی، هلته اوس خلکو ته د نېکۍ او ګناه د خیالاتو داسې شکلونه ښکاریدلو چې خلکو هغه متحرک او مجسم لیدل او حیران دریان پاتې وو، چاته د پوښتنې ګیګنې او شک کولو اجازه نه وه، او نه هغوی د پوښتنې او ګومان اړتیا احساسوله .

د لمر پرېوتو سره به د تیاره تونل خوله خلاصه شوه، کومه چې دننه تللې وه، دا په اصل کې د دغه ودانۍ له منځه تېرېدونکی لاره وه، دیوالونه یې له ډېرو غټو ډبرو جوړ وو، د پاسه پرې همداسې پرېړ چت و، دا تونل هر لس دولس قدمه یو لوري ته کږېده، په خوله یا دروازه کې به یې څو کسه ولاړ وو، له هغوی سره د خرماو ډېرې لګیدلې وی، دغه د خرماو ډېرې د خلکو ډالۍ وې، زیارت کوونکیو ته چې د دننه تللو اجازه ورکول کېده، نو په دروازه کې به یې یو سړی ته درې خرما د خوراک له پاره ورکولې او اوبه به یې پرې څښلې، بیا به یې دننه لېږل، له تیاره تونل نه به چې تېر شول، کله به چې هغه روښانه کوټې ته ورسېدل، هلته به یې دا غږونه اورېدل کلمه طیبه ولوله، خپل الله جل جلاله یاده کړه حضرت موسی علیه السلام تشریف راوړی دی، حضرت عیسی علیه السلام راڅرګند ېدونکی دی له زړه نه بدي او دښمني اوباسه، جنګ جګړې پای ته ورسوه، او وګوره د هغو خلکو حالت چې د جنت په دوکه وجنګول شول د دې غږ سره به د خلکو سترګو ته یوه ډېره تېزه رڼا راغله د هغوی مخ به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه لوري ته کړ او وه به یې درول، د هغوی سترګې به چې رڼا ونیولې، بیا به رڼا یو څه تته شوه ، تر دې وروسته به رڼا کله تېزه او کله تته وه، او خلکو ته به په مخامخ دېوال کې ځلېدونکی ستوري ښکارېدل، په دغو ستورو کې به حرکت و، او ډېر بد شکله انسانان به یې د تېرېدلو په حال کې لیدل، بیا یو انګازه لرونکی غږ اورېدل کېده، دا ټول ستاسې په څېر ښکلي ځوانان وو، هغوی د الله جل جلاله پیغام وانه ورېده، توري یې تر ملا کړې، پر آسونو سپاره شول او د خپلو ځانونو په څېر ښکلي ځوانان یې ووژل، هغوی ته دوکه ورکړل شوهو چې تاسې وجنګېږئ، که مړه شوئ نو جنت ته به ولاړ شئ، وګوری د هغوی انجام، خدای د هغوی نه شیطاني وحشیان جوړ کړي او آزاد یې پرېښي دي د دې اوازونو سره به د وریځی او برېښنا په غږمبار او پړکار اورېدل کېده، یو څه نور غږونه به هم واورېدل شول، چې د بېلا بېلو ځیرونکیو حیواناتو به وو، رڼا به دومره تېزېده، چې په سترګو به تیاره راتله، بیا به د اوږدو اوږدو غاښونو لرونکي ځیرونکي له ښي لوري نه کیڼ لوري ته تللو دا هم انسانان وو، خو شکلونه یې د ډېرو یرونکیو حیواناتو په څېر وو، هغوی به لاسونو کې لوڅې پیغلی راپورته کړې وې، چې ځوانې او ښکلې به وې، نجونو به پړتکی وهلې، د وریځې غرهار به نور هم دروند اورېدل کېده او آواز به راته دوی پر خپلې ښکلا ویاړ کاوه، د خدای ښکلایې ناپاکه کړې وه بیا به ډېر ښکلي ښکلي ځوانان او نجونې تېریدلې، دوی ټولو خنداګانې او خوښۍ کولې د دوی په باب به ویل کېدل دا نېک او پاک وګړي دي، دوی هیڅکله د جنګ جګړې خبری هم کړي نه دي، دوی په خپلو کې د مینه او محبت په فضا کې د ژوندانه شپیې ورځی تیروی .

تر دې وروسته به یې زیارت کوونکي یوې زېر زمینې ته بوتلل، چې هلته به د انساني هډوکو پنجرې هم وې هلته آواز اورېدل کېدل حضرت عیسی علیه السلام دا څرګندېدونکی دی ... جنګ جګړې او وینې تویول له زړونو اوباسې، اود هغه ځای څخه یې په یوه بله لاره خلک به بهر ویستل، خلک

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دومره تر اغېز لاندې راتلل لکه حیرانوونکی خوب یې چې لیدلې وي، چې وېرووونکی او ښکلی دواړه وي، هغوي به یو ځل بیا دننه تللو ته لېواله وو، خو بیا به یې څوک هغه لوري ته بېرته نه پرېښودل، په کومه لاره به چې دننه راغلي وو، هغوی به بېرته خپلو کورونو ته تلل نه غوښتل، شپه به یې همالته کنډرو ته نږدې تېروله هلته به ورسره ځنی کسان کښېناستل او د کنډرو دننه رازونه به یې ورته ویل، یو راز دا و، چې دننه د چا غږ اورېدل کېږي، هغه د خدای له لوري دا پیغام راوړی دی، چې حضرت عیسی علیه السلام دنیا ته راځي او خلیفه العاضد هم بیا دنیا ته راغلی دی.

العاضد د فاطمي خلافت خلیفه و، چې ګدۍ یې په مصر کې وه، سلطان صلاح الدین ایوبي هغه معزول کړی او مصر یې د بغداد د عباسي خلافت سره تړلی وو العاضد له عزل کېدو وروسته سملاسي مړ شوی و، دا دوه دوه نیم کاله پخوانۍ پېښه وه، فاطمیانو له صلیبیانو او حشیشیانو (چرسیانو ډلی) سره د جوړ جاړي په نتیجه کې یو توطئه جوړه کړې وه، چې د هغې موخه د سلطان صلاح الدین ایوبي سلطنت ړنګول او یو ځل بیا په مصر کې د فاطمیانو خلافت قایمول وو، د دغې توطئې د بریالیتوب له پاره یې سوډانیان تیار کړي وو، چې پر مصر یرغل وکړي.

د کنډرو د مرېدانو په شمېر او د هغوی د عقایدو په کلکوالی کې ورځ په ورځ زیاتوالی راته، او د مصر د سویل لویدیزو سیمو خلک قایل شوي وو، چې حضرت عیسی علیه السلام خلیفه العاضد بېرته رالېږلی دی او پخپله هم بېرته را روان دی، دغو خلکو د سلطان صلاح الدین ایوبي په پوځ کې له شاملېدلو نه توبه وکړه، ځکه چې هغوی جنګ جګړې ګناه بلله، صلاح الدین ایوبي یې یو ګناهګار سلطان ګاڼه چې د خپلې اقتدار د پراختیا له پاره یې ځوانان دوکه کول او په خپلو لښکرو کې یې شاملول، چې که هغوی شهیدان شولو نو سیده به جنت ته ځي، د کنډرونو دننه نړۍ د دغو خلکو له پاره عبادت ځای و، ځینو خو یې د خوړونو او کمرونو په سیمه کې دېرې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


جوړې کړې وې، او د هغه شخصيت د ليدو له پاره ناکراره وو، چې غږ يې په کنډرونو کې اورېدل کېده، خو ليدلی يې نه شو.
د چرسيانو د دلې هغه ټپی ساتونکی چې پر صلاح الدين ايوبي د حملې پر وخت نيول شوی وو علی بن سفيان قاهرې ته بوته، هغه يې په يوه ځانله کوټه کې وساته، د سلطان صلاح الدين ايوبي له امر سره سم يې د هغه د علاج له پاره يو جراح طبيب مقرر کړ.خو په اصل کې هغه يو مجرم و، د هغه د کور په مخکې به يو پيره دار ولاړ و، هغه لا تر دې وخته د تېښتې وړ نه و، کنډرې هماغه په نښه کړې وې، پرېکړه شوې وه، چې کله هغه روغ شي، نو د هغه په لارښوونه کې به جاسوسان ولېږي او د کنډرو دننې حالات به معلوم کړي.
زخمي ته د نا څرګندو لاملونو له مخې دا ګومان پيدا شوی و چې ژوندی نه پاتې کيږي، ژړل به يې او بيا بيا به يې د خپل کلي نوم اخيسته او ويل به يې چې ماته مې خور راوغواړی، زه به هغه ونه ليدلی شم حسن بن عبدالله د هغه دغه کمزوري د نورو رازونو دا فشا کولو له پاره استعمالوله، تپي د خپلې خور په باب بې شانه احساساتي و، د استخباراتو څارواکو چې کله پردې خبره باور راغی چې د زخمي په سينه کې نور رازونه پاتې نه دي، نو دوه تنه استاذي يې راوغوښتل هغوی ته يې د ټپي د کور او کلي پته ورکړه او ورته وې ويل چې د هغه خور له ځان سره راولی، دا سيمه د مصر په سويل لويديځ کې وه ... استاذی په هماغه وخت روان شول.
سلطان صلاح الدين ايوبي د جګړې محاذ د شوبک کلا ته ورسېده، د هغه په مخکې د قاتلانه حملې هيڅ اغېز نه و، لکه چې څه پېښ شوي نه وي، د هغه د ساتونکي ټولي قوماندان او نور حاکمان چې ورسره وو، ډېر وارخطا او شرمنده وو، هغوی وېرېدل هم، چې سلطان صلاح الدين ايوبي به پرې خامخا غوسه کيږي او پوښتنه به هم ترې کوي، خو هغه دې لوري ته هيڅ اشاره هم ونه کړه، البته د مرکزي قوماندې افسرانو ته يې وويل: تاسې وليدل چې زما پر ژوندانه هيڅ باور په کار نه دی، تاسې زما جنګی چالونه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دقت سره مطالعه کړی، دښمن چې کوم بل محاذ پرانستی دی، پر هغې ژور نظر ساتی، او د ورانکارانو نیول او په سزا رسول پرله پسی جاري ساتی هغه چاته دومره هم ونه ویل چې د ساتونکیو د ټولي تصفیه وکړی او پر هغه دومره لویې پېښې هیڅ اغېزونه کړ، د شوبک کلا ته چې ورسېده تر ټولو ړومبی یې پوښتنه وکړه چې د استخباراتو کوم مامور بیرته راغلی که نه؟ هغه ته وویل شول چې دوه مامورینو ډېر څه کړی او پوره معلومات یې راوړي دي، هغه دواړه یې راوه غوښتل او د صلیبیانو د عزایمو په باب یې معلومات واخیستل، د نور الدین زنکي د رالیږلي کومکی پوځ قوماندان او د مصر نه د راغلی پوځ قوماندان سره له مرستیالانو را وغوښتل او پخپله په ژور سوچ کې ډوب شو.

په څلورمه ورځ د هغه ټپی قاتل خور راورسېده، له هغې سره څلور سړي نور هم وو، د کومو په باب چې وویل شول، چې دا د زخمي تره او د ترونو زامن دي، خور یې ځوانه او ښکلې وه د خپل ورور له پاره ډېره خفه وه ټپي یې ایکی یو ورور و، مور پلار یې مړه شوي وو، د هغې نجلې او ورسره څلورو کسانو له زخمي سره د لیدلو له پاره د علی بن سفیان اجازه ضروري وه، علی بن سفیان یې خور ته اجازه ورکړه او له هغې سره راغلي څلور سړي یې ورپړي نه ښودل. هغوی عذر او زاری وکړی، چې مونږ د دومره لرې ځایه راغلي یو، دومره اجازه راکړی چې ټپی ووینو، هغه سره به هیڅ خبره نه کوي علی بن سفیان ورته په دې شرط اجازه ورکړه چې زه به هم موجود یم، او هغوی ومنل ټول یې زخمي ته وروستل، خور یې ورور وکوت، ورته په ژړا شوه، او پرې راپرېوته د ورور مخ یې ښکل کړ او په چیغو چیغو یې وه ژړل، د نورو سړیو په باب علی بن سفیان زخمي ته وویل چې دوی ته لاس ورکړه، دوی بېرته ځي، هغه څلورو واړو ته لاس ورکړو نو علی بن سفیان هغوی ته د بهر تللو وویل، او دا یې هم ورته وویل چې په اینده کې ورسره لیدلی نه شي، هغوئ ولاړل، نو خور یې د علی بن سفیان په پښو کې پرېوته ، پښې یې ورته مچې کړې او په ژړا او زاری یې علی بن سفیان ته وویلو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې دا د وروړ د خدمت لـه پـار پریـږدي، علـی بـن سـفیان د یـوې دغسـی احساساتی غوښتنه رد نه کړای شوه، د نجلی جامی تالاشي کړای شوې، هغې ته یې د پاتی کېدو اجازه ورکړه او پخپله ترې ولاړ.

خور او وروړ یوازې پاتی شول، نو خور یې لـه وروړ نـه وه پوښتـل چې څه یې کړي دي، وروړ یې چې څه کړي وه هغه یې ورتـه وویـل خور یې پوښتنه وکړه چې څه رویه به ورسره کیږي ؟ وروړ یې ځواب ورکړ، د مصر پر امیر د قاتلانه حملی ګناه خو بخښلی کېدای نه شي، که دې خلکو پر ما رحم وکړ، نو وژنی به می نه خو د تل له پاره به مې په زېر زمینی کې بندي کړي .

خور یې پوښتنه وکړه. زه به بیا تا تړول عمر ونه لیدلی شم .

وروړ یې په ژړغوني غږ وویل: شاز جانی! بیا به نه زه مرم او نه به ژوندی یم، هغه ځای ډېر وېروونکی دی، چېرې به چې ما د تل له پاره بندي کوي.

خور یې چې نـوم یـې شـار جـاو د ماشـومانو غونـدی پـه کوکـو شـوه، هغې وویـل، ماتـه هغـه وخـت هـم منعـه کړی وې، چـې د دغـو خلکو پـه خبرو مـه غولېږه، خـو تـا بـه ویـل چـې د صـلاح الـدین ایـوبي وژل روا دي، تـه لالـچ اخیستی وي. تا زما هم څه پروا ونه کړه! زما به څه حال وی که تـه نـه یې نو زه به څه کوم؟

د زخمي وروړ ذهن مشوش و، کله به یې د پښېمانتیا خبرې کولې او ویـل به یې چې زه د هغو وګړیو په جال کې ګېر شوی وم، هغه به دا هم وویـل چې سلطان صلاح الـدین ایـوبي انسـان نـه دی، دالله رالېږلې ملایکـه ده، مونږ څلور تنه پرېږ او تندرست ځوانانو دومره هم ونه کړای شول چې د هغه بدن د خنجر په څوکه وګروو، پر هغه زهرو هم څه اغېز ونه کړ، هغه پـه یـوازې ځان زما درې ملګري ووژل او زه یې د مرګ تر خولې وروستم.

دا خلک خو څه دروغ نـه وایـي چـې د صـلاح الـدین ایـوبي ایمـان دومـره مضبوط دی چې کوم ګناهګار سړی یې وژلی نه شي.

خور یې وویل: تاسې څلور واړه مسلمانان واست، دومره سوچ مو هـم ونـه کړ، چې هغه هم مسلمان دی ؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جذباتي ډول يې وويل: هغه د الله جل جلاله د خليفه سپکاوی کړی دی، ته نه پوهېږې چې العاضد خليفه د الله جل جلاله لېږل شوی خليفه و؟

خور يې وويل: هغه چې هر څوک و زه دومره پوهېږم چې ته زما ورور يې او زما نه د تل له پاره جدا کيږې، آيا ستاد ژغورنې ليار به په کوم شکل پيدا کېدای شی؟

ورور يې ځواب ورکړ: ښايي پيدا شي، ما په دې شرط هغوی ته ټول رازونه ويلي دي چې زما ګناه به بخښي خو زما ګناه دومره درنده ده چې شايد ونه بخښل شي.

دا مهال بايد زخمي ويده شوی وای او هغه ته دومره ډېرې خبرې ښې نه وې ځکه چې د نس د ټپ د بيا تازه کېدلو وېره يې وه خو هغه خپلو خبرو ته دوام ورکړ، او خور يې ژړل، په خبرو خبرو کې د هغه زخم څړيکه وکړه او بې هوشه شو، خور ته يې وويل: شارجا بهر ولاړه شه، که څوک وګورې نو ورته ووايه چې طبيب راوه غواړي، زه مړ کېږم، شار جا په منډه بهر ولاړه، بهر پيره دار ولاړ و، هغه ته يې د ورور حالت ووايه، هغه ورته د جراح د کور لاره وښوده ، چې د ټپی د څارنې له پاره موظف و، هغه ته امر شوی و چې شپه وي او که ورځ په هر حال کې بايد د ټپی د ژوندي ساتلو هڅه وکړای شي، هغه شاهي جراح و.

شارجا په منډه ولاړ، د جراح کور نږدې و، شارجا طبيب ته د ورور حالت ووايه، هغه په منډه راغی او زخمي يې وليده، د هغه د نس پټی په وينو سره واچول، او ډېر وخت وروسته يې بيا پټی وتړله ، وينه يې بنده شوه هغه زخمي ته دوايي ورکړه، چې له امله يې هغه ته خوب ورغی ويده شو، شارجا دغه زلمی طبيب ته په حيرانتيا او مينه کتل، د هغې دا هيله نه وه، چې په دې تيره شپه به څوک د هغې د مجرم ورور د ليدلو له پاره راځي، خو طبيب په منډه راغی او په دومره دقت سر يې د زخمي مرهم پټی وکړه چې شارجا يې اريانه کړه د زخمي سترګې چې ورغلې، نو جراح سترګې پټې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې او له ځان سره یې وویل مرګ او ژوند ستا په لاسه کې دي خدایه! د دې بدقسمته پر حال رحم وکړه، الهي ده ته ژوند ورو بخښې.

د شارجا سترګو ته اوښکې راغلې، پر هغې د جراح سپېڅلتیا اغېز وکړ، د جراح مخې ته په زنګنو شوه او له دواړو لاسو یې ونیو او ښکل یې کړل، د جراح له پوښتنې سره شارجا وویل چې د زخمي خور ده.

شارجا له جراح نه پوښتنه وکړه، آیا ستا په زړه کې دومره ډېره مهرباني ده، چې زما زخمي ورور په تکلیف کې لیدلی نه شې، یا یې د دې له پاره ژوندی ساتل غواړې، چې تاسې ته ټول رازونه ووایي؟

جراح وویل: ماته دا هیڅ په زړه پورې نه ده چې له ده سره کوم راز شته او که دا زما دنده ده چې دی له مرګه بچ شي، او د ده ټپونه بېخي روغ رمټ شي زما په نظر کې مؤمن او مجرم هیڅ فرق نه لري.

شارجا وویل: تاسې ته به هیڅ پته هم نه وي چې د ده ګناه څه ده؟ که تاسې ته یې پته وای نو پر زخم به مو د مرهم په ځای مالګه دوړولې وای.

جراح ځواب ورکړ: ماته معلومه ده خو زه به د ده د ژوندي ساتلو پوره پوره هڅې کوم.

شارجا له جراح نه دومره اغېز منه شوه چې له هغه سره یې خبرې پیل کړې هغه ته یې وویل چې مور او پلار یې په وړوکتوب کې مړ شوي وو، هغه مهال یې ورور د لس دولس کلو و، زما ورور زما پالنه او روزنه وکړه، که ورور مې نه وای، نو زه به خامخا خلکو تنبتولې وم، ورور مې خپل ژوند زما له پاره وقف کړ، جراح په غور سره د هغې خبرې اورېدلې، او په دې خیال یې له کوټې نه حویلۍ ته بوتله چې د زخمي سترګې له خوبه ونه غړېږي، جراح په داسې انداز د شارجا خبرې اورېدې لکه هغه چې شپه همدلته تېرول غواړي خو هغه ترې روان نو شارجا هغه له لاسه ونیو وې ویل. که تاسې ولاړ شي زه ویرېږم، جراح هغې ته وویل چې له ځان سره یې بوتللای نه شي، او له هغې سره پاتې کېدلای هم نه شي، جراح په کور کې یوازې اوسېده هغه د شارجا په خاطر یو څه نور هم تم شو، او د شپې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم پار کې ترې ولاړ، سبا ورځ لا لمر ختلې نه و، چې د زخمي د لیدنې له پاره راغی، هغه د شپې په خبر په خپل وقت سره د ټپي پر ټپونو مرهم کېښودل، پر هغه یې شیدې وڅښلې او داسې خواږه یې ورکړل چې شارجا کله لیدلي هم نه وو.

په دې وخت کې علي بن سفیان هم راغی، د زخمي حالت یې وکوت بېرته ولاړ، خو جراح لا پاتی و، هغه له شارجا سره خبری اترې کولې او د هغې خبرې یې اورېدلې په هغه ورځ تر ماښام وروسته خپل کورته ولاړ، نو زخمې خپلې خور ته وویل: شارجا یوه خبره واوره، زما ژوند د دغه جراح په ولکه کې دی، خو زه ګورم چې ستا تر لیدو وروسته اوس دی زما علاج په ډېره ښه توګه تره سر کوي، زه به مرګ قبول کړم، خو ده ته به دومره زیات قیمت ور نه کړم، چې ده په خپل زړه کې ساتلی دی ... زما ګومان نه بلکې یقین دی چې دی زما د ژوندي ساتلو له پاره ستا د عزت نذرانه اخیستل غواړي، شارجا وویل: زه خو دی ملایکه ګڼم، ده تر اوسه داسې کومه اشاره کړې نه ده او زه خو هم ماشومه نه یم، خو زه هغه داسې نه ګڼم. د شارجا د خبرو انداز داسې و چې ورور یې شکمن غوندی شو چې د هغې له جراح سره مینه پیدا شوې ده.

* * *

په هماغه ماښام جراح راغی ټپي ویده شوی او شارجا ویښه وه، هغه له جراح سره حویلۍ ته ووتله، تر ډېره وخته یې خبرې کولې، جراح هغې ته وویل چې ورور یې د درملو خوړوله امله په دومره ژور خوب ویده شوی چې ښایي تر سهاره یې سترګې ونه غړېږي، راځه چې زمونږ کور ته ځو... شارجا لږه وراخطا غوندې شوه خو د جراح غوښتنه یې رد نه کړی شوه، له هغه سره روانه شوه، دغه ښکلی، زلمی او متواضع جراح یوازې اوسېده په مخکې څرګند شي، خو داسې ونه شول، هغه له شارجا سره د همدرد او دوستانو په څېر خبرې کولې، نجلۍ د هغه ډېرو مهربانه خبرو ستړې کړه،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې ترې ناڅاپه پوښتنه وکړه، زه د بیدیا د لرې سیمو یوه غریبه نجلۍ یم او د یوه داسې مجرم خور یم، چې د مصر پر پادشاه یې وژونکی حمله کړې، له دې سره سره تاسې زما سره دومره د مهربانۍ رویه ولې کوی ؟ چې زه یې حق هم نه لرم، جراح له موسکا پرته هیڅ ځواب ورنه کړ، نجلۍ ورته په ځرګنده وویل په ماکې له دې یو غوره والی بل هیڅ نشته چې زه یوه ځوانه نجلۍ یم او کیدای شي چې ښکلې هم یم

جراح ورته وویل: په تا کې یو ښه والی بل هم شته چې ته پرې نه پوهیږې، ستا په عمر او شکل زما یوه خور وه، لکه څنګه چې تاسې یوه خور او ورور یې، همداسې مونږ هم یوه خور او ورور پاتې شوي وو، ما د ستا د ورور په څېر د خپلې خور پالنه وکړه او د خپل ژوندانه ټولې خوښۍ مې هغې ته ورکړې، هغه ناروغه شوه او زما په غېږ کې مړه شوه، زه یوازې پاتی شوم، ځان ته ځوانه او ښکلې نجلۍ وایې او زما په نیت شک کوې، نو د دې علاج همدا دی چې زه به له تاسره د دومره مینې ځرګندونه نه کوم چې تر اوسه مې کړې ده، ستا له ورور سره به خپل سرو کار ساتم د هغه درملنه زما دنده ده .

شارجا د شپې ناوخته له هغه ځایه را روانه شوه، جراح ورسره و، د نجلۍ ګومانونه پای ته رسېدلي وو، بله ورځ جراح د زخمي لیدلو ته ورغی، هغه له شارجا سره هیڅ خبرې ونه کړې، چې کله روان شو شارجا ورپسې بهر ولاړه او هغه یې راستون کړ، هغې ژړل، هغه وېرېدلې وه چې جراح ګوندې تر خفه شوی دی جراح هغې ته وویل زه خفه نه یم خو تا په کوم بل ګومان اخته کول نه غواړم ... د شپې چې کله زخمي ویده شو نو شارجا له هغهځایه د جراح کورته ورغله، دا د هغې ناتواني وه چې کنترول یې نه کړی شوه، ترناوخته پورې له جراح سره وه، د هغې په ذهن کې څو غوټې پرتې وې، چې هغه یې خلاصول غوښتل هغې له جراح نه پوښتنه وکړه ، آیا الله د رالېږل شوی وې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جراح ځواب ورکړ خلیفه انسان وی د الله جل جلاله رالیږل شوي یوازی نبیان او پیغمبران دی چې دا لړی په رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پای ته رسېدلې ده .

نجلۍ بیا پوښتنه وکړه صلاح الدین ایوبي د الله جل جلاله رالیږل شوی دی؟

جراح ځواب ورکړ نه! هغه انسان دی، خو له عامو انسانانو د هغه رتبه لوړه ده، ځکه چې هغه د الله جل جلاله او د هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ستر پیغام د نړۍ ګوټ ګوټ ته رسول غواړی .

شارجا وویل: بیا خو زما ورور ډېر لوی ګناهګار دی، که هغه ته چا دا خبری کړی وی، لکه تاسې چې ماته وکړې، نو هغه به له دې ګناه نه بچ شوی و، اوس خو به هغه ته بخښنه ونه کړای شي .

جراح هغې ته وویل : وبه شي ! صلاح الدین ایوبی ما ته ویلی دی چې دده د ژوندی ساتلو کوښښ وکړئ نو ددی مطلب دا دی چې هغه ته سزا نه ورکول کیږی ، هغه ته سزا نه ورکول کیږی او هغه ته هم په کار ده چې له ګناهونو توبه وکاږی ، زما پوره باره دی چې هغه ته به هیڅ سزا ورنه کړی شي .

شارجا د جراح لاس ونیو وې په ژړا کې ورته وویل: تاسې چې زما نه څه ډول قیمت اخیستل غواړي زه به یې درکړم، تاسې ما خپله وینځه کړی او زما ورور به ستاسې د ټولو عمر لپاره غلام وي زه به خپل ټول ژوند صلاح الدین ایوبي او ستاسې په خدمت کې تېر کړم ، د دې په بدله کې زما د ورور تداوي وکړي او هغه له سزا وژغوری .

جراح د هغې پر سر لاس راکش کړ وې ویل : اجر له الله جل جلاله نه غوښتل کېږي، د ورور د ګناه سزا خور ته نه ورکول کیږي، او د ورور روغتیا قیمت له خور نه نه اخیستل کیږي، د ټولو ساتونکی الله جل جلاله دی، هماغه سپیڅلي ذات ماته ستا د حیا او پت د ساتنې او د هغه یو مخلص بنده ستا د ورور د روغتیا پالنې دنده راسپالې ده، دعا کوه چې زه په دې امانت کې خیانت ونه کړم د خویندو له دعاګانو سره عرش هم په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


حرکت راخې . . . دعا کوه . . . دعا کوه . . . د هماغه ذات باري ستر توب یاد ساته، چې شیطان تاسې له هغه نه بې لارې نه کړي .

نجلی د جراح د خبرو د جادو تر اغېز لاندې راغله، یو خو خبرې داسې وې، چې جراح هغې ته وکړې، خو اصلي اغېز د جراح رویې پیدا کړی و. د جراح په باب له هغې سره ځنې نور شکونه راولاړ شول وو او هغه بل څه وختل، لکه له هغه سره چې احساس هم نه وي چې په داسې یوازیوالي او نیمه شپه کې یوه ځوانه او ښکلې نجلۍ د هغه رحم و کرم ته ناسته ده . . .

نیمايي شپه تېره شوې وه، جراح هغې ته وویل: پاځهځه چې تر خپل ځایه دې ورسوم او ورور دې هم وګورم.

دواړه له کور ووتل او د شپې په تیاره کې په کرار کرار روان شول، هغوی د دوه کورونو تر منځ کوڅه کې تېرېدل. دا یوه تنګه کوڅه وه چې په اخر کې یې هغه کور و چې د شارجا ورور پکې ساتل کېده. او په دروازه کې به یې پیرډار ولاړ وه هغوی دواړه چې په دې کوڅه ور برابر شول، دواړه د شا له لورې کلک ونیول د دواړو خولې په توټو وتړل شوې. چې غږ ترې هم وتلی نه شو، جراح په بدني لحاظ کمزوری نه و. خو هغه په ناخبرۍ کې نیول شوی و، حمله کوونکي څلور پنځه کسه ښکارېدل، هغوی دواړه یې پورته کړل او په تیارو کې ورک شول، لږ وړاندې آسونه ولاړ وو. د جراح لاس پښې په رسیو تړل شوې وه، هغه یې پر آس واچاوه او یو کس ورسره په آس باندې سپور شو، هغه د چا غږ واورېده چې شارجا ته وویل شور مه کوه پر آس سپره شه دا ستا له یاره راوستل شوی دی .

د شارجا له خولې نه توټه لرې کړای شوې وه، جراح د هغې غږ واورېده دی پرېږدی، د ده هیڅ ګناه نشته، دا د ډېر ښه سړی دی- چا وویل ده ته زمونږ اړتیا ده- بل د امر په لهجه وویل :شارجا! غلې پر آس سپره شه، وخت مه ضایع کوه او بیا آسونو منډې پیل کړې، په لږه شېبه کې آسونه له قاهرې نه ووتل، شارجا د آس په سپرلۍ ډېره ښه پوهېده.

***

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار مهال د پیره دار د بدلېدو وخت شو، نوي پیره دار راغی، خو هغه د شپې پیره دار نه وو هغه دننه ولاړ او وې کتل هلته زخمي ویده و، او کمپله پرې د پاسه غوړېدلې وه، مخ یې هم پټ و، نوی څوکېدار بهر ولاړ او په دروازه کې ودرېده، هغه ته څرګنده وه چې اوس جراح د زخمي د لیدلو له پاره راځي، علی بن سفیان هم راځي، هغه ته دا هم پته وه چې د زخمي خور له هغه سره یو ځای اوسیږي او له هغې پرته بل چاته د تللو اجازه نشته، خو د تېږي خور یې هم چېرې ونه لیدله، چې لمر راوه خوت علی بن سفیان راغی، له څوکیدار نه یې پوښتنه وکړه جراح راغلی دی او که نه ؟

پیره دار ځواب ورکړ جراح راغلی نه دی، لومړنی پیره دار دلته نه و، او دننه د تېږي خور هم نشته علی بن سفیان د دې فکر سره دننه ولاړو چې د زخمي حالت به خراب شوی وي او خور به یې د جراح پسې تللی وی زخمي خو یوازې د علی بن سفیان له پاره نه بلکې د ټولې اسلامي نړۍ له پاره ډېر ارزښتناک و، د هغه د رغېدو انتظار کېده او د یوه ډېرې لویې توطئې د رسوا کېدو هیله وه .

علی بن سفیان ژر دننه ولاړ، زخمي له سره تر پښو په کمپل کې پټ و، د تازه وینې بوی یې احساس کړ، د زخمي له مخ نه یې کمپله لرې کړه، نو دومره په وېره ترې شاته راغی، لکه هغه چې زخمي نه ښامار وي ،له هماغه ځایه یې بهر ولاړ پیره دار ته غږ وکړه څوکېدار په منډه راغی علی بن سفیان ورته د زخمي مخ وښوده، پوښتنه یې وکړهو دا خو هغه شپېني څوکیدار نه دی؟ د نوي څوکیدار څېره له وېرې ژېړ واوښته او په ژړغوني آواز یې وویل. همدا و، په دې بستر کې څنګه ویده شوی دی ؟

علی بن سفیان ورته وویل : ویده نه دی، وژل شوی دی !

هغه کمپله پورته او لرې کړه، بستره په وینو سره وه، هغه زخمي نه و بلکې د شپې له خوا څوکیدار و.

علی بن سفیان وکتل د مړی له زړه سره نږدې د خنجر دوه زخمونه وو، د چرسیانو د ډلې زخمي غایب و، علی بن سفیان په کوټه، حویلی په غور

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره وکتله، هیچیری هم د وینو څاڅکي ونه لیدل شول، د دې نه څرګندېدله چې څوکیدار یې ژوندی راوستی د زخمی پر بستره یې څملولی او بیا یې په خنجر باندې وهلی دی، ځېز کولو او وهلو ته یې پرېښی نه دی، کنه نو د وینې څاڅکی به خواره وو، چې کله یې ساه ختلې کمپله یې پرې هواره کړې ده، او وژونکیو زخمي له ځانه سره بیولی دی، او خور یې هم ورسره بیولې ده، داسې څرګندېده چې د زخمی په تښتولو کې یې خور هم مرسته کړې ده، هغه ځوانه او ښکلې نجلی وه هغې به څوکیدار غولولی وي، د نجلۍ ملګریو به بیا په ناخبرۍ کې نیولی وي، علی بن سفیان پر خپله غلطۍ افسوس وکړ، چې د زخمي څلورو ملګریو ته له هغه سره د لیدلو وخت ورکړ، هغوی ویلی وو چې د زخمي د تره او ترور زامن دي، هغوی دننه ورغلی او لیدلی یې و، چې د دې ځای پیره او ساتنه څه ډول ده؟ د هغه خور ته هم دلته د اوسېدو اجازه ورکول په کار نه وو، هغوی دا خبره هم باوري کړې ننه وه چې هغه به ګوندی په رښتیا د زخمي خور وي، او یا د قاتلانو ډلې ملګرې.

علی بن سفیان په قهر شو او پر خپله سهوه پښېمانه هم، خو هغه پخپل زړه کې د زخمي او د هغه د ملګریو دومره بریالۍ تېښته وستایله، د علی بن سفیان په څېر هوښیار سړی تېرویستل څه آسان کار نه وو، هغو څلور کسو هم دوکه ورکړې وه، هغه له نوي پیره دار نه څه پوښتنې وکړې، هغه ورته وویل چې تر دې د مخه یې د شپې هم پیره کړې ده، هغه وویل چې نجلۍ یې له جراح سره د هغه کور ته په ورتلو او شپې ناوخته به بېرته راتللو لیدلې ده له دې نه له علی بن سفیان سره شک پیدا شو چې نجلې جراح هم د خپل حسن او ځوانی په جالی کې ګېر کړی و، علی څوکیدار ته وویل چې په منډه ولاړ شه او جراح راوله، د څوکیدار له تللو وروسته هغه د پټې نښې په لټون کې اخته شو، بهر ولاړ ځمکه یې وکتله، د پښو نښې یې ولیدلې، خو نښو له هغه سره مرسته نه کوله، زخمي خو په ښار کې پټیدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شو، یوه لاره پاتې وه، چې د زخمي پر کلي (له کومه ځایه چې د هغه خور راوستل شوی وه) حمله وکړای شي، خو هغه کلی ډېر لرې و.

څوکیدار بېرته راغی وې ویل جراح په کور کې نشته، علي بن سفیان د هغه کورته ورغی، ملازم یې وویل چې جراح د شپې ناوخته له یوې نجلۍ سره وتلی وو بیا بېرته رانغی، د نجلۍ په باب د جراح نوکر وویل چې تردې د مخه هم ورسره راغلې وه، او دواړه تر ډېره وخته دننه ناست وو، د علي بن سفیان باور راغی چې جراح هم د زخمي په تښتولو کې شریک دی، او دا د نجلۍ د ښکلا کمال دی، علي بن سفیان د خپلې ادارې مامورین راوه غوښتل او هغوی ته یې د زخمي د تښتولو په باب وویل، هغوی ټول یوې او بلې خواته خپاره شول، په یو ځای کې یې د ډېرو آسونو د سومانو نښې ولیدې، د شاو خوا اوسیدونکیو درې څلورو کسانو وویل چې د شپې یې د ډېرو آسونو د څغاستې غږونه اورېدلي دي، د استخباراتو مامورین د آسونو د سومانو په تعقیب پسې له ښاره ووتل، خو مخکې تلل بیکاره وو، د شپې د څغاستونکیو آسونو د سومانو په تعقیب پسې د ورځې تلل بېکاره وو، هغوی ته همدومره پته ولګېده چې تښتوونکي دې لوري ته تللي دي، د علي بن سفیان له پاره یوازې دا کار پاتې و، چې د مصر سر پرست امیر تقی الدین ته اطلاع ورکړي، چې د چرسیانو د ډلې زخمي د هغه ملګریو تښتولی دی، له هغه سره دا فکر هم پیدا شو، چې زخمي چې کومې د راز خبرې کړې وې هغه هم بې بنسته وې، او هغه د خپل ځان خلاصولو او د تېښتې د وخت میندلو له پاره دا کار کړی و. هغه سلطان صلاح الدین ایوبیاو علي بن سفیان هم غولولي وو.

نیمه ورځ تېره شوې وه، چې علي بن سفیان تقی الدین ته د خبر ورکولو له پاره ورغی، هغه مهال د هغه زخمي بندي چې د پورته کېدلو توان یې هم نه لاره له قاهرې نه لرې یوه ویجاړ ځای ته رسول شوی و، خو هغه ژوندی نه و، د جراح لاس او پښې تړلي وو او هغه پر یوه آس د بې روحه څېز په څېر پروت و، د هغه پښې د آس پر شا یوې خواته خو تنه او سر یې بلې خواته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوړند وو، تو له شپه یې هغه په همدې حالت کې وړی و، د سهار خړه لا رڼا شوې نه و، چې کله آسونه ودرول شول، د جراح پر سترګو پټۍ وتړلې شوې هغه د پټیو تړونکی سړی ونه لیدی شو، ځکه چې سر یې ځوړند و، له پټۍ تړلو وروسته یې پښې پرانستل شوې، او هغه یې پر آس کښیناوه، لاسونه یې تړلي وو، شاته یې یو سړی پر آس سپور شو، او آسونه تر لږ آرام وروسته بیا روان شول، هغه ته همدومره معلومه شوې وه چې یو څو نور آسونه ورپسې را روان دي، او سپاره یې په کرار کرار خبرې اترې کوي، آسونه روان روان وو او لمر راپورته کېده، بیا جراح احساس کړه چې آسوه پر لوړه ختیژي، په لږه لږه فاصله کې ښي او کیڼ لوري ته ګرځي راګرځي او بیا مخ په کښته ځي، هغه اټکل کاوه، چې دا سیمه لوړه ژوره ده.

ډېر وخت وروسته چې کله ټکنده غرمه شوه، هغوی ته له وروسته نه آوازونه وشول، چې دا ترې ځرګندېده چې کوم سپور له آس نه راپرېوتی دی، د هغه آس هم ودرول شو او شاته وګرځول شو، هغه بیا دپخوا په شان غږونه واورېدل، پورته یې کړی... سیوری ته یې یوسی، بې هوشه شوی دی، اوه خدایا! له ده نه خو وینې بهیږي؟ دا یې د شارجا ترهېدلی غږ واورېده. د جراح سترګې او لاسونه پرانیزی، چې پټۍ پری بنده کړي، که نه نو زما ورور به مړ شي، دا د چرسیانو د ډلې زخمي و چې له آس نه پرېوتی وو تو له شپه د آس له سپرلۍ او ځغاستی له امله یې د ګېډې زخم خلاص شوی و، او له زخم نه یې هم وینه روانه وه هغه د رد زغامه خو وینه یې روانه وه په اخر کې چې هغه ځای ته راورسېده وینه ترې نوره هم زیاته وبهیده، چې بې هوشه شو او له آس نه راپرېووت، هغه یې پورته او د یوه کمره سیوري ته یې وه رساوه، په خوله کې یې ورته اوبه واچولې، خو اوبه یې له ستوني تېرې نه شوې، جامې یې په وینو لمدې شوې وې.

د جراح سترګې پرانستل شوې او ورته وویل شول، چې اخوا دیخوا به نه ګوري، هغه په خپل نس د خنجر څوکه احساس کړه، له ځان نه یې مخکې روان کړ د کمره سیوري ته زخمي پروت و او شارجا ورسره ناسته وه، هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جراح ته وویل: د خدای له پاره زما ورور وژغوره جراح تر هر څه رومبی د زخمی په نبض لاس کېښود، هغه ته امر شوی و، چې یو خوا بل خوا به نه ګوري، هغه ناست و، او د زخمی نبض یې کوت، د هغه په نس کې د خنجر څوکه چوخېده، د ټپی نبض یې چې احساس کړ، ناڅاپه پاڅېده او شاته وګرځېده، د هغه مخی ته څلور کسه ولاړ وو، چې مخونه یې په تورو نقابونو کې پټ وو، یوازی سترګې یې ښکارېدې، د یوه په لاس کې خنجر وو جراح په غوسه وویل: په تاسې ټولو دې د الله لعنت وي، تاسې دی د ژغورنې په ځای وواژه تاسې ټول د ده قاتلان یې، دا خو مړ دی، مونږ دی په کټ کې هم نه ښورا وه او تاسې پر آس کښېښناوه را مو ووست، د ده زخم خلاص شوی دی، او د بدن ټوله وینه یې ضایع شوی ده.

شارجا د ورور پر مړي ورپرېوته او په چیغو چیغو یې وژړل. په نقابونو کې پټ مخیو سړیو د جراح پر سترګو پټی وتړله او له هغه ځایه یې یو څه لرې بوته، مړی یې پر آس واچوه او قافله بیا روانه شوه، جراح د شارجا سوري کړیکې او ژړا فریاد اورېده، له جراح سره پر آس چې کوم سپور و، هغه ته جراح وویل دا زخمي بیخي رغېده، خو تاسې هغه وواژه هغه ته هیڅ سزا نه ورکول کېده، سپاره وویل: مونږ هغه د ژوندي پاتی کېدو له پاره راوستی نه و، مونږ په اصل کې هغه راز راتېښتولی دی، چې دې زخمي سره و، د ده په مړینه زمونږ هیڅ غم نشته، مونږ خوښ یو چې ته او ستاسې حکومت له دې راز نه ناخبره واست چې د ده په سینه کې و.

جراح پوښتنه وکړه نو تاسې ماته د کوم جرم سزا راکوی؟

سپاره ځواب ورکړ: مونږ به تا د پیغمبرانو په څېر ساتو، په تا به تود باد هم نه لګیږي، مونږ ته د دې له پاره راوستی وې، چې که په لاره کې زخمي په تکلیف شي، نو ته به یې مرهم پټی کوې، خو مونږ دا فکر ونه کړ چې له تا سره خو نه درمل شته او نه مرهم، ستا د راتېښتولو دویم لامل دا و، چې مونږ دا نجلی هم له ځان سره راوستل غوښتل، که مونږ دا راوستلی وای، نو ته چې له دې سره وې، زمونږ پسی به دې ټول پوځ راوېښ کړی و، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه ستا راتښتول هم ضروري وو، دريم دا چې مونږ يوه جراح ته اړتيا لرو، تابه مونږ له ځان سره ساتو.

جراح وويل: زه به د داسې کوم سړي علاج ونه کړم چې زما د حکومت مخالف وي، تاسې ټول د فاطميانو صليبيانو او سوډانيانو دوستان ياست او د همغوی په اشاره د اسلامي حکومت پر خلاف ورانکاري کوي. زه به له تاسې سره هيڅ مرسته ونه کړی شم.

سپاره وويل: بيا خو به ته ووژل شې، جراح وويل: مرګ به زما له پاره غوره وي. سپاره ځواب ورکړ چې بيا خو به مونږ له تاسره هماغه رويه کوو، چې ستا لپاره به ښه نه وي، بيا به ته زمونږ هر امر منې، خو زه درته وايم چې د بدی رويې نوبت به نه راځي، تا د صلاح الدين ايوبي پادشاهي ليدلې ده، زمونږ پادشاهي به هم وګورې، نو پخپله به ووايې چې زه همدلته اوسېږم، دا خو جنت دی که تا زمونږ له جنت نه انکار وکړ، بيا به درته خپل جهنم وښيو.

آسونه روان وو، د جراح پر سترګو پټی تړلې وې، د پټی په تياره کې يې د خپلې راتلونکې د ليدو کوښښ کاوه، د تېښتې په پلانونو يې هم سوچ کاوه، بيا بيا به يې د شارجا فکر په مغزو کې ګرځېده، خو هغه به چې فکر وکړ چې دا جنی هم د دغې ډلې ملګرې ده نو نهيلې به شو، چې له هغه سره به هيڅ مرسته ونه کړای شي.

* * *

د هغوی سفر دومره اوږد نه و، خو د سرحدي ټوليو او د هغوی د ګزمو له وېرې د مجرمانو دغه قافله په بې لارېو پټه او ډېره لرې راتاوه شوې وه، له ماښام وروسته هم روان وو او شپه تېرېده، د نيمې شپې نه لږ د مخه دغه کاروان ودرېده، جراح يې له آس نه راکوز کړ او لاسونه يې پرانستل، څرنګه چې تياره وه نو ځکه يې د هغه له سترګو پټی هم لرې کړ هغه ته د خوراک لپاره هم څه ورکړل شول، اوبه يې پرې وڅښلې او تر دې وروسته يې پرې لاس او پښې بيا وتړل، او د ويده کېدلو يې ورته وويل: سپاره سترې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي وو، هغوی د دوه نیمو شپو راسې ویښ وو، وغزېدل او ویده شول، له آسونو یې زینونه هم لرې کړل او لېږ لرې یې وتړل، د جراح د تېښتې هیڅ امکان نه و، هغه تړلی ویده شو.

لږه شیبه وروسته یې سترګې وغړېدې، پوه شو چې د روانېدو لـه پاره یې راوېښوي، خو چا د هغه د پښو رسۍ پرانستلې، هغه غلی پروت و، مرګ ته هم تیار و، د هغه دا هیله وه، چې هغوی به یې وژني او غورځوي به یې خو د پښو د رسۍ له پرانستلو وروسته یې چې د لاسونو پرانستل پیل شول، نو پرانستونکې د جراح په غوږ کې وویل: ما په دوه آسونو باندې زینونه تړلي دي، غلی زما پسې راځه! زه له تاسره ځم هغوی د بې هوشۍ په خوب ویده شوي دي دا د شارجا غږ و.

جراح په کراره پورته شو او په شارجا پسې روان شو، په شګو کې د مزل پر وخت د پښو غږ نه پورته کېږي، څو قدمه وړاندې دوه آسونه ولاړ وو، پر یوه شارجا سپره شوه، او بل باندې جراح سپور شو، شارجا وویل : څنګه ته پر آس ښې او کیڼ لوری ته په ګرځولو خو پوهېږې ؟جراح له څواب ورکولو پرته آس پونده کړ، د شارجا آس هم ورسره په ځغاسته شو، د آسونو د ځغاستې پر وخت شارجا جراح ته وویل، زما پسې راځه! زه پر لار بلده یم، په تیاره کې زما نه مه جلا کېږه.

د ځغاستې په حال کې د آسونو څوږ تېښتوونکي راویښ کړل خو تعقیبول یې آسان نه وو، هغوی لومړی باید لیدلی وای چې دا د چا آسونه دي؟ له هغوی سره د شارجا د تېښتې وېره نه وه، په دې خبرنه کې یو څه وخت تېر شو، چې هغوی څوک وو؟ او څه وخت وروسته به ورته معلومه شوې وي، چې شارجا او جراح وتښتېدل، بیا به هغوی آسونه زین کول، په دې کې به دومره وخت لګېدلی وي چې تېښتېدونکي دوه دوه نیم میله وړاندې تللي وو، .... شارجا او جراح بیا بیا شاته کتل، د آوازونو د اورېدو کوښښ یې هم کاوه، د هغوی باور راغی چې څوک ورپسې نه راځي، هغوی لاتر دې دمه د آسونو د ورکولو خطره پر سر اخیستلای نه شوه، نو څکه هماغسې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


په چار ګامو روان وو، بلاخره داسې ځای ته ورسېدل چې آسونه پخپله ورو شول، خو هغوی ډېر لرې تللي وو جراح شارجا ته وویل دلته به خامخا کوم ځای کې د سرحدي ګزمې سپاهیان وي، خو هغه ته پته نه وه چې کوم ځای به وي، شارجا ته هم څه پته نه وه، هغې جراح ته وویل چې هغوی د ګزمه سپاهیانو له وېرې په لرې او شاړو لار تللي وو، کنه نو د هغې کلی لرې نه وو هغې جراح ته ډاډ ورکړ چې قاهرې ته په صحیح لاره روان دي او قاهره لرې نه ده.

سبا ورځ به د غرمې مهال و چې علی بن سفیان د مصر د سر پرست امیر تقی الدین سره ناست و، تقی الدین ویل زه په دې حیران نه یم چې ستاسې په خبر ازمیېل شوی حاکم دا غلطی کړې، چې یوې شکمنی نجلۍ ته مو له مجرم زخمي سره د اوسېدو اجازه ورکړې او څلور شکمن کسان مو زخمي ته وروستلی دي، زه په دې حیران یم چې دا ډله دومره منظمه او زړوره ده چې زخمي یې وتښتاوه پیردار یې وواژه او بیا یې د زخمي مجرم په بستره کې واچا وه دا یو منظم پروګرام او ترتیب شوی جرم دی.

علی بن سفیان وویل: زه ګومان کوم چې دغه کار جراح او نجلۍ په آسانه کړی دی، په دې کار کې هم زمونږ د قوم د همدغه کمزورۍ اغېز څرګندېږي، چې سلطان صلاح الدین ایوبي یې تل له امله خفه وي او وایي چې د دولت او ښځه نشه به اسلامي امت ډوب کړي، جراح خو ما نیک عمله انسان ګاڼه، خو یوې جلۍ هغه ړوند کړو په هر حال د زخمی بندي د کلی پته معلومه ده، ما ورپسی یو ټولی عسکر لیږلي دي.

تقی الدین پوښتنه وکړه په سویل لویدیزو سیمو کې چې زمونږ بندي د کومو کنډرو یادونه کړې وه، د هغې په باب تاسې څه کول غواړی؟ علی بن سفیان ځواب ورکړ، زه ګومان کوم چې هغه دروغ ویلي وو، هغه د خپل خلاصون له پاره دغه بې بنسټه کیسه جوړه کړې وه خو بیا به هم استخبارات د هغې سیمې په باب معلومات راټول کړي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی لا په دې مسئله خبرې کولې، چې په دروازه کې ولاړ پیره دار راغی او داسې خبر یې راوړ، چې هغوی دواړه یې حیران کړل هغوی یو بل ته وکتل، داسې ښکارېدل لکه هغوی چې له خبرو معزور وي. علي بن سفیان پاڅید وې ویل، بل څوک به وي، بهر ولاړ، په هغه پسې تقی الدین هم ورغی، خو هغه بل څوک نه، د هماغوی خپل جراح یې مخې ته ولاړ و، او د زخمي بندي خور هم ورسره وه، د هغوی آسونه ډېر ستمبدل، د جراح او شارجا سرونه او مخونه له دوړو او ګردونو ډک وو، شونډې یې وچې او خولې وازې پاتې، وې، علي بن سفیان ترې لږ په غوسه پوښتنه وکړه، بندي مو چېرته پرېښود؟ جراح ورته په لاس اشاره وکړه، چې مونږ لږ آرام کولو ته پرېږدی، دواړه یې دننه بوتلل، د هغوی له پاره یې اوبه او خواړه راوه غوښتل. جراح ورته په تفصیل سره وویل چې څه ډول وتښتول شول، په سفر کې زخمي بندي مړ شوو هغه ته هیڅ پته نه وه چې زخمي بندي هم راتښتول شوی دی، سبا د ورځې ورته د سفر په حال کې پته ولګېده، چې کله زخمي له آس نه راپرېووت او د زخم د خلاصېدو له امله مړ شو، جراح څه چې ډول شارجا آزاد کړ او له هغه سره راوتښتېده هغه یې هم ورته مفصل ډول وویل، شارجا هم خپلې خبرې وکړې، نو علي بن سفیان وه پوهېده، چې دا یوه بېدیانې جنی ده، کلکه او زړوره هم ده او دا دومره چالاکه نه وه، څومره چې فکر کېده، هغې وویل چې د خپل ورور په اسره او د هماغه په خاطر ژوندۍ وه، هغه د ورور د ژوند په خاطر مرګ ته هم تیاره وه، جراح چې په څومره اخلاص د هغې د ورور علاج وکړو له هغې نه دومره اغېز منه شوه چې د هغه مریده شوه، ماته جراح ملایکه ښکارېده په لومړۍ ورځ چې له هغې سره کوم څلور سړي راغلي وو هغه زمونږ هیڅ نه کېدل، هغوی زمونږ د تره او ترور زامن نه وو، هغوی د هغې ډلې سړي وو چې صلاح الدین ایوبي او د هغه لوړ پوړي چارواکي وژل غواړي، کله چې د علي بن سفیان سړي د شارجا کلي ته ورغلي وو هغه مهال دا څلور سړي په کلي کې وو، هغوی ته معلومه شوه چې د شارجا ورور زمخي او نیول شوی دی، هغوی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره په دې نيت را روان شول چې زخمي به راتښتوي، له هغوى سره دا وېره وه چې زخمي سره کوم راز دى هغه رسوا نه شي، هغوى ته دا څرګنده وه چې خمي چېرې او په څه کار کې نيول شوى دى .

د شارجا له وينا سره سم د هغې هم دا اراده وه چې خپل ورور به راتښتوي، هغې چې له ورور سره د پاتې کېدلو کومه هيله کړې وه، له هغې نه يې دوه موخې وې، يوه يې دا چې د خپل ورور خدمت او پالنه به کوي او بله يې دا چې که وخت په لاس ورغى نو خپل ورور به تښتوي، هغه څلور سړي چې زخمي يې وکتل بېرته ستانه نه شول ، بلکې په قاهره کې پاتې وو، هغوى د شارجا د اشارې په انتظار وو، خو جراح نجلۍ ته داسې خبرې وکړې چې هغې هيڅکله اورېدلې نه وې، هغه به هر وخت له جراح سره ناسته او د هغه خبرو اورېدو ته به لېواله وه، يوه ورځ هغه د جراح کورته روانه وه نو هغې ته له هغو څلورو نه يو سړي په مخه ورغلى وه هغه شارجا ته وويلې چې د زخمي په تښتولو کې بايد نور وخت تېر نه شي شارجا هغه ته وويل چې هغې خپله اراده بدله کړې ده، د هغې ورور به همدلته اوسي، هغه سړي شارجا ته وويل چې داسې ښکاري لکه چې د دماغ دى خراب شوي دى .

شارجا دا هيله نه لرله چې هغوى به دومره زړورتوب وکړي او د هغې ورور به وتښتوي، هغې ورته خپل پرېکړه واوروله چې هغه به ورسره هيڅ مرسته ونه کړي، هغه سړي ورته وويل مونږ ستا هر حرکت وينو، مونږ دا ګڼله چې تا ګوندې جراح په خپل جال کې ګېره کړى دى، خو داسې ښکاري چې ته پخپله د هغه په جال کې ګېر شوې يې. شارجا هغه وراټه، څرنګه چې د هغې دا هيله نه وه چې هغه وګړي به دومره د زړورتوب څرګندونه کوي له دې امله يې جراح ته هم څه يادونه ونه کړه چې د هغې د زخمي ورور د تښتولو خطره ده .

په هماغه شپه جراح او شارجا د هغو څلور واړو په ولکه کې راغلل، هغوى يې چې کله پر آسونو د سپرولو له پاره پورته کول، نو هغې وه ليدل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پر یوه آس د هغې ورور هم په زخمی حالت کې ناست و. هغه مهال هغه یو څه خوشحاله شوه چې ورور یې آزاد کړای شوی دی، نو هغه تېښتې ته تیاره شوه، خو جراح یې له هغوی سره بندي لیدل نه غوښتل، نو هغوی ته یې ځکه وویل چې جراح پرېږدي! خو خبره یې وه نه منل شوه د هغه لاسونه او پښې یې وتړل، پر آس یې بار کړ، په لاره کې شارجا ته وویل شول، چې د هغې ورور یې څه ډول راوتښتاوه، هلته یوازې دوه کسه ورغلي وو، یوه یې له پیره دار نه د کومې پوښتنې په باب په خبرو مصروف کړ، بل یې د شاله لوري له غاړې نه وینو او دواړو پورته کړ او دننه یې وهوور، زخمي چې هغوی ولیدل، پورته شو کښېناسته، د هغه په بستره یې پیره دار ځملاوه او د هغه پر زړه یې د خنجر دوه زور ګذارونه وکړل او هغه یې وواژه بیا یې پرې کمپله وغوړوله، دواړو زخمي بندي راپورته کړ او راووتل، هغوی ته دا هم معلومه وه چې شارجا د جراح په کور کې ده، هغوی وېرېدل چې شارجا به ورسره دا کارونه مني او تېښتونه به ناکامه شي خو د هغې راتښتول هم له هغه ځایه ضروري وو ځکه چې له هغې سره هم یو راز و، دوه سړي ورته په کمین کې ناست وو، څنګه چې جراح او شارجا هغې تنګی او تیاره کوڅې ته ورسېدل، هغوی دواړه هم ونیول شول اود اغوا کار بریالی سرته ورسېده.

* * *

د علی بن سفیان په خبر د استخبارتو فنی ماهر کومه ازموینه کول نه غوښتلو هغه په سملاسي توګه د جراح او شارجا په خبرو باور ونه کړ، دا هم د توطئې یوه کړۍ کېدای شوه، هغې دواړه سره جلا کړل، او له هغوی نه یې پخپل انداز پوښتنې وکړې، جراح هوښیار سړی و، هغه علی بن سفیان قایل کړو چې هغه کومې خبرې کړي دي تکی په تکی صحیح دي، هغه وویل چې یو خو احساساتی ارخ دی، د دغه جلی شکل او صورت د هغه مړې خوړ په څېرو، ځکه یې هغه خوښېده، او هغه یې خپل ګورته بوتلله همو او د زخمي په کور کې به هم ورسره تر ډېره وخته ناست و، جراح وویل، چې د هغه د دې رویې نه نجلۍ دومره اغېزمنه شوه. چې هغې ورته خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنې شکونه په ځکې کېښودل، دا د هغه جلي دويم اړخ و چې له امله يې جراح ورته زياته پاملرنه وکړه، نجلۍ مسلمانه وه، خو داسې ښکارېدل چې پر هغې ډېرو بهرنيو اثراتو کار کاوه، جراح د هغې له ذهن نه دغه اثرات لرې کړلو څرنګه چې نجلۍ کليوالي او د وروسته پاتې ذهن لرونکې وه او د شولو هغه به يې صحيح ګڼل، د هغې له خبرو نه څرګنده شوه، چې د هغوی په سيمه کې د اسلام خلاف تبليغات او د صلاح الدين ايوبي پر خلاف تخريبي چارې ښې په زور او شور او پرته له کوم خنډ او بنديز رواني دي.

علی بن سفيان له شارجا سره څه خبرې ونه کړې تش له هغې نه يې پوښتنې کولې او له ځوابونو يې بيان ترتيبېده، هغې د فرعونيانو د کنډرو په باب هماغه څه ووېل، چې مخکې ويل شوي دي .

هغه هم د کنډرو د هغه بزرګ سړي ګروهمنه وه، د چا په باب چې ويل کېدل چې ګناهګارانو ته نه ښکاري، او د هغه يوازې آواز اورېدل کېږي. شارجا ووېل چې ورور يې په پوځ کې و، او هغه په کور کې يوازې اوسېده، هغې ته د کلي ځنې خلکو ويلي وو، چې هغه دې کنډرو ته ورشي، ځکه چې د هغه انسان پېغلې نجونې ډېرې خوښېږي، شارجا د علی بن سفيان د پوښتنو په ځواب کې دا هم ووېل چې د هغوی د کلي درې ښکلې پېغلې د کنډرو هغه بزرګ ته ورغلې وې چې بيا بېرته رانغلې، يو ځلې د هغې ورور کلي ته راغلی و، شارجا له هغه پوښتلي وو، چې کنډرو ته ورشي او که نه؟ ورور يې هغه منعه کړې وه شارجا په ښه ډول ونه ويلای شول، خو دا پته وه لګېده چې د مصر په سويل لويديزو سيمو کې کاروانه روان دي، نجلۍ د جراح په باب ووېل، چې که هغه يې کلي ته هم بيولی وای او بندی کړی يې وای، نو له هغې ځايه به يې هم د خپل سر په بيه را خلاص کړی وکله چې د هغې ورور مړ شو نو کلي ته د تللو اراده يې هم پرېښوده، او عزم يې وکړ چې جراح به له دې ځايه آزادوي، هغه ځلورو مجرمانو شارجا خپله ملګرې ګڼله، خو جراح هغې ته ويلي وو، چې هغوی د الله تعالی ډېر لوی مجرمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، هغې ته دا هم معلومه شوې وه، چې د هغې له ورور سره يې هيڅ همدردي نه وه بلکې له هغه راز سره يې کار وو چې له هغه سره ؤ نو ځکه هغوی وواژه.

علی بن سفيان له هغې نه پوښتنه وکړه چې اوس هغه څه کول غواړي او د خپل ځان په باب يې څه فکر کړی دی؟ هغې ځواب ورکړ، چې خپل ټول ژوند به د جراح په قدمونو کې تېر کړي او که جراح هغې ته ووايي چې اور ته ودانګه، نو اور ته به ودانګي، هغه دې خبرې ته تياره شوه چې تر کنډرو پورې به د ورتلونکيو لارښوونه هم وکړي او د خپلې سيمې هر هغه سړي به په ګوته او ونيسي چې د مصر د حکومت پر خلاف کار کوي.

د علی بن سفيان په مشوره د پوځ او اعلی حاکمانو غونډه راوغوښتل شوه، او حالات د تقی الدين مخې ته وړاندی کړای شول د ټولو دا فکر و، چې تقی الدين نوی نوی مصر ته راغلی دی او د لومړی ځل له پاره دومره درووند مسئووليت ورته سپارل شوی دی، نو ځکه به هغه په احتياط سره پرېکړې کوي، او کېدای شي چې له کومې خطرې سره مخ کېدل ونه غواړي، په غونډه کې زياتره چارواکو پر دی خبره اتفاق وکړ چې ښکاره معلومه ده چې لری او پراخه سيمه زياتره وګړي بی لارې کړای شوي دي، نو ځکه دې د دغو خلکو پر خلاف پوځي عمليات نه کيږي، مسئله دا وه چې د کنډرو دننه چې کوم حالات معلوم کړای شوي وو، له هغو نه ثرګندیدله چې هلته يوه نوې عقيده را منځته شوې چې هغو خلکو منلی هم ده، نو ځکه به دغه وګړي پر خپل عبادت ځای پوځي يرغل ونه زغملای شي، د دې حل دا وړاندې کړای شو، چې دغې سيمې ته دې مسلمان معلمان، عالمان او پوهان ولېږل شي چې خلک سمی لارې ته راوبولي، د هغوی احساسات دې نه مجروح کوي.

تقی الدين ووېل: د دې مقصد خو دا دی، چې تاسې له انسانانو ويرېږی او ستاسې په زړونو کې د الله جل جلاله او رسول اکرم صلی الله عليه وسلم مينه نشته چې دوی د يوه ربښتوني دين سپکاوی کيږي، زه د مصر امير او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton. Digital Library



اعلی قوماندان ته د خبر ورکولو اجازه نه ورکوم، تاسې نه پوهیږئ چې هغه په فلسطین کې له څومره څواکمن دښمن سره په مقابله اخته دی، تاسې هغه ته دا ثابتول غواړئ چې مونږ تول دری څلور زره بې لاری شویو انسانانو او د اسلام د دین له دښمنانو څخه ویرېږو، زه د نیغی او مستقیمی سختې او کوټلی حملې قایل یم .

یو مرستیال قوماندان وویل: محترما ! بې ادبي دې معاف وي. صلیبیان پر مونږ تور لګوي چې اسلام د توري په زورخپور شوی دی، مونږ د دغه تور عملی تردید کول غواړو، مونږ به له ځانونو سره د مینې او محبت پیغام یوسو، تقی الدین ورته په توکه کې وویل نو بیا مزتر ملا توري ولې تړلي دي؟، په دې پوځ دومره لګښتونه ولې کیږي؟ آیا تر دې به دا غوره نه وي چې مونږ لښکرې رخصت کړو او وسلې په نیل سیند کې واچوو، د تبلیغیانو یوه ډله جوړه کړو ،د ملنګانو او مسافرو په څېر کلی په کلي وګرځو؟ تقی الدین دا په احساساتی انداز وویل: که د الله جل جلاله او پیغمبر صلی الله علیه وسلم د پیغام پر خلاف صلیبیانو توري را ایستلې وي، نو بیا خو به د مسلمانانو توري په تیکو کې نه پاتې کیږي، او چې کله د مسلمان توره له تیکی راووځي، نو هر هغه سر به له تنې جدا کوي، چې د اسلام د مبارکی کلمې لا اله الا الله محمد رسول الله له منلو انکار کوي، هره هغه ژبه به پرې کوي، چې حق کلمی ته دروغ وایې صلیبیان که دا تور لګوي چې مونږ اسلام د توري په زور خپور کړی دی، نو زه له هغوی نه معافی غوښتنې ته تیار نه یم، اسلامي سلطنت ولې کمزوری کیږي؟ پخپله مسلمان ولې د اسلام دښمن کیږي؟ یوازې د دې له پاره چې صلیبیانو د ښځو ، شرابو او د زرو او مرغلرو او د واک او اقتدار حرص او هوس په وسیله د مسلمانانو توري زنګ وهلی، هغوی پر مونږ باندې د جنګ خوښونې او ظلم او تیري تورونه لګوي، زمونږ د جنګیالیتوب روایات ختمول غواړي، څکه چې هغوی د جګړې لویه زمونږ نه وړای نه شي، د هغوی د وچې لښکرې او سمندري بېړۍ ناکامې شوې دي، اوس زمونږ په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځ کې ورانکاري کوي، د الله جل جلاله د رښتینی دین جرړې غوځوي، او
تاسې وایي چې د هغوی پر خلاف تورو ته لاس مه وروړې.
دوستانو! په غور سره واورئ چې صلیبیان او ستاسې نور دښمنان له
تاسې نه د دوستۍ په پلمه توري اخیستل غواړي د شا له لوري ستاسې
وهل او ودرول غواړي د هغوي دا اصول یوه غولونه ده چې که څوک تاسې
ته په یو مخ څپېړه درکړي نو تاسې ورته بل لوری ورمخ کړئ، آیا له تاسې
نه کوم یوه ته څرګنده نه ده چې په کرک کې هغوي له مسلمانانو سره څه
کوي؟ آیا تاسې په شوبک کې د مسلمانانو بېګار کمپونه لیدلي نه دي؟
هلته یې څومره مسلماني بیبیانې بې پردې کړي، هغه مو اورېدلي نه دي؟
چې په نیول شوی فلسطین کې مسلمانان د وېرې ترهې، بې پتۍ او
مظلومیت ژوند تېروي، صلیبیانو د مسلمانانو له کاروانونو لوټي او ښځې
تښتوي، او تاسې وایي چې د اسلام په نامه توره پورته کول جرم دی، که دا
ګناه وي نو زه پرې نه شرمېږم.
د صلیبیانو توري د بې وسې مسلمانانو سرونه پرې کوي، یوازې په دې
خاطر چې له الله جل جلاله سره مینه لري، د صلیب او بوتانو عبادت نه
کوي، ستاسې توري هغه مهال د لاسونه غورځېدل په کار دي، چې مخی ته
مو بې وسې او بې وسلې انسانان وي او هغوی ته الهی پیغام رسیدلی نه
وي، مونږ باید د دې اصولو منونکي نه اوسو، چې د خلکو پر احساساتو
حمله وکړو، ما لیدلي دي چې په عربو کې ډېر کوچني کوچني واکمنان او
نا اهله امیران د خلکو د خوښۍ له پاره ډېر په زړه پورې کلمات کاروي، د
هغوی غلط احساسات او ولولې نورې هم راپاروي او هغوی خوښ ساتي،
چې خلک هغوی له مزو چړچو او غیر اسلامي ژوند دود څخه منع نه کړای
شي، د دغو امیرانو د کار طریقه دا ده چې هغوی د څتمیسنو(چا پلوسانو )
یوه ډله پیدا کړې، چې د هغوی هر غږ ته لبیک وایي، او همدغه وګړي په
خلکو کې ګرځي، دا ثابتوي چې د هغوی امیر څه ویلي دي، هغه د الله
تعالی آواز دی، چې نتیجه یې داده چې د الله جل جلاله بنده ګان د بد

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارو او عیاشو انسانانو غلامان کیږي او قوم په حاکم او محکوم ویشل کیږي. . . مونږ ګورو چې دښمن زمونږ جرړې غوڅوي، او زمونږ د قوم یوه برخه د کفر په تیارو کې ننباسي، که مونږ کوټکي تګلاره ونه ټاکله، نو مطلب به یې دا وي، چې مونږ د کفر ملاتړ کوو، ماته مې ورور صلاح الدین ایوبي ویلي وو چې خیانت او غداري د مسلم امت یو دود ګرځیدلی ، خو زه دا هم ګورم، چې داسې یو دود هم پیل شوی چې یوه ډله به حکومت کوي او نور به یې تر لاس لاندې محکوم وي، واکمن ټولی به د قوم خزانه په شرابو بهوي او ملت به یو ګوټ اوبو ته تږی وي، زما ورور صحیح ویلي وو، چې مونږ باید د ملت او دین اینده په نظر کې ونیسو، مونږ باید پخپل ملت کې د عزت او عمل لوړوالی پیدا کړو، راتلونکی نسلونه به زمونږ له قبرونو ځواب غواړي د دغه مرام له پاره باید له داسې چارو ځانونه ونه ژغورو چې د دین او هیواد له پاره ګټور نه وي، که دغه په حقه ګامو ته د قوم د څوکسو له پاره ګټور نه وي، نو مونږ یې باید هیڅ پروا ونه کړو. مونږ د مسلمان امت ګټه او عزت او څو کسو د خوښۍ له پاره قربانولای نه شوو مونږ د خپل هیواد یوه لویه برخه یوازې د دې له پاره د ورانکارۍ په جال کې ګېر پرېښودلای نه شو، چې هلته ګواکې د خلکو احساساتو ته زیان رسیږي، تاسې ګوری چې د هغه ځای خلک ساده او ناپوه دي، هغوی خپل هغه مسلمان ورونه چې د قبیلو سرداران او مذهبی مشران دي، د دښمن سره د سازش په نتیجه کې بې لارې کوي .

په غونډه کې د هېڅا هم دا هیله نه وه چې د تقی الدین عکس العمل او غبرګون بهه دومره سخت او پرېکړه به یې کوټلې وي هغه چې کوم دلایل وړاندې کړل، د هغې پر خلاف په چاکې د دې جرئت نه و چې مخالفت څو لاخه چې وړاندیز یې هم وکړی هغه وویل : په مصر کې چې کوم پوځ دی یا له محاذه راغلی دی او تردې د مخه هم جنګېدلی دی، د دغه پوځ دې پنځه سوه آس سپاره، دوه سوه اوښ سپاره او پنځه سوه پیاده نن ماښام د سیمې په لور وه لېږل شي چېرې چې شکمنی کنډرې دي، دغه پوځ به له

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې سیمې دومره لرې اوسي، چې که اړتیا پېښه شي په سملاسي توګه کلابندي وکړای شي، له ما سره چې له دمشق نه کوم دوه سوه کسه سپاره راغلي دي، هغوی به کنډرو ته دننه ورځي حمله به کوي، یو چریکي ګروپ به کنډرو ته دننه ورځي او دوه سوه سپاره به کنډري کلا بند کوي که له بهر نه حمله وشوه، نو د پوځ زیاته برخه به یې مقابله کوي او کلا بندي به نوره هم راتنګوي، په دې عملیاتو کې دې پوځ ته په کلکه وویل شي، چې له بې وسلې خلکو سره به څه کار نه لري.

تر دې پرېکړې وروسته په سملاسي توګه پوځي حاکمان د لېږد، حملې، کلا بندۍ او نورو پلانونو په جوړولو لګولي شي شو.

* * *

سلطان صلاح الدین ایوبي د مصر له حالاتو ناخبره د کرک او شوبک د کلا ګانو تر منځ په یوه پراخه بیدیا کې چېري چې شګلنې غونډۍ، خوړونه او لوی لوی ګټان هم وو او ځای ځای اوبه او پرېمانه سیوري هم زیات وو، د صلیبیانو د نوي جنګي پلان سره د خپل پوځ صفونه ترتیبول، د استخباراتو مامورینو هغه ته ویلي وو، چې صلیبیان به له دوه چنده څواک سره چې زیاتره سپاهیان به یې زغري لرونکي وي، له کلا نه بهر راو وځي او حمله به کوي، دغه پوځ به د سلطان صلاح الدین ایوبي مجاهدین په مخامخ جګړه کې مصروفوي او نور به یې د شا له لوري یرغل راوړي، سلطان صلاح الدین ایوبي خپل پوځ تر لرې لرې واټن پورې خپور کړو تر هر څه ړومبی یې دا کارو کړ، چې هر ځای اوبه او سیوري وو، هغه یې ونیول، د دغو ځایونو د دفاع له پاره یې د غټو کمانونو لرونکي غشي ویشتونکي ولېږل، د هغوی غشي تر لرې ځایه رسېدل، هلته یې منجنیقو[۱] نه هم ولګول چې د اور ګولۍ یې ویشتلې، دا کار یې څکه کړی و، چې دښمن

[۱] - منجنیق یوه لرګینه دستګاه وه چې د میچینو غزی په شان د اور پنډوسکي پر ویشتلې کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېرډې راونه رسیږي، لورې څوکې او غونډۍ یې هم نیولې وې، سلطان صلاح الدین ایوبي خپلو عسکرې ټولیو ته امر کړی و، چې که دښمن حمله وکړه تاسې نور هم خپاره شئ چې دښمن په خپرېدلو مجبور کړی.
سلطان صلاح الدین ایوبي پوځ داسې ترتیب کړ، چې دښمن دا پرېکړه ونه کړای شي چې د مسلمانانو د پوځ اړخ کوم او وروستۍ برخه یې کومه ده.
سلطان صلاح الدین ایوبي د خپل پوځ یوه غټه برخه محفوظه وساتله، یوه برخه یې داسې په حرکت کې وساتله، چې هر ځای اسلامي پوځ ته د کومک اړتیا وي، دوی مرسته ور رسولای شي، د هغه تر ټولو خطر ناکه وسله د هغه چریکي ګروپونه وو، او تر دوی زیات خطر ناک یې استخباراتی نظام و، چې هغه ته یې د صلیبیانو د هر حرکت خبر ورکاوه، سلطان صلاح الدین ایوبي د شوبک کلا نیولې وه د صلیبیانو په پلان کې دا هم وو، که حالات یې په ګټه وو نو شوبک به هم کلا بندوی او نیسي. هغوي هیله لرله چې د هغوی دومره زیاتې لښکرې به د سلطان صلاح الدین ایوبي لږ شمېر پوځ په بیدیا کې له منځه یوسي. یا به یې دومره کمزوری کړي چې شوبک ته به له بهر نه مرسته ونه رسولی شي، د دغه پلان له مخې سلطان صلاح الدین ایوبي د شوبک کلا هغه برخه چې صلیبي پوځ پرې حمله کولای شوه تشه پرېښوده، هغه د صلیبیانو له پاره موقع ورکړه چې صلیبیان د دغه ځای په تش لیدلو پر سوبک کلا حمله وکړي، هغې لوری ته یې د پېرې څوکۍ هم لږې کړې او تر لږې لږې ځایه یې سیمه خالي پرېښوده.
صلیبي جاسوسانو په سملاسي کرک کلا ته خبر ورکړ چې سلطان صلاح الدین ایوبي له صلیبیانو سره د جنګېدلو له پاره خپل پوځ له شوبک نه لرې راټول کړی دی، او د شوبک کلا لاره پاکه شوې ده، صلیبیانو په سملاسي توګه هغه پوځ چې پر سلطان صلاح الدین ایوبي یې مخامخ حمله کوله، امر وکړ چې لاره بدله او د شوبک په لوري ولاړ شي لکه چې دغه پوځ هغې لوري ته وګرځېده، د دې پوځ پسې د رسد د زخیرو کاروان روان و، دغه پوځ چې کله د شوبک څلور هیلۍ ته ورسېده، نو وه درول شو، دا د دغه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځ مهالیز پړاو و، د رسد د آسونو رهړې، اوښان او کچرې د زرونو په شمېر را روان وو، هغوی ته هېڅ خطره نه وه، ځکه چې د مسلمانانو د پوځ تر لرې لرې ځایونو پورې نوم او نښان نه و، صلیبي واکمن ډېر خوښ وو، هغوی د شویک کلا د خپلو قدمونو لاندې لیدله خو د شپې له خوا هغوی د شا لوري ته آسمان تک سور وه لیده، د اور لمبی دومره لوړې وې چې د دومره لرې نه هم ښکاریدی. صلیبیانو آسونه وځغلول، چېرې چې اور لګېدلی و، هلته د دوی د رسد وسایل وو، هلته یې پخپل سر منډې وهونکي آسونه او بې مهاره اوښان یو خوا بل خوا د ځغاستې په حال کې وه لیدل.

دا تباهي د سلطان صلاح الدین ایوبي یوه چریکي ګروپ جوړه کړې وه، په رسد کې د آسونو او اوښانو له پاره وچ واښه وواو په سلونو رهړو بار وو، هغه یې د رسد د کمپ څلورو خواو ته د رولي وو، صلبیان په تېرو تنه اخته وو هغوی تـه پتـه ونـه وه چې سلطان صلاح الـدین ایـوبي یې د هر حرکت څارنه کوي، د شپې چې کله د کیمپ وکړی ویده شول، نو مسلمان چریکان پر اوښانو ورغلل او د وښو پر انبارونو یې اورین غشی وه اورول، وښو فوراً اور واخیست، په لږه شېبه کې ټول کمپ د اور په لمبو کې راګېر شو، په اور کې راګېر انسانان د ځانونو ژرغورنې له پاره یو خوا بل څو ځغاستل، چې زیاتره یې د غشیو خوراک شولو کومو څارویو چې رسۍ شکولی شوی، هغه وتښتېدلو او چې کومو ونه شکولی شوی هغه ژوندي وسوځېدل تر لرې لرې ځایه یې کمپ په جهنم بدل شوو چریکانو زیات شمېر آسونه او اوښان ونیول او بېرته ولاړل.

د سهار تر رڼا وروسته چې د صلیبي پوځ قوماندانان هلتـه ورغلل، هیڅ شی‌هم بچ پاتې شوي نه وو، د هغوی د یوې میاشتې ذخیره لـه منځـه تللې وه، هغـوی پـوه شـول چـې د شـویک لاره چـې پرېښـوودل شـوې وه دا هـم د سلطان صلاح الدین ایوبي یو چال وو هغوی له څه مطالعې پرتـه وویـل چـې لـه کـرک نـه تـر شـویکه زمـونږ د رسد لاره خطر ناکه دهو لـه دې املـه یـې د شویـک کلا بندي وځنډوله، له رسد پرته کلا بندي ناممکنه وه، او چې کله

Scanned by CamScanner

(c) ket...om: The Digital Library



هغوی ته دا خبر هم راورسېده چې تېره شپه د هغه پوځ د رسد هم تباه کړای شوي چې پر سلطان صلاح الدين ايوبيد مخامخ يرغل له پاره لېږل شوی و، نو هغوی پر ټولو جنګي پلان د بیا غور کولو پرېکړه وکړه، هغوی ته هیچېرې هم د سلطان صلاح الدين ايوبي پوځ نه ښکارېده.

سلطان صلاح الدين ايوبي ته خبر ورکړل شو، چې صليبيانو په دواړو، محاذونو وړاندې تګ ځنډولی نو هغه خپل قوماندانان يې راوغوښتل او ورته يې وويل: صليبيانو جنګ ځنډولی دی، خو زمونږ جنګ جريان لري، هغوی د دوه پوځونو مخامخ ټکر ته جنګ وايي، زه چريکي او شپېنو يرغلونو ته جنګ وايم، اوس چريکان فعال وساتي، صليبيان دواړو لوریو ته په شا تګ کوي، هغوی په ډاډه زړه په شا تګ ته مه پرېږدي، په وروستی یا يوه اړخ يې ناڅاپي يرغل وروړئ او ترې غايب شي، صليبيان تاسې مخامخ جنګول غواړي ، خو زه به تاسې په داسې ميدان کې له هغوی سره مخامخ کوم چې ستاسې د خوښې لامل وي او چيرې چې شکی هم ستاسې مرسته کوي .

د سلطان صلاح الدين ايوبيد هستوګنې ځای نه و، هغه له خپلو ملګريو او ساتونکي پوځ سره يوې او بلې خواته کوچېده، په يوه ځای کې به نه اوسېدلو لدې سره سره هم داسې ښکارېده چې هر ځای کې موجود دی.

* * *

په مصر کې د سلطان صلاح الدين ايوبي ورور تقی الدين د صليبيانو پريو بل محاذ يرغل کاوه، دا د مصر سوېل لويدنيزه سيمه وه د کومې سيمې ويروونکيو کمرونو دننه چې د فرعونانو د زمانې هيبت ناکې کنډرې او هلته حضرت عيسی عليه السلام له آسمانه بيرته راتلونکی و، ټوله سيمه د يوې نوې ګروهې منونکې شوې وه .. د پنجشنبې ماښام و د ليدونکيو ګڼې ګونې د ګنډرو په غار ډوله دروازو کې د ننوتلو ټېل پېل کړی و، دننه په يوه لويه کوټه يو پراسراره غږ انګازې کولې، خلکو ته په دېوالونو ګناهګار او نېکان د تللو پر وخت ښکارېدل، هلته هماغسې ګڼه ګونه وه چې په تېرو پنجشنبو شپو کې به وه، ناڅاپه د هغه پر اسراره انسان

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


غږ غلی شو، د چا په باب چې مشهوره وه چې ګناهګارانو ته ښکاري، د دې پر ځای یو بل غږ واورېدل شو، بې لارې انسانانو! نن شپه کورونو ته مه ځئ، سبا ورځ به تاسې ته هغه راز څرګند شي، د څه لپاره چې تاسې لېوال وی، له دې ځایه ژر بهر ووځئ، حضرت عیسی علیه السلام تشریف راوړي، د دې کنډر نه لرې ولاړ او ویده شئ، په لویه کوټه کې چې حیرت وهلیو خلکو ته په دیوالونو باندې کوم ځلېدونکي ستوري ښکارېدل، د هغو ځلېدل غلی شول.

هغه مهال به دغون سوریو کې ښکلې او ښایسته نجونې او هلکان په خندا خندا تېرېدل، خلکو ولیدل چې عسکري ډوله خلکو نیولي او له ځانونو سره یې بیا یې، له څینو ځایو چغې هم اورېدل کېدې، د وریځې چې کوم شور او ځوږ و، هغه هم غلی شو، د خلکو له پاره دغه ځای ډېر سپېڅلی و، هغوی له ویرې وه تښتېدل او کنډری یې خالی کړی.

دغه انقلاب علی بن سفیان او تقی الدین رامنځته کړی و. له هغوی سره هماغه سپاهیان وو چې تقی الدین یې امر کړی و، دغه ګروپونه تر ماښام وروسته کنډریزی سیمې ته نږدې ورغلي وو د هغوی لارښوونه شارجا کوله، چې پر آس سپره وه، د پنجشنبې په ماښام یې هلته پوځي ټولي ور رسولي وو، ځکه چې په دې شپه به هلته مېله جوړېده، او د لرې لرې ځایونو به خلک ورته راتلل، د پوځ زیاته برخه چې هغوی پنځه سوه آس سپاره. دوه سوه اوښ سپارل او پنځه سوه کسه پیاده عسکر وو، له دغې سیمې نه لږ لرې ساتل شوي وو، هغوی د بې وسلې خلکو پر خلاف نه کارول کېدل، هغوی ته دا دنده سپاره شوې وه چې د سوډان پر پولو څارنه وکړي، ځکه چې په هغه کنډریزه سیمه کې ورانکاري صلیبیانو او سوډانیانو په لمسونه کېدله، نو ځکه د دې وېره موجوده وه چې هسې نه په سیمه کې نظامي عملیات اجراء کړی او سوډانیان یرغل وکړي، تقی الدین د هغې سیمې سرحدي ټولي، چې د سرحداتو د ساتنې له پاره موظف وو، نږدې راغوښتې او تر خپلې قوماندې لاندې کړی وو. دوه سوه آس سپاره چې له دمشق نه د

(c) keta[...]m: The Digital Library


تقي الدين سره راغلي وو، د هغه ځاى چاڼ كړاى شوي او د لېونتوب تر حده زړور وو، د ځغاستې پر حال آسونو نه غشي ويشتل د هغوى ځانګړى كمال و، په سپاهيانو كې د صلاح الدين ايوبي په لاسو روزل شوي چريكان وو، هغوى ته داسې روزنه وركړل شوې وه، چې په ډېر سختو كمرو او ونو به په حيرانوونكې چټكتيا سره ختل او كوزېدل، له څو ګزه خپور بل اور نه تېريدنې د هغوى شغل وه، دا چيريكي سر تيرې مې هغه مهال د كنډرو په لوري وه لېږل، چې خلك كنډرو تـه دننه ور روان وو، تـر هغې ځايه شـارجا وروستل، على بن سفيان ورسره ملګرى و، ګرندي استاذي هم ورسره وو، چې په خبر رسولو كې ځنډ رانه شي، د كنډرو له دروازې بهر دوه سړي ولاړ او دننه تلونكيو تـه يې درې درې خرماوې او اوبـه وركولې، د دروازې دننـه توره تياره وه، خلك به له دغو تيارو تېرېدل او روښانه كوټې ته به رسېدل، بهر يوازې يو مشال بل و، چې معمولي رڼا يې وركوله، شپږ كسه سړي چې سرونه يې په ځادرونو كې پټ وو له زيارت كوونكيو سره تـر دروازې ولاړل، له ګنې ګوڼې جلا او د خرماو ويشونكيو تر شا ودرېدل، هغوى ته يې وويل چې مخامخ ولاړ شي، خو خرما ويشونكي هغه مهال حيران پاتې شول چې د هغوى په شاګانو كې د خنجرونو څوكې و چوخول شوې، دغـه شپږ كسـه چريكان وو، هغوى د يو يـو سړي شاته ځان ورساوه او شاته يې د خنجر د څوكې په چوخولو ورته په غوږ كې وويل: كه ژوندي پاتې كېدل غواړې، لـه دې ځايه په كراره بهر ولاړ شى، تاسې ټول د پوځ په ګېركې ياست، د خرماو او اوبو ويشونكي د لږ څه مزاحمت پرته بهر ووتل، چريكـانو خپـل خنجرونـه داسې په چوغو كې پټ كړل، چې له هغوى پرته هيچا هم ونه ليدل دغه څلور كسه چې ځنګه بهر راووتـل، هلتـه څوكسـه سړي ولاړ وو، هغـوى څلور واړه ونيول او په ديكو ديكو يې تر لرې ځايه ورسول، هلته څو كسـه رسيو وتړل شول، شپږ كسه چريكان د خرماو او اوبو پرته له شكيزو سره پاتې شوي وو، هغوى دننه تلونكيو خلكو تـه ويـل چې لـه خرمـاو او اوبـو پرتـه دننـه ورځى،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې دننه څخه نوی حکم راغلی دی، ساده زړي کليوال همداسې دننه روان وو.

له هغوی سره اوس چريکان هم دننه روان وو او مشالونه هم دننه ورتلل، خلک حيران وو چې مشالونه څنګه دننه وړل کيږي، لږ تر لږ پنځوس مشالونه او دوه سوه چريکان کنډرو ته ننوتل، هغوی روښانه کوټې ته ورننغلل، بلکې په تيارو لارو او د غلامانو څارن ځايونو ته ورغلل، چې له بهره راتلونکي خلک ورتللی نه شول، په هغوی کې له ځينو سره خنجرونه او له ځينو سره خنجر ډوله وړې چړې وې او له ځينو سره وړې ليندۍ او غشي وو، له هغې دروازې نه هم چې خلک پرې راوتل، چريکان ننوتل، هغوی له لارښوونې سره سم ځانونه تياره ځايونو ته ورسول، د تقی الدين دوه سوه آس سپاره مخکې ولاړل، او هغوی ټولې کنډرې کلا بندې کړې، له هغوی سره پياده ټولی هم و، چې سپاهيانو يې له دننه راوتونکي خلک يوه لوري ته راټولول پيل کړل، چريکان چې له مشال وړونکيو سره دننه ولاړل، نو هغوی داسې احساس کړه، لکه د کوم ځيز نس ته چې ورننويستل شوي وي، دننه لارې او کوټې د کولمو په څېر وې ... دغو لارو هغوی پر يو جادو واړول، چې په ليدلو يې چريکان حيران پاتې شول، دا يوه ډېره پراخه او لوړه کوټه وه، دننه پکې ډېر سړي او ښځې وې، په هغو کې ځنې داسې وو، چې مخونه يې د ځيروونکيو حيواناتو په څېر وو، ځينې خو انسانان وو، خو د هغوی دومرهبد شکلونه وو، چې په ليدلو يې سړي وېرېده، هغه د پيريانو او بلاګانو په څېر ښکارېدل، د هغوی په منځ کې ښکلې نجونې هم وې چې جلبوونکې او ځلېدونکې جامې يې اغوستې په خندا خندا يوې او بلې خواته ګرځېدې، يوه لوري ته د يوه ديوال تر څنګ يو څو ښکلې نجونې د ښکلو ځوانانو سره په ناز ناز روانې وې، هلته له چت نه تر فرش پورې پردې ځړول شوې وې، چې ښي او کيڼ لوري ته به تلی راتلې بل لوري ته سترګې برېښوونکې روښنايي بلېده او مړه کېده .

Scanned by CamScanner

(c) k... .com: The Digital Library



که چریکانو ته ویل شوی نه وی چې د کنډرو په منځ کې چې هر څه دي او په هر شکل دي هغه انسانان دي، او دننه نه کوم پیری شته او نه بلا او نه ښاپیری، نو چریکان به تول له هغې ځایه راتښتېدلی وو، هلته چې کومې ښکلې پیغلې او ځلمي وو، هغه هم ویروونکی ښکارېدل، دغه حیرانوونکي مخلوق چې کله مشال وړونکي چریکان وه لیدل. نو د هغوی د وېرولو له پاره یې ویروونکی غږونه وه ایستل، کوم سړی چې بد شکله او د ځیروونکیو ځناورو په څېر وو، د هغوی آوازونه هم وېروونکی وو، په دې دوران کې ښایي یو یا دوه کسانو یې له ویرې خپلې اصلي څېرې راڅرګندې کړې وي، دا د ځیروونکیو حیواناتو څېرې وې، چې کله یې لرې کړې، انسان ترې راووت، چیریکانو ټول راونیول او د ټولو څېرې یې لرې کړې، هلته شراب هم پراته وو، هغه ټول یې بهر وېوړل، د کنډرو د نورو برخو په تلاشی کې یو سړی وه نیول شول چې په یو تنګ سوري کې یې سر ننه ایستی او وېروونکې چغې یې وهلې، او ویل یې ... له ګناهونو توبه وکړی! عیسی علیه السلام راتلونکی دی ... او دغسی نورې کلمې چې هغه ویلې، دغه سرنګ تاو راتاو هغه کوټې ته ورغلی و، چې روښانه او لیدونکیو یې پر اسراره، وېروونکي او ښکلی مخلوق لیده او حیرانېدل، دغه سړی یې له هغه ځایه لرې کړو د چریکانو قوماندان سر په سوري کې ننه ویست وې ویل: ای بې لارې شویو خلکو! نن شپه کورونو ته مه ځی سبا سهار به تاسې ته هغه رازونه رسوا شي چې تاسې یې د لیدلو لپاره لېواله واست.

په کنډرو کې دننه هیڅا هم مقاومت ونه کړ، د تورو او خنجرونو په مخکې ټولو ځانو نه د نیول کېدو لپاره وړاندې کړل، چریکان د نیول شویو کسانو په ښودانه هغه ځایونو ته ورغلل چېر یی چې د برهښنا په څېر ځلېدونکی رڼا برابره شوې وه، په پټو پټو ځایونو کې مشالونه ایښودل شوي وو، شاته یې د لرګو تختې وې، چې زر ورق پرې لګول شوي وو، دغه تختی به یوې او بلې خواته کېدلې نو د زر ورقونو ځلکابه پر سترګو پرېوته او رڼا به یې څو چنده کوله، د کوټې د تیاره کولو له پاره به یې مشالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاته کول، د وریځې د غرهاري آوازونه به یې د اوسپنیزو څادرونو په ښوررولو پیدا کول، په پردو باندې یې ځای ځای زر ورقونه تښلولي وو، چې کله به پرې د مشالونو رڼا ولګېده نو د ستورو په څېر به ځلېدل، بلې خواته د پردو رنګ داسې و، چې چا ویلای نه شول چې دا ګونډې توټه ده، هغو به د دېوالونو درځونه ګڼل، د عقل او فکر لرونکی انسان له پاره دا کومه معمی نه وه، بې شکه چې د رڼا ګانو د ځانګړې ترتیب جادو وه ، چې خلک یې تر اغېز لاندې راوستل، خو څوک به چې دننه ورتلل د هغوی به بیا پر خپل عقل او حواسو هیڅ کنترول نه و، پر هغوی به چې کله دننه تللو پر وخت خرماوې او اوبه څښل کېدې، په هغې کې د کوم نشه یې څیز ګډون شوی و، چې په سملاسي توګه یې اغېز کاوه تر دغه اغېز لاندې به چې د لیدونکیو په ذهنونو هر ډول تصور کښېنول کېده او غوږونو ته چې هر ډول آوازونه رسول کېدل، هغه یې په سلوکې سل صحیح او په حقه ګڼل، د همدې نشي اغېزو، چې خلک به بهر ولاړل د بیا راتلو هیله به یې کوله هغوی ته معلومه نه وه چې د هغه عقیدې تاثیرنه دی، بلکې د هغه نشي اثر دی چې هغوی ته په خرماو او اوبو کې ورکول کیده .

د خرماو په ډېریو او د اوبو په مشکونو هم قبضه شوې وه، دننه د نیولو او تالاشۍ لړۍ روانه وه، بهر دوه سوه کسه سپاهیانو کنډرې کلا بند کړې وې، هر لورې ته د مشالونو رڼا وه، د پوځ زیاته برخه او نور سرحدي ټولي د سوډان له پولو سره په ګزمه بوخت وو... شپه تېره شوه، د سوډان له لوري کومه حمله ونه شوه، په کنډرو کې هم کوم مقاومت ونه شو، د سهار رڼا به چې سیمه روښانه کړه، نو هلته د کلیوالو خلکو ګڼه ګوڼه وه، ځینی خلک یوی بلې خواته ویده وو. آس سپرو کلا بند کړي وو.

* * *

لږه شېبه وروسته ټول وګړي یو ځای ته راټول او کېښنول شول، د هغوی شمېر به درې څلور زرو تر منځ وه له یوه لوري یوه ډله خلک راغلل، چې پوځیانو رامخکې کړی وو، په دې ډله کې د څېروونکیو حیواناتو او د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


مرغانو د څېرو په څېر انسانان وو، په دوي کې بد شکله او وېروونکي انسانان هم وو، او په دغه ډله کې هغه ټول کسان وو چې خلکو ته په کندړو کې دننه ښوډل کېدل، او ويل کېدل چې دا آسمان دی چې چهرې چې دغه وګړي د خپلو ګناهونو سزا ويني، د هغوی تر ټولو ستره ګناه دا ويل کېده چې دغه وګړي له جنګونو سره عادت وو يعني پوځيان وو، ددې ډلې نه جلا د لس دولس جنکيو ډله هم مخې ته راوستل شوه دا ډېرې ښکلې نجونې وې، له دوی ښکلي ځوانان هم وو، دغه دواړه ډلې مې يوه لوړ ځای د خلکو مخې ته ودرول، او ورته وويل شول چې خلکو ته خپلې اصلي څېرې وښاياست، ټولو د ځناورو او مرغانو مصنوعي څېرې له مخونو لرې کړې له هغو نه روغ رمټ انسانان راووتل د کومو خلکو چې د وحشي ځناورو څېرې وې هغه هم مصنوعي وې هغوی هم خپلې مصنوعی څيرې لرې کړې .

خلکو ته وويل شول د دغه سړو او ښځو نړدې تېرېږي او وه يې پېژني، خلک دې تـه حيران وو، چې دا خو آسماني مخلوق نـه بلکې د ځمکې انسانان دي، پـه سړيو کې زياتره وپېژندل شول، د همـاغې سيمې اوسيدونکي وو، نجونې هم وه پېژندل شوې، هغوی هم زياتره د همدې سيمې وې، او درې څلور پکې يهوداني وې، چې صليبيانو د دغه مقصد له پاره راوستي وې، خلکو چې هغوی وه ليدل نو بيا يې هغه مجرمان مخې ته راوستل، چا چې دا جادو ګري جوړه کړې وه پـه هغو کې شپږ کسه صليبيان وو، چې د مصر د هغې سيمې ژبه يې ويله او پرې پوهېدل، هغوی ډېر زيات کسان له همدې سيمې نه د ځان ملګري کړی وو، د شپې لـه نيول کېدو وروسته يې پـه هغـوی اعتـراف کړی وو چې هغـوی پـه درې څلور جوماتونو کې خپل امامان مقرر کړي دي، چې خلک يې د دين په پرده کې د غير اسلامي عقايدو پيروان کول، د دغه ډلې مقصد دا و چې خلک قانع کړي، چې په پوځ کې شامل نه شي، ځکه چې دا ډېره لويه ګناه ده، دغه ډله پخپل مقصد کې بريالۍ شوې وه، دغه ورانکاري په دې هم بريالی شوی وو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د دغه سیمې په خلکو کې له سوډانیانو سره مینه پیدا کړي او هغوی د دین له بدلولو پرته بې دینه کړي .

خلکو ته وویل شول، چې اوس کنډرو ته دننه ورشي وګرځي او د دغه چل او دوکې ثبوت په خپلو سترګو وګوري، خلک دننه ورغلل، ځای ځای سپاهیان ولاړ وو او خلکو ته یې ښودل چې هغوی ته په کومو لارو چارو دوکه ورکول کېده، ډېر وخت وروسته چې ټول خلک دننه وګرځېدل او بیا راغلل، نو تقي الدین هغوی ته وینا وکړه او هغوی ته یې وویل چې په خرماو او اوبو کې نشه ورکول کېده، دننه چې کوم جنت او دوزخ و، هغه د دغې نشې د اغېز له امله و، زه دغو مجرمانو ته وایم چې دننه ولاړ شي، او ماته آسماني مخلوق د حرکت په حال کې راوه ښايي، چې حضرت موسی علیه السلام چیرې او مړ شوی خلیفه العاضد کوم ځای دی، دا ټوله دوکه وه، دا هغه نشه وه چې د حشیشیانو (چرسیانو) استاد حسن بن صباح به پر خلکو څښوله او هغوی ته به یې جنت ورښوده، هغه خو به په یو وخت کې څو کسو ته نشه ورکوله، خو دلته د اسلام دې دښمنانو په یو وخت د دغې سیمې ټول خلک نشه کړي وو.

تقي الدین خلکو ته اصلي خبره وکړه، چې په ړومبي کې د یوه ملنګ کیسه واورول شوه، چې مسافرو ته اوښان او اشرفۍ ورکوي، دا سوچه بې بنسټه کیسې وې، او بې سرو بوله دروغ، کیسو اوروونکیو ته ستاسې د دین او ایمان دښمنانو بې د ریغه دولت ورکاوه... تقي الدین د دغه ورانکارۍ ټول اړخونه روښانه کړل، او چې کله یې د هغو خلکو له اصلیت نه پرده پورته کړه، نو خلک په جوش کې راغلل او راپورته شول په مجرمانو یې حمله وکړه، هغه مهال له خلکو هغه نشه تللې وه، چې د شپې په خرماو او اوبو کې ورکړل شوې وه، پوځ د خلکو د منع کولو ډېر کوښښونه وکړل، خو غوی ټول مجرمان او جینکۍ ووژلې. تقي الدین پوځ په ټوله سیمه کې خپور کړ او د هغوی تر څارنې لاندې یې هلته د ورانکاریو ایجنټان ونیول او بل یې د هغې سیمې په جوماتونو کې د قاهرې عالمان امامان کړل، چې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغو خلکو ديني او عسکري روزنه يې پيل کړه، د فرعونيانو کنډرې د هغو خلکو په لاسونو ويجاړې کړي.

تقي الدين چې قاهرې ته ولاړ، رومبی کار يې دا وکړ چې د جراح او شارجا له غوښتنې سره سم يې هغوی ته د نکاح اجازه ورکړه او بل کار يې دا وکړ، چې د پوځ د مرکزي قوماندې منصبدارانو ته يې امر وکړ چې پر سوډان د حملې له پاره تياری پيل کړي، هغه د کنډرو په عملياتو کې ليدلي وو، چې ګاونډي سوډانيانو دومره پراخه سيمه د خپل اغېز لاندې راوستې وه او دغه اغيز به له شديدي ځوابي حملې پرته پای ته ونه رسيږي، هغه ته دا هم څرګنده شوې وه، چې سوډانيان د صليبيانو د لاس اله ګرځيدلي دي، او د حملې کولو په تياريو کې هم مصروف دي، نو ځکه ضروري وګڼل شوه چې په سوډان باندې دې حمله وکړای شي، د حملې په نتيجه کې که د سوډان کومه سيمه ونيول شي او کنه دومره ګټه خو به خامخا ولري، چې د دښمن تياری کړې ودې لکي، او د هغوی پلانونه د يوی اوږدې مودې له پاره له منځه ولاړ شي، له تقی الدين سره د صلاح الدين ايوبي ملاتړ موجود و.

د مصر سر پرست امير تقی الدين د صليبيانو ذ فکري يرغل مخه په خپل وخت د نظامي عملياتو په وسيله ونيوله، او هغه پته او له رازونو ډکه اډه يې له منځه يوړه، له کومې نه چې دا فتنه راولاړه شوې وه، خو هغه ډاډه نه و، ځکه چې هغه پوه شوی و، چې دغه اسلام وژونکی زهر د قوم رګونو ته داخل شوی دي، دغه صليبي ورانکاري د سوډانيانو په ملاتر کېدلو او سوډانيانو ته د صليبيانو ملاتړ په برخه وو تقی الدين د سودانيانو د پر ځای کنبنولو له پاره پر سوډان د حملې تياری چټکی کړې، سلطان صلاح الدين ايوبي هلته هم د خپلو استخباراتو مامورين لېږلي وو، چې د هغوی د ځان ځاروونکيو هځو په نتيجه کې مهم اسرار په لاس ورتلل، خو له هغو رازونو چې کومه ګټه صلاح الدين ايوبي پورته کولای شوه، د هغه ورور تقی الدين دوسې خبره نه وه، د دواړو ورونوجذبات يو ډول وو، خو د دواړو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځېر کتیا کې د ځمکې آسمان اومره فرق و، دواړو ورونو به چې د کومو عملیاتو پرېکړه کوله، هغه به ډېر سخت وو خو فرق دا و چې سلطان صلاح الدین ایوبي به ډېر احتیاط کاوه، او تقی الدین به په بې صبرۍ کې د احتیاط لمن پرېښوده، هغه ته چې کله پوځي مشرانو وویل چې پر سوډان حمله کول عاقلانه کار دی، خو له صلاح الدین ایوبي نه مشوره اخیستل ضروري دي، نو تقی الدین د خپلو مشاورینو دغه مشوره رد کړه وې ویل: آیا تاسې خپل محترم امیر ته دا ثابتول غواړئ چې تاسې له هغه پرته سوچ هم نشئ کولای او هیڅ هم کولای نه شئ؟ تاسې هېر کړي دي چې د مصر محترم امیر له مصر نه څومره لرې په یوه ستر توپان کې راګېر دی؟ که مونږ د هغه مشورې او پرېکړې ته انتظار وکړو، نو پایله به یې دا وي چې سوډانیان به پر مونږ لومړی یرغل وکړي او پر مونږ به لاس برې شي.

یوه مرستیال قوماندان وویل: تاسې همدا اوس د حملې امر وکړئ، پوځ به په همدې حالت کې له ځنډه پرته کوچ وکړي خو د دومره ستر او مهم کار له پاره ژور فکر ته اړتیا ده، مونږ به د لېږ د چارې په لنډ وخت کې سرته ورسوو، تاسې محترم سلطان صلاح الدین ایوبي ته خامخا خبر ورکړئ او د نور الدین زنګي پاملرنه هم دې لورې ته راواړوئ.

تقی الدین ونه منله، وې ویل: تاسې په مصر کې یو یو خاین او ورانکاری نیسئ او له منځه وړئ، زه دغه منبع بندول غواړم، له کوم ځایه چې خیانت او ورانکاري راولاړېږي، د دې کار له پاره زه د چا حکم او مشورې ته اړتیا نه لرم.

تقی الدین ځنې داسې عناصر او حالات له نظره غورځول چې د هغه حمله یې ناکامولای شوه، یو دا چې د صلیبیانو او سوډانیانو جاسوسان په مصر کې موجود وو، چې د مصري پوځونو د هر حرکت څارنه یې کوله، د تقی الدین یو بله کمزوري دا هم وه چې د غه د دښمن جاسوسان مسلمانان وو او په پوځي او اداري چارو کې د لوړو عهدو څښتنان هم وو، بله دا چې سلطان صلاح الدین ایوبي چې په ۱۱۶۹ میلادي کال کې کوم سوداني پوځ

Scanned by CamScanner

(c) .com: The Digital Library


د بغاوت په جرم کې تجزیه کړی و، د هغوی زیاتره قوماندانان په سوډان کې وو، هغوی د سلطان صلاح الدین ایوبي له جنګي چالونو خبر وو، هغوی د هماغه له پوځي ما نورو سره سم د سوډاني پوځ روزنه کړې وه، صلیبیانو هغوی ته ډېره ښه وسله او له اړتیا ډېر اوچت نظامي شیان ورکړي وو، دا کورني نیالګی وو، تقی الدین دا سوچ هم ونه کړ چې هغه د سوډان په کومه سیمه کې وړاندې تلل غواړي، هغه یوه پراخه بیدیاده، چې اوبه پکې تر خطر ناک حده لږې وي، او پر کوم ځای چې هغه یرغل کول غواړي، دومره لرې دی، چې پوځی څوری ورته له خطری پرته رسول ګران دي، د مصر دننیو حالاتو د کنترول او د ورانکارۍ د مخنیوی له پاره هم پوځ ته اړتیا وه، خو تقی الدین دومره پارېدلی و، چې هغه په مکمله توګه د ښه نیت او اسلامي ولولو تر اغېز لاندې نظامي تیاري پیل کړ او سلطان صلاح الدین ایوبي ته یې د خبر نه ورکولو پرېکړه وکړه .

د هغه په دې خپلواکی کې هماغه احساس و چې په صلاح الدین ایوبي کې و، هغه پوهېده چې سلطان صلاح الدین ایوبي مقابله له یوه چټک او تېز توپان سره ده او صلیبیانو د فیصله کوونکی جنګ پرېکړه کړې ده. هغه چې څه فکر کړی و، هغه صحیح و، هغه مهال سلطان صلاح الدین ایوبي له کرک کلا نه اته نهه میله لرې په یوه غریزه سیمه کې د قوماندی مرکز جوړ کړی و، دا د هغه مهالیز تم کېدل وو، هغه د مرکزي قوماندې مرکز د حرکت په حال کې ساته، پر کوم ځای به یې چې یرغل او یا شبخون کاوه له هغې سره به نږدې اوسېده، او حمله کوونکی کنډک قوماندان ته به یې ویل، چې د هغه د بېرته راستنېدو پر وخت به په کوم ځای کې وي، د هغه چریکی قوماندانانو د صلیبیانو څوری ( رسد ) له منځه وړی و، د ګوریلایانو کوچنی کوچنی ګروپونه د هغو صلیبي پوځونو له پاره ناڅاپي مصیبت ګرځیدلي وو، چې په بیدیا کې خپاره وو، د صلیبیانو تاوان خو بې حده زیات و، خو د ګوریلایي ګروپونو شهادتونه هم له معمول نه زیات وو، چې فدایان به ولاړل، درې څلور به یې ژوندې راتلل، داسې راپورو نه هم

Scanned by CamScanner

(c) kitabton.com: The Digital Library



راتلل چې صلیبیانو داسې لارې چارې غوره کړي چې د چریکي ګروپونو شپنۍ حملې بریالیتوب ته نه پریږدي، له دې امله چریکان مجبور وو چې ځانونه قربانۍ ته تیار کړي، سلطان صلاح الدین ایوبي د خپلو چالو او د پوځونو د خپراوي پروګرام په تغییر کولو فکر کاوه.

سلطان صلاح الدین ایوبي خپلو مرستیال قوماندانانو ته وویل: داسې ښکاري چې صلیبیان مونږ مخامخ جګړې ته مجبور وي، خو زه به هغوی بریالیتوب ته پرې نږدم او زه به اوس د زیاتو ځوانانو له شهادتونو هم ډډه کوم.

یوه مرستیال قوماندان وویل: زه د ګوریلایي د ګروپونو د سپاهیانو د شمېر زیاتولو مشوره درکوم، یوه بل مرستیال یې وویل او چې زه هم دا مشوره درکوم چې مونږ باید یوازې په دې مخاذ د دښمن پوځ قوت له نظر ونه غورځوودا چې زمونږ په پوځ کې ایمانی جذبه زیاته ده، جذبه خو سپاهي په زړور توب سره جنګولای او ځان د مرګ خولې ته ورکولای شي، خو د سوبې ضمانت کېدلای نه شي.

سلطان صلاح الدین ایوبي موسکی شو وې ویل: هغوی چې کومې او سپنیزې زغرې اغوستې هغه له هغوی نه مونږ ته ډېره ګټه رسوي تاسې نه ګورۍ چې صلیبیان کله کوچ کوي، نو د شپې له خوا له یوه ځایه بل ته ځي، کله چې لمر راپورته شي، نو ګرمي د هغوی زغرې د سکروټو په څېر ګرموي، زغرې اغوستونکی سپاهیان او سپاره د اوسپنې خولۍ او اوسپنیزه سینه پوښ ویستل او غورځول غواړي، پردې سربېره د اوسپنې وزن د هغوی د حرکت چټکتیا له منځه وړي، زه به هغوی د غرمې پر وخت جنګ کولو ته اړ باسم، کله د هغوي پر سرونو د اوسپنې خولونه (خولۍ) له هغوی اوباسي او په سترګو کې یې راتویوي هغوی به ړندیږي، تاسې د سپاهیانو کمی د متحرک جنګی تاکتیک او ولولو په وسیله پوره کړی.

په همدی وخت کې د سلطان صلاح الدین ایوبید استخباراتو د مشر علی بن سفیان یو مرستیال زاهدان راغی، له هغه سره دوه سړي وو، د سلطان صلاح الدین ایوبي سترګی وځلېدې، هغه دواړه یې کښېنول او پوښتنه یې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه څه خبر مو راوړي دي ، دوارو له خپلو ګرېوانونو له لرګيو جوړ صليبونه راوه ويستل، چې په غاړو کې يې اچولي وو، دا دواړه صليبيان نه مسلمانان وو، خپل ځانونه يې صليبيان ثرګندولو لپاره صليبونه په غاړو کې اچولي وو، دواړو صليبونه له غاړو لرې کړل، له هغوی نه يوه يې راپور وړاندې کړ.

دا دواړه د استخباراتو مامورين وو چې له کرک نه بېرته راغلي وو، د مخه يا دونه شوې وه چې کرک د فلسطين يو کلا ډوله ښار و، چې د صليبيانو په واک کې و، صليبيانو د شوبک په نامه يوه کلا د سلطان صلاح الدين ايوبي په مقابل کې له لاسه ورکړې وه، هغوی په هيڅ قيمت کرک له لاسه ورکول نه غوښتل له شوبک وروسته هغوی د کرک کلا ښه مستحکمه کړې وه چې په هغو کې يې يو پلان دا هم و، چې د کرک له پاره به په کلا بندی ( مجاهده ) کې نه جنګيږي، کله چې له شوبک نه عيسوي او يهودي اوسيدونکي کرک ته تښتېدل، هغه مهال سلطان صلاح الدين ايوبيخپلو پوځي ادارو ته امر کړی و، چې د نامسلمانو تښتېدونکيو مخه ونيسي، هغوی بېرته راولي، او ښه رويه ورسره وکړي، خو سلطان صلاح الدين ايوبي يو پټ امر دا هم کړی و، چې زياتره اوسېدونکي تېښتې ته پرېږدي، په دی امر کې دا اواز هم وه چې له هغوی سره د سلطان صلاح الدين ايوبيد استخباراتو مامورين هم لېږل کېدل، د دښمن ښار ته د خپلو جاسوسانو د لېږلو له پاره دا ښه وخت و، ځکه چې لږ وخت وروسته پرې حمله کيدونکې وه، د مسلمانانو د استخباراتو مامورين د يهودي او عيسوي پناه اخيستونکو په جامه کې کرک ته ولاړل د هغه ځای مسلمان اوسېدونکي يې د ځان ملګري کړل او پټ مرکزونه يې جوړ کړل، له هغو ځايونو به يې خبرونه سلطان صلاح الدين ايوبي ته رالېږل، سلطان صلاح الدين ايوبيبه پخپله د هغوی راپوروونه اورېدل .

په هغه ورځ چې دوه کسه راغلل، نو سلطان صلاح الدين ايوبي په سملاسي توګه خپلې خيمې ته وه غوښتل او نور ټول کسان يې وه ويستل،

Scanned by CamScanner

(c) ketab....com: The Digital Library



د استخباراتو د مامورینو په راپور کې د صلیبي پوځ د نقل و حرکت او تنظیم په باب راپورونه وو، سلطان صلاح الدین ایوبي له هغې سره سم نقشه برابروله، دغه مهال د هغه په مخ کې هیڅ بدلون ونه لیدل شو، خبر راوړونکیو چې ورته کله د کرک د مسلمانانو ناتواني او مظلومیت په تفصیل سره بیان کړ، نو د سلطان په څېره څرګند بدلون وه لیدل شو، یو ځل احساساتي شو پاڅېد او په خیمه کې یې په قدم وهلو پیل وکړ، خبر راوړونکیو وویل، چې له سوبک نه کوم صلیبیان کرک ته ورسېدل، هغوی پر مسلمانانو ژوند حرام کړ، سلطان صلاح الدین ایوبي له دېرو حالاتو نه له پخوا نه خبر و، هغو دوه مامورینو هغه ته وویل، چې هلته په بازار کې چې د کومو مسلمانانو دوکانونه دي، هغوی ډېر خفه دي، نا مسلمان وګړي خو د هغوی دوکانونو ته نه ورځي، مسلمانان هم وېروي او د هغوی په دوکانونو کې سودا کولو نه یې منع کوي، هلته د مسلمانانو پر خلاف ناوړه تبلیغات پیل شوي، عیسویان او یهودان د جوماتونو مخې ته اوبښان او آسونه تړي، په اذان او لمانځه څه بندیز نه شته، خو چې کله اذان کیږي نو نامسلمان وګړي شور او غوغا جوړوي، نڅاګانې او خندا ګانې کوي.

د استخباراتو مامورینو وویل چې د مسلمانانو د اسلامي احساس د وژلو له پاره هلته داسې آوازې خپرې دي، چې صلاح الدین ایوبي سخت ټپي شوی او دمشق ته تللی، تر اوسه به وختي مړ شوی وي، او دا آوازې هم خورې شویدی چې د سلطان صلاح الدین ایوبي د مرکزي قوماندې د کمزورتیا له امله په بیدیا کې خور وور شوی دی او سپاهیان یې د مصر په لوري تښتې او دا افواه هم خپره ده چې مسلمانان اوس پر کرک د حملې کولو توان نه لري او ډېر ژر به صلیبي سپاهیان شوبک کلا هم بېرته ونیسي، دا هم ویل کیږي چې سوډانیانو پر مصر حمله کړې ده او د مصري پوځ له سوډانیانو سره یو ځای شوی دی، خبر راوړونکو دا هم وویل چې اوس سهار وختي صلیبي پادریان د مسلمانانو کورونو ته ورځي او د هر مسلمان د کور مخې ته ناقوس غږوي، خپلې مذهبي سندرې وایي هغوی

(c) Kitabtoon.com: The Digital Library



ته د خپل مذهب بلنه نه ورکوي، دا کار اوس هلته عيسوي او يهودي نجونې کوي دغه نجونې مسلمانې نجونې له ځانونو سره ملګرې کوي و د خپلې آزادۍ ډېر په زړه پورې تصور ورته وړاندې کوي او هغوی ته وايي، چې د مسلمانانو پوځ چې کومه سيمه فتحه کوي، هلته د نجونو بې حيايي کوي.

د سلطان صلاح الدين ايوبيله پاره په دې راپورونو کې کومه نوې خبره نه وه، په لومړي سر کې سلطان صلاح الدين ايوبي ته د هغه استخباراتي چارواکو د کرک د مسلمانانو د بد حالت په باب ويلي وو، هلته د مسلمانانو دا حال و، چې هغوی د سلطان صلاح الدين ايوبي او د هغه د پوځ په باب کومه بده خبره اورېدلای نه شوه، خو هلته به چې هغوی هره خبره اورېده، هغه به حوصله ماتوونکې وه، هغوی له وېرې خبرې نه کولې، د هغوی د کورو ديوالونو هم غوږونه لرل، له يو ځای ناستې هم وېرېدل له جنازې سره به هم جاسوسان روان وو، او په جوماتونو کې هم جاسوسان وو، د هغوی بد قسمتي دا وه، چې جاسوسي يې خپلو مسلمانانو ورونو کوله، هغوی به په خپلو کورونو کې هم پټې پټې خبرې کولې، د کوم مسلمان پر خلاف يوازې همدومره ويل چې هغه د صليبي حکومت مخالف دی، د هغه مسلمان د بېګار کمپ د لېږلو له پاره کافي وو.

د استخباراتو يوه مامور وويل: محترم مشره! اوس هلته له يوه بل چال نه کار اخيستل کېږي، هغه دا چې له مسلمانانو سره ښه رويه کېږي، صليبي حکومت د دې يو مثال داسې وړاندې کړی، چې يوه عيسوي حاکم يو جومات په خراب حالت کې وه ليده، نو د هغه د ترميم امر يې وکړ، او تر خپلې څارنې لاندې يې ترميم کړ. هغوی خو له بېګار کمپ نه مسلمانان خوشې نه کړل، خو هغوی ته يې ځينې آسانتياوې ورکړې وي، د ورځنې سختو کارونو وخت يې هم کم کړی دی، خو د هغوی غوږونو ته دا خبره رسول کېږي، چې تاسې د صليب پر خلاف ډېره لويه ګناه کړې ده، بيا هم له تاسې سره نرمه رويه کېږي، دا د مينې او محبت وسله ډېره خطرناکه ده د دغې درواغجنې مينې په وسيله مسلمانان ځوانان له نشې او جوارۍ سره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عادت کوي، که مو په حمله کې وخت ضایع کړ، نو د کرک مسلمانان به تش په نامه مسلمانان پاتې شي، او کنه نو له قرآن مجید نه به مخ واړوي او صلیب به په غاړو کې واچوي، هغه مهال به هغوی بیا زمونږ سره هیڅ مرسته ونه کړای شي، چې کله مونږ کرک کلا بند کړو، له دغه مینې سره سره د مسلمانانو پر خلاف جاسوسی هم ډېره زیاته شوې ده، او مسلمانان نیول کیږي، تر اوسه لا د مسلمانانو جذبې قایمې دي، او د ثابت پاتې کېدلو عزت یې کړی دی، هغوی تر اوسه د نامسلمانو مینه منلې نه ده، خو تر ډېره وخته به ثابت پاتې نه شي.

همدغه حالات وو چې سلطان صلاح الدین ایوبي یې په اورېدلو خفه شوی و، هغه ته دې خپر ډېر زور ورکاوه چې مسلمان د مسلمان جاسوسي کوي، د هغه د خفګان بل لامل دا و چې عیسویانو د مسلمانانو پر خلاف د مینې او محبت وسله کارول پیل کړي وو، او له دې سره یې د مسلمانو ځوانانو د روحیاتو وژنه پیل کړې وه، تر دې دواړو زیاتې خطرناکې هغه آوازې، چې د مسلمانانو په منځ کې د اسلامي پوځ پر خلاف خپرېدلې، هغه د استخباراتو د ادارې مرستیال زاهدان راوه وغوښت او پوښتنه یې ترې وکړه ... آیا تا د دوی خبرې اورېدلي وي؟ زاهدان ځواب ورکړ، یوه یوه خبره مې اورېدلې ده، صلاح الدین ایوبي پوښتنه وکړه علی بن سفیان له قاهرې نه راوه غواړم او که ته به د هغه ځای ډک کړې؟ دغه چار ډېره باریکه ده د دښمن په ښار کې له افواهاتو د مسلمانانو ژغورل او د هغوی له زهر جینې مینې ساتل دي، زاهدان ځواب ورکړ د علي بن سفیان راغوښتلو ته اړتیا نه شته، حسن بن عبدالله هم له هماغوی سره پرېږدی، د مصر حالات ښه نه دي، هیواد له ورانکاریو او خاینانو ډک دی، د کرک مسایل به انشاء الله چې زه خارم.

سلطان صلاح الدین ایوبي ترې پوښتنه وکړه: تا څه فکر کړی دی؟ هغه په اصل کې د زاهدان ازموینه کوله، هغه پوهېده چې زاهدان مخلص او زحمت کس سړی دی، او په استخباراتي چارو کې د علی بن سفیان شاګرد دی، پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د سلطان صلاح الدین ایوبي مکمل باور و خو بیا یې هم خپل یقین راوستل ضروری ګڼل، چې دا شاګرد به د خپل استاد کمی پوره کړای شي او کنه، هغه د زاهدان له ځواب اوریدلو پرته وویل: زاهدان ما د جګړې په ډګر کې له دښمنه ماتی خوړلی لیدلی نه ده، فکر دې وي چې زه به دې ډګر کې هم ماته خوړل نه غواړم، چې صلیبیانو پرې حمله کړې ده، زه د کرک مسلمانان له اخلاقي او فکري تباهی نه ژغورل غواړم.

زاهدان وویل : تاسې پوهېږئ چې په کرک کې زمونږ سړي موجود دي، زه به هغوی د دغه کار له پاره موظف کړم، هغوی به مسلمانانو ته ستاسې، زمونږ د پوځ او د مصر د حالاتو په باب صحیح خبرو نه واوروی ، او هغوی ته به ستاسې پیغام ورسوی .

د استخباراتو یوه مامور وویل: د هغه ځای په مېرمنو کې د ملی احساس کمی نشته، مونږ به مسلمانو میرمنو ته ووایو چې هغوی د مسلمانانو هر کورته ورشي او د نجنو ذهنونه روښانه کړي، زمونږ په نظر خو د هغه ځای جونې د جګړې کولو له پاره تیارې دی .

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل : که ښځی د کور او کوچنیانو صحیح روزنه او پالنه وکړي، نو په دې کار سره به د اسلام په خپراوي او د اسلامي سلطنت په پراختیا کې پوره پوره مرسته وشي، هغوی د دی کار له پاره وهڅوي چې پر کرک ژر تر ژره حمله وکړم بیا یې له زاهدان نه پوښتنه وکړه د دې هدف له پاره به څوک کرک ته ولېږی ؟

زاهدان ځواب ورکړ دوی دواړه به لېږم، دوی د تګ راتګ له لارو نه هم خبر شوي دي او د هغه ځای له چاپېریال سره هم بلد دي، دغه دوه سړي ډېر ځېرک کسان وو سلطان صلاح الدین ایوبي هغوی ته لارښوونې پیل کړې.

* * *

په کرک کې چې د مسلمانو اوسیدونکیو پر خلاف د مینې او محبت کومه وسله کارېده، هغه د صلیبیانو د جاسوسي شبکې د مشر جرمني نژاد هرمن اختراع وه، هغه د سوبیک له ماتې وروسته پر صلیبي واکمنو ټینګار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوه، چې د کرک مسلمانانو ته د مینې دوکه ورکړي او د صلیب وفادار یې کړي او یا یې لږ تر لږه د صلاح الدین ایوبي سره مخالف کړي، صلیبي واکمنو له مسلمانانو دومره کرکه کوله، چې له هغوی سره یې د درواغو مینه کول هم نه غوښتل، هغوی د ظلم، جبر او وحشت په وسیله د مسلمانانو ملي وقار له منځه وړل غوښتل، هرمن په خپل فن کې ښه پوهه لرله، د انسانانو په روحیاتو پوهېده.

هغه په ډېره ګرانه صلیبي واکمن خپل همفکري کړل او دا پالیسي یې غوره کړه، چې د کرک او شاو خوا سیمو کې چې کوم مسلمانان وو، او د صلیبیانو تر جبر او تشدد لاندې یې ژوند کاوه، په هغوی کې چې په چا باندې د جاسوسۍ اشتباه وي او لږه غوندې ګواهي پرې موجوده وي، هغوی دې ونیول شي او له منځه دې یوړل شي، خو هر مسلمان اوسېدونکی دې نه وېرول کیږي، د دغې سیاست بنسټیز اصل دا و، چې د عیسوي او یهودي نجونو په وسیله دې د مسلمانانو لوڼې بې پردې کړای شي او مسلمانان ځوانان دې ذهني عیاشان او له نشو سره عادت کړای شي، لنډه دا چې د هغوی د بې بندو باری لارې چارې دې وه لتهول شي له دې امله په دغه پالیسي عمل پیل شو، پیل یې له افواهاتو وشو، هرمن دا خبره هم په صلیبي واکمنو باندې منلې وه، چې په مسلمانانو کې د غدارانو د پیدا کولو له پاره دې پیسې وه لګول شي، ځو تنو مسلمانانو ته دې د ښکلیو او ښوربو آسونو بګۍ ورکړل شي، لکه د شهزادګانو په څېر دې وه ساتل شي، مدوي دې بیا په مسلمانانو کې د خیانت او آوازو خپرولو له پاره وه کارول شي، هغوی دې وخت په وخت شاهي دربار ته راوه غوښتل شي او شاهانه رویه دې ورسره وکړای شي، د هغوی ښځې دې هم راوه غوښتل شي او درناوی دې وه شي، چې هغوی خپل اصلیت او دین له ذهن نه اوباسي.

هرمن ویلي وو که تاسې مسلمانان خپل غلامان کول غواړي، نو د هغوی په مغزو کې د پادشاهۍ چینجی داخل کړی، هغوی ته آسونه او بګۍ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورکړی او لمنې یې له اشرفیو ډکې کړی، بیا به هغوی د پادشاهی په نشه کې ساسې اشارو ته ګډېږي، شراب به هم څښي او خپلې لوڼې به په خپلو لاسو لوڅې او تاسې ته وه سپاري، که تاسې د مسلمانانو آینده تیاره کول غواړی، نو دغه نسخه وه ازمییی، ما ستاسې ته د مخه هم ویلي او بیا هم وایم، چې یهودیانو د مسلمانانو د اخلاقي ګډ وډۍ له پاره خپلې لوڼې وړاندې کړي تاسې پوهېږي چې د مسلمانانو تر ټولو ستر او پخواني دښمنان یهودان دي، د اسلام د جرړو ویستلو له پاره یهودان د خپلو لوڼو پت او د خپلې شتمنۍ اخري پیسو ټکوور کولو ته هم تیار دي.

په یهودانو کې دا خطره وه چې هغوی د همدې سیمې اوسیدونکی وو، هغوی د مسلمانانو په ژبه هم پوهېدل، د هغوی له دود او دستور نه خبر وو، د هغوی شکلونه او نور کوایف یو بل ته ورته وو، کومې یهودي نجلی به چې د مسلمانانو جامې واغوستې او د مسلمانانو کور ته به ورغله، نو له کوم شک او ګومان پرته به مسلمانه ګڼل کېده، له دغه مشابهت او ورته والي نه یهودانو پوره ګټه اخیسته او په اسلامي ټولنه کې غیر اسلامي زهر داخلېدل پیل شوي وو.

په کومه ورځ چې سلطان صلاح الدین ایوبي دوه تنو خبر راوړوونکیو ته لارښوونه وکړه او زاهدان ته یې ویلي وو، چې هغه دې په کرک کې مسلمانانو ته صحیح خبرونه ورسوی.

تر دې شل ورځې وروسته په کرک کې یولېونې او مجذوب انسان په ناڅاپي ډول راڅرګند شو، هغه په لاس کې د لرګي نه جوړ یو ګز اوږد صلیب نیولی و، چې هغه به یې پورته کړ او په چغو چغو به یې ویل، د مسلمانانو د تباهۍ وخت نږدې رارسیدلی دی، په شوبک کې مسلمانان خپلې لوڼې بې پته کوي، په مصر کې مسلمانانو شراب څښل پیل کړي دي، یسوع مسیح خدای ویلي دي، چې اوس به دا قوم دځمکې په مخ نه پاتې کیږي، مسلمانانو! که د نوح له بل توپان نه ځانونه ژغورل غواړی نو د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلیب تر سیوري لاندي راټول شي، که صلیب مو خوښ نه وي نو د یهوده خدای په وړاندي سجده وکړئ ،په جوماتونو کې ستاسې سجدې بې کاره دي .
دغه سړی د جامو او شکل له مخې ښه روغ رمټ ښکارېده، خو د خبرو له انداز نه لېونې معلومېده، د هغه ږیره هم وه، اوږده چوغه یې اغوستې وه، پر سر یې پګړۍ او د پاسه یې پرې دستمال غوړولی و چې پر اوږو یې راځپور و، په مخ او جامو یې ګردونه پراته وو، چې دا ترې څرګندېدله چې له لرې سفر نه راغلی دی، پښې یې دوړو وهلې وې، هغه به که چا ودراوه نو درېده به خو خبرې یې نه کولی لکه چې څه خبره یې نه اورېدله او نه پرې پوهېده، هره پوښتنه به چې پرې وشوه هغه به خپل اعلان تکراراوه... د مسلمانانو د تباهۍ وخت نږدې رارسیدلې دی او نور ... هیڅوا هم د دې معلومولو کوښښ ونه کړ، چې هغه څوک دی او له کومه ځایه راغلی دی، عیسویان ځکه خوښ وو، چې د یسوع مسیح خدای نوم یې اخیست او یهودان په دې خوښ وو چې د یهوده خدای نوم یې یاداوه نو ځکه د دواړو دا خوښي شریکه وه، چې د مسلمانانو د تباهۍ زیری ورکوي، د صلیبي پوځ څو کسه سپاهیانو چې د هغه اعلانونه واورېدل، نو په قهقهه یې وه خندل، پولیسو چې هغه ولیده، نو لېونی یې وګاڼه او څه کار یې ورسره ونه لاره، په مسلمانانو کې دومره جرئت نه و، چې د هغه خوله یې بنده کړې وای، مسلمانانو چې د هغه له خولې د خپلې تباهۍ اعلان واورېدلی وه هم وېرېدلی وه او غوسه هم شول خو مې څه کولای نه شول .
دغه مجذوب به د ښار په کوڅو کې ګرځېده او همدا اعلان به یې تکراروه چې مسلمانانو! د صلیب سیوری ته راشئ ستاسې د تباهۍ وخت رارسېدلی دی، په جوماتونو کې ستاسې سجدې بېکاره دي، کله کله به یې دا هم ویل، کرک ته به د مسلمانانو پوځ نه راځي، د هغوی صلاح الدین ایوبي مړ شوی دی، ځنې وختونه به یې چټیات او بې معنی خبرې هم کولې، چې دا به یې ثابتوله چې ګواکې لیونی دی، ماښومان به ورپسې روان وو، مسلمانانو به ورته په قهرجن نظر کتل، او خپل بچي به یې په هغه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسی له تللو منع کول، یوازې یو مسلمان و چې د دغه لیوني پسې به روان و، هغه به د لیوني نه لس دولس قدمه لرې وه دا یو ځلمی مسلمان وه په لاره کې دوه عیسوی ځوانانو هغه ته پېغور ورکړ، یوه یې ورته وویل: عثمانه! ته هم د صلیب سیوري ته راشه، عثمان هغوی ته په قهر وکتل او غلی و، هغو عیسویانو ته پته نه وه چې له عثمان سره یو خنجر دی او هغه د دغه لیوني د وژلو له پاره په هغه پسی روان دی.

د هغه مکمل نوم عثمان صارم و، مور او پلار یې ژوندي وو او یوه یې وره خور یې هم وه، چې نوم یې النور صارم و، د دغې نجلۍ عمر به شل دوه ویشت کاله و، عثمان ترې درې څلور کاله مشر و، احساساتي زلمی و، د اسلام په نامه یې ځان قربانوه، د صلیبي حکومت په نظر کې اشتبا یې و، ځکه چې هغه مسلمان ځوانان د صلیبي حکومت پر خلاف د خفیه عملیاتو له پاره تیارول، هغه لا تر دې دمه په کومه ګناه کې نیول شوی نه و، هغه چې کله د دغه لیوني غږ واورېده بهر راو ووت، لیوني یو غټ صلیب پورته نیولی او د مسلمانانو پر خلاف یې چې څه په خوله ورځي هغه وایي، عثمان صارم دې ته هم ونه کتل چې دا خو کوم لېونی دی، هغه صلیب وه لیده او د لېوني خبرې یې واورېدې، نو له غوسی نه ورته پخپله لیونی شو، خپل کورته ولاړ خنجر یې را واخیست او په کمیس کې دننه یې د نامه لاندې ځوړند کړ او د لیوني پسی روان شو، عثمان هغه په داسې ځای کې وژل غوښتل چې څوک یې ونه نیولای شي، هغه د صلیبیانو پر خلاف د نورو چارو سرته رسولو له پاره ژوندي پاتی کېدل غوښتل، هغه په لېونی پسی لس دولس ګامه وروسته روان و او د هغه اعلانونه یې اورېدل، کله چې دوه عیسوي ځوانانو پېغور وکړ او یو یې ورته وویل عثمانه! ته هم د صلیب تر سیوري لاندې راشه، نو د هغه سترګی لاپسی خوني شوې او په زړه کې یې د لېوني د وژنې اراده نوره هم پخه شوه.

د لیوني پر شاو خوا د ماشومانو یوه ډله روانه وه، دا وخت د وژنې لپاره مناسب نه و، ورځ تېرېده، او د لیوني آواز ټیټېده او په هغه پسی د تلونکیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو شمېر کمېده، د لمر پرېوتو ته لا لږ وخت پاتې و، یو جومات راغی،
لېونی د جومات په دروازه کې کښېناست او صلیب یې پورته کړ وې ویل
اوس دا کلیسا ده، جومات نه دی هغه مهال عثمان له هغه سره نږدې وه
درېده هغه پوره باور لاره چې دا په ربښتیا لېونی دی، خو د ده د وژنې سزا
به هم مرګ وي، ځکه چې ده صلیب پورته کړی دی، او د مسلمانانو پر
خلاف نارې وهي، عثمان صارم لېوني ته ورنږدې شو او په کراره یې ورته
وویل له دې ځایه ژر پورته شه او له خپل صلیب سره ورک شه او که نه نو
صلیبیان به دې له دې ځایه مړی پورته کوي .

لېوني هغه ته په برندو برندو وکتل، مخې ته یې ډېر ماشومان ولاړ وو،
هغه عثمان صارم ته له ځواب ورکولو پرته کوچنیانو ته په غوسه شو او د
لرې کېدلو یې ورته وویل، ماشومان وه وېرېده او وه تښتېدل، نو لېونی
جومات ته ننه ووت، د عثمان صارم له پاره دا ښه مناسب وخت و، هغه له
څه فکر پرته له څپلیو سره جومات ته وخوت او دروازه یې له دننه بنده کړه،
په ډېره چالاکۍ یې خنجر راوه ویسته، چې څنګه یې په لیوني باندې ګذار
کاوه، هغه ورته مخ راواړوه، د عثمان د خنجر ګذار ته یې صلیب ونیوه وې
ویل ودرېږه ځلمیه! دننه ولاړ شه، زه هم مسلمان یم.

عثمان صارم پرې بل ګذار ونه کړ، لیوني څپلۍ وه ویستی د جومات
دننه کوټې ته ولاړ، هغه صلیب پخپل لاس کې ونیوه په کوټه کې یې له
عثمان صارم نه پوښتنه وکړه وې ویل، زه مسلمان یم، زما خبرې په غور
واوره ماته ووایه چې له کوم وخت نه په ماپسی را روان یې؟ عثمان صارم
ځواب ورکړ زه تولِه ورځ تاپسی ګرځېدم، خو ستا د وژنې وخت په لاس نه
راته، لیوني ورته وویل: ته ما ولې وژنې؟ عثمان صارم ځواب ورکړ، ځکه
چې زه د اسلام او صلاح الدین ایوبي پر خلاف کومه خبره اورېدلای نه شم،
که ته لیوني یې او کنه خو زه تا ژوندی نه پرېږدم لیوني له عثمان صارم نه
څو نورې پوښتنې وکړې، په اخر کې یې ورته وویل ماته ستا په څېر
خوانانو اړتیا ده، ښه وشول چې ته پخپله ماپسی راغلې، ما فکر کاوه چې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته به د خپل مقصد له پاره کوم مسلمان په ډېره ګرانه په لاس راشي، زه د صلاح الدین ایوبي د استخباراتو رالېږل شوی سړی یم، ما دا لوبه صلیبیانو ته د دوکې ورکولو په خاطر پیل کړې ده، ما په همدې جامو کې سفر کړی، زه له تاسره یو څو خبرې کول غواړم، یاد ساته که جومات ته کوم صلیبي راغی، زه بیا هماغه چټیات وایم، چې ټوله ورځ مې ویلي دي، ته یې په غور سره اوره. لکه ته چې زما نه اغېزمن شوي یې، زه چې ډېر ژر ژر درته وایم، د ماښام د لمانځه وخت کیدونکی دی، په مسلمانانو کې هم د صلیبیانو جاسوسان دي، زه د لمونځ کوونکیو تر راتلو پورې خپلې خبرې پای ته رسول غواړم.

عثمان صارم هیڅکله جاسوس لیدلی نه و، هغه ته دا پته نه وه چې دا ډېر څېرک جاسوس دی، چې له هغه نه یې څو پوښتنې وکړې او وې پېژانده، چې دا یو باوري ځوان دی، جاسوس ورته وویل: د خپل ځان په څېر څو تنه ځوانان راټول کړه او یو څو مسلمانې جونې هم تیارې کړه، تاسې باید هر کور ته دا پیغام ورسوی چې صلاح الدین ایوبي ژوندی دی او هغه له دې ځایه یوازې د نیمې ورځې مزل په واټن لرې دی، د هغه ټول پوځ نه یوازې دا چې په کرک باندې د حملې له پاره تیار دی، لا چې د هغه پوځ صلیبي لښکرې پوزې ته راوستي دي، په مصر کې حالات آرام دي، هتله چې صلیبیانو کومه ورانکاري پیل کړې وه، هغه بیخي له منځه وړل شوې ده.

عثمان صارم پوښتنه وکړه صلاح الدین ایوبي به کله حمله کوي، مونږ د هغه لارې څارو، زه تاسې ته په باوري توګه وایم، چې تاسې له بهر نه حمله وکړې، نو مونږ به په صلیبیانو له دننه نه حمله کوو، د خدای جل جلاله لپاره ژر راشئ.

د استخباراتو مامور ورته وویل: زلمیه! له زغم نه کار واخله، لومړی د صلاح الدین ایوبي پیغام واوره او د هر یوه ځلمي په ذهن کې نقش کړه. ایوبي ویلي دي چې تاسې د کرک مسلمان ځوانان د اسلام سپاهیان یاست، ما لومړی جنګ په ورو کتوب کې د کلا بندۍ په حال کې کړی و، د پوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library


قوماندہ زما د تره (کاکا) په لاس کې وه، هغه ماته وویل چې په کلا بندۍ کې مه وېرېږه، که ته په دې عمر کې وه وېرېدلې، نو ټول عمر به دې په وېره او ډار کې تېرېږي، که د اسلام د بيرغ پورته كوونكي جوړېدل غواړې نو دا بیرغ همدا اوس پورته کړه، د دښمن ديوالونه مات او ځان ترې اوباسه بيا راوګرځه او پر دښمن ناڅاپي حمله وکړه، زه ونه ډار شوم، په درې مياشتې كلا بندۍ کې مو ولږه هم تېره کړه، خو مونږ محاصره ماته کړه او ترې راووتو، او چې په کومو خوړو مو ځانونه ماړه کړل هغه مو له دښمن نه نيولي وو، د کلا بندۍ پر وخت چې زمونږ کوم آسونه له ولږې مړه شوي وو، د هغه کمی مو د دښمن له آسونو پوره کړ ...

صلاح الدين ايوبي ويلي دي، چې زما د ملت زامنو ته ووايه چې پرتاسې دښمن د مينې په وسله حمله كړې ده، تل ياد ساتئ چې هيڅ يو نامسلمان د مسلمانانو دوست کېدای نه شي، صليبيان د جګړې په ډګر کې مقاومت کولای نه شي، د هغوی پلانونه له خاورو سره بخاورې شوي دي، نو ځکه اوس هغوی د مسلمانانو د نوي نسل له ذهنونو نه د اسلامي امت نه او نه مذهب سره د ورورولۍ او مينې د ویستلو هڅې کوي، هغوی چې کومه وسله کارولې هغه ډېره خطرناکه او ويرونکې ده هغه ذهني عياشي، لتهی او بېکاره ده، د دغو درېوو خرابیو د پيداكولو له پاره عيسويان او يهودان سره يو شوي دي، یهودان د خپلو لوڼو په وسيله په تاسې کې حيواني احساس راپاروي، تاسې له نشو سره عادت کوي، زه دا نه وايم چې دغه حيواني جذبه او نشې به ستاسې اخرت خراب کړي او له مرګ وروسته به تاسې جهنم ته بوځی، زه دا ويل غواړم چې ستاسې دغه بد عملی به ستاسې له پاره د دې نړۍ ژوند هم تر جهنم زيات تريخ کړي، تاسې چې څه ته د جنت خوندونه وايی هغه د دوزخ عذاب دی، تاسې به د صليبيانو غلامان شي، چې ستاسې د خويندو او لوڼو بې پتي به کوي، ستاسی د قرآن پاڼی به کوڅو کې بادونه الوزوي، او ستاسې جوماتونه به د آسو په تبيلو بدل کړی .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلاح الدین ایوبي ویلي دی چې که د یو باو قاره قوم په حیث ژوندي پاتی کېدل غواړی! نو خپل روایات مه هیروی، صلیبیان له یوی خوا په تاسې باندې ظلم او تیری کوي او له بلې خوا د آسونوبګی او د پیسو لالچ درکوي، مسلمانان د دغسی عیاشیو منونکي نه وي، ستاسې دولت ستاسې ایمان او عمل دی، دا د صلیبیانو د ماتی ثبوت دی، چې هغوی ستاسې د تورو له وېرې له داسې بې حیا وسلو نه کار اخلي، چې د خپلو لونو په بې پتی کې ستاسې د غلامی خوبونه وینی، زما د ملت زامنو! خپل عملونه نیک وساتی، خپل نفسونه پخپل ولکه کې کړی، ظالم واکمن په اصل کې کمزوری وي، هغه خپل مخالفین د ظلم او جبر په وسیله د ځان تابع کول غواړي، او ځنی نور د پیسو په اسره غولوي، تاسې له ظلم او جبر هم مه دارېږی او نه له هغوی نه د څه تمه او اسره وه لری، تاسې د اسلامي امت ګانده آینده او راتلونکی یاست، مونږ د اسلامي امت ماضي یو، دښمن ستاسې له اذهانو روښانه ماضی باسی او د خپلو نظریاتو او ګټوله تیارو یې دکول غواړي. تر څو د اسلام اینده تیاره شي، خپل اهمیت وه پېژنی، دښمن یوازې د دې لپاره ستاسې د بل (تابع) کولو هڅې کوي، چې هغوی له تاسې ویرېږي، پخپلو فکرونو کې ننی ورځې نه راتلونکی ورځې راولی، ځکه چې ستاسې د دښمن نظر ستاسې د دین په راتلونکې باندی دی، تاسې به لیدلي وي چې دښمنان له تاسې سره څه کوي ؟ که تاسې د ذهنی عیاشی په مردار ډنډ کې پرېوتی نو سبا ورځ به د ټول اسلامي امت همدا حال وي.

د سلطان صلاح الدین ایوبي د استخباراتو مامور په ډېره چټکی د هغه پیغام عثمان صارم ته واوراوه او هغه ته یې پرې د عمل کولو لارې چارې هم وښودلې. د اسلام ستر سپاهي سلطان صلاح الدین ایوبي په ځانګړې توګه ویلي دي، چې خپل ځانونه له بې ځایه احساساتو وژغوری، ولولې او احساسات مو پر عقلونو باندی غالب نه شي، له پارېدنې ځانونه وساتی او ځانونه کنترول کړی، احتیاط حتمی دی، د استخباراتو مامور عثمان

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



صارم ته وویل، چې هغه خپله او دوه نور ملګري به یې په یو شکل نه یو شکل له هغه سره ګوري، او دغه اړیکې به قایموي، په سملاسي توګه دې خبرې ته اړتیا ده چې مسلمانان په خپلو کورونو کې چړې، بر چې، خنجرونه او تورې جوړې کړي او په کورونو کې یې پټې کیږدي ښځو ته په کور کې د خنجر او برچې د ګذار کولو او له هغې نه د ځان بچولو لارې چارې ورزده کړي، د یهودي نجونو خبرو ته غوږ کې مه ږدي، له هغوی سره داسې خبرې ونه کړي چې هغوی ته ترې شک پیدا کیږي، پخپل سر کومه جنګي چاره سرته ونه رسوي، ړومبی منظم شي، بیا یو مشر وټاکي، مشر باید د خپلو ملګریو هر یو کار وڅاري، او هیڅوک د خپل مشر له خوښې پرته کوم کار ونه کړي.

لمر په پریوتوو، د جومات امام راغی، د هغه په لیدو لېونی سړی صلیب راپورته کړ، او په منډه بهر راوه ووت، بهر یې بیا هماغه اعلانونه پیل کړل، ... مسلمانانو! د صلیب تر سیوري لاندې راشی، ستاسې اسلام مړ شوی دی امام عثمان صارم ته له غوسې په دک نظر وکتل وې ویل. ده دلته څه کول؟ او تا هغه څنګه دلته کېښنولی و، هغ دې ولې ونه واژه؟ آیا ستا په رګونو کې د مسلمان پلار وینه وچه شوې ده؟ که زه بوډا شوی نه وی، نو هغه به مې له دې ځایه ژوندی پرې ایښی نه و.
یهودي هم نه دی، مسلمان دی، د صلاح الدین ایوبي پیغام یې راوړی دی، ... هغه بوډا امام ته د سلطان صلاح الدین ایوبي پیغام واوراوه او وې ویل زه به په دې پیغام عمل کوم، له نن ماښام نه پرې بسم الله کوم خو مونږ ته د یوه امیر اړتیا ده، آیا تاسې به زمونږ مشري وکړی؟ دا سوچ وکړی چې امام خواب ورکړ آیا زه په جومات کې دا ویلای شم چې زه له خپل قوم نه ببل یم خو دا پرېکړه به قوم کوي، چې زه د مشرۍ وړ یم او که نه! زه د خدای جل جلاله په کور کې ولاړ وعده کوم چې زما پوهه زما ما زما اولاد

(c) ketabton.com: The Digital Library


او زما روح به د اسلام د تحفظ او پراختيا او د صليب د ځوړتيا له پاره وقف وي...

زما ګرانه بچيه! د صلاح الدين ايوبي د پيغام يوه يوه کلمه په ذهن کې کښېنوه، هغه تيک ويلي دي ځوانان د دين او هيواد اينده وي، هغوي خپل دين او هيواد روښانه او خپلواک کولای شي او د خپلو پد عمليو په نتيجه کې د غلامۍ ځنځيرونه په خپلو غاړو کې اچولي هم شي، کله چې کوم مسلمان ځلمی د يهودي او عيسوي نجونو په بې حيايۍ زړه بايلي او هغو ته په بد نظر ګوري، نو هغه دا احساس نه کوي چې د هغه خپله خور هم د هغې په څېر د ځوانانو د هوسونو ښکار کېږي. دا هماغه مقام دی چې قومونه تباه کوي...

زما زلميه بچيه! د الله جل جلاله په دې پاک کور کې وعده کوم چې د صلاح الدين ايوبي په پيغام باندې به انشاء الله عمل کوم.

* * *

عثمان صارم کورته ولاړ، خپله خور النور صارم يې ځانله کښېنوله او د سلطان صلاح الدين ايوبيپيغام يې ورته وا وراوه وې ويل: النورا زمونږ دين او ملي غيرت له تانه ډېره ستره قرباني غواړي، سره له نن خپل ځان يوه مستوره نجلۍ ګڼل پرېږده، مسلمانو نجونو ته دا پيغام ورسوه او هغوی د جهاد له پاره تياري کړه، زه به تاسې ته د خنجر وهلو، غشي ويشتلو او برچې استعمالولو طريقې دروښيم.

وروره! زه خو لا د مخه په دې فکر کې وم چې مونږ د خپلې آزادی او خپل قوم له پاره څه کولای شو، مونږ خو د نارينه و خولې ته ګورو.

عثمان صارم هغې ته وويل چې د صلاح الدين ايوبي او د هغه د پوځ په باب چې څومره خبرونه دلته خپرېږي، هغه ټول دروغ دي، د مسلمانانو کورنيو ته ولاړه شه او ښځينه و ته صحيح خبرونه ورسوه، عثمان صارم هغې ته صحيح خبرونه وويل او دا يې هم ورته وويل چې په مسلمانانو کې غداران او جاسوسان هم شته، هغه خپلې خور ته درې څلور کورنۍ وښودلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ورته وې ویل چې د هغوی مېرمنې د ځان ملګرې کړه او ورته ووایه چې مېرونه یې غداران دي هغې ته یې دا هم وویل چې د عیسوي او یهودي نجونو له دوستۍ نه ځان وژغوره، د هغوی مینه یوازې دوکه ده.

النور پوښته وکړه: آیا زه دوی له دلته راتللو منع کړم ؟ هغه خوله تاسره هم آزادانه خبرې اترې کوي ؟

عثمان صارم ورته وویل: زه به هغې ته نن ووایم چې زمونږ کورته دې نور نه راځي، هغه ډېره ذهینه او هوښیاره نجلۍ ده.

ديني الګزیندر یوه ځوانه عیسوي نجلۍ وه، کور یې له عثمان صارم نه لرې لرې وه د هغې پلار په ښار والۍ کې یو لوړ رتبه مامور و، د النور ملګرې او له عثمان صارم سره یې هم ژورې اړیکې پیدا کړې وې، چې عثمان به یې ولیده ډېره به خوښېده، عثمان صارم هغې ته نه ورنږدې کېده، هغه دا ګڼله، چې دا عیسوي جنۍ ده او دلته د جاسوسۍ له پاره راځي، هغه هیڅکله دیني ته په ناوړه نظر کتلي نه وو، لا چې له هغې سره به یې ټوکې ټکالې هم کولې، چې هغه شکمنه نه شي، خو چې اوس د دې اړتیا پېښه شوه چې ديني الګزیندر د هغوی کورته ورنه شي، نو اوس د هغوی له پاره دا خبر مشکله شوه، چې څنګه دیي ته ووایي چې نوره دې د هغوی کورته نه ورځي؟ خو د هغې منع کول ضروري وو ځکه چې عثمان په خپل کور کې خور او ملګرو ته یې ته جنګي روزنه ورکول غوښتل، او هغه ته دا هم معلومه نه وه چې تر دې وروسته به د هغوی کور ته څه ډول رازونه راځي د هغه له ډېر فکر وروسته دا اره چاره خوښه شوه، چې خپلې خور ته یې وویل چې دیني الګزیندر کله زمونږ کورته راشي، ته بهر ووځه او ورته وایه چې له کومې ملګرې کره ځم، په دې ډول خپله ملګرتیا له هغې سره سسته کړه، هغه به خپله زمونږ کورته راتلل پرېږدي.

د کرک د ښار خلکو د هغه لیوني خبرې کولې چې د مسلمانانو د تباهۍ وړاند ګوینه یې کوله، په نامسلمانو خلکو د هغه خبرې ډېرې ښې لګېدې، ټولو په لټاوه او ورپسې ګرځېدل به ، خو هغه هیچېرې نه لیدل کېده، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت له خوا یې هم لټون کېده، ځکه چې د مسلمانانو د وېرولو او د هغوی د ولولو سړولو له پاره له هغه لیوني نه د کار اخیستلو پرېکړه شوې وه، چاته معلومه نه وه چې هغه چېرې تللی دی، هغه په هماغه شپه کوم لوري ته بې درکه شوی و، لس دولس ورځې غه وه لټول شو، صلیبي حاکمانو له ښاره بهر هم ورپسې آسونه وه ځغلول، هغوی هیله لرله چې له دې ښاره به کوم پل ښارته تللی وي، لس دولس ورځې تېرې شوې خو هیچا یې درک ونه لګاوه.

په دغو لس دول ورځو کې عثمان صارم خپلې خور النور او د هغې ملګرو د وسلو کارول ورزده کړل، هغه نجونو ته د برچې کارول ډېر په ګرانه ورزده کړل، سر بېره پردې هغه مسلمانو ځوانانو ته د سلطان صلاح الدین ایوبي پیغام ورساوه او هغوي یې په یوه پټه جبهه کې تنظیم کړل، دغو ځوانانو هغه مسلمان کاریګر پیدا کړل چې برچې، غشي او لیندې به یې جوړولې، دا ټول د صلیبیانو مزدوران وو، هغوی د ځانونو له پاره کومه وسله جوړولای نه شوه، مسلمانانو ته د کومې وسلې د ساتنې اجازه هم نه وه هغو کارګرانو په پټه په خپلو کورنو کې وسلې جوړول پیل کړل، دا ډېر خطر ناک کار و، د نیول کېدو په صورت کې یې سزا یوازې مرګ نه بلکې تر د مرګ د مخه ډېرې وحشیانه سزاګانې هم وې، هلته به چې کوم مسلمان په یو معمولي ګناه وه نیول شو، له هغه به پوښتنې کېدلې، چې د مسلمانانو په کورونو کې څه کیږي، او جاسوسان څوک دي- د دې سره به یې د هغه بدن د مالوچو په څېر داندس کاوه، کارګرانو به چې کومې وسلې جوړولې، هغه به د عثمان صارم په څېر مسلمانو ځوانانو د مسلمانانو په کورونو کې پټې ایښودلې، د ورځې به مسلمانو نجونو د برقعو په څادرونو خنجرونه، غشي او لیندې پټې پټې یو ځای نه بل ځای ته وړلې، خو د وسلې جوړولو پروګرام ډېر سست وه .

هلته سلطان صلاح الدین ایوبیته د استخباراتو یو مامور خبر ورکړ چې په کرک او شاو خوا سیمو کې مسلمانانو ته د هغه پیغام رسیدلی دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هلته ځوانانو او پیغلو پټ مرکزونه جوړ کړي دي، دغه خبر راوړونکی یو ځیرک او زړور مخبرو، مخبر وویل هغه سړی چې د سلطان صلاح الدین ایوبیپیغام یې د کرک مسلمانانو ته ورساو، د یوه لېوني په شکل کې یې دغه بریالیتوب تر لاسه کړ، سلطان صلاح الدین ایوبیپه دې خبر ډېر خوښ و، هغه وویل: د کوم قوم ځوانان چې راویښ شي، هغوی ته هیڅوک ماتې ورکولای نه شي.

د استخباراتو د اداري مرستیال زاهدان وویل: دغه بریالیتوب زما حوصله رالوړه کړه که تاسې اجازه راکړې، نو زه به د نیول شویو سیمو ځوانانو دومره راوه پاروم، چې هغوی به د اور لمبې شي او یو روشلم به وسوځي.

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل: او په دې اور کې به هغوی پخپله هم وسوځي، زه ځوانان لمبه کول نه غواړم، زه د هغوی په سینو کې د ایمان سپرغی بلول غواړم، د ځوانانو پارول کوم ګران کار نه دی، له هغوی نه به ځینې د پیسو په اسره ستاسې په لاسو کې لوېږي، او زیاتره یې د احساساتي وینا و او جذباتي شعارونو په وسیله راپارېدلای شي، بیا چې ته پر هغوی څه کول غواړې وه یې کړه، هغوی پخپل منځ کې جنګولای هم شي، د دې لامل دا نه دی چې هغوی ناپوه او بې تجربې دي، او یا ګوندې هغوی خپل دماغ نه لري، اصلي خبره دا ده چې دا عمر همداسې دی چې د وینې ګرمي انسان یو څه کولو ته اړباسي، په دې عمر کې ذهن عیاشۍ ته هم تمایل پیدا کوي، او د نیکو اعمالو په لور هم، تاسې چې د ځوانانو ذهنونو ته هر ډول خوځښت او پارون ورکړی، د هماغې اغېز قبلوي، ستاسې د ملت دښمنان زمونږ د ځوانانو په اذهانو کې د عیاشۍ او جنسي خواهشاتو جرایم داخلول غواړي، د هغوی هدف همدا دی چې مونږ هغوی د جهاد لورې ته مایل نه کړو او د دښمن پر خلاف یې استعمال نه کړای شو.

ته هڅه کوه چې ځوانان را وپاروې، بلکې هغوی ته د خپلې اینده په باب فکر او سوچ ورزده کړه، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې حدیث ځان پوه کړه چې خپل ځان وه پېژنه او خپل دښمن وه پېژنه ،د هغوی فکرونه بدل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه، په هغوی کې ملي احساس څواکمن کړه، دا ځوانان د ملت ډېره ارزښتناکه شتمني ده، هغوی له پارېدلو او سوځېدلو وژغوره، د هغوی وژنه د پوهانو کار نه دی، پوهه او عقل دا دی چې دښمنان د هغوی له لاسه ووژني، خو هغوی ته خپل دښمن ورو پېژنه، که کوم مسلمان په ما پسې بدی ردې ووايي، نو هغه نه د اسلام دښمن دی او نه خاین، هغه زما دښمن دی، زه به هغه ته د هغه قانون په ملاتړ سزا نه ورکوم، چې د اسلام او اسلامي سلطنت د تحفظ له پاره جوړ شوی دی، د ملت قانون د ملت د امیر د ځانګړي استعمال له پاره نه وي، د خیانت سزا هغه چاته ورکول کېدای شي، چې د هیواد او ملت جرړې پرېکوي او د دین د دښمنانو متی قوي کوي، که څه هم واکمن پخپله دغه ګناه وکړي، هغه خاین دي، او د سزا حقدار.

زاهدان پوښتنه وکړه: په داسې حال کې چې د هغه ځای ځوانان د قربانۍ له پاره تیار شوي دی، مونږ ترې څه ډول کار واخلو سلطان صلاح الدین ایوبي وویل: د هغوی ولولې مه راپاروی، د هغوی فکرونه راویښ کړی، چې د هغه ځای له حالاتو سره هغوی سمه پرېکړه وکړي، چې هغوی باید څه وکړي، هغوی د احساساتو د اغېز لاندې پرېکړې ونه کړي، هلته نور هم ذهین مخبران واستوی، او زاهدانه دا یاد ساته! چې دښمن زمونږ نه، زمونږ د ځوانانو د ذهنونو خرابولو کوښښ کوي، او زمونږ د هغو حاکمانو بې لارې کول غواړو چې ذهنونه یې د ماشومانو په څېر دي.

هر یو قوم ته چې له جنګ پرته ماته ورکول غواړې نو د هغوی ځوانان په ذهني عیاشي اخته کړی، هغه به تر دې حده ستاسې غلام شی چې خپلې لونې به ستاسې خدمت ته وړاندی کړي او پرې به یې یاري، صلیبیان او یهودان د غسې سطحی ته زمونږ د ملت راټیټول غواړي لکه سلطان صلاح الدین ایوبي چې ناڅاپه څه وریاد شوي وي، هغه زاهدان ته وویل ما چاته ویلي وو چې په کرک کې هغو مسلمانانو ته چې وسلې جوړوي اور بلوونکی ماده ورولېږی او یا هغوی ته ووایی چې دغه ماده څه ډول جوړېږي. زاهدان

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواب ورکړدا خو هغوی ته ویل شوي دي، خبر را رسیدلی دی چې مسلمانانو د دغې مادې جوړول پیل کړي دي.

* * *

په کرک کې په سملاسي توګه داسې حالات پیدا شول، چې د هغه ځای ځوانانو پخپله فکر کول او عمل کول پیل کړلو د عیسویانو تر لاس لاندې سیمو کې صلیبي پوځونو د کاروانونو لوټل پیل کړي وو کاروانونه دومره عام نه وو، سوداګر او نور سفر کوونکي به یو ځای اوسېدل، د هغوی شمېر به چې دوه دوه نیم سوو ته ورسېده، نو د کاروان په صورت کې به یې لېږد کاوه، دا یو دفاعي ګام و، له کاروان سره به وسله وال کسان هم وو، اوښان او آسونه به زیات وو د سوداګرو بې شمېر مال دولت به وو، په کاروانونو کې به ځینې کورنۍ هم وې، دې وګړیو به کوچ کاوه، د صلیبیانو ظلمونو نه به په تنګ راغلیو زیاتره مسلمانانو به هجرت کاوه او د مسلمانانو د واکمنۍ سیمو ته به تلل، دومره لوی کاروان به څو تنو غلو لوټلی نه شوو د کاروان وګړیو به یې مقابله کوله، صلیبیانو دا کار خپل پوځ ته سپارلې و، هغوی ته به که د کاروان خبر راغی نو د خپل پوځ یو دوه ټولي به یې د سیمې د غلو په لباس کې وه لېږه او هغه کاروان به یې لوټ کړ. په کاروانونو کې به یواځې مسلمانان وو، دا جرم هغو صلیبي پادشاهانو هم کړی او د لوټ شویو مالونو یې برخه اخیستې وه، چې اوس په تاریخ کې د صلیبي جنګونو د قهرمانانو په توګه معرفي کوی.

په دې ګناه کې مسلمانان واکمن هم شامل وو، هغوی د کوچنیو کوچنیو ریاستونو واکمن وو، که هغوی سره پوځ هم و، د لوټ شویو کاروانونو درې څلور کسه به د دغو واکمنو دربارونو ته فریادي ورغلل، نو چا به یې خبره نه اوریده، ځکه چې دغو واکمنو ته هم به صلیبي نجونو، شرابو او د سر زرو د یو څو پیسو ټکو برخه ورکول کېده، که دغو واکمنو غوښتی وای نو د صلیبي غلو مخه یې نیولای شوه، خو هغوی دغو صلیبي ډاکوانو ته داسې آزادي ورکړې وه، چې د هغوی د ریاستونو په دننه کې یې هم غلاوې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


کولې، صلیبیانو هغوی دومره رانده کړي وو، چې د هغوی د ریاستو سرحدي سیمې چې هم ترې په کرار کرار نیولې، هغوی ځینی واړه ریاستونه د همدغو ډاکوانو په وسیله پرله پسې وځورول او بالاخره یې ترې جزیه اخیستل پیل کړل، په دې ډول د اسلامي سلطنت لمن راټولیده، نور الدین زنګی او صلاح الدین ایوبي دغه ریاستونه هم نیول غوښتل، دغه ریاستونه هغوی تر صلیبیانو زیات خطرناک ګڼل یو ځلې نور الدین زنګې صلاح الدین ایوبي ته یو پیغام لیکلی و، چې له څو نورو خبرو پرته یې ورته د دغو کوچنیو ریاستونو په باب هم لیکلي وو، د دغو کوچنیو ریاستونو واکمنو خپله خاوره له صلیبیانو سره ګرو کړې ده، هغوی له کفارو نه زر، مرغلرې او له مسلمانانو تښتول شوې نجونې د ډالیو په توګه تر لاسه کوي، او د اسلام نوم ورسره ډوبوي .

دغه مسلمانان تر کفارو زیات خطر ناک او پلید دي، هغوی د پادشاهیو په نشو کې مست دي، او صلیبیان یې د حکومتونو په جرړه کې داخل شوي دي، صلیبیانو ته له ماتی ورکولو د مخه ضروري ده، چې دغه مسلمان ریاستونه ونیول شي او له اسلامي سلطنت سره یو ځای کړای شي، د بغداد تر خلافت لاندې راوستل شي، تر دې سرته د اسلام د ساتنې بله چاره نشته .

د دې خطرو سره سره به کله کله کومه ډېره ستر قافله په بیدیا کې د تېرېدو په حال کې لیدل کېده، له کرک نه څو میله لرې یو کاروان روان و، په هغې کې تر سلو زیات اوښان وو، زیات شمېر آسونه وو، په کاروان کې د سودا ګرو مالونه وو، او یو څو ګورنۍ هم پکې وې، یوه کرونۍ داسې هم وه چې په هغې د دوه نجونې وې، دواړه خویندې، قافله له معمول سره سمه د مسلمانانو وه، د کرک له سیمې چې تېرېده صلیبیان پرېدی خبر شول، یو تولی پوځ یې ورپسې ولېږه او په رڼا ورځ یې پر کاروان حمله وکړه، د قافلې آس سپورو کلکه مقابله وکړه، خو څرنګه چې د صلیبیانو شمېر زیات و، د هغه ځای شګې په وینو سرې شوې، صلیبیانو تر کوچنیانو پورې ووژل، پنځلس شپاړس مسلمان ځوانان پاتې شول، هغوي یې بندیان کړل، داواړه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


نجونې یې هم ونیوې، اوښان او آسونه یې له سامانونو سره بوتلل، دغه کاروان چې کله کرک ته ورسېده تر ټولو د مخه یې بندیان روانکړي وو، په هغوی پسې پر دوه آسونو باندې دوه نجونې وې، چې له جامو یې څرګندېدله چې مسلمانانې دي، ورپسې صلیبي عسکر روان ووو چې مخونه ې په نقابونو پوښلي وو او ورپسې به مالونو او سامانونو بار د اوښانو او آسونو کتارو نه روان وو، نجونو ژړل د کرک اوسیدونکي یې د سیل له پاره راووتل، هغوی ورته چک چکې او خنداګانې کولې، ځکه چې هغوی پوهېدل چې دا لوټ شوی کاروان د مسلمانانو دی، او بندیان هم مسلمانان دی، په دغو بندیانو کې یو ځلمی د آفاق په نامه و، دواړه نیول شوې نجونه د همغه خویندې وې، آفاق زخمي هم وه د هغه له تندي او اوږې وینې بهېدلې، هغه د لوټ شوې قافلې په مخ کې کرک ښار ته ننه ووت، نو کله یې چې سیل کوونکی ولیدل، په لوړ غږ یې وویل، د کرک مسلمانانو! زمونږ سیل کولو ته راغلې یاست؟ دې نجونو ته وګورې، دا زما نه ستاسې خویندې دي دواړه مسلمانانې دی.

یوه صلیبي د شاله لوري په لته وواهه پر مخې پرېووتو لاسونه یې په رسیو د شا لوري ته تړل شوي وو یو بندي هغه راپورته کړو خو افاق بیا چیغې کړې، . . د کرک مسلمانانو! دا ستاسې لوڼې دي دوه درې پټ مخیو یې په وهلو پیل وکړ، او خویندو یې په چغو چغو ژړل او فریادونه یې کول، د الله جل جلاله له پاره زمونږ ورور مه وهی، زمونږ سره چې هر څه کوی وې کړی، خو هغه مه وهی یوې خور یې چیغې کړې، آفاقه غلی شه! ته د هغوی هیڅ کولای نه شې، خو آفاق نه غلی کیده، په سیل کوونکیو کې مسلمانان هم وو چې خپلې وینې ې ځښلې، خو څه یې له وسی نه کېدل، د هغوی غیرت د همغوی له مخې تېرېده او هغوی ورته کتل، په غوی کې له نورو ځوانانو مسلمانانو سره عثمان صارم هم و، هغه خپلو ځوانو ملګریو ته وکتل، د ټولو سترګې سرې وی او زړونه یې په زوره درزېدل.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عثمان صارم د لږ وخت له پاره له دغه لوټ شوي کاروان سره روان و، په لاره کې یو غریب غونډۍ مو چې ناست و، چې د خلکو ځپلی به یې جوړولی، هغه ته کوم مسلمان د خپل کور په ډیوډه کې د شپې تېرولو ځای ورکړی و، تو له ورځ به بیرون ناست و ځپلی به یې جوړولې او ګنډلې، دهغه له قسمته کاروان د هغه له مخی هم تېر شوو هغه هم د آفاق ناري او جونو فریادونه او ژړاګانی واورېدې، آفاق یې په وینو سور ولیده، پر هغه یې د صلیبیانو تیری هم ولیده، خو داسې یې ولیده لکه هغه چې هیڅ هم لیدلي نه وي، دغه مو چې نه چا جومات او نه کلیسا ته په تللو لیدلی وو هغه کله د یهودانو عبادت ځای ته هم ورغلی نه و، د هغه لوري ته هماغه چا پاملرنه کوله چې ځپلی به یې ګنډلې، چا کله په خبرو هم لیدلی نه و، هغه له خلکو نه شړل شوی انسان ښکارېده، چې له صلیبیانو سره یې هم اړیکې نه وې او له مسلمانانو سره یې هم ...

عثمان صارم په تلو تلو کې له دغه مو چې نه ذ تیرېدو په حال کې و، ناڅاپه وه درېده بندیان مخکې بیول شوي و، اوښان لا ورپسی روان وو، کله چې وروستی اوښ تېر شو، عثمان صارم دواړه ځپلی و ویستلې، د مو چې مخی ته یې کېښودي، او د هغه مخې ته کښېناست، موچې د چا ځپلی جوړولې، هغه عثمان صارم ته سر راپورته هم نه کړ، او نه یې ورته وکتلو عثمان اخوا دیخوا وکتل، غلي شان یې ورته وویل : دغه دواړه جونی باید نن شپه آزادی کړو.

موچي له سر راپورته کولو پره په دومره ټیټ غږ ورته وویل چې بی له عثمان صارم نه بل چا نه اورېدله، پوهېږې چې نن شپه به دا نجونې چېرته وي عثمان صارم ځواب ورکړ، پوهېږم خو له مونږ نه چا هغه ځای دننه لیدلی نه دی ...

موچي چې په خپل کار لګیا و وویل : ما لیدلی دی خو له هغې ځایه د نجونو راویستل ممکن نه دي، عثمان صارم ورته په غوسه ناک ډول وویل :

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته د کوم مرض دوايې ؟ زمونږ لارښوونه وکړه، که مونږ نجونو ته ورسيدو او بيا وه نيول شوو نو هم د دغو نجونو مرۍ خو به پرې کړو.

موچي ورته وويل : د څومره ځوانانو قرباني ورکولای شی .

عثمان وويل : څومره ځوانان چې غواړی ؟

موچي ورته وويل : همدا نن شپه امام ته ځانونه ورسوی

موچې ورته وويل : سبا شپې ته .

عثمان وويل: څومره ځوانان له ځان سره بوځم .

موچې له لږ ځنډ وروسته وويل : اته ! چې خنجرونه او اور بلوونکی ماده هم ورسره وی .

عثمان صارم خپلې څپلۍ په پښو کړې او روان شو.

* * *

لمر لا پرېوتی نه و، عثمان صارم په لاره کې خپل اوه تنه همزولي له کورونو راوويستل او د امام کورته د ځانونو رسولو يې ورته وويل، پخپله هم د امام کورته ولاړ دا د هغه جومات امام و، چې د عثمان صارم پکې له هغه ليوني سره خبری شوې وې، عثمان صارم همدغه امام پر خپلو ملګريو د مشر په حيث منلي او هغوی قبول کړی و، دغه ځوانان به د يو بل په کورنو کې سره راټوليدل او د اينده په باب به يې پلان تياراوه، اوس د دوه تښتول شويو نجونو مسئله مخی ته راغله، نو عثمان صارم د هغوی د خلاصون اراده وکړه چې په اصل کې د ځان وژنې اراده وه، هغه د موچي له وينا سره سم د امام کورته ولاړ، امام په نا آرامۍ سره په خپله برنډه کې قدم واهه چې عثمان يې وليده، ودرېده او پوښتنه يې وکړه عثمانه! تا د هغه د بندي چېغی اورېدلي؟ داسې ښکارېده چې هغه نجونې يې خويندې وي.

عثمان صارم وويل : ای محترم امامه! زه د هغه بندي نارو ته د لبيک ويلو له پاره راغلی يم، برجيس را روان دی او زما ملګري هم راځي.

امام پوښتنه وکړه ته به څه وکړی؟ .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عثمان صارم وویل : زه پوهېږم چې زمونږ بې شمېره نجونې د کافرانو په ولکه کې بندیانې دي، خو دغو دوه نجونو زه په ازمېښت کې اچولی یم .

له یوه سوړ اسویلي وروسته یې وویل: یا الله ما صرف د یوې شپې لپاره ځلمی کړې او یا همدا نن شپه مرګ راپه برخه کړی .

امام وویل : یا الله ما ته ددی توفیق راکړی چې دغه مظلومانی ازادی کړم که نو ټول عمر به مې د دغودوه مسلمانو نجونو زاری او فریادونه په غوږو کې انګازې کوی ... او زه به لیونی شم .

عثمان صارم وویل : مونږ ته د خپلی پوهی روښنایي راوښایه ، زه هیله مند یم چې مونږ به تاسې د یوی شپې څخه زیات غمجن نکړو .

د عثمان صارم دوه ملګری دننه راغلل، امام هغوی ته د کیناستو اشاره وکړه وویل بیا یې دوی دواړو ته وویل: نن شپه داسې معلومېږي چې زما پوه ختمه شوی، زه باید داسی بی واکه نشم، خو څوک چې زمونږ غیرت او احساسات راوپاروي نو بیا بی واکه شو چې د دی د سړولو لپاره څوانی پکار ده .

خو زما زامنو! زه ډېر بوډا شوی یم، زه نوره حوصله نلرم، خو تاسې چې هر څه کوی په احتیاط یې وکړی .

یو یو ځوان راتللو چې ټول اووه کسان شولپه اخر کې موچی هم راغی ، هغه د خپل سامان بوجۍ راپښا کړی وه چې زړی څپلۍ او سامان پکې وه ، هغه بوجۍ وغورځوله او ملا یې نیغه کړه بیا یې وخندل، کله چې هغه ملا نیغه کړه او ودریده نو هیچا هم دا فکر نه کاوه چې دا هماغه موچی دی کوم چې په لاره کې ناست او څپلۍ جوړوی، هغه چې کله د امام په کور کې ناست وه موچی نه بلکې برجیس وه، د علی بن سفیان د جاسوسی اداری تکړه او غښتلی مجاهد .

برجیس امام ته وویل : دا ځوانان همدا نن شپه د هغو نجونو د خلاصون لپاره کلک دي، پدی کار کې د ناکامی او نیولو څخه برسیره د یقینی مرګ امکان هم شته .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ځوان وويل: ښاغلی برجيس! مونږ دا خطر په ځان منلی دی تاسې د دي فن استاذ ياستی مونږ ته لارښوونه وکړی .

برجيس وويل : که د عقل خبره مني نو زه يوه سلا او مشوره درکوم! د صليبيانو سره ډېری زياتی مسلمانی پيغلی دي، په هغې کې ځينې صليبيانو په ماشومتوب کې د کاروانونو څخه راتښتولی، هغوی ته يې خپله روزنه او ښوونه ورکړی، د هغوی څخه د جاسوسۍ او بد اخلاقی لپاره کار اخلی، تاسې دا ټولی نجونی خو نشي راخلاصولی، که تاسې ټول زماد فن څخه ګټه پورته کول غواړی نو زه تاسې ته وايم چې د دی دوه نجونو لپاره اته کسان قربانی کول د عقل خبره نده، حوصله او صبر کول پکار دی .

عثمان صارم په احساساتو وويل: زه څرنګه حوصله او صبر وکړم !

برجيس وويل : زماپشان ! ايا زه کسبی موچی يم؟ زه چې کله په مصر کې ووم نو عربی اس راته تيار ولاړ وي او په کور کې دوه نوکران لرم، خو دلته د دری مياشتو څخه په لاره کې د خلکو مرداری څېلي او بوټان جوړوم، زه تاسې د دی دوه نجونو او پوره کرک د ازادی لپاره ژوندی ساتل غواړم حوصله او صبر وکړی .

عثمان صارم او د هغه اوه ملګری د حوصلی او صبر له دايری څخه وتلی وه، د هغوی د خبرو څخه څرګندېدله چې هغوی د حوصلی او صبر همت هم نلري. هغوی د چا د لارښوونی څخه پرته په هغه ځای د بريد او حملی لپاره چمتو وه چې په کوم ځای کې نجونی ساتل کيدی، هغوی د امام خبری اوريدلو ته هم تيار نه وه، بلاخره برجيس ورته وويل چې د هغه دوه ملګری په هغه ځای کې نوکران دي چيری چې صليبيان د شپی يو ځای کيږي او شراب خوري. دا دوه جاسوسان د شوبک د فتح څخه وروسته د تښتيدونکو عيسايانو سره راغلی وه ، هغوی ته نوکری هم پيدا شوی وه او بريالی جاسوسی يې کوله .

تاسې هغه ودانۍ ليدلی ده چې په کومه کې صليبی قوماندانان چې د اتياليا، فرانسی، برتانيا او جرمنی څخه زمونږ د مقابلی لپاره راغلی دی اوسيږي .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدی ودانی کې یوه لوی کوټه ده چې هغوی د ماښام څخه وروسته پکې یو ځای کیږي، شراب خوري او نڅا کوي، د هغوی د خوشحالی لپاره نجونی موجودی وی، هغوی تر نیمی شپې پوري غوبل جوړ کړی وی، تاسې لیدلی چې هغه ځای لوړ دی او ټول ښار ورڅخه معلومیږي، هلته پوځیان پیره هم کوي، هغې ودانۍ ته رسیدل امکان نلري، هیڅ عام سړی بلکې خاص ښاری سړی هم هلته نژدی نشی ورتلای، زه دا معلوموللی شم چې هغه دوه نجونی په کوم ځای کې دی خو هلته رسیدل امکان نلري یوازی یوه لاره شته چې زمونږ پوځ د باندی څخه سمدستی برید وکړي چې پدی سره به ټول عسکري او پوځی قوماندانان له هغه ځای څخه وځی او د حملی په مخنیوی کې بوخت کیږي، خو نن شپه حمله نشی کیدای او دا هم نشو ویلای چې صلاح الدین ایوبی څه وخت برید کوی.

امام د برجیس څخه وپوښتل حملی او برید ته اړتیا ده؟ یا دا چې د دی ودانۍ څخه خلک ووځی او نجونی هلته پاتی شی، پدی صورت کې به زمونږ دا ځوانان هلته ورشی او نجونی به راخلاصی کړی.

برجیس د خپلی تجربی په اساس په ډاډ سره وویل: هو! که په ښار کې غټه او لویه ګډوډی راشی، اور ولګیږي، جنګی سامان تباه شی نو هغوی به د ودانۍ څخه ووځی او هغه ځای ته به ورشی.

برجیس په ژور فکر کې ډوب شو، هغه عثمان صارم او د هغه ملګرو ته په غوره سره وکتل او بیا یې وویل: هو! زما مجاهدینو ورونو! که په کوم ځای کې اور اچولی شی نو بیا ددی دواړو نجونود خلاصون لاره پیدا کیدای شی.

عثمان صارم په ورخطایی سره وویل: زر راته ووایه ښاغلیه! چیری اور اچول پکار دي، مونږ ټول ښار ته هم اور اچولی شو.

برجیس وویل: تاسې ټولو هغه ځای لیدلی دی په کوم ځای کې چې د صلیبیانو اسونه تړل شویدی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


هلته نژدې شپږ سوه اسونه تړل شوي، نور اسونه جلا جلا ولاړ دي، د دوی سره په خوا کې همدومره اوښان هم ولاړ دي، د دی په څنګ کې د خاروېو لپاره د وچو وښو غرونه ولاړ دي، د هغې څخه لږ وړاندی د پوځ خیمې هم پرتې دی، هلته خرګاډی هم ولاړ دی، هلته داسې سامان ډېر دی چې سمدستی اور اخلی خو د دی ټولو شا او خوا پیره کوونکی پوځیان گزمه کوي، د شپې په مهال هلته هیچاته د ګرځېدو اجازه نشته که تاسې دی سامانونو ته اور اچولی شی نو صلیبیان به د نړۍ ټول شی‌ان هیر کړی او هلته به ځانونه ورسوي، د وښو، خیمو او سامان لمبی به اسمان ته پورته شی، په ټول ښار به ویره او ډار خپور شی، که د اور اچولو په خوا کې تاسې اسونه هم خلاص کړۍ نو هغوی به داسې حال جوړ کړي چې ډېر خلک به تر پښو لاندی کړي، خبره دا ده چې څوک به اور اچوي؟ څوک به اسونه خلاصوی؟ او د اور اچولو لپاره به هلته څرنګه رسیدای شی؟ ".

یو ځوان په ډېر اعتماد وویل داسې وګڼه چې اور واچول شو! او هغه ودانۍ هم خالی شوه نو بیا به مونږ څه کوو؟

برجیس وویل : زه به په هر ګام کې درسره وم! هغې ودانۍ ته تاسې زماڅخه پرته نشی رسیدای، هلته زمادوه ملګری شته دی، هغوی به ماته د نجونو ځای راپه ګوته کوي، دا فکر هم وکړی چې که نجونی راخلاصی شی نو هغوی به چیری ساتل هم غواړی ، د دی پیښی څخه وروسته به د کرک په مسلمانانو قیامت راځي! صلیبیان دا خبره هیڅ نشی منلای چې پرته د مسلمانانو څخه دا کار بل څوک کولای شی .

امام وویل : مسلمانان کله په ډاډ او ارام کې دي؟ زه دا سلا درکوم چې همدا کار باید وکړو، صلیبیانو ته باید څرګنده کړو چې کله مسلمانان هر څومره مجبوره او تر فشار لاندی هم راشی خو غلامی نه منی او د هغوی وار او ګذار څګر ټوټی کوي .

برجیس خو کماندو جاسوس وُ، هغه ډېر رازونه معلوم کړی او سلطان صلاح الدین ته یې استولی وه، خو هغه ته د داسې لویو عملیاتو وخت

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلاس نه و ورغلي، هغه داسې سخت او لوی عملیات کول اړین بلل تر څو صلیبیان پدی پوه شي چې مسلمانان هر څه کولای شي، هغه عثمان صارم او نور ملګري پوهول چې هغوی باید څه څه وکړي، د دی عملیاتو دوه برخی ډیری خطرناکی وی :

لومړی دا چې د اور اچولو لپاره باید دری څلور نجونی ولاړی شي، هغوی باید د پیره کوونکی څخه د کوم لوی او غټ افسر پته وغواړی او پدی پلمه پیره کوونکی ووژنی ، برجیس د دی کار لپاره نجونی ځکه غوره کړی چې هغوی د نارینه څخه په پیره کوونکو باندی زیات اثر کولای شي ځکه په نارینه و باندی شک کیدای شو.

دویمه خطرناکه مرحله دا وه چې د صلیبیانو په مرکزی ودانۍ باندی څومره ځوانان حمله او برید وکړی .

برجیس او امام دا پریکړه وکړه چې په برید کې باید کسان کم وي او همدا اته بس دی ځکه زیات کسان شک پیدا کولای شي بیا د نیولو خطر زیاتیږی .

وروسته دا خبره مخ ته راغله چې داسې زړوری نجونی به چیری پیدا شي، عثمان صارم وویل چې یوه به زما خپله خور النور شي، دویم ځوان وویل چې یوه به زماخور شي، د نورو ځوانانو خورګانی نه وي خو دا هیله څرګنده شوه چې هغوی به خپلی همزولی له ځان سره راولی .

برجیس د ځوانانو لارښونه او مشری پخپله غاړه واخیستله، لمر پریوتی وه، د جومات امام یو لوری ته ولاړ، نور ټول یو یو له کوره ووتل، تر ټولو اخر برجیس ووتلو، هغه بیا موچی شو چې د دنیا د حالاتو څخه هیڅ خبر نه و، هغه کړوپ کړوپ داسې روان وه لکه د ټولی نړۍ غمونه چې پده بار وی .

***

عثمان صارم لا د خپل کور څخه لری و، چې رینی الیکزینډر ورسره مخامخ شوه، هغه د صارم د خور النور کلکه ملګری وه، خور او ورور دواړو غوښتل چې رینی الیکزینډر د هغوی کور ته رانشی خو یو دم د هغې منع کول هم ګران کار وه او شک یې پیدا کولو، رینی الیکزینډر د صارم سره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



توکي هم کولی او ځان یې ورته نژدې کاوه، عثمان صارم فکر کاوه چې رینی الیګزینډر غواړي د هغه اخلاق او عمل خراب کړي او پدې توګه د هغه ایمانی احساس او جذبه ختمه کړي، پدې مابنام رینی الیګزینډر ورسره په لاره کې مخامخ شوه، صارم ورته وخندل او لاره یې ورځخه چپوله چې رینی الیګزینډر یې په لاره کې ودریده او هغه یې ودرولو، عثمان صارم د دې ځخه نه ویریدلو چې ګوندې هغه مسلمان ځوان دی او د یوې صلیبي نجلۍ سره په ودریدو به ونیول شي او سزا به وګوري، هغه پدې هم پوهیده چې صلیبیان او یهودیان پدې خوشحالیږي چې د هغوی یوې انجلۍ شکمن مسلمان په خپل جال کې راګیر کړیدی، عثمان ودریده او ویې ویل : زه ډېر ضروري کار لرم رینی الیګزینډر !

رینی الیګزینډرد مینی ځخه په ډکو سترګو وویل: ته هیڅ کار نلری عثمان! ایا ته پداسې اسانۍ سره زما ځخه ځان خلاصولی شې؟

عثمان صارم رینی الیګزینډر ته وویل : زه ستا ځخه د خلاصون هیڅ فکر او تصور هم نکوم "

رینی الیګزینډر په خندا وویل دروغ مه وایه عثمان! زه ستاسې له کور ځخه راغلم، ستا خور ماته په ډاګه وویل چې نور زمونږ کورته زیاته مه راځه! عثمان خفه کیږي .

ریښتیا عثمان! تا خپله ولی دا خبره ماته ونکړه؟

عثمان صارم چوپ ودریده، د هغه خور له ورخطایی ځخه کار اخیستی وه، هغه ته اوس ځواب ورکول ګران وه، رینی الیګزینډر چې عثمان چوپ ولیده نو وی ویل : ته ماته دا ووایه چې زه ولی ستاسې کور ته نوره درنشم؟

د عثمان صارم فکر او سوچ په بل ځای کې وه، هغه ورخطاء وه او احساسات یې پاریدلی وه، هغه د پلمی لپاره څه پیدا نکړل، د هغه د خولی ځخه هغه خبره راووتله چې د هغه په زړه کې وه، هغه وویل: رینی الیګزینډر ! زه نه پوهیږم چې ولی می تاته ونه ویل چې نوره زمونږ کورته مه راځه! خو اوس واوره! که زه او ته هر څومره مینه او محبت سره وکړو خو مونږ او تاسې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


یو د بل دښمنان یو! ته د خپل محبت خبره کوي خو زه د ملي او قومي محبت قایل یم کوم چې د صلیب او قران تر منځ هیڅ وخت نشي پیدا کېدای، دا زما وطن دی! ستاسې خلک دلته څه بلا غواړي؟ تر څو چې ستاسې د قوم یو سړی هم زمونږ په خاوره کې موجود وي زمونږ او تاسې دوستی امکان نلري زماپه زړه کې چې څه وه هغه مې صفا درته وویل.

رېنی الیگزینډر وویل : زماپه زړه کې چې څه دي هغه هم واوره! زماد زړه څخه ستا محبت نه صلیب لرې کولای شي او نه قران، تر څو چې تا ونه گورم زړه مې نه قرارېږي، تا چې په خندا وگورم نو زماروح هم په خندا شي، عثمان واوره! که ته ما له خپل کور څخه منع کړې نو دا به د دواړو لپاره ښه نشي!

عثمان صارم په حوصله سره وویل: ته ماته اخطار او گوت څنډنه راکولای شي ځکه چې ته د حاکمې ډلې انجلۍ یې - که زما په زړه کې د حکومت نیشه وی نو ته به اوس دلته نه گرځیدی بلکې په بندکې به خوسا شوی وی!

بیا رېنی الیگزینډرووېل : ایا ته پدې نه پوهیږې چې ستا په هکله زه ټول معلومات لرم؟ ایا زه ستا د پټو کارونو څخه پرده پورته کړم، ایا زه ستا د کور څخه هغه ټوله زیرمه او ذخیره د غشو، تورو، خنجرونو او نورو شیان راوباسم چې تا زماد قوم او حکومت په خلاف ساتلي چې تاته د هغې د ساتلو حق او اجازه نشته، النور ته ته توره وهل او خنجر واروَل ور زده کوی، او ستا په پټو ملگرو کې زه څو کسان هم پیژنم، عثمان! ته پدې نه پوهیږې چې ستا او بند تر منځ یوازې زما بدن پرده دی، ته پوهیږې چې زما پلار څوک دی او څه نشي کولای ، هغه پنځه ځلې په کور کې دا ویلې چې د عثمان نیول او بندی کول ضروري دی ، هر ځلې ما خپل پلار ته عذر کړی چې د عثمان خور زما ډېره گرانه ملگرې او د هغه پلار د یوې ښځې څخه بې برخې دی، دوه درې ځلې زه خپل پلار د گلې یم چې ستاسې سره اړیکې وشکوم، ماته دا هم ویلې شوي چې مسلمانان د دې وړ ندي چې د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره اړیکې وساتلی شي خو زه د مور او پلار یوائخنی اولاد یم هغوی زماخفه کول نه غواړي .

لمر پریوتی او ماښام تیاره شوی وه، عثمان صارم پدې خبرو چوپ پاتی شو، د هغه فکر او خیال بل لوری ته وه، هغه د کوم ځواب ورکولو څخه پرته روان شو، هغه څو ګامونه اخستی وه چې رینی الیګزینډر داسې ورسره مخامخ شوه چې د دواړو سینی یو له بل سره ونښتی، رینی الیګزینډر خپل دواړه لاسونه د هغه په اوږو کیښودل چې عثمان ته د هغې د بدن څخه داسې زړه راښکوونکې بوی ورغلو چې هغه مخکې نه و محسوس کړی.

نجلی هغه ته دومره نژدې شوه چې شاګانی یې سره ټکر شوې، د رینی الیګزینډر د وریښمو پشان نرم او پاسته ویښتان چې د عثمان صارم په مخ ولګیدل نو هغه داسې وپرپیده لکه د قفس څخه چې مرغی ځان ازادول غواړي بیا رینی الیګزینډر هغه خوشی کړ.

عثمان صارم په بنده بنده ژبه ووېل ما خوشی کړه رینی الیګزینډر ! ما همداسی دبره پریږده، زما لاره جلا ده، مونږ دواړه یو ځای نشو تللای .

رینی الیګزینډر په راښکوونکې اواز ووېل : محبت قربانی غواړي! ووایه څه قرباني غواړې، زه ژمنه درسره کوم چې څه دی زړه غواړي هغه کوه او څوک تا نشي بندی کولای .

عثمان صارم ووېل : او زه هم درسره ژمنه کوم زه تاسې ته نه وایم چې زماپه زړه کې څه دي او څه کول غواړم، زه ستا د دی ښکلی او حسین جادو په جال کې نه راځم .

رینی الیګزینډر ووېل : زه باید دا ثابته کړم چې زه ستا لپاره قربانی ورکوم ولاړ شه عثمانه! ستا کار دی، خو زه ستاسې د کور څخه نه منع کیږم.

عثمان صارم منډه کړه، رینی الیګزینډر ورته کتل او سوړ اوسیلی یې وویست.

***

عثمان صارم چې کله کورته ننوت نو برجیس هم را رسیدلی وه، عثمان کورته ننوت او خپلی مور، پلار او خور ته یې ټول څه ووېل چې صلیبیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو کاروان لوټ کړی او د هغې څخه یې دوه نجونې په زور راوستی، زمونږ ملګرو فیصله کړې چې هغه راخلاصې کړو او پدې کار کې النور ته اړتیا ده.

د صارم پلار د صلیبیانو سره په جګړه کې خپله پښه له لاسه ورکړې وه نو ځکه یې خپل پاتې ټول عُمر پدې ارمان کې تیراوه چې د جهاد څخه بې برخې پاتې شو، هغه عثمان ته وویل! زویه: که تا د داسې خطرناک کار اراده کړې نو زه دا خبره وانه ورم چې زما زوی د خپلو ملګرو سره خیانت او غداري کړې، پدې کار کې د نیول امکان زیات دی، که ته ونیول شوې او ملګري خلاص شول نو ځان قربان کړه خو د هغوی پته مه ورکوه، ماته د اسلام سپیڅلی دین د سرلوړي لپاره لوی کړی یې، ما ستا د خور د نکاح کولو څخه وروسته غوښتل چې تا پوځ ته واستوم، ولاړ شه او زما روح ډاډه کړه، یو ځل بیا واوره! زه دا اوریدل نه غواړم چې ستا په رګونو کې د صارم څخه د بل چا وینه ده.

پلار خپلې لور النور ته هم اجازه ورکړه، عثمان هغې ته وویل چې برجیس په برنډه کې ولاړ دی، هغه به د دې عملیاتو مشري او رهنمایي کوي، پلار یې صارم هم برنډې ته راغی او برجیس ته ورغی، عثمان خپلې خور النور ته وویل چې سمدستي خپلې دوه داسې همزولې راولې چې پدې کار کې درسره یو ځای شي، النور سمدستي له کور څخه ووتله او لږ ځنډ وروسته یې دوه همزولې له ځان سره راوستې، په همدې وخت کې د عثمان یو ملګری هم د خپلې خور سره را ورسیده، بیا وروسته د عثمان نور ملګري هم را ورسیدل او سره یو ځای شول.

برجیس نجونو ته لارښوونې پیل کړې چې په کومو لارو ولاړې شې، د هغوی په وړاندې به پیره کوونکې راځي او هغه به مو منع کوي، تاسې ورته ووایۍ چې مونږ ریناالډ پاچا راغوښتې یو خو اوس راڅخه لاره غلطه شوې نو تاسې زمونږ لارښوونه وکړه، ستاسې یوه ملګرې به د نوکرې په شان درسره روانه وي چې د هغې په سر به سامان وي، پیره کوونکې به ختمول او بیا به اور اچول کیږي، د اور اچولو سامان به د نوکرې ملګرې په سر وي،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسونه هلته په رسيو ترل شوې هغه به خلاصول غواړي، د رسيو پرې کول او بيا ځيني اسونه په خنجرونو وهل هم ضروري دي چې هرې خواته خپاره شي. برجيس سمدستي نجونو ته د خپل شکل او جامو بدلولو وويل او يوه يې پکې نوکره کړه چې هغې خپل مخ او لاسونه تور کړل، بيا يې ځوانانو ته لارښووني پيل کړې، هغه خپله هم ورسره ملګرې وه، د عثمان صارم پلار هم ځيني مشورې ورکړې، بيا يې ټولو ته خنجرونه ورکړل، د هر وخت تير شوی وه خو برجيس ويل چې تر اوسه پورې خلک ويښ دي، هغه ودانۍ به هماغسې روښانه وه چې نور ښار به ويده شو، تياري پيل وه تر دې چې د تللو وخت راغی.

ټول بايد جلا جلا ولاړ شي او په ټاکلي ځای کې سره يو ځای شي د نجونو لاره او کار جدا وه، هغوی ته وخت ښودلی شوی وه چې څه وخت بايد اور واچوي، دا به داسې وخت وي چې د برجيس ملګرې به بريد ته چمتو وي، دا داسې خطرناک عمليات وه چې د لږې غلطۍ او بې احتياطی په سبب يې ول داسې بنديخانی ته ټيله کولای شول چې له جهنم څخه کم نه وه، زيات خطر نجونو ته وه ځکه چې هغوی کمزورې وي او د نيولو په صورت کې به په هغوی څه راتلل، النور وويل چې د نيولو په صورت کې بايد ټول ځانونه ووژنو او کفارو ته ژوندي ځانونه پلاس ورنه کړو.

په ښار باندې چوپوالی راتللو تر دې چې ټول ښار چوپ او غلی شو، په هيڅ ځای کې روښنايي نه ښکاريدله، يوازې يو ځای وه چې هلته د ورځې په شان غوبل جوړ وه، دا هغه ځای وه چې صليبي قوماندان هلته راټوليدل ،اوسيدل، هلته ټول يو يو راټول شوي چې د مخکې شپو په شان يې شراب څښل او نڅاګانی يې کولې، پدې شپه د خبرو موضوع هماغه دوه مسلمانی نجونې وې چې د کاروان څخه د مال او سامان سره نيولي شوې وې. يو قوماندان وپوښتل چې دا نجونې نور کار ته هم پکاريدای شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځی افسر وویل چې نجونی هوښیاری معلومیږي خو هغوی د جاسوسی لپاره نشی استعمالیدای، د یوی عُمر شپاړس اولس کاله او د بلی عُمر اوه ویشت کاله دی، څه وخت د ساعت تیری لپاره استعمالیدای شی.

یو لوړ افسر وویل: وروسته هغوی دوه افسرانو ته وسپاری چې بیا هغوی ورسره واده وکړي .

دا نجونی د هغوی د بد اخلاقه خبرو موضوع گرځیدلی او د مسلمانانو په خلاف یې بد رد ویل .

پدی وخت کې هغه دوه نجونی په جلا جلا خونو کې وی او دومره یې ژړل چې بی حاله شوی وی .

د هری یوی سره یوه یوه نوکره هم موجوده وه چې ډیری مکاری او چالاکی وی او پدی فن کې یې تجربه لرله .

هغوی نجونی پاکی کړی او د شپی جامی یې وراغوستلی، هغوی هیڅ نه وه خوړلی حال دا چې هغوی ته ډېر غوره او ښه خوراکونه ایښودل شوی وه، دواړه یو له بلی څخه هیڅ خبری نه وی چې یو په بلی څه تیریږي، دواړو پخو ښځو هغوی ته شنه شنه باغونه ښودل، یوی ته ویل کیدل چې هغه د فرانسی پاچا خوښه کړی او بلی ته وویل شول چې هغه به د جرمنی ملکه شی .

د دی په خوا کې هغوی ته گوت څنډنی او اخطارونه هم ورکول کیدل که هغوی دا باشاهان خفه کړل نو بیا به هغوی عامو پوځیانو ته سپارل کیږي.

دواړه نجونی د اطرافی کلیو اوسیدونکی وي، هغوی بی زړه او ډارنی نه وی خو بی وسی وی، هغوی د خپل ځان او ابرو د خوندی کولو لپاره هیڅ نشول کولای، د هغوی پلار، مور او ورونو غوښتل چې د هغوی د حیا او ابرود ساتلو لپاره هجرت وکړي خو په لاره کې د صلیبیانو په جال کې راگیر شول، مور پلار یې شهیدان او ورونه یې بندیان شول، د الله پاک څخه پرته د هغوی اواز اوریدونکی نه وه، هغوی د بند څخه د تښتیدلو وړتیا هم نلرله ، هغوی ژړل او اندیښمنی وی .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغوی وررور افاق په بیګار کمپ کې زوریده، هغه زخمي وه او صلیبي ځناورودېر وهلی وه، کله چې پخواني بندیان ماښام د جبري کار څخه راستانه شول نو نوي بندیان یې ولیدل، د هغوی څخه یې د هغوی غمناکې کیسې واوریدلې، په هغې بندیانو کې یو افاق زخمي وه خو هیچا یې هم درملند نه وه کړې، پخوانیو بندیانو څه درمل له ځان سره پټ ساتلي وه، هغوی د شپې د افاق زخم پاک کړ او بیا یې دوایي پرې واچوله.

افاق د خپلو ټپونو پروا نکوله بلکې هغه خپلو خویندو ته اندیښمن وه، هغه د نورو بندیانو څخه پوښتل چې د هغه خورګانې به چیرې وي او خپله څه ډول له بند څخه تښتیدلی شي؟ بندیانو هغه ته په ډاګه وویل چې د هغه خورګانې به چیرې ساتل کیږي او له هغوی سره به څه سلوک کیږي. بندیانو ورته وویل چې دا بند ځای دیوالونه نلري او نه چاته کړه ور اچول کیږي خو د تیښتې هیڅ امکان نشته، که تیښته وکړې نو چیرې به ولاړ شې او بیا به نیول کیږې چې بیا به داسې سزا او مرګ ورکول کیږي چې د هغې تصور هم ممکن ندی، هغه ته وویل شول چې دلته د کلنو کلنو څخه راهیسې بندیان پراته دي حال دا چې د همدې ښار کرک اوسیدونکي دي خو د تیښتې زړه نکوي.

هغوی پدې پوهیدل که صلیبیان دوی ونه نیسي نو بیا به یې تولله کورنۍ ونیول شي، د دې تولو خطرونو سره سره افاق د تیښتې او د خپلو خویندو د راخلاصولو په هکله فکر کاوه، هغه په لاره د تللو وړتیا هم نلرله، بندیان د ستړتیا په سبب په درانه خوب ویده شول خو افاق هماغسې ویښ وه .

***

عثمان صارم په خپ اواز وویل : نجونې نیولې شوې نه وې؟ •

برجیس وویل: الله تعالی یادوه عثمان ! مونږ اوس د مرګ په خوله کې پراته یو، د زړه څخه ویره او ډار وباسه،

برجیس وویل: ته په نورو نجونو باور لرې؟

عثمان صارم وویل: پوره باور پرې لرم! د هغوی په هکله اندیښنه مه کوه .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


برجیس وویل: مونږ د غلا لپاره نه یو راغلی، الله جل جلالله به مدد راسره کوي.

عثمان صارم او برجیس په کور کې نه وه، دواړه د خپلو ملګرو سره د ودانی په خوا کې په یو ځنګل کې پټ ناست وه کوم ځای کې چې دوه نجونی ساتل شوی وی، برجیس هغوی پوه کړی وه چې په کومه اشاره به هغوی کار پیل کوی.

د عثمان صارم سره د هغه څلورو نجونو غم او فکر وه چې د اور اچولو لپاره تللی وی چې په هغې کې یې خور النور هم وه، دا وخت د اور اچولوو سره سم د هغې لمبی باید پورته شی، که پلان کامیاب شی نو د مرکزی ودانۍ څخه به ټول پوځی مشران او چاړواکی د اور په لوری ځی او دوه راتښتول شوی نجونی په یوازی پاتی کیږي چې د هغوی خلاصون به بیا اسانه شی، د څلورو نجونو د تللو ډېر وخت وشو خو کار لا نه وُ پیل شوی، کیدای شول پیره کوونکی به هغوی رامنع کړی وي.

نجونی لا پیره کوونکی ته نه وي رسیدلی ځکه چې هلته موجود نه وه او نشتوالی یې خطر وه ځکه چې د ژوند په صورت کې یې هغوی اور اچولو ته نه پرېښودلی، څلور واړه د وچو وښو د ډېریو سره تیریدی، په تیاره کې هغوی ته د خیمو انبار نه ښکاره کیده، هغوی څلور واړه یو ځای تللی چې په لاره کې ورته یو مشعل ښکاره شو، هغوی د مشعل په لوری ورغلی چې پیره کوونکی ورته راښکاره شو، مشعل په ځمکه کې ټومبل شوی وه، پیره کوونکی مشعل راواخیست او د نجونو مخی ته ودریده او هغوی یې رامنع کړی، هغه چې د نجونو ځلیدلی جامی ولیدی نو وډار شو، د هغوی سره یوه نوکره هم وه چې سامان یې په سر باندی ایښی وه، پیره کوونکی ورڅخه وپوښتل چې تاسې څوک او چیری روانی یاستی؟

النور په ناز او خندا سره وویل :داسې معلومیږي چې مونږ لاره غلطه کړیده؟ ریناالډ بلن لیک راغلی وه او مونږ ورسره د شپی لپاره ژمنه کړی وه، لږ ځنډ راڅخه وشو نو چا راته وویل چې دا لاره لنډه ده په همدی باندی

Scanned by CamScanner

ولاړ شي نو ځکه مونږ دی لوری ته راووتلو، اسونه تړل شویدی، نو مونږ په کومه لاره ولاړ شو؟

په یو عادی سپاهی باندی د دار اچولو لپاره د پاچا رینالډ نوم اخیستل بس وه ځکه سپاهیان پوهیدل چې صلیبي چارواکی د کومو اخلاقو خاوندان دي، رینالډ به دا نجونی د خپلی عیاشی او فحاشی لپاره غوښتی وی د نجونو جامو، شکل او قوارو او بیا د النور خندا او ناز دا ثابتوله چې دا نجونی د صلیبي چارواکو د مطلب شی‌ان دي. سپاهی هغوی ته لاره ښودل پیل کړل، په همدی وخت کې یوه انجلۍ د هغه شاته شوه او پداسې ځواک یې د هغه په بدن کې خنجر ورننویست چې د زړه څخه یې د باندی ووت، د هغه د لاس څخه مشعل وغورځیده، النور سمدستی په دواړو پښو مشعل مړ کړ، نورو نجونو هم خپل خنجرونه په سپاهی وار کړل چې د هغه د خولی څخه اواز هم ونه وتلو.

برجیس هغوی ته ویلی وه چې کله هغوی وچو وښو ته اور واچوی نو په رڼا کې به ورته خیمی او نور پوځی سامان هم ښکاره شی، هغوی ته ځینی شیان په تیاره کې هم ښکاریدل، نوکری انجلۍ سمدستی خپل سامان ښکته کړ چې د اور اچولو شیان پکې وه.

هغوی د وچو وښو یو انبار ته اور واچولو، بیا یې نورو ته چې لږ څنډه وروسته ټولو انبارونو اور واخیست، اوس نو خطر زیات شو ځکه چې هر لوری ته روشنایی شوه، لږ وړاندی هغوی ته خیمی هم ښکاره شوی، څرنګه چې خیمی له رخت څخه جوړی شوی وی نو اور اخیستل یې ګران نه وه، خالی ګاډی یوی او بلی خواته ولاړه وه، نجونو په پوره چټکتیا سره کار پیل کړ او په خر ګاډو باندی یې اور اچونکی مواد وشیندل چې هغې اور واخیست، پدی وخت کې د اور لمبی او روښنایی تر اسمان پوری ورسیده، نجونی په منډه اسونو ته ورغلی، تر دی وخته پوری هیڅوک هم نه وو راویښ شوی، نجونو د اسونو رسی او پړی پری کړی او بیا یې څو اسونه په خنجرونو زخمیان کړل، هغوی ووریدل او بد حالت یې پیل کړ، هر لوری ته

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځغليدل، كوم اسونه چې ترلې پاتې شول هغوى غوبل پيل كړ، دا نه وه څرګنده چې څومره اسونه خلاص شوي او غوبل يې جوړ كړى ، پدې وخت كې اوښان هم راپورته او هر لوري ته په منډو شول .

څلور واړه نجوني د اسونو او اوښانو په منځ كې راګير شوي، اور دومره ګرم شو چې نژدې شا او خوا يې چا طاقت نشو كولاى، د اسونو او اوښانو د منډو او شور څخه سپايان او پوځ رابيدار شو.

راتښتول شوي نجوني د ناوو پشان جوړي شوي وي، دواړو كوټو او خونو ته په يو وخت كې يو يو سړى ورننوت، دا د صليبيانو جنګي مشران وه، هغوى شرابو مستان كړي وه، نوكراني د خونو څخه د باندې ووتى، دواړه نجوني په كوټو كې په منډو شوي او د پناه ځاى يې لټولو، د هغوى د حياء ، ابرو او عزت بچ كوونكى پرته د الله تعالى څخه بل څوک نه وو، يوه انجلۍ پرمخ ولويده او بيا يې دواړه لاسونه د خداى پاک دربار ته پورته كړل او د خپلې مرستى لپاره يې راوبللو، صليبي په كړس كړس وخندل او ور وړاندې شو، په همدې وخت كې هغه د باندې شور او غوغا واوريده، دا شور او غوغا ډېره زياته وه، هغه سمدستي دروازه خلاصه كړه چې كله يې د باندې وليدل نو لكه ټول ښار چې اور اخيستى وي، اور دومره ګرم او سخت وه چې اسونه د ويرې څخه دې لوړ او پورته ودانۍ ته هم را رسيدلى وه، د صليبي واكمن نيشه ختمه شوه، دويم صليبي واكمن هم له خپلې خونې څخه په ورخطايي راووت، دوه درې كسان په منډه راغلل او په ويريدلې اواز يې وويل: خيمو، وښو او خرګاډو اور اخيستى ، ځغليدونكو څارويو څو كسان تر پښو لاندې كړي ، كه په ښار كې دا اور لګيدلى وايي نو دې چارواكو يې غم نه كولو هلته د پوځ سامان سوځيده او پوځي څاروي هر لوري ته تښتيدل. په لږ وخت كې ټول چارواكي او پوځي كسان په منډه شول او د اور په لوري ورغلل، هغوى غوښتل زر تر زره اور ووژني، د دې ودانۍ په شا او خوا كې چې كوم وسله وال پيره كوونكي وه هغوى هم د اور په لوري ولاړل، ساتوونكى او باډى ګارډان هم د خپلو چارواكو پسې شول .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



برجیس په لوړ اواز وویل: تاسې هم په مټه شی، هغوی ټول د ودانی په لوری ورغلل، د هغوی په لاسونو کې خنجرونه وه، هغوی خپلو دوه ملګرو ته ناری کړی چې په ودانۍ کې نوکران وه، یو نوکر د برجیس سره مخامخ شو خو هغه ته د نجونو درک معلوم نه و نو په کوټو باندی سر شول، هلته هیڅ چارواکی او غټ سړی نه وُ چې د دوی مخه یې نیولی وایی.

برجیس او بل نوکر د نجونو پسی ګرځیده، په برنډه کې ډېری نجونی ولاړی وی چې زیاتی پکې لوڅی او لغړی هم وی، هغوی ورڅخه د نوؤ نجونو په هکله وپوښتل خو هیچاته هم څرګنده نه وه چې نوی نجونی چیری دی.

هغوی ګرځیدل چې په یوه خونه کې یوه انجلۍ راپیدا شوه خو هغه د ویری او ډار څخه پټه شوی وه، خود برجیس ملګرو دواړه نجونی د ورځی په لاره کې لیدلی وي نو ځکه یې پیژندلی خو هغوی خپل مخونه پټ کړی وه چې څوک یې ونه پیژنی، انجلۍ چې کله دا مخ پټی ځوانان ولیدل نو چیغی یې کړی خو برجیس هغه وپوهوله چې دوی مسلمانان دي او ستاسې د خلاصون لپاره راغلی خو هغی دا خبره نه منله بلاخره هغوی په زور له ځان سره کړه، په بله خونه کې د هغې بله ملګری پیدا شوه هغې هم د خپلی خور په شان وکړل چې هغه یې هم په زور له ځان سره ملګری کړه، نوری نجونی چې د صلیبیانو سره له ډېری مودی اوسیدی هغوی په حیرانتیا سره دا حالت لیدلو او دا کسان یې ډاکوان او غله ګڼل نو یوی او بلی خواته په منډو شوی، دواړو نجونو چیغی او ناری وهلی برجیس بیا ورته وویل لږ فکز وکړی مونږ الحمدلله مسلمانان یو او په کوم مسلمان کور کې ستاسی یې پټول غواړی، هغوی په ډېره ګرانه غلی شوی او د غازیانو ګروپ له ودانۍ څخه په خیر سره ووت.

***

د اور حالت ډېر ویرونکی وُ، لمبی ډېری زیاتی لوړی او ډارونکی وی، هر لوری ته اور خپور شو او مخ په خپریدو وُ، اسونو او اوښانو په ښار کې قیامت جوړ کړی وه، ټول ښاریان راویښ شول، په کوڅو، سړکونو او لارو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې خوشې شوي څارویو داسې بد حالت را اخیستی وه چې خلک د ویرې په کورونو کې ننوتي وه، خو اور چې کوم ډار او ویره پیدا کړې وه د هغې په وجه خلک د خپلو کورونو پرېښودلو ته تیار وه، ګډ وډې او بې نظمي هرې خواته خپره وه، د سلطان صلاح الدین ایوبي جاسوسان هلته موجود وه، هغوي هوښیار او وخت پېژندونکي وه، هغوي چې کله اور، څاروي او ګډ وډې ولیدې نو اوازه یې خپره کړه چې د سلطان صلاح الدین ایوبي لښکر ښار ته راننوتي دي، دا انګازه د مسلمانانو لپاره ډېره خوشحالوونکې او د صلیبیانو لپاره زړه بوګنوونکې وه، دا انګازه د اور پشان په ښار کې خپره شو او کفار تیښتې ته چمتو شول.

صلیبي چارواکي چې کله د اور ځای ته ورسیدل نو هیڅ انسان هم په سترګو نشو، هغوي هم همدا فکر وکړ چې د سلطان صلاح الدین ایوبي پوځ کلا سورۍ کړې او دننه راننوتي دي، هغوي سمدستي پوځ د جګړې لپاره تیارسۍ کړ او یوې برخې ته یې د کلا څخه د باندې وتلو حکم هم وکړ، دوه درې قوماندان د دیوال په سر وختل او د باندې یې هر لوري ته وکتل، د باندې چوپتیا وه او د هیڅ لوري څخه برید نوؤ شوی، د کلا شاتنۍ دروازه خلاصه شوه تر څو پوځ له کلا څخه ووځي د کلا دروازه د شپې چانه خلاصوله خو دوي پدې خاطر خلاصه کړه چې دا یوه سلطان صلاح الدین ایوبي لښکر مخه ونیي ځکه هغوي ګمان کاوه چې سلطان صلاح الدین ایوبي پوځ راننوتي او دا غوبل یې جوړ کړیدی، دا د پوځ او لښکر د راتللو معنا ورکوي، صلیبیانو د سلطان صلاح الدین ایوبي لښکر د مخنیوی لپاره خپل پوځ د باندې د ویستلو او د دروازې خلاصولو خطر یې په ځان قبول کړ، هغوي دا پریکړه په ویره کې کړې وه چې غلطه فیصله وه، کله چې شاتنۍ دروازه خلاصه شوه نو د کلا اوسیدونکي صلیبیان په منډه د کورونو څخه د تیښتې په خاطر راووتل، چې پدې کې غوبل جوړ شو او زیات شمیر اوسیدونکي دروازې ته راتول، د دروازې څخه پوځیان وتل خو ولسي خلک د سیلاب پشان په دروازه ورغلل چې هیچا یې مخه نشوه نیولای.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اور مخ په خپريدو وې، د خرګاډو سره نژدې پوځي وسلې او سامان پروت وې چې د هغې ساتل او لرې کول ضروري وه يا دا چې اور بايد مړ شي خو د اور وژلو لپاره اوبه کمې وې، هلته نه کوم لوی ډنډ وه او نه کومه وياله، په ښار کې لږ کويان او څاګانې وې خو اوبه راوړنکی هيڅوک هم نه وه، ښاريان په کورونو کې پټ شوي او څه د تيښتې په حال کې وه، دا کار يوازې پوځ کولای شو نو هغوی سمدستي راوبلل شول خو يو چا وويل چې په بيګار کمپ کې مسلمانان پراته دي د هغوی څخه کار واخلئ، هغوی سمدستي حکم وکړ چې د بيګار کمپ مسلمانان پدې پلمه راولئ چې که اور يې شوی وه خو پيره کوونکو هغوی په زور سره ويده کول، چې د بنديانو د وژلو لپاره نه ځم . راوستلو حکم ورته راغی، په خوا کې ورسره د خلاصون او ازادۍ ژمنه هم وشوه، پدې بنديانو کې افاق هم وه، د زخمونو له لاسه د هغه بدن خوړيده هغه يو بندی ملګری ته وويل که د صليبيانو ټول حکومت وسوځي زه د اور وژلو لپاره نه ځم .

يو بندی ورته وويل : ليونی کيږه مه! هغوی ويلي چې تاسې اور مړ کړې بيا ازاد ياستئ، دا چل دی، دا کافران دروغ وايي، ته زمونږ سره يو ځای ولاړ شه او بيا وتښته، مونږ خو نشو تښتيدلی، دوی زمونږ د کورونو څخه خبر دي، ته بايد ولاړ شې .

افاق وويل چيري به ولاړ شم .

بندی ورته د خپل کور پته ورکړه او ويې ويل : زه به وخت نه ګورم که حالت مناسب وه تا به خپل کور ته ورسوم، خو هلته تر ډېر وخت پورې مه پاتې کيږه ځکه چې بيا به صليبيان زما ټولې کورنۍ ته سزا ورکوي .

صليبيانو ټول بنديان له ځان سره بوتلل او په مختلفو کويانو باندې يې وويشل، پوځيانو اوبه راويستلې او بنديانو په مشکونو کې وړلې، هغوی په منډه منډه اوبه وړلې او په اور يې اچولې، په دوه درې چکرونو کې ورسره پيره کوونکې وه خو دی کار امکان نه درلوده، بنديان او پوځيان سره ګډ وډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول او هر یو له بل څخه بې پروا شو، صلیبي چارواکو په ویره او ډار سره هر چاته کنځلې کولې، پدې وخت کې د ویریدلي اسونو یوه ډله راغله چې بندیان او سپاهیان یې تر پښو لاندې کړل، ځینې ولویدل خو ځینې یوې او بلې خواته شول، افاق د زاړه بندي سره د کور په لوري روان شو، مسلمانانو ته هیڅ خطر نه ؤ ځکه چې هغوی فکر کاوه چې د سلطان صلاح الدین ایوبي پوځ راغلی دی، بندي خپل کور ته ننوت، د هغه ټوله کورنۍ راویښه شوې وه، هغوی ډېر زیات خوشحاله شول خوپخوانی بندي افاق هغوی ته تسلیم کړ او بیا یې ورته وویل: دا پټ کړې او ډېر زر یې له ښار څخه وباسئ، زه نشم پاتې کیدای، صلیبیانو سبا د خلاصون وعده کړې، هغوی اوس څوک نه پیژني، که زه پاتې شوم نو بیا هیڅ وخت نشم خلاصیدای .

د بندي پلار وپوښتل ایا دا خبره ریښتیا ده چې د سلطان صلاح الدین ایوبي پوځ راننوتی دی؟

بندي وویل: هیڅ معلومات نشته! اور ډېر زیات او سخت دی، معلومیږي نه چې کله به مړ شي .

د بندي پلار وویل که زمونږ پوځ نه وي راغلی نو بیا زه دا خطر څرنګه ومنم؟

بندي وویل دا سړی خپله وځی!

پلار یې وویل د ده نه زمونږ لپاره هیڅ خطر نشته ، اوس اوس ستا کشر ورور دوه مسلمانې نجونې زمونږ کورته راوستې ، دا دواړه د عثمان صارم ملګرو د صلیبیانو د پاچایي میلمستون څخه راخلاصې کړیدي ، هغه داړه مونږ په کور کې پټې کړیدي .

بندي وپوښتل هغه نجونې څوک دي .

پلار یې وویلدا هغه نجونې دي چې هغوی پرون د یو کاروان څخه راتښتول شویدي ، د هغوی ورور لکه چې بندي وي .

افاق په ورخطایي سره وویل : چیرې دي هغه نجونې؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ څنډ وروسته افاق خپلی خویندی په غیږکی نیولی، الله پاک د هغوی دُعا اوریدلی او قبوله کړی وه، دا ډېر احساساتی وخت وه، د هغوی پلار مړشوی او کاروان تالا شوی وه، هغوی د داسې معجزانه لیدلو تصور هم نه کولو.

بندی سمدستی د کور ښځه ووتلو، هغه د بند ښځه تښتیدل نه غوښتل، د هغه کوچنی ورور د عثمان صارم او برجیس سره وه، پخوانی بندی سمدستی بیرته کورته راغی او نجونو ته یې وویل : زر شی چې د ښار ښځه د وتلو وخت پلاس راغی، هغه ته وویل شول چې افاق د دی نجونو ورور دی. هغه دروازه د ځان سره ملګری کړل او د کور ښځه ووتل، د باندی دری اسونه ولاړ وه، دا کار برجیس کړی وه هغه واړه نجونی په اسونو سپری کړی، کله چې برجیس په دریم اس سپریدلو هغه ته د افاق په هکله وویل شول.

هغه سمدستی افاق په دریم اس باندی سپور کړ او دا یې ورته وویل : الله پامان دوستانو! که ژوندی و بیا به سره ګورو! هغه منډه کړه او د ښار د شاتنی دروازی په لوری روان ؤ له کومی چې ښاریان تښتیدل.

برجیس دا لاره مخکې کتلی وه او د تیښتی وخت ورته پیدا شوی وه، هغه په لاره کې دری اسونه راونیول او هلته یې راوستل، کله چې صلیبی چارواکو ولیدل چې ښاریان تښتی نو د دروازی د بندولو حکم یې ورکړ، کله چې برجیس هلته ورسیده نو دروازه بندیدله او ولسی خلک پکې راګیر وه، هلته یو غوبل جوړ شوی ؤ، برجیس یو دم چیغی کړی د شا له لوری پوځ را روان دی، دروازه خلاصه کړه، وتښتی، مسلمانان را روان دي. خلکو زور ولګولو نو دروازه بیا خلاصه شوه، خلک د سیلاب پشان له کلا ښځه په وتلو کې شول کله چې افاق او خورګانی یې له کلا ښځه ووتل نو برجیس افاق ته وویل چې د خپلی خور په اس سپور شی ځکه چې یو اس د دوه نرانو زور نشی لرلای ځکه چې زمونږ سفر ډېر اوږد دی. افاق د یوی خور سره سپور شو او بلی ته یې وویل چې د سپرلی ښځه ونه ډاره شی ځکه اس هغه نه غورځوی، هغوی خپل اسونه په منډه کړل.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



برجیس ته معلومه وه چې په لاره کې صلیبي پوځ پروت دی، هغه ته خالي لارې هم معلومې وې چې هلته پوځ نه وو، هغوی هماغه خالي لارې ته شول، د کرک تښتیدونکي خلک یوې او بلې خواته خپاره شول، رڼا هر لوري ته خپره وه، افاق او نجونو ته معلومه نه وه چې هغوی په څه ډول راخلاص شول، برجیس چوپ وُ، د کرک لمبې او رڼا شاته پاتې کیدله او شپه د اسونو د رفتار سره تیریدله.

***

کله چې سهار راوختلو برجیس سره د خپلو درې ملګرو د مسلمانانو سیمې ته ورسیدلو، هغه یو قوماندان ته ځان ور وپیژندلو د سلطان صلاح الدین ایوبي په هکله یې ورځخه وپوښتل، قوماندان هغه د خپل پوځ مشر قوماندان تـه ورسـولو او د هغـه څخـه یـې د سـلطان صـلاح الـدین ایـوبي معلومـات واخیسـتلو. بـرجیس پـه خپـل کـار او عملیـاتو ډېر خوشـحاله وه ځکه له یو لوري یې دوه مظلومې نجونې او د هغوی ورور راخلاص کړی وه او له بل لوري یې په کرک کې داسې لوی او غټ عملیات کړي وه چې د صلیبیانو ملا یې پرې ماته کړه، هغه سلطان صلاح الدین ایوبي ته دا سلا او مشوره ورکول غوښتل چې سمدستي په کرک باندې برید او حمله وکړي.

د کرک سهار ډېر بوګنوونکي او ډارونکي وه، د اور لمبې کمې شوی خو اور لا هماغسې لګیده، د صلیبي پوځ سامان او د څارویو واښه ټول سوی وه، خیمې او نور پوځي وسایل او وسلې هم سوځیدلې وې، اسونه او اوښان چې ټوله شپه یې منډې وهلې دی ستړي شوي پراته وو، هر لوري تـه د هغو خلکو مړي هم پراتـه وه چې د اسونو او اوښـانو تر پښـو لانـدې شوي او لـه منځه تللي وه، بندیانو او سپاهیانو تر اوسه پوري لا اوبـه راوړلي او پـه اور یې شیندلي. صلیبي چارواکي تر دې وختـه پوري پدې فکر کې وه چې د صـلاح الـدین ایـوبي سـپاهیانو دا کـار کـړی خـو د هغـوی هـیڅ اثـر نـه ځرګندیده، هغوی د کلا په دیـوال هر لوري تـه وکتـل خو د خپل پوځ څخه پرته هغوی بل څوک ونه لیدل، هلته د اسلامي پوځ هیڅ اثار نـه معلومیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو هغوی د دی خبری څیړنه پیل کړه چې اور څرنګه اچول شویدی، هغوی د پیره کوونکی مړی پیدا کړ چې په خنجرونو زخمی او مړ شوی وه خو د اسونو او اوښانو تر پښو لاندی داسې خراب شوی وه چې د خنجرونو زخمونه یې نه معلومیدل، د پیره کوونکی د مړی څخه لږ لری څلور د ښځو مړی هم پراته وه چې اوښانو او اسونو تر پښو لاندی او خراب کړی وه، څیړونکی عادی سړی نه بلکې د صلیبیانو د جاسوسی اداری مشر او استاذ هرمن جرمنی وه، هلته ډیر مړی پراته وه خو د ښځو دا څلور مړی هغه ته پلاس ورغلل، د هغوی څیری د پښو لاندی بالکل خرابی او مسخ شوی وی او د بدن هیڅ برخه یې هم روغه نه وه پاتی شوی، د هغوی جامی هم تار تار شوی وی. په وینه او خاورو کې د هغوی څیری هیڅ نه معلومیدی، یوازی د جامو څخه داسې معلومیدی چې ښځی دی، د ټولو پوستکی له بدن څخه جلا شوی او په ځینو برخو کې غوښه هم راوتلی او جدا شوی وه، د ځینو هډوکی لوڅ او مات شوی وه، د هر مړی په غاړه کې ځنځیر او په هغې کې کوچنی صلیب هم ځوړند وه، دا صلیبونه د دی خبری ثبوت ؤ چې دا ښځی عیسایانی دي .

هرمن او نور افسران پدی حیران وه چې د ښځو مړی دلته څه کوی، دا خو پوځی او عسکری برخه ده، دلته د عامو خلکو لپاره هیڅ اجازه نه وه او نه دلته کومه لاره وه، دا د څارویو او سامان ګودامونه او زیرمی وی، هلته نور مړی هم پراته وه خو هغه د سپاهیانو وه، ښځی د شپی دلته ولی راغلی دی؟ د دی پوښتنی ځوابوونکی هیڅوک نه ؤ، یوازی اټکل کیده چې پوځیانو فاحشه ښځی دلته راوستی او بلاخره دلته د پښو لاندی شوی خو خبره دا وه چې اور څرنګه ولګیده، د ښار په مسلمانانو شک کیدای شو خو اصل کار کوونکی پیدا کول ګران کار وه، فیصله وشوه چې په ښار کې جاسوسان او پولیس وګرځی او شکمن مسلمانان ولټوی چې په هر چا باندی لږ شانته شک هم راغی هغه بندی او تر سختو پلټو لاندی باید راشي .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د النور او نوړو دري نجونو کورني د هری ورخطاء او اندیښمني وی ځکه نجوني بیا ژوندی رانغلی، هغوی پدی وپریدل چې ژوندی نه وي نیولي شوی، هغوی خپله دنده په پوره کامیابۍ سره سرته رسولي وه خو تر اوسه پوري لا درکه وی. عثمان صارم او د هغه ملګری هغه ځای ته د خلکو په ډله کې ولاړل چیری چې اور لګیدلی وه، هلته ورته څرګنده شوه چې د څلور ښځو مړی پیدا شوی، وروسته اعلان وشو چې د څلور ښځو مړی په فلاني ځای کې ایښودل شوی، ټول ښاریان باید هغه وګوري او د پیژندلو کوښښ یې وکړي، عثمان صارم او د هغه ملګری هماغه ځای ته ولاړل او څلور مړی یې ولیدل، د هغوی په سینو باندی صلیبونه ایښودل شوی وه، هیڅا هم هیڅ مړی ونه پیژندلو ځکه د پیژندلو لپاره هیڅ نښاني او اثار نه وه، د ځیرو څخه هم پوستکی وتلی وه، ځیني ځیری دننه ننوتي او چتي شوی وی.

د عثمان صارم اوښکی رواني شوی او د خلکو څخه جلا شو، د هغه نور ملګری هم ورغلل، هغوی ته دا څرګنده وه چې دا مړی د چا دی، یو پکې د عثمان د خور النور او پاتي دری یې همزولي او مجاهدی ملګری وی، هغوی څلور واړو د شپې خپل ایماني مسئولیت په پوره بریالیتوب سرته ورسولو او بیا شهیداني شوی خو د هغوی د شهادت سترګو لیدونکی انسان موجود نه وه، د هغوی حالت داسي ښکاروله چې لومړی هغوی پیره کوونکی وژلی او بیا یې ګوداموﷺ اور اچولی چې کله یې اسونه خوشی کړی نو د همدی اسونو تر پښو لاندی شوی، معلومه نه وه چې څومره اسونه او اوښان د هغوی په مړو تیر شوی، د دوه پیغلو د حیا او ابرو د خوندی ساتلو لپاره څلورو نجونو ځانونه قربان کړل، برجیس په خپل لاس د هغوی په غاړو کې صلیبونه وراچول چې د اړتیا په وخت کې یې ښکاره کړي، د هغوی چا جنازه ونکړه ځکه چې ټولو فکر کاوه هغوی عیسایاني دی، هغوی عیسایانو پخپله هدیره کې خاورو ته وسپارلی، په هغوی هیچا هم غم او ویر ونکړ یوازی غائبانه جنازه یې اداء شوی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځلور واړو نجونو پلرونو یو ډول احساسات څرګند کړل، هغوی وویل چې مونږ د خپلو ځلورو ځلورو اولادونو قربانی کولو ته هم تیار یو، صلیبي چارواکو د شکمنو مسلمانانو کورونه تالا شي کول پیل کړل نو ځکه خلکو خپلې وسلې او خنجرونه په ځمکه کې ښخ کړل، بله خبره دا وه چې د دې ځلور نجونو د شتوالي په هکله به څه ځواب ورکوي، د هماغې شپې په سهار چې کله امام د نجونو د شهادت څخه خبر شو نو هغوی ته یې وویل چې تاسې به خپلو ګاونډیانو او جاسوسانو ته څه ځواب ورکوی؟

امام پوه او هوښیار سړی وه، هغه د ژور فکر کولو څخه وروسته وویل: د ځلورو نجونو پلرونه دې ماته راشي!

کله چې هغوی راغلل نو هغوی ټول د صلیبي اداري لوی او مشر چارواکي ته ورغلل، په ډېر خفګان او غصه حالت کې یې وویل: زه د دې خلکو امام یم، دوی ماته خپل شکایت راوړيدی چې کله د شپې دوی د اور وژلو لپاره هلته ولاړل او ټوله شپه یې اوبه راویستلې، په ښار کې غوبل جوړ شوی او هیچا هم پام نه وُ، کله چې دوی سهار خپلو کورونو ته ولاړل نو ستاسې د پوځ ځینې کسان د هغوی کورونو ته ننوتي او پیغلې لورګانې یې له ځان سره بوللې دي اوس د دې خلکو ځلور پیغلې لا درکه دي.

صلیبي چارواکي امام ته وویل: زمونږ په پوځ باندې د تور پورې کولو څخه مخکې لږ فکر وکړه.

امام وویل: زه مذهبي لار ښود یم! زه تاته دا ویلی شم چې ته مونږ رټلی او د ګالې شي او خپل پوځ بې ګناه ثابتولی شي خو د الله تعالی څخه خپل بد او ښه عمل نشی پټولای، تاسې زمونږ چارواکي یاستی خو خدایان نه یاستی دی خلکو ستاسې د پوځ او سامان د خوندی ساتلو لپاره ټوله شپه کار وکړ خو تاسې دوی ته دا بدله ورکوی چې د نجونو د تښتولو اقرار هم نه کوی.

د څه بحث او خبرو څخه وروسته صلیبي چارواکي هغوی ته ډاډ ورکړ چې دا نجونې به ولټول شي، امام د هغوی څخه همدا ویل اوریدل نو د باندې راووتل خپلو ځلورو ملګرو ته یې وویل چې همدا خبره خپره کړې چې ځلور

(c) ketabton.com: The Digital Library


واړه نجوني د شپې د پوځیانو لخوا څخه تېښتول شویدي نو همدا خپره کړای شوه، د هغوی کفارو ګاونډیانو هم همدا خپره ومنله ځکه پدې شپه د ښار حالت همداسې وه چې هر کار پکې کیدای شو.

***

برجیس د سطان صلاح الدین ایوبي په خیمه کې ناست وه، د سلطان صلاح الدین ایوبي طبیب د افاق تداوي او درمنله کوله، د افاق دواړه خویندي هم وي، برجیس سلطان صلاح الدین ایوبي ته د شپې ټوله کیسه وکړه، سلطان صلاح الدین ایوبي د دې خبرو په اوریدو سره ډېر احساساتي کیده او سترګې یې سرې کیدې، برجیس وویل چې هغو کرک پداسې بد حالت کې پریښې دي که سمدستي حمله پرې وشي نو د نیولو او فتح کولو امکان یې زیات دی، په ښار کې سامان ټول سوی او د څارویو خوراک ختم شوی، اسونه او اوښان ډار شوي، په خلکو ویره او ډار خپور شوي، پوځ هم ویریدلی دی.

سلطان صلاح الدین ایوبي په فکر او سوچ کې ډوب شو، ډېر ځنډ وروسته یې سر راپورته کړ، بیا یې خپل سالاران او سلا کاران راوغوښتل، لومړی یې دا حکم وکړ چې افاق سره د خپلو خویندو قاهرې ته واستوۍ او د هغوی لپاره تنخوا وټاکئ.

افاق وویل: تاسې زما خویندي په خپل کنترول کې واخلئ ، زه به ستاسې سره وم، ما پخپل پوځ کې داخل کړئ، زه به د خپل پلار او مور غچ اخلم، که تاسې ما کرک ته ورسوۍ نو زه هلته هر ډول عملیات کولای شم.

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل : جګړه او جنګ یوازې په احساساتو نه کیږي ، ډېر اوږد تربیت او روزنې ته اړتیا لري، ته یوازې د مور او پلار غچ اخیستلو ته ورخطاء یې خو زه به د دې ټولو پلرونو او خویندو غچ اخلم کوم چې د صلیبي وحشیانو لخوا څخه ښکار شویدي، خپل احساسات ساړه کړه .

د افاق احساسات او ولولې داسې راپاریدلې وې چې هغه د سلطان صلاح الدین ایوبي څخه ځان خلاصولو چې قاهرې ته ولاړ نشي، هغه ته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل شول چې لومړی خپل علاج او درملنه وکړه، چې کله روغ شوي خامخا به دي واستوو، پدې وخت کې مرستیال سالاران او لوړ قوماندان راغلل چې په هغې کې زاهدان هم وه، سلطان صلاح الدین ایوبی افاق او د هغه خورګاني د باندې واستولي، هغه ټولو ته د کرک نوی حالات په مخ کې کیښوده او وویل: ایا سمدستي په کرک باندې برید کول مناسب دي؟

زاهدان د خپلو معلوماتو په اساس وویل چې په کرک او نورو برخو کې صلیبي پوځ شته دی چې مونږ د پوځ محاصره او کلا بندي ماتولی شي، هغوی دا ترتیب هم نیولی چې سامان یې خوندي هر لوري ته رسیدای شي، که د هغوی د رسد د کمي په خاطر حمله کیږي نو دا یوه غلطي ده، د هغوی سره یوازې همدا سامان ندی چې کوم سوځیدلی، د هغوی د هر پوځ سره پوره او مکمل سامان موجود وي پداسې حال کې چې د هغوی شمیر زمونږ پنځه شپږ چنده زیات دی، د غونډې نورو ګډون کوونکو هم خپل خپل وړاندیزونه وکړل خو زیات د سمدستي برید پلویان وه، ځینو د انتظار سلا کارانو سلا مشوری او وړاندیزونه واوریدل خو پدې د ېر خوشحاله وه چې په هغوی کې د جګړې شوق او جذبه موجوده وه، هغوی ټول پدې خبره سره یو وه چې که حمله هر وخت کیږي باید داسې وشي چې بیا ماتي ونه خورو ځکه مونږ کمزوري یو، سلطان صلاح الدین ایوبی دا خبری اوریدی او چوپ ناست وو، هغه په اخر کې د خپل لښکر په هکله وپوښتل چې د هغوی احساسات او شوق څه دی نو ورته وویل شول چې ټول بنه تیار او تکړه دي.

په اخر کې سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: زه سمدستي او زر حمله کول غواړم! خو زه د تلوار کولو عادي نه یم، زما په وړاندې یوازې د کرک د کلا پوځ ندی بلکې د صلیبیانو ټول هغه پوځ دی چې هغه د باندې هر لوري ته خپور شوی پورت.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زاهدان ښه وویل چې نه یوازې دا چې په کلا کې پوځ شته بلکې د باندې هم شتون لري. د دې ټولو سره سره باید برید سمدستي او زر وشي، فاصله کمه ده، په یوه شپه کې زمونږ پوځ هلته رسیدای شي خو هغوی باید یوه جګړه د کلا څخه د باندې هم وکړي د حرکت څخه مخکې مونږ باید د کرک مسلمانان تیار او چمتو کړو. ماته چې کوم معلومات راغلي د هغې په اساس د کرک مسلمانان سره منظم شوي او هغوی یو تنظیم جوړ کړیدی، د دې هیله شته چې د محاصرې په وخت کې هغوی په کلا کې بې نظمي جوړه کړي، د هغوی نجونې هم د قربانۍ او جګړې میدان ته راوتلي دي، یوازې څلور نجونو چې څومره زیان صلیبیانو ته رسولی هغه څلور پنځه ګروپونو هم نشو کولای، مونږ به کوښښ کوو چې خپل کماندویان ښار ته ننباسو.

برجیس وویل: د خبرو به منځ کې د ننوتو ښېنه غواړم که کماندویان لیږل غواړې نو سمدستي باید وشي، ځکه د کرک کوم اوسیدونکي چې د کلا څخه تښتیدلي دي هغه حتمًا بیرته کلا ته ځي، د هغوی تر پردې لاندې مونږ خپل کماندویان ننباسلی شو خو د هغې څخه وروسته بیا امکان نلري. د اور لګیدو څخه وروسته صلیبیان ډیر محتاط او د ښار ټولې دروازې به بندوي، ماته اجازه راکړه چې زه همدا نن د هغوی سره کلا ته لاړ شم، مونږ به هیڅ وسله نه وړو، هلته وسله ډیره پیدا کیږي .

بلاخره پریکړه وشوه چې همدا نن شپه دې کماندویان د برجیس په مشرۍ روان شي، تر کوم ځای پورې چې اسونه تلای شي هغوی دې ورسوي، نور دې پیاده ولاړ شي، د اسونو بیرته را رسولو لپاره دې څو کسان هم واستول شي، زاهدان ته حکم وشو چې سمدستي د کماندویانو لپاره ولسي جامې او د اړتیا وړ شیان برابر کړه .

سلطان صلاح الدین ایوبي خپلو قوماندانانو او سالارانو ته د جنګ او جګړې اړوندې لارښوونې وکړې او په ځانګړې توګه یې ورته وویل چې دا په یاد ولرئ چې دا هغه پوځ ندی چې په کوم باندې مونږ شوبک فتح کړی و، دا د مصر څخه راغلي او دښمن پکې تبلیغات کړي، دوی د محاصروي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړې تجربه نلري، قوماندانان باید هوښیار او بیدار وي، ماته دا شک پیدا شوی چې پدې پوځ کې ځینې سپاهیان ښه فکر نلري، زما سره چې کوم ګروپونه دي هغه ترکان او شامیان دي، همدا رنګه زه به د نور الدین زنګي کومکي پوځ هم له ځان سره ساتم.

که حالات خراب شول نو په ورخطایي سره په شا مه راځئ، زه به ستاسې تر شا پروت وم، همدا رنګه دا هم په فکر کې ولرئ چې د کرک مسلمانان ستاسې سره څه نشي کولای، زه چې د کوم کارغواړم هغسې کار کول هلته مکمل امکان نلري، زه د هغوی څخه دومره زیاته قرباني نه غواړم، هغوی محکوم او مجبور دي، هغوی مظلوم او د ظلم ښکار شویدي، مونږ د هغوی د خلاصون، ازادۍاو نجات لپاره ورځو، د هغوی په داړ نه ځو.

***

تر ځلور پنځو ورځو پورې په کرک کې د مسلمانانو په کورونو حملې کیدلې او د شک په اساس خو کسان ونیول شول، د بېګار کمپ کسان چې د خلاصون په وعده باندې د اور مړه کولو لپاره راغونډتل شوي وه هغوی بیرته بندیان شول، صلیبیانو د ظلم یو نوی دور پیل کړ څکه د هغوی ډېر زیات زیان شوی وو، هغوی پدې پوهیدل چې داسې زړور کار او عملیات پرته د مسلمانانو څخه بل څوک نشي کولای، په بندي شوي کسانو کې د عثمان صارم دوه ملګري هم وه کوم چې د نجونو په خلاصون کې د هغه سره ملګري وه، هغوی ته ډېر سخت عذابونه ورکول کیدل او د انسانیت له حد څخه زیات ظلم پرې کیده خو هیڅ سړي هغوی پیدا نکړ، بل چا ته دا پلان او عملیات هیڅ معلوم نه وه نو څه به یې ویل یوازې دا دوه ځوانان وه چې حال ورته معلوم ؤ خو هغوی خپلې ژبې بندي کړې وې، هغوی په ماشي‌نو او پرو کې وتړل شول او بندونه یې سره جلا کیدل خو په ژبه یې هیڅ هم ونه ویل، بلاخره هرمن خپله بندیانو ته ورغی او هغه هم خپل پام هماغه دوه ځوانانو ته واړولو، هغوی ته غدارو مسلمانانو ویلي وه چې د دې دوه کسانو لاس هم په عملیاتو کې شتهاو هغه د دې ځوانانو ګاونډي وه، هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



عادي خلک وه خو د صلیبیانو لپاره تر جاسوسی وروسته د اسونو او ګاډیو خاوندان شول او د صلیبي چارواکو درباریان وګرځیدل، هغوی صلیبي غاصبانو ته میلمستیاوی کولی او د خپلو لوڼو سره یې په کیناستو ویاړ کاوه، د دری میرمنی وی ، هغوی دا دوه ځوانان د اور په شپه چیری لیدلی وه نو ځکه هغوی ونیول شول .

هرمن چې کله هلته ورغی نو ځوانان د مرګ په حالت کې وه خو هیڅ یې هم نه وه ویلی، هغه دواړه له ځان سره بوتلل، هلته یې درملنه وکړه بیا یې ویده کړل نو سمدستی په خواړه خوب ویده شول.

هرمن د دواړو په منځ کې کیناسته، لږ ځنډ وروسته یو ځوان په خوب کې وویل: زه څه پوهیږم، ما ته څه معلوم دي، که راته معلوم هم واي نو تاسې ته یې نه وایم، تاسې صلیب په غاړه ګرځوی او ما ټول قران په غاړه کې اچولی.

هرمن وویـل: تاسې اور اچولی وه ، تاسې د صلیبیانو ملا ماته کړیده، تاسې زړور یاستی، که مړه شوی نو شهیدان به درته ویل کیږي .

ځوان په خوب کې وویل : که مړ شوم نو تر څو چې په بدن کې روح وي ایمان هم ورسره وي او چې کله روح ولاړ نو ایمان خو نه ځي .

هرمن د خپل فن په اساس د هغه په ذهن کې ډېر شیان ور اچول غوښتل خو د ځوان ذهن هغه قبول نکړل، پدی وخت کې بل ځوان هم په خوب کې خبری پیـل کړی، هرمن هغـه لوری تـه متـوجي شو، هغـه تـه یې هم خبری وراچولی چې هغـه هم وانـه خیستی، د هرمن سره څو نور تکړه جاسوسی استاذان هم وه هغوی ټولو سوړ اویسلی وویست او ویی ویل نوره خواری هیڅ ګټه نلري، د هغوی څخه راز راویستل ممکن ندي، دا دواړه بی ګناه دي، خو زه دا درته وایم چې دا دواړه په خپلی عقیدی کلک او پاخه دي، ما هغوی ته په خوراک کې دومره حشیش ورکړی وه که اس ته یې ورکړی هم په خبرو راغی، خو پدی دواړو یې هیڅ اثر ونکړ، د دی څخه معلومیږي چې د دی خلکو ایمانی جذبه ډېره قوی او کلکه ده، او ایمان یې زړه ته ننوتلی دی .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې ځوانان رابيدار شول د باندې په يوه کنډواله کې پراته وه، صليبيانو هغوی د بې هوشۍ په حالت کې د باندې غورځولي وه، هغوی راپورته شول يو بل ته يې وکتل او بيا خپلو کورونو ته روان شول.

صليبيان او يهوديان چې د اور په شپه له خپلو کورونو څخه وتلي وه د ډاډ څخه وروسته بيرته کلا ته راستانه شول، د صليبيانو پوځ د باندې خيمې وهلي وې، هغوی هم ډاډ ورکړ چې له بهر څخه حمله نه ده شوې بايد بيرته کلاته ولاړ شي.

په همدې خاطر د ښار دروازې خلاصې شوې چې وتلي خلک بيرته خپلو کورونو ته ولاړ شي، خلک ډلې ډلې راتلل، پدې ډلو کې برجيس د پنځلس کماندويانو سره هم کلاته ننوت، د کرک خلکو وليدل چې هغه غريب موچي چې د نړۍ د حالاتو څخه بې خبره وه د درې ورځو غير حاضرۍ څخه وروسته بيا په خپل ځای ناست او د خلکو څپلۍ او بوټان جوړوي، هغه شپه په شپه د مجاهدو ملګرو په مرسته ټول کماندويان د مسلمانانو په کورونو کې ځای پر ځای کړل، هغوی پدې غور او فکر کولو چې د سلطان صلاح الدين ايوبي حملې په وخت کې هغوی د کلا په داخل کې څه کولای شي، غټه خبره دا ده چې هغوی بايد ديوال په کوم ځای کې سوری کړي تر څو د هغې څخه سپاره او پلي راننوځي يا دا چې کومه دروازه خلاصه کړي.

عثمان صارم په خپلو ملګرو کې زياتوالي راوستی وه، نجونې هم چمتو او تياری شوې وې خو ريني اليګزينډر سوري په شان په عثمان صارم پسې وه، هغه به يې په لاره کې رانيولو، د هغه کورته به ورتلله بلاخره يوه ورځ يې د عثمان صارم څخه وپوښتل: النور چيرې ده؟

عثمان صارم په بدله خوله ورته ووېل ستاسې د قوم د کوم ګنهګار سره په هغه دې د الله جل جلاله لعنت وي - نه عثمانه د الله تعالی رحمت!

ريني اليګزينډر ووېل ته خو زمونږ په خلاف مړ کېدونکو ته شهيد وايې، النورشهيده شويده!

د عثمان صارم سر چکر وخوړ او هيڅ ځواب يې ورنشو کړای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رینی الیګزینډر وویل: په هغه دوه ځوانانو کې یو ته هم وی چې بندیان شول خو ته تر اوسه پوری ازاد ګرځی ما درته ویلی وه چې ستا او بند تر منځ زما وجود پرده دی، ووایه نوره څومره قربانی غواړی.
عثمان صارم ځوان وه په هغه کې چې څومره جوش او احساسات وه هغومره عقل، پوهه او تجربه نه وه، هغه د رینی الیګزینډر د خبرو څخه په تنګ شو نو هغې ته یې وویل: رینی الیګزینډر ته څه غواړی؟
رینی الیګزینډر وویل: یو دا چې زما مینه او محبت ومنه - دویم دا چې د پټو کارونو څخه منع شه!
عثمان صارم وویل: که ستا په زړه کې زما مینه او محبت وي نو بیا ولی زماد قوم سره مینه او محبت نه کوی.
رینی الیګزینډر وویل: زما نه د خپل قوم سره مینه شته او نه ستا د قوم سره زه تا د خطرناکو کارونو څخه پدی خاطر منع کوم چې هسی بی ځایه به مړ شی او هیڅ به پلاس درنشی، زه احساساتی خبری نکوم، حقیقت وایم، چې سلطان صلاح الدین ایوبی کرک نشی نیولای، زه د خپل پلار د معلومات په اساس خبری کوم، جګړه به د کلا په دننه کې نه بلکې د کلا څخه د باندی به کیږي، زمونږ قوماندانانو د سلطان صلاح الدین ایوبی چلونه یاد کړي، د شوبک د ناکامی څخه هغوی سبق حاصل کړی، اوس به د کرک د محاصری وخت نه راځی، که تاسې د کلا دننه څخه کار او عملیات وکړل نو پرته له مرګ او سخت بند څخه بل څه پلاس نه درځي، زه ستا ژوند او ستا روغتیا غواړم.
عثمان صارم سر ټیټ واچولو او روان شو، هغه د رینی الیګزینډر دا اواز واوریده، فکر او سوچ وکړه عثمان!

***

سلطان صلاح الدین ایوبی خپلو قوماندانانو ته د اخری لارښوونی په وخت کې وویل: زه یو ځل بیا تاسې ته وایم چې دا کرک دی شوبک ندی " " صلیبیان ویښ او تیار دي، زماجاسوسانو ماته ویلی دي چې یوه جګړه به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرک ځخه د باندی هم کیږي، که د ښار مسلمانانو کوم کار وکړ شاید هغه هم زمونږ په درد ونه خوری، داسې هم کیدای شی چې هغوی ټول ووژل شی، زه هغوی پداسې سخت ازمیښت کې اچول نه غواړم، د هغوی د خلاصون یواځنی لاره دا ده چې تیزه او سخته حمله وشی.

د داسې اړینو لارښوونو ځخه وروسته سلطان صلاح الدین ایوبی خپل پوځ ته حرکت ورکړ تر څو د کرک ښار کلا بند کړی.

د لمر پریوتو ځخه وروسته لښکر حرکت وکړ، فاصله زیاته نه وه، تر سهار پوری پوځ د کرک سیمی ته ورسیده، چې وروسته د محاصری په شکل مخ په وړاندی روان شول، د دی پوځ د سالار لپاره دا یوه عجیبه خبره وه چې تر کلا پوری هغوی ته صلیبی لښکر په سترګو نشو، هغوی ته ویل شوی وه چې د کلا ځخه د باندی هم پوځ ځای پر ځای شویدی، هغوی پداسې لاره استول شوی وه چې هلته اصلاً هیڅ صلیبی پوځ نه ؤ، خو بیا هم د مقابلی امکان وه خو هیڅ هم ونشول، سلطان صلاح الدین ایوبی لښکر کلا محاصره کړه، د کلا ځخه د غشو باران پیل شو، پوځ د دی باران په مقابل کې خاص عکس العمل ونښودلو، قوماندانان د دیوال د سوری کولو او دروازو د خلاصولو لپاره یوی او بلی خواته ګرځیدل، هغوی خپل غشی ویشتونکی هم چوپ کړی وه، د هغوی سره هغه جاسوسان وه کوم چې د ښار ځخه ښه خبر وه، هغوی د کلا دننه ټول مهم ځایونه ورته په ګوته کړل وه، د کلا دننه هیڅوک هم تر دی وخته خبر نه وه چې کلا د سلطان صلاح الدین ایوبی پوځ محاصره کړی ده، محاصره هم لا مکمله نه وه ځکه د کلا شا خالی او هلته دوه دروازی وی، یو دم په کلا کې اور ولګیده دا هغه کیمیاوی ماده وه چې صلاح الدین ایوبی جوړه کړی وه، دا کیمیاوی مواد د منجنیقونو په وسیله کلا ته غورځول کیدل- خلکو ولیدل چې خپل پوځ یې د کلا په دیوالونو ولاړ دی او غشی ولی او د باندی ځخه کیمیاوی مواد او د اور غونډاری راځی، په ښار کې ویره او ډار خپور شو، یهودیان او

(c) ketabton.com: The Digital Library


عیسایان په کورونو کې ننوتل، مسلمانانو سلطان صلاح الدین ایوبي د فتح او کامیابۍ لپاره دُعا ګانې کولې.
خیني مسلمانان داسې هم وه چې د دُعا په خوا کې په خطرناکو عملیاتو کولو یې هم غور کاوه، هغه ځوانان او خیني نجوني وې، په هغوی کې د سلطان صلاح الدین ایوبي پنځلس کماندویان هم وه، په ښار کې چې کله بې نظمي شوه نو هغو غلي غلي سره یو ځای شول او د ښار د یوې دروازې د خلاصولو په فکر کې شول.
دروازه ډېره کلکه او د اوسپنې چادر پرې لګیدلی وه، د هغې ماتول څه اسان کار نه ؤ، د باندې څخه په دروازه ډېره کیمیاوي ماده وویشتل شوه او ا ور واچول شو، دروازې اور واخیست خو د اوسپنې چادر هغه سوځولو ته پرینښوده، د کلا د دیوال څخه صلیبیانو هغه غشي ویشتل چې تر لرې ځای پورې تلل، دا غشي منجنیقونو ته ورسیدل او خیني کسان یې زخمیان کړل، د دې خطر د ختمولو لپاره هغوی منجنیقونه شاته کړل او دا تجربه ناکامه شوه.
اخر مسلمانو غشو ویشتونکو ته حکم وشو چې د دیوال په سر صلیبیانو باندې غشي وولی، ټوله ورځ د دواړو لورو څخه غشي ویشتل کیدل، په هوا کې یوازې غشي ښکاریدل، صلیبیان په دفاعي حالت کې وه او په لوړه باندې ولاړ وه نو ځکه د مسلمانانو زیات زیان کیده، مسلمان دیوال سورې کوونکي هرې خواته ګرځیدل چې مناسب ځای پیدا کړي او دیوال سورې کړي خو له پاسه دومره غشي راتلل چې هلته رسیدل هیڅ ممکن نه وه، د ماښام څخه مخکې اته مجاهد سورې کوونکي وړاندې ورغلل خو دیوال ته تر رسیدو د مخه ټول شهیدان شول او د هر یو په بدن کې څو څو غشي ننوتي وه.
د شپې اوله برخه وه، ریني الیګزینډر په خپل کور کې وه، د هغې پلار ډېر ستومانه او ستړی راغی، هغه زر ویده شو چې بیا زر راویښ شي ځکه چې هغه بیا د شپې کار ته تللو، هغه وویل چې مونږ ته خبر را رسیدلی چې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښار مسلمانان کوم غټ پلان لري نو ځکه مونږ باید د هر مسلمان کور تر څارنې لاندې ونیسو.

لږ ځنډ وروسته دروازه وټکول شوه، ریني الیګزینډر خپله دروازې ته ورغله ګوري چې یو معتبر مسلمان ولاړ دی، هغه ته د صلیبیانو لخوا ځخه ډېر شیان ورکول کېدل ځکه هغه د مسلمانانو سره غداري کوله، ریني الیګزینډر ورته وویل چې پلار مې ویده دی، تاسې خبره راته وکړئ چې کله راویښ شي زه به یې ورته ووایم.

مسلمان غدار وویل: خبره ډېره مهمه ده زه خپله ورسره لیدل غواړم.

الیګزینډر وویل : دا ممکن نه ده هر څه چې وی ماته ووایی .

د ریني الیګزینډر د پوښتنې په ځواب کې هغه غدار وویل : نن شپه د کلا مسلمان اوسېدونکي ځوانان او نجوني د کلا کومه دروازه یا دیوال ختموي - ما هغوی ته ځان ورنژدې کړی او دا راز مې ورځخه لاس ته راوړی .

دا خبره هم ځرګنده شوې چې پدوی کې ځینې د سلطان صلاح الدین ایوبي کماندویان هم دي بلکه دا چې د لاری هغه غریب موچي هم سلطان صلاح الدین ایوبي جاسوس او نوم یې برجیس دی، زه په همدې خاطر ستا پلار ته راغلی یم چې په لاره کې دې مسلمانانو ته کمین ونیسي .

ریني الیګزینډر د څو مسلمانو ځوانانو نوم واخیست چې په هغې کې عثمان صارم هم وه بیا یې وپوښتل ایا دا ځوانان هم پدې پروګرام کې شته؟ .

غدار مسلمان وویل: د صارم زوی عثمان خو د دې ډلې مشر دی او د دې ټولو مشر امام رازي دی .

ریني الیګزینډر ورته وویل : تاسې خو په مونږ لوی احسان وکړو چې د دښمن د ارادو ځخه مو خبر کړو که تکلیف درته نه وي لږ وروسته راشي تر څو مې پلار لږ خوب وکړي .

خو هغه غدار مسلمان نه تللو بلکې هغه د صلیبیانو د خوشحالي او زیات دولت او مال لاس ته راوړلو لپاره دا وخت غنیمت بللو. مسلمانو مجاهدینو ته دا ځرګنده نه وه چې دا غدار دی او د صلیبیانو لپاره کار

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوي، په همدې ورځ ځوانانو مجاهدینو د دیوال د غورځولو نیت او پلان جوړ کړی وه، پدې غونډه کې امام رازي، نور مشران او دا غدار مسلمان هم وه، هغه ځان ډېر مخلص معرفي کولو، مسلمانانو پده هیڅ شک هم ونکړ چې دا د صلیبیانو پالل شوی مار دی، مسلمانانو هغه د ښار سوداګر او عزتمند انسان بللو.

ریني الیګزینډر غدار ته ووېل بیرون هوا ښه ده راځه چې څو قدمونه ووهو تر هغه به مو پلار هم د خوب څخه راویښ شي بیا دواړه د باندې په ګرځیدلو پیل وکړ، هغه غدار د دومره غټ صلیبي افسر د لور سره په ناز او نخرو روان شو، په تللو تللو کې هغوی د ښار یو کوهي ته ورسیدل، د کوهي په غاړه ودریدل ، ریني الیګزینډر د هغه په سینه لاس کیښوده او په پوره ځواک سره یې ورټیل وهلو، غدار مسلمان پرمخ په کوهي کې ولویده او لاندې وغورځیده، د هغه چیغې واوریدل شوې خو په کوهي کې ختمې شوې.

ریني الیګزینډر په ډیره خوشحالۍ کورته راغله چې د عثمان صارم څخه یې یقیني مرګ منع کړ کوم چې دې غدار ورته برابرولو.

***

ریني الیګزینډر په منډه د عثمان صارم کورته ورسیده، د هغه د مور سره کیناسته او د النور خبرې یې پیل کړې، هغې د عثمان په هکله وپوښتل نو مور یې ورته ووېل چې هغه د ماښام څخه وروسته له کوره وتلی دی، ریني الیګزینډر فکر وکړ چې هغه به د دیوال د ختمولو لپاره تللی وي هغې غوښتل چې عثمان ژوندی پاتې شي او دا ویره ورسره وه چې کوم بل غدار پکې نه وي او چا پوځ ته خبر نه وي ورکړی، هغه د باندې ووتله او په هماغه لورې ولاړه کوم ځای کې چې عثمان صارم او نور مسلمانان د دیوال ختمولو لپاره راټولیدل، هغه غدار مسلمان ریني الیګزینډر ته ویلی وه چې هغوی به صلیبي سپاهیان پداسې شکل وژني چې هیڅوک هم خبر نشي، ځوانان او نجوني به دیوال کنده کوي چې له خاورو څخه جوړ شوی وه خو د هغه دد یوال پلن والی ډېر زیات وه چې په یو وخت کې پرې دوه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپاره ښنګ په ښنګ تیریدای شول ، د خاورو په سبب د هغه کینسل اسان کار نه وه خو وخت یې زیات غوښتلو، هغوی د اړتیا په وخت کې د جګړې لپاره هم تیاري نیولی وه، د هغوی سره خنجرونه او برچې وي، دا ډېر خطرناک او د زړورتیا ډکه عملیات وه چې د ناکامۍ امکانات پکې زیات وه، هغوی داسې ځای غوره کړی وه چې د نیولو خطر پکې کمه وه.
دا ډله د ټاکلي شوی ځای په لوري وخوځیده، ریني الیګزینډر په هماغه لوري په منډه وه، هغې عثمان صارم منع کولو، هغې ته معلومات شوی وه چې دا خلک نیول کیږي، او عثمان صارم به ووژل شي، مجاهدین په بله لاره روان وه نو ریني الیګزینډر هغه ځای ته مخکې ورسیده چې لا هیڅوک نه وه را رسیدلی، هغې په تیاره کې یوی او بلې خواته وکتل چې ناڅاپي چا د شا له لوري ونیوله او لرې یې کش کړه، هغه پوځی وه نو ورځخه وی پوښتل چې ته څوک یې، هغې د خپل پلار نوم ورته واخیست نو هغوی خوشې کړه خو دا یې ورته ووېل چې لدې ځای ځخه ولاړه شي خو ریني الیګزینډر د هغه ځای ځخه تللو ته تیاره نه وه، هلته د پوځ پوره یو ټولی ځای پر ځای شوی وه، د هغوی قوماندان ریني الیګزینډر ته ووېل چې دی ځای ته د مسلمانانو یو ګروپ راځي او دیوال سوري کوي مونږ هغوی ژوندي نیول غواړو، دا خبر یو بل غدار مسلمان پوځ ته ورکړی وه .
ریني الیګزینډر هغوی ته هیڅ ویلای نشول هغې یوازې او د عثمان ژوندي پاتې کیدل یې غوښتل، د مسلمان ځوان میني او محبت د هغې په عقل پرده اچولی وه، په همدې وخت کې پوځي ووېل: خبره غلطه نده هغه دی هغوی را روان دي .
ریني الیګزینډر ورخطا شوه او چیغې یې کړې عثمانه بیرته وګرځه! د پوځي ډلې قوماندان د هغې په خوله لاس کیښوده، او ویې ویل دا بدبخته ځکه لرې شور او غوغا پیل شوه، د مجاهدینو ډله په کمین کې راګیره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول، د صلیبي سپاهیانو شمیر زیات وه، مخکې لدې چې مجاهدین ځانونه چمتو کړي په کمین کې ولویدل .

سمدستي مشعلونه روښانه شول چې ټول غازیان پکې ښکاره معلومیدل، د هغوی سره د کینډلو سامان، برچې او خنجرونه وه، د تیښتې هیڅ امکان نه وه، په هغوی کې یو ولس نجونې هم وې، صلیبي قوماندان په لوړ اواز وویل :نجونې ژوندی ونیسي .

مسلمان کماندویانو وویل : د مجاهدینو! هر یو یوه یوه نجلۍ د ځان سره کړي .

د دې څخه وروسته چې کومه جګړه وشوه هغه ډېر خونړۍ وه، کماندویان روزل شوي غازیان وه هغوی ښه په نره وجنګیدل خو نجونو او ځوانانو چې کومه جګړه وکړه هغې صلیبیان حیران کړل، نجونې د ویرې او ډار څخه ناخبره وې او پخپلو خنجرونو یې ډېر صلیبیان دوزخ ته واستول، څرنګه چې جګړه په کلا کې وه نو د پوځ نورې ډلې هم راغلې او د کسانو شمیر نور هم زیات شو، پدې جګړه کې یو ښځینه اواز بیا بیا اوریدل کیده چې عثمان ځانه وباسه !

دا د ریني الیګزینډر اواز وه، تر دې وخته پورې عثمان صارم جنګیده چې د هغه مخې ته یو صلیبي راغی، د عثمان سره خنجر وُ او د صلیبي سره توره، ناڅاپي د صلیبي په ګیده کې خنجر ننوت دا د ریني الیګزینډر خنجر وُ، یو بل صلیبي پرې غږ وکړ هغې سمدستي د مړه شوي صلیبي څخه توره واخیستله او مقابلې ته وز وړاندې شوه. عثمان صارم د هغې مرستې ته ور وګرځیده خو د یو صلیبي په توره شهید شو، لږ ځنډ وروسته یوازې دوه مجاهدې نجونې ژوندې پاتې شوې او نور ټول په شهادت ورسیدل. هغوی دواړه یو ځای د ډېرو صلیبیانو په منځ کې راګیر شوې، هغوی ته وویل شول چې خپل خنجرونه کېږدي وار په وار تنګیدله، هغوی دواړو یو بل ته وکتلې او بیا یې خپل خنجرونه پخپلو زړونو کې ننباسل، ریني الیګزینډر زخمي شوه او بیا یې ونیوله .
وغورځوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کلا د دیوال ختمولو او سوری کولو هیله او امید همدلته ختم شو او د دی سره د مسلمانانو عملیات هم پاته ورسیدل د مسلمانو مجاهدینو لاربنوونکی شهیدان شول ، د سلطان صلاح الدین ایوبی هیلی او امیدونه یوازی پدی غازیانو پوری تړلی نه وه، هغه کلا ګانی نیول او فتح کول زده کړی وه، اوس لا د محاصری او کلا بندی، دویمه ورځ وه خو دا ځلی صلیبیانو هم قسم خوړلی وه چې سلطان صلاح الدین ایوبی ته کرک په هیڅ صورت هم تسلیم نکړی .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما فلسطينه زه راځم

صلاح الدين د صليبيانو په قوي او ځواكمن مركز الكرك باندي پداسې توګه ناڅاپي حمله كړې وه چې هغوى د كلا تر محاصرې وروسته خبر شول خو كلا بندي او محاصره مكمله نه وه ځكه چې دا د درې لورو څخه محاصره وه، جاسوسانو سلطان صلاح الدين ايوبي ته خبر وركړى ؤ چې په كلا كې پراته او ميشت سربښندونكي به د مجاهدينو سره يو ځاى چې كلا ته ورغلي دروازې خلاصې او يا به ديوالونه وغورځوي .

د محاصرې په څلورمه يا پنځمه ورځ د كلا څخه خبر راغى چې په كلا كې د سلطان صلاح الدين ايوبي كماندويان او د كلا اوسيدونكي مجاهدين د عملياتو په ترڅ كې ټول په شهادت ورسيدل او د كلا په عملياتو كې نجونو هم ګډون كړى ؤ چې يوه پكې عيسايي نجلۍ هم وه .

سلطان صلاح الدين ايوبي ته دا هم وويل: شول چې د كلا مجاهدين د يو ايمان پلورونكي پوسيله چې ځان يې د مجاهدينو په صف كې ننباسلى ؤ صليبيانو ته خبر وركړ، هغوى ورته په لاره كې كمين ونيوه او ټول يې شهيدان كړل، دا هم ورته وويل : شول چې د كلا دننه څخه نور د هيڅ ډول عملياتو او مرستې هيله نشته .

هيلې ختميدې ځكه چې كله په شهيدانو كې ځوانان او نجونې وموندل شوې نو هغوى هر لورې ته د مسلمانانو نيول، بنديانول او زورول پيل كړل. ان تر دې چې نجونې هم ونه ښښل شوې، ځوانان د بيګار كمپ ته يوړل شول، بوډاګان پخپلو كورونو كې بند شول، نجونې د پوځيانو باركونو ته يوړل شوې. ځينو نجونو ځانونه ووژل ځكه هغوى لدې ويريدلې چې عزت او آبرو ته به يې زيان رسيږي .

سلطان صلاح الدين ايوبي په همدې غم او فكر كې ؤ چې د كلا دننه عمليات به د مسلمانانو لپاره ډېره درانه او زيانمن تمام شي، كله چې هغه د كلا د سربښندونكو د قرباني او ځان تيريدني څخه خبر شو نو خپلو مرستيالانو ته يې وويل: دا ټول زيان او تاوان د يو ايمان پلورونكي پوسيله

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښ شو، یو خائن او غدار د دومره پوځ او لښکر کار په تپه ودراوه، یو لوري ته هغه خلک دي چې د الله جل جلاله او ازادۍ لپاره یې ځانونه قربان کړل بل لوري ته هغه غلامان او ایمان پلورونکي دي چې خپل ایمان یې د صلیبیانو او کفارو په قدمونو کې کېښوده ، دا خائنان او غداران غواړي د اسلامي تاریخ لوري بدل کړي .

سلطان صلاح الدین ایوبي له غصې څخه ودرېده او خپل ورون یې په څپېړه ووهلو او ویې ویل: زه به انشاء الله که ژوندی وم دې پر زر به کرک نیسم او غدارانو ته به سزا ورکوم .

د اطلاعاتي اداري مرستیال زاهدان په همدې وخت کې خیمې ته راننوت، سلطان صلاح الدین ایوبي ورته په غمجنه لهجه وویل : نن شپه باید کلا بندي مکمله شي، زه اوس تاسې ته وایم چې کوم ګروپونه باید د کرک شاته ولاړ شي .

زاهدان وویل : د بې وخته خبرې بښنه غواړم ښاغلی آمیر! اوس شاید تاسې خپله محاصره مکمله نکړای شی، ځکه چې مونږ وخت بې ځایه تیر کړ .

سلطان صلاح الدین ایوبي وپوښتل : ایا تا کوم نوی خبر راوړی؟

زاهدان په زغرده دا خبره وکړه: تا چې په کومه بې خبرۍ کې دښمن لاندې کړی وُ د هغې څخه دې پوره ګټه پورته نکړه !

سلطان صلاح الدین ایوبي خپلو مشرانو او کشرانو ټولو قوماندانانو او چاروا کو ته ویلي وه چې هغه پادشاه ندی، هغه ته باید ښکته او ټیټ نشي، خپلې رایې باید په پوره ازاده توګه وړاندې کړي او ګوت نیونې هم باید بې ویرې وکړي .

زاهدان په همدې خبرو عمل کولو ، بلکه دا چې هغه پدې سیمه کې د اطلاعاتو او جاسوسۍ اداري مشر او مسئول وُ، د هغه مثال د شغې سترګې وُ چې د خپلو مجاهدینو او سربښندونکو پوسیله یې د څو کیلو مترو څخه د پښان وُ کوم چې په تیارو کې هم لیدل کولای شي، هغه د داسې غوږ پښان دښمن ګنګوسې هم اوریده .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبی د هغه په اهمیت او قدر پوهیده، هغه ته دا هم څرګنده وه چې پرته له بریالۍ جاسوسۍ څخه جنګ ګټل امکان نلري خصوصاً پداسې حالاتو کې چې صلیبیانو په اسلامي امت کې د جاسوسانو او ورانو کارو جال خپور کړی وُ، سلطان صلاح الدین ایوبی ډېرو تکړه او هوښیارو جاسوسانو ته اړتیا درلوده چې هغه پدې ډګرکې پوره بریالی او کامیاب هم وُ.د هغه د جاسوسي اداري دري چارواکي علي بن سفیان او د هغه دوه مرستیالان حسن بن عبدالله او زاهدان سربښندونکي او تکړه جاسوسان وه، هغوی پدې ډګر کې د صلیبیانو ډېر پلانونه خنثی او شنډ کړي وه .

زاهدان وویل: تاسې ته څرګنده وه چې صلیبیانو د کرک د کلا ساتنه کلکه او سخته کړې وه " او هم یې څه برخه پوځ د کلا څخه د بهر هم ځای پر ځای کړی، تاسې ته دا ویل شوي وه چې د باندې پوځ به محاصره ماتوي، د جاسوسانو له راپورونو څخه دا څرګندیده چې دا ځل جګړه به د کلا څخه د باندې وي خو بیا هم تاسې محاصره مکمله نکړه، د همدې حالت څخه دښمن ګټه پورته کړه .

سلطان صلاح الدین ایوبی په چټکتیا سره وپوښتل نو هغوی اوس حمله او برید کړی ؟

زاهدان وویل : تر نن ماښام پورې به صلیبي لښکر هغه ځای ته راشي چیرې چې زمونږ پوځیان نشته! زما همسنګر ملګرو چې کوم احوال راوړي هغه دا دي چې صلیبي پوځ به اوښ سپاره او آس سپاره وي، پیاده او پلی ګروپونه به کم وي، هغوی به د محاصرې ځای ته راځي بیا به په ښي او چپ لورې بریدونه او حملې کوي، زمونږ محاصره به ماتیږي، د صلیبیانو شمیر هم زیات ښودل کیږي .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: زه تا او ستا همسنګر ملګرو ته افرین او شاباسی وایم چې دا احوال یې راوړي دي ؟ زه پوهیږم چې دا کار څومره سخت او خطرناک دی، خو زه تاسې ته دا ډاډ درکوم چې صلیبي پوځ کومې خالیګاه ته راځي هغه به په همدې خالیګاه کې ختموم، زه د الله جل جلاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مرسته باور لرم، که په تاسی کې کوم غدار او خائن نه وي نو مونږ ته به کامیابی او بری په نصیب شي .

یو مرستیال سالار وویل : اوس هم وخت شته؟ که تاسې حکم کوی نو مونږ به خو ګروپونه هغه ځای ته ولیږو چې خالي او تش دي!

د سلطان صلاح الدین ایوبی په څیره باندی هیڅ ویره او اثر نه ښکاریده، هغه له زاهدان څخه وپوښتل: که ستا اطلاع سمه وي نو ایا ته دا ویلی شی چې صلیبیان به څه وخت د حملی ځای ته را ورسیږی؟

زاهدان ځواب ورکړ: تر نن ماښام پوری !

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: : الله جل جلاله دی وکړی چې هغوی په لاره کې ځنډ ونکړی خو هغوی به د ورږو او ستړو آسونو سره برید ونکړی، کله چې هغوی د محاصری ځای ته راشي نو لومړی به خپلو سپرلیو ته دمه او خوراک ورکوي بیا به ګوری چې کوم ځای خالی دی، صلیبیان دومره بی عقل ندی چې همداسې برید او حمله وکړی .

صلاح الدین خپل دری څلور چارواکې راوغوښتل او هغوی ته یې وویل: صلیبیان زمونږ په لومه او جال کې انشاء الله راتلوونکی دی ، د کلا شاته چې مونږ څومره خالی ځای پریښی هغه نور هم پراخه کړی، ښی او چپ اړخونه دي قوی کړی او دښمن دی منځ ته راننباسی، هیڅ غشی ویشتونکی دی پرته له اجازی څخه غشی نو خوشی کوی .

د دی خبرو او احکامو څخه وروسته سلطان صلاح الدین ایوبی څو ګروپونه سپاره او پلی غشی ویشتوونکی د ماښام څخه وروسته هغه ځای ته ولیږل چې د صلیبیانو د برید ځای ته نژدی وه، هغه سیمه هواره هم نه وه او شګلنه هم ، هلته غونډۍ، لوړی او ژوری وی.

سلطان صلاح الدین ایوبی د کماندو ګروپونو مشر او قوماندان هم راغوښتی وُ، هغه ته یې وویل: چې په فلانی لاره باندی د صلیبیانو سامان را روان دی هغه د شپی لخوا تباه کول او ختمول دی ، همداسی څه نه،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمونه یې ورکړل او بیا له خپلي خیمي څخه راووت، پخپل آس باندي سپور شو، د خپل ساتوونکي ډلي څخه یې څه کسان له ځان سره ملګري کړل او د محاذ په لوري وخوځیده .

سلطان صلاح الدین ایوبي ځان غولوونکي سړی نه وُ، هغه له لري څخه د محاصري معلومات وکړ او بیا یې خپلو کسانو ته وویل: د صلیبیانو څخه دا کلا نیول څه اسانه کار ندی، محاصره به تر ډېر وخته پوري روانه وي .

هغه ولیدل چې د کلا د دیوالونو څخه غشي د باران پشان ورول کیږي او دروازې ته رسیدل امکان نلري، د سلطان صلاح الدین ایوبي پوځ د غشو څخه لري وُ، ځوابي غشو ویشتلو ګټه نه درلوده ، سلطان صلاح الدین ایوبي د کلا یو اړخ ته ولاړ، هغه یو راپارونکي حالت ولیده، یو ګروپ سربښندونکو په ډېره تیزي سره غشي په کلا ویشتل، شپږ منجنیقونو د آور غونډاري کلا ته غورځول، په کوم لوري چې غشي او د آور غونډاري تلل هلته هیڅ صلیبي درک نلرلو ځکه هغوی ټول غلي او پټ شوي وه.

سلطان صلاح الدین ایوبي له لري څخه دا حالت لیدلو او ورته ولاړ وه، ځلوېښت سر ښندونکو پخپلو لاسونو کې برچې او کُلنګان نیولي د کلا په لوري یې منډه کړه او د دیوال بیخ ته یې ځان ورسولو- د کلا دیوال د کاڼو او خاورو څخه جوړ شوی وُ، هغوی دیوال سوري کول او ورانول پیل کړل .

د همدې کار لپاره په کلا باندي غشي او د آور غونډاري ویشتل کیدل چې صلیبیان پدې سربښندونکو باندي غشي ونه ولي .

د سلطان صلاح الدین ایوبي د خولي څخه ناڅاپي ووتل: آفرین! خو د هغه سترګې ودریدې چې کله د کلا څخه آواز راغی او څو سرونه د دیوال څخه راښکاره شول، څو لوی لوی بیلران هم ښکاره شول چې په هغوی کې بل شوي لرګي او سکروټې پرتې وې، هغه بیلرونه چپه شول او د هغې څخه سکروټې په مجاهدینو باندي راتوی شوي. نورو مجاهدینو په صلیبیانو باندي غشي ویشتل تیز کړل چې زیات پکې زخمي شول. د دیوال له بلې برخې څخه غشي راغلل او څه مجاهدین یې زخمیان او شهیدان کړل، بیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړو لورو څخه دومره غشي خوشي شول چې په هوا کې د غشو جال جوړ شو، سربښندونکو خپل کار کاوه او دیوال یې سوري کولو خو دا کار دومره اسانه نه ؤ ځکه دیوال ډېر پلن او ډبل ؤ، د دیوال لاندني برخه نسبت پاسني برخې ته پلنه وه، د دیوال په سوري کوونکو باندې غشي نه لګیدل خو د آور سکروټې پرې راپریوتې، د بیلرانو راوړونکي د مجاهدینو څخه روغ نشول تللایې خو هغوی به آور او سکروټې خامخا لاندې راغورځولې. لاندني خلکو د آور په لمبو کې هم کار کاوه او د دیوال سوري کول روان وه، غشي یو پر بل ویشتل کیدل، بلاخره دیوال سوري کوونکي وسوځیدل یوازې څو کسان پداسې حالت کې شاته راغلل چې جامو یې اور اخیستی ؤ خو له پاسه پرې غشي راغلل او په نیمه لاره کې شهیدان شول، هیڅ یو هم ژوندي پاتې نشو. د دې پسې لس سربښندونکي بیا د دیوال په لوري په منډه شول او هلته یې ځان ورسولو. هغوی په ډېره چالاکۍ سره د دیوال څخه ډبرې ځانونه داسې راکاږه کړې وه چې د مجاهدینو په غشو ولګیدل، پر ځای د ویستلې، له پاسه پدوی هم د اور څخه ډک بیلرونه خالي شول خو صلبیانو دې چې شاته وغورځیږي مخې ته راولویدل او په خپل بل شوي اور کې لولپه شول ، د دیوال سوري کوونکو څخه هم څوک ژوندي پاتې نشو.

سلطان صلاح الدین ایوبي خپل آس ته پونده ورکړه او د دې ګروپ قوماندان ته ورغی او ویې ویل: پر تا او ستا په سربښندونکو دې د الله جل جلاله رحمت وي، د اسلام تاریخ به د دې مجاهدینو یاد تل تازه ساتي چې خپل ځانونه یې وسوځول، سمدستي دا طریقه خوشي کړه او شاته راشه، دومره په چټکتیا سره غشي او انسانان مه ختموه، صلیبیان د دې کلا د ساتلو لپاره دومره قرباني ورکوي چې ما د هغې تصور هم نه کولو .

قوماندان وویل: : مونږ به هم داسې قرباني ورکړو چې د صلیبیانو په تصور کې نه راځي دیوال به له همدې ځای څخه انشاء الله نړول کیږي، او تاسې به له همدې لارې څخه کلا ته ننوځي .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: الله جل جلاله دی ستاسې ارمان پوره کړي! خپل مجاهدین خوندی وساته، صلیبیان د باندی څخه حمله کوونکی دي، تاسې به د کلا څخه د باندی جګړه کوی، محاصره کلکه او سخته کړی، صلیبیان به مونږ له لوړی څخه ختموو .

دا مجاهدین شاته راوستل شو خو قوماندان سلطان صلاح الدین ایوبی ته وویل: که د سلطان اجازه وي نو زه به شهیدان راپورته کړم او د هغې لپاره به بیا همدا طریقه غوره کوم .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: ښه ده ! خو هیڅ شهید باید پاتی نشی !

سلطان صلاح الدین ایوبی د هغه ځای څخه ولاړ، مجاهدینو چې شهیدان په څه توګه راپورته کړل هغه خپله یو ولوله راپارونکي او احساساتی حالت و، څکه نور کسان هم پری شهیدان شول، سلطان صلاح الدین ایوبی لری تللی و، هغه به له ځان سره بیرغ نه ګرځولو چې دښمن ته یې ځای څرګند نشي- هغه په یوه غونډۍ باندی وخوت او څملاسته چې دښمن هغه ونه ګوري، هغه ته د کلا دیوال او هغه سیمه ښکاریده چیری چې د هغه پوځ ځای خالی پریښی و، هغه ټوله سیمه ولټوله او معلومات یې تر لاسه کړ .

په همدی معلوماتو کې لمر سترګه پریوتله او ماښام شو. هغه ته احوال راغی چې د هغه د حکم په اساس سپاره او پلی غشی ویشتونکی دی لوری ته را روان دی ، هغه استازی ته وویل: چې قوماندانان دلته راولی، کله چې قوماندانان راغلل نو د کماندوی سربښندونکو مشر هم ورسره وه ، هغه ته سلطان صلاح الدین ایوبی لاره وښودله او په هماغه لوری یې واستولو، بیا یې نورو قوماندانانو ته لارښوونی پیل کړی .

* * *

شپه نیمایی تیره شوی وه چې د آسونو ترپا واوریدل شوه لکه سیلاب چې بند شلولی وی، سپوږمی پوره مکمله او روښانه وه ، د صلیبیانو آسونه او سپاره غونډیو او کمرونو ته نژدی راغلل، د هغوی تر شا اوښ سپاره را روان وه، د هغوی د شمیر په هکله تاریخ لیکوونکی سره مختلف دي،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


لویدیځ تاریخ لیکوونکو د دې پوځ شمیر درې زره لیکلی خو مسلمان تاریخ لیکوونکو د لسو زرو پورې لیکلی خو د هغه وخت د ژوند حالات لیکوونکو د لسو څخه تر پنځلسو زرو پورې لیکلی دی. د دې لښکر قوماندان او مشر مشهور صلیبي جګړه مار ریماند و، دوه تاریخ لیکوونکو د هغه نوم رینالټ لیکلی دی خو هغه ریماند دی، هغه د همدې برید او حملې لپاره له ډېرې مودې څخه د کلا څخه د باندې په دښته کې اړولی وه، هغه په همدې شپه یا سهار وختي د صلاح الدین ایوبي په هغه لښکر باندې برید او حمله کوونکی و چې د کرک کلا یې محاصره کړې وه.

صلیبي سپاره له آسونو او اوښانو څخه ښکته شول، آسونو ته د دانو توبرې او کڅوړې په غاړو کې واچول شوې، سپرو ته حکم وشو چې د خپلو لپاره د اوبو مشکونه او واښه شاته را روان وه، صلیبیانو پلان درلوده چې سپرلیو ته د حملې څخه وروسته په کلا کې اوبه ورکړي.د صلاح الدین ایوبي څارونکو صلیبیان ښه څرګند لیدل او تر سترګو لاندې یې وه، هغوی پدې وپریدل چې دومره څواک به کلا بندۍ او محاصره ماته کړي.

څکه دا د حملې او برید لپاره ځان برابرول وه. هغوی د یو لوی صف او لیکې په شکل کې مخ په وړاندې روان شول. چې کله لومړۍ لیکې او صف حرکت وکړ د شا لخوا څخه پرې د غشو باران پیل شو، په کومو سپرو چې غشي ولګیدل هغوی په آسونه رانسکور شول او ځینې لاندې راپرېوتل، په کومو آسونو چې غشي ولګیدل هغوی بې واکه شول او هر لورې ته وتښتیدل، اوښان چې کله روان شول په هغوی کې ګډوډي او بې نظمي پیل شوه، صلیبي قوماندان هیڅ نه پوهیده چې دا څه وشول او دا ګډ وډي ولې جوړه شوه ؟

هغه د غصې په حالت کې چیغې او نارې پیل کړې. زخمي آسونو او اوښانو داسې واویلا او ګډ وډې پیل کړه چې په ټول لښکر یې ویره او دار .

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوستو. کله چې د سهار روښنایي شوه نو صلیبیان پوه شول چې د سلطان صلاح الدین ایوبي په لومه او جال کې نښتي دي، هغه پدې هم نه پوهیده چې د مسلمانانو شمیر څومره دی خو هغه فکر کاوه چې شمیر به یې ډېر زیات وي نو ځکه د داسې حالت لپاره چمتو نه وُ.

ریمانډ د برید او حملې بندولو حکم ورکړ خو مخکې ګروپ هغې خالیګاه ته ننوتی وه چې د کلا او دوی تر منځ وه او دوی غوښتل هلته ځان ورسوي.

د محاصرې ایوبي لښکر ته لا مخکې خبر ورکړل شوی وُ نو هغوی د دوی د هر کلي لپاره تیار او چمتو وه، کله چې مجاهدینو دوړې او ګرد ولیدلو نو ځانونه یې تیار کړل، کله چې د ګرد څخه آسونه او سپاره راووتل نو مجاهدینو د حملې په شکل او صورت ځانونه برابر کړل او یوه دایره او حلقه یې جوړه کړه.

کله چې صلیبي سپاره د دایرې او حلقې په منځ کې راغلل نو له هرې خوا څخه پرې غازیان راتوی شول نو ایله صلیبیان پوه شول چې هغوی له خپل عمومي لښکر څخه راشلیدلي او لوی لښکر له خپل ځای څخه حرکت هم ندی راکړی.

سلطان صلاح الدین ایوبي د دې حملې او برید واګې پخپل لاس کې اخیستې وه، صلیبیان شاته راتاؤ شول چې برید او حمله وکړي خو هیڅوک هم د حملې لپاره موجود نه وه او هر لورې ته دښته خالي وه خو د اړخونو څخه پرې د غشو باران کیده. صلیبي قوماندانانو خپل لوی لښکر په کوچنیو برخو وویشلو. د سلطان صلاح الدین ایوبي سر ګروپانو د هغه د پلان او حکم سره سم صلیبیانو ته د مخامخ جګړې وخت نه ورکولو پداسې حال کې چې د هغوی سپرلۍ ښې سترې ستومانه او وږې وې. هغوی جنګ ودرولو ځکه هغوی اوبو او ښو ته سترګې په لاره وه او هغه باید تر سهار پورې را رسیدلي وای.

تر غرمې پورې سامان، واښه او اوبه راونه رسیدې، څو سپاره هغې لورې ته وځغلول شول خو په لاره کې د مسلمانانو د غشو ښکار شول، که هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژوندي ولاړ وای نو هم سامان ته نشول رسيدلای ځکه سامان او وابښه د سلطان صلاح الدين ايوبي کماندويانو لخوا څخه تر حملې لاندې راغلي وه، هغوی په سامان باندې د شپې حمله وکړه او ټول سامان يې تباه او برباد کړ. صلاح الدين ايوبي د خپل خوندي او محفوظ لښکر څخه څه ګروپونه راوبلل او د ريمانډ لښکر يې تر محاصرې لاندې راوست .

که د مسلمانانو شمير د صليبيانو په اندازه وای نو هغوی پرې حمله کوله او هغوی يې تباه کول .

هغه خپل غازيان له لاسه نه ورکول، هغه صليبيان په جګړه جګړه کې د غونډيو او کمرونو منځ ته راوستل او محاصره يې کړل، هغه پدې پوهيده چې څومره وخت تيريږي صليبيان به ناکاره کيږي، هغه سره د دې چې صليبيان يې په بری سره کلا بند کړی وه خو هغه ته هم زيان رسيده .

هغه چې د صليبيانو لوی لښکر محاصره کړی ؤ نو خپل څو ګروپونه يې هم هلته بوخت وه ځکه نو هغه دا ګروپونه په بل ځای کې نشول پکار اچولی . پدی کندو کې اوبه وي چې د څه وخت لپاره څارويو او انسانانو ته بس کيدی، د پوځيانو لپاره د آسونو غوښې کفايت کولو، د دې څخه وروسته سلطان صلاح الدين ايوبي د ښار مکمله محاصره او کلا بندی پيل کړه، صليبيان په کلاره نه کيناستل، هره ورځ به کوچنی کوچنی جګړې کيدی او ورځې همداسې تيريدی، سلطان صلاح الدين ايوبي د کلا ګرد چاپيره ګرځيده ترڅو داسې ځای پيدا کړي چې د کلا ديوال ونړوی .

***

د محاصرې شپاړسمه يا اولسمه ورځ وه، صلاح الدين ايوبي ماښام په خيمه کې د خپلو مرستيالانو سره ناست ؤ او پدې خبره يې غور کولو چې د کلا ديوالونه په څه توګه نړولی شو، په همدې وخت کې پيره کوونکی راغی او ويې ويل چې د سوډان څخه استازی راغلی!

سلطان صلاح الدين ايوبي سمدستی وويل: دننه يې راوليږه! بيا يې وويل: الله جل علی شانه دې خير کړی چې ښه خبر يې راوړی وی .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



استازي خیمی ته راننوت نو سلطان صلاح الدین ایوبی وپیژندلو چې دا استازی نه بلکې د پوځ قوماندان دی .
هغه ته یې وویل: کینه!کوم ښه خبر دی راوړی؟
قوماندان سر وښورولو او بیا یې وویل : خبر د ستر او اعلی سپه سالار لپاره هم ښه دی او هم خراب ! مونږ چې د فتحی په نیت سوډان ته لاړ و هغه ونشوه نو دا یې خراب اړخ دی او ښه پدی دی چې مونږ تر اوسه پوری ماتی هم نده خوړلی او پشا شوی نه یو.
سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : د دی څخه معلومیږي چې د ماتی او پشا کیدو اثار هم ځرګند شوی؟
قوماندان وویل: بالکل ځرګند دی! زه ستا څخه د حکم اخیستلو لپاره راغلی یم چې مونږ څه وکړو؟ مونږ ته مرسته بالکل ضروری او اړینه ده، که زمونږ سره مرسته ونشي نو پشا راتلل مو حتمی دی .
سلطان صلاح الدین ایوبی د ټول پیغام اوریدلو څخه مخکې هغه ته خوراک او څښاک راوغښتلو او بیا یې ورته وویل: خوراک او څښاک هم کوه او خبری هم .
کله چې سلطان صلاح الدین ایوبی کرک او شوبک ته راتللو نو خپل ورور تقی الدین یې خپل نائب او مرستیال ټاکلی وه او د مصر امیر او د هغه ځای د پوځ مشر هم هغه د مصر او سوډان په پوله باندی د فرعون د وخت په کنډوالو کې د صلیبی وران کارو او دهشت ګردو یوه ډله د خپلو ډرامو او ورانکاریو د پلانونو سره یو ځای نیولی وه نو ځکه یې سمدستی په سوډان باندی برید وکړ چې کیدای شي د دی ورانکاری ډلی تر شا سوډان ولاړ وي او غواړي په مصر باندی برید وکړي. سلا کارانو او پوځی مشرانو هغه ته وویل : چې لومړی د سلطان څخه پدی هکله اجازه وغواړه او بیا برید وکړه خو تقی الدین هغوی ته وویل: چې زما ورور اوس د صلیبیانو د یو لوی لښکر سره په جګړه بوخت دی نو د هغه اندیښمن کول ندی پکار،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د احساساتو تر تاثیر لاندی برید وکړ خو اوس قوماندان دا احوال
ټول ترې وایه، ځکه تقی الدین هم دغه پریکړه کوله، چې په ټپ کې وکړ. او په تلل ځرګند معلومیږي .
راوړي وه چې ماتی او پشا تلل څرګند معلومیږي .
تقی الدین د عام استازی پر ځای پوځی سړی ځکه رالیږلی ؤ چې سلطان
صلاح الدین ایوبی ته ټوله مسئله په فنی توګه وړاندی کړی او په ټولو خبرو
يې خبر او پوه کړی، سلطان صلاح الدین ایوبی ته دومره خبر مخکې
رسیدلی ؤ چې تقی الدین حمله کړی .
قوماندان د سوډان پیښی سلطان صلاح الدین ایوبی ته دا ډول بیان کړی
: تقی الدین حقایقو او ځمکنی واقعیتونو ته ونه کتل او د احساساتو په
اساس يې د حملی حکم ورکړ ځکه په هغه کې هم هماغه جذبه، احساس او
ولوله وه کومه چې د هغه په ورور سلطان صلاح الدین ایوبی کې وه خو د
دواړو وروڼو تر منځ په جنګی پوهه او هوښیاری کې توپیر موجود ؤ .
تقی الدین چې کومه فیصله کړی وه هغه په پاک نیت د اسلامی
احساساتو په اساس ولاړه وه خو هغه دا حقیقت هیر کړی ؤ چې جهاد یوازی
دی ته نه وایی چې په پټو سترګو په دښمن ور ودانګی، هغه په سوډان او
مصر کې د خپلو څارونکو او جاسوسانو را پورونه هم په نظر کې ونه نیول،
یوازی دا خبره يې په غوږ کې ناسته وه چې صلیبیان سوډانیانو ته روزنه او
ټرینګ ورکوي او هلته د حملی او برید لپاره تیاری نیول شوی دی .
تقی الدین غوښتل دښمن د تیاری په حالت کې ختم کړی خو هغه د
دښمن ځواک او زور معلوم نکړ چې هغوی څومره ځواک لری؟ څومره کسان
به د جګړی ډګر ته راوړاندی کوي؟ او څومره به د احتیاط لپاره ساتی، د
هغوی سپاره او پیاده به څومره وي؟ تر ټولو مهمه مسئله دا وه چې د جګړی
میدان به څومره لری وي او هلته به خوراک او سامان څه ډول رسول کیږی .
دوه خرابی په لومړی وخت کې راپیدا شوی :
لومړی دا چې سوډانیانو او صلیبیانو په پوله او سرحد باندی د تقی
الدین مخه ونه نیوله، هغوی ورته تر هغې پوری د سوډان په دننه کې د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرمختګ اجازه ورکړه چې لوی دښتی او صحراء ته ورسیده چې هلته هیڅ اوبه نه وی .

دویمه خرابی دا وشوه چې د مصر پوځ او لښکر د صلاح الدین ایوبی د چلونو او پلانونو په اساس جنګیده چې ډېر لږ پوځ به لویو لویو لښکرو ته ماتی ورکوله، دا پوځ یوازې هماغه استعمالولای شو نه بل چا.

صلاح الدین ایوبی تل د مخامخ جګړې څخه ځان ساتلو، هغه به خوځنده جګړه کوله، تقی الدین د پرمختګ کوښښ کولو ځکه پدی لښکر کې سرښندونکی کماندویان هم موجود وه خو د دی پوځ جنګول او استعمالول یوازې د صلاح الدین ایوبی کار وُ. په سوډان کې هغوی داسې راګیر شول چې دښمن پری چلونه استعمالول او دوی هیڅ هم نشول کولای، دښمن تقی الدین د خپلې خوښې میدان ته راوستلو او بیا یې پری د سلطان صلاح الدین ایوبی پشان ګوریلایی او غل چکی بریدونه پیل کړل، د تقی الدین غازیانو او د لښکر څارویو ته څاڅکی اوبه هم نه رسیدلی، کماندویانو ورته وویل: چې مونږ پدی لوی بیابان او دښته کې خوشی کړه چې خپل ښکار وکړو خو هغه ورته اجازه نه ورکوله داسې نه چې مرکز او قومانده ختمه شي او ټول تیت پترک شی .

کله چې د سامان او خوراک خبره رامنځ ته شوه نو ټولو دا احساس وکړ چې دومره لرې ځای او د جګړې میدان ته شیان را رسول څو ورځی غواړي او بیا د هغې امنیت او خوندیتوب هم ګران کار دی ځکه لاره ډاډمنه نده. همداسې وشول چې د سامان لوړی کاروان دښمن د ختمولو پر ځای له ځان سره بوتللو، د دی خبر په اوریدو سره د کماندویانو د قوماندان او تقی الدین تر منځ سختتی خبری هم وشوی، د کماندویانو قوماندان ورته وویل: چې مونږ د جګړې لپاره راغلی یو او حتمًا به جنګیږو خو داسې نه چې دښمن به پر مونږ حملې کوي، سامان به الووزوي او مونږ د مرکز په هیله همداسې چوپه خوله ناست وُ. تقی الدین د حکم په بنسټ هغه ته سخته خبره وکړه نو قوماندان ورته وویل: ته تقی الدین یې، صلاح الدین نه یې، مونږ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه طریقه او جذبه جنګېږو کومه چې سلطان صلاح الدین ایوبی مونږ ته ښودلی، مونږ کماندویان یو د دښمن ګېډې ته ننوځو او د هغوی ګېډې څیرې کوو. ستا دا لښکر له لوږې او تندې مړ کیږي او سامان ټول دښمن وتښتولو، مونږ پدې عادت شوي یو چې د دښمن په سامان خپل لښکر ساتو.

تاریخ لیکوونکی لیکی چې پدې خبرو د تقی الدین په سترګو کې اوښکی راغلی، ځکه هغه پدې پوهیده چې دا قوماندان د کومې ولولې او احساس په اساس خبرې کوي، تقی الدین په احساساتی توګه وویل: زه د الله جل جلاله له عذاب څخه ویریږم او له فلسطین څخه په ډېر امید راغلی مسلمانان هسې د مرګ خولې ته نشم ننباسلی.

قوماندان وویل : نو بیا تاسې باید دا حمله او برید نه وای کړی!

په مونږ کې څوک د الله جل جلاله په لاره کې سرښندلو ته تیارنه دی، مونږ اوس د مرګ خولې ته راغلی یو! او دا د مسلمانانو شان دی چې کله د مرګ خولې ته رانژدې شي نو خپل ځان خپل رب ته نژدې بولی، تاسې د احساساتو څخه راووځی مونږ د دښمن په لومه او جال کې راګیر شوی یو.

تقی الدین دومره بې عقل او ناپوه هم نه ؤ بلکې هغه ته د خپل ورور دا خبرې یادې وې چې خپل ځان به پادشاه نه ګڼی او د جګړې په میدان کې به د پادشایانو په شان حکم نه ورکوي، په خپلو غلطیو به پرده نه اچوی ځکه نو هغه د قوماندان دا سختې خبرې سپین سترګی توب ونه ګڼلو بلکې سمدستی یې ټول قوماندانان راوغوښتل او د راتلوونکی حالاتو په هکله یې بحث او خبرې پیل کړې فیصله وشوه چې کماندویان دې هر لورې ته د عملیاتو لپاره خپاره شي، د سامان راتللو لارې دې هم کماندویان د خپل کنټرول کې راولی، پوځ باید په درې برخو وویشل شي او د درې لورو څخه په دښمن باندې برید وکړي، تقی الدین چې کوم احتیاطی پوځ ساتلی ؤ هغه هم ډېر کم ؤ، د دې ویش فایده دا شوه چې لښکر د هغو برخو څخه ووتلو چیرې چې اوبه نه وې. د شګو او غونډیو دریاب ؤ چې پوځ پکې خپور شو. دښمن پدې درې برخو هم حملې پیل کړې او هغوی یې نور هم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره خپاره او جلا کړل، ځانې زيان ډېر زيات شو، قوماندانانو خپل ګروپونه سره جلا جلا کړل او بيا يې داسې جګړه پيل کړه کومه چې صلاح الدين ايوبي ورته روزنه ورکړې وه خو ښکاره معلوميده چې دوی دا جګړه نشي ګټلی، هغوی خپل احساسات او ولولې پخپل ځای وساتلې. د سامان رارسيدل اوس له نظره وغورځول شول نوهغوی په دښمن باندی بريدونه کول او له هغه ځای څخه يې سامان لاس ته راوړلو.

کماندويانو په پوره سربښندنه په دښمن حملې کولې او هغوی ته يې پوره زيان اړولو، څه به چې پلاس ورتلل هغه به يې نورو مجاهدينو ته رسول.

مرکزی قومانده ختمه شوې وه. تقی الدين د خپلو کسانو سره يوې او بلې خواته کوښښ کولو، د احساساتو تر پولې پورې هغه پوره ډاډه وُ، هغه ته له هيڅ لورې هم دا خبر نه وُ راغلی چې کوم غازی يا کوم ګروپ تسليم شوی او يا يې وسله غورځولې ده. جګړه وړو وړو ګروپونو ته وويشل شوه او په نيمايي سوډان کې خپره شوه، د سلطان صلاح الدين ايوبي لښکرو هر قوماندان له ځان سره دا فيصله وکړه چې ټول به کماندوی جګړې کوی خو له سوډان څخه به نه وځي دښمن ته هم زيان رسيده، داسې حالت هم راغی چې دښمن ورخطا شو چې اوس به له سوډان څخه مسلمانان څه ډول وباسي.

غازيان هر لورې ته خپاره شوی وه، اوس مرکز او اعلی سپه سالار ته دا پته نه لګيده چې زمونږ ټول زيان څومره شويدی او څومره غازيان ژوندی پاتې دي خو د دې خبری معلومات ورته کيده چې دښمن ته هم زيات زيان رسيدلی او بيا په مصر باندی تر ډېر وخته پورې حمله نشي کولای. پدې ډول جګړه باندی کومه ګټه هم نه رسيدله ځکه چې کوم ځای پری نه نيول کيده او لښکر ته ځانی زيان هم رسيده.

په همدی حالاتو کې تقی الدين سلطان صلاح الدين ايوبي ته د خپل يو قوماندان پواسطه احوال وليږلو، هغه ويل چې يوازې په يو صورت کې فتح او کاميابي لاس ته راتلای شي چې هغې پوځ ته مرسته او کومک ورسيږي. ټول پوځ خپور او پراخه شوی وُ د هغوی د برې لپاره نور پوځ او لښکر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړتیا وه، تقی الدین له سلطان صلاح الدین ایوبی څخه دا هم غوښتی وه که چیری مرسته نشی راتلای نو ایا خپل پوځ راټول او له سوډان څخه راوځی؟ په مصر کې چې کوم پوځ پاتی ؤ هغه د پولو او سرحداتو لپاره هم کافی نه ؤ نو د هغې محاذ ته لیږل هیڅ امکان نه درلوده.

سلطان صلاح الدین ایوبی د پښا تګ سره عادت نه ؤ نو ځکه هغه ته دا فیصله کول ګران شول چې اوس وروړ ته څه ډول حکم او سلا ورکړی خو هغه حقایق په نظر کې ساتل ځکه هغه پدی حالاتو کې هیڅ ډول مرسته نشوه ورکولای، هغه خپله مرستی ته اړتیا لرله ځکه هغه د صلیبی یرغلګرو سره په جګړه بوخت ؤ. نو ځکه په ژور فکر او سوچ کې پریوت.

* * *

د تقی الدین قوماندان سلطان صلاح الدین ایوبی ته د جګړی حالات بیان کړل خو د صلیبی داړه مارانو د هغو ورانکاریو په هکله یې هیڅ هم ونه ویل چې هغوی د اسلامی هیواد او اسلامی امت په خلاف پیل کړی وه. کیدای شي چې قوماندان ته به هغه حالات معلوم نه وه ځکه چې ډېر وروسته هغه رسوا شول.

د تقی الدین پوځ په داسې کوچنیو کوچنیو ګروپونو وویشل شو چې شمیر یې لس لس کسانو ته رسیده. په ځینو برخو کې د کوچیانو کږدی، چوپالونه او جونګړی هم وی، په ځینو سیمو کې شنه چمنونه، ونی او اوبه هم وی خو زیات نه بلکې ټوله سیمه وچه او د شګو دریاب ؤ.

یو ماښام دری غازیان خپل مشر او قوماندان ته راغلل چې دوه پکې زخمیان هم وه، هغوی وویل: چې زمونږ ګروپ ټول دوه ویشت کسان وه چې یو قوماندان او پاتی غازیان وه، د ورځی دا ګروپ چیری پټ وو، د هغوی قوماندان د ورځی داسې ګرځیده لکه چې پیره کوی یا دا چې چاته سترګی په لاره دي. پدی وخت کې یو سوډانی اوښ سپور راپیدا شو او کله یې چې قوماندان ولیده نو تم شو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوماندان ورغی د هغه سره یې خبری وکړی خو معلوم نشول چې څه خبره به یې ورسره کړی وی خو قوماندان مونږ ته وویل چې اوښ سپور هغوی ټول خپل کلی ته بللی یاستي، د شپی به د کلی خلک مونږ میلمانه کوي او د دښمن کوم ځای به هم ورته په ګوته کوي. پدی خبره ټول غازیان خوشحال شول ځکه هغوی ته د میلمستیا سره سره د دښمن سره د جګړی وخت هم پلاس ورتللو، د لمر پریوتو سره جوخت دا ګروپ د هماغه کلی په لوری وخوځیده، کله چې ټول هلته ورسیدل ګوري چې دری جونګړی دي چې چار چاپیر یې ونی او تر مخ روانی اوبه هم وی.

غازیان د جونګړو څخه د باندی په شګو باندی کیناستل خو قوماندان یوی جونګړی ته ننوت، مشغلونه بل شول او ټولو غازیانو ته خوراک او څښاک ورکول شو، قوماندان د جونګړی څخه بهر راووت او غازیانو ته یې وویل چې ټول ویده شي چې بیا به د حملی لپاره راپاڅول شي.

په هغو کې دری کسان چې خپل مشر قوماندان ته راغلی وه یو پکی د شپی ویده نشو یا دا چې سترګی یې پرانستی هغه په یوه جونګړه کې د ښځو خنداګانی واوریدی، دی غازی هغې جونګړی ته ور وکتل ګوری چې قوماندان د دوه ښکلو او ښایسته نجونو سره ټوکی ټکالی کوی، شراب یې ترمخ پراته وو، نجونی په اطرافی جامو کې وی خو اطرافی نه معلومیدی.

غازی د باندی خپ خپ اوازونه واوریدل چې یې وکتل نو ډېر خلک دی لوری ته را روان او په لاسونو کې یې توری او برچی دي غازی د جونګړی یو لوری ته پټ شو تر څو د دی خلکو له حال څخه ځان خبر کړی، د راغلو خلکو څخه یو جونګړی ته ننوت او وی ویل: څرنګه وروره! کار پیل کړو؟

قوماندان ورته وویل: تاسې راغلی؟ ټول ویده دی، سمدستی یې ووژنی، پدی سره نجونو په کړس کړس وخندل.راغلی خلک په ویدو او بی خبره غازیانو ورپریوتل، ځینی په خوب کې په شهادت ورسول شول کوم چې رابیدار شول هغوی جګړه وکړه. دوه غازیانو تیښته وکړه او کوم غازی چې د جونګړی خواته پټ شوی ؤ هغه هم ورسره یو ځای شو او دری واړه په یو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


لوري روان شول خو د هغه دواړه ملګري زخميان وه. هيڅوک د هغوی پسې رانغلل ځکه چې تياره شپه وه او هغوی چا ونه ليدل، دا ځرګنده نشوه چې قوماندان اوښ سپاره بې لارې کړي و او که له مخکې څخه يې د دښمن سره لاره جوړه کړې وه او د خپلو غازيانو لپاره وخت کتلو، د دې پيښې څخه دا معلومات وشو چې دښمن د غازيانو د ختمولو لپاره له جګړې څخه بر سيره نورې لارې هم کتلې او د ښځو څخه هم پدې لاره کې کار اخلي.

دښمن د انساني فطرت له غريزو او خواهشاتو څخه کار اخيستلو ځکه پداسې دښتو او بيابانو کې انسان د خپل خواهش د پوره کولو لپاره په تلوسه کې وي .

دښمن هم د خپل پوځ پوسيله غازيان لټول او هم يې د هغوی په خلاف پټ جنګ پيل کړی و. کله چې څو داسې پيښې وشوې نو غازيان يې پوه کړل چې د چا په جال او لومه کې پرينوځي .

د دې پيښو څخه يوه داسې هم وه چې د غازيانو قوماندان عطا الهاشمي په يو ځای کې ناست وه، د هغه ټولي په څو کوچنيو ګروپونو ويشل شوې و. دا د مصر څخه د سامان راتللو لاره وه، عطا الهاشمي د خپل ګروپ پوسيله چې شمير يې تر سلو هم کم وه ټوله لاره خوندي ساتلې وه، هغه د دښمن په حمله کوونکې ډلې باندې ډېرې سختې حملې وکړې او هغه يې له ختمولو لپاره ډېر کوښښ وکړ خو پرته د څو غازيانو شهيد کولو څخه يې کاره وغورځول ، هغوی به ناڅاپي په دښمن ورپريوتل، دښمن د هغوی د بل کار ونشو کړای .

عطا الهاشمي د غونډيو په منځ کې ناست و، د هغه سره شپږ اوه غازيان هم وه، دا د هغوی مرکز و، هغه يو بوډا سړی د دوه اطرافي نجونو سره وليده، نو هغه درې واړه دوی ته نژدې راغلل ،نجونې سوډاني معلوميدې خو جامې يې اصلي نه بلکې بدلې وې، د هغوی په څيرو باندې ګرد او دوړې وې، غمجن او انديښمن معلوميدل، نجونې د بوډا شاته پټې شوې چې دا د شرم او حيا ځرګندول وه. هغه سړی په نيمه مصري او نيمه سوډاني

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبه وویل: چې مونږ مسلمانان یو او دا دواړه زما لورګانی دي، هغوی د لوږي څخه مړی کیږي، نو د خوراک او څښاک لپاره یې څه وغوښتل .

عطا الهاشمی د سوډان په ژبه پوهیده، هغه کماندو ؤ، هغه د کماندوی حملو د برې لپاره سوډانی ژبه یاده کړی وه، د هغه سره د خوراک او څښاک کمی نه وه، څکه دوه دری ځلی د سامان کاروان تیر شوی ؤ نو هغه ورڅخه د خپلو غازیانو لپاره پریمانه شیان اخیستی وه ترڅو هغوی خپل کار په ښه توګه سرته ورسولی شي. هغوی دری واړو ته یې خوراک او څښاک ورکړه او بیا یې ورڅخه وپوښتل چې هغوی له کوم ځایه راغلی او اوس چیری تلوونکی دي؟ هغه سړی ورته د یو کلی نوم واخیست او بیا یې وویل: چې زمونږ کلی په جګړه کې راګیر شوی چې کله ورته مسلمانان راغلی او کله سوډانیان هغوی د خوراک شیان په کور کي نه پریښودل، هغه به د پوځیانو څخه خپلی لورګانی هم پټی ساتلی خو نور په تنګ راغی او د کور څخه راووت، هغه د خپلو لورګانو عزت خوندی ساتی، هغه وویل: چې زه مسلمان یم او غواړم مصر ته ولاړ شم خو اوس حالات بالکل خراب دی .

بیا یې عطا الهاشمی ته وویل : که ممکن وی د حالاتو تر ښه کیدو پوری دوی ستاسی سره پاتی شی نو دا په دوی ستاسی لوی احسان وی او د مسلمان شان دی چې د مظلوم مرسته په هر ځای کې د خپل طاقت او قدرت په اندازه کړی او کوی .

عطا الهاشمی ځواب ورکړ ترڅو چې زه دلته وم تاسې دری واړه به ساتم!

بوډا سړی وویل : تاسې دا دواړه زما لورګانی درسره وساتی او زه درڅخه ځم ترڅو خپل څاروی می چې د شپون سره امانت پریښودی دی خرڅ کړم او دوه دری ورځی وروسته بیرته راځم !

یوی نجلی په معصومه ژبه وویل: زه چې ستاسې ژوند ته ګورم نو ډیره حیرانیږم چې څومره سخت ژوندی مو دی! ایا ستاسې خپل بچیان او کورنۍ نه یادیږي؟

عطا الهاشمی وویل: ټول رایادیږي خو زه خپل مسئولیت نشم هیرولای !

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې معلومیده چې نجونې د خوراک او څښاک څخه وروسته تازه او روغې شویدې، یوه غلې ناسته وه خو بلې خبرې کولې، هغې چې څومره خبرې کولې په هغې کې د عطا الهاشمي او د هغه د غازیانو لپاره د مرستې او ملګرتیا خبرې وې.

نجلې وویل: چې تاسې د خپل وطن څخه دومره لرې خپل ځانونه بربادوی - په دې خبره عطا الهاشمي ناڅاپي ودریده او خپلو ملګرو ته یې وویل: د دې سړي پښې په رسۍ وتړۍ او بیا یې زما په آس پورې کلک کړی، غازیانو د هغه پښې کلکې وتړلې او بیا یې په آس وتړلو او هغه یې خلاص کړ.

عطا الهاشمي یو غازي ته وویل: چې په آس سپور شي، هغه غازي سپور شو، عطا الهاشمي دواړه نجونې یو ځای جوختې ودرولې او دوه غازیان یې د غشو سره راوغوښتل، غازیانو ته یې وویل: چې هغوی غشې په لیندو کې کیږدې او د نجونو تندې په نښه کړې بیا یې آس سپاره غازي ته وویل: چې ځان منډې ته چمتو کړي.

په آس پورې تړلي سړي پدې ښه پوهیده چې آس منډه کړي نو د ده به بیا څه حالت کیږي.

عطا الهاشمي هغې درې واړو ته وویل: زه یوازې یو ځل تاسې ته وایم چې خپل ځان سم راوپیژنۍ او خپل مقصد بیان کړې کنه بیا د بلې خبرې وخت نه درکول کیږي.

چپوالي په ټولو خپور شو، دواړو نجونو خپل ملګري ته وکتل چې د آس پورې تړلې شوی په خمکه پروت و، درې واړو په سترګو کې سره سلا مشوره وکړه نو سړي وویل: زه خپل ځان معرفي کوم!

عطا الهاشمي ورغی او په خوا کې ورته کیناسته وویل: که ریښتیا بیان دې وکړو نو بیرته دې خوشې کوم!

هغه سړي عطا الهاشمي ته وویل: او د کانړي پشان سړیه! زه د ګلانو پشان دوه نازکې نجونې تاته خوشې کوم او ته هغه په غشو باندې ولې! هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د ځان سره وساته او لری ځای ته لاړ شه که دا بیه درته کمه ښکاري نور څه وغواړه هم یې درکولای شم!

که د سرو زرو غوښتنه دی وکړه د ماښام څخه مخکې یې درته رارسوم!

عطا الهاشمی پورته شو او آس سپور غازی ته یې وویل: چې آس څو ګامه وړاندی بوځه !

آس روان شو نو سوډانی چیغی کړی عطا الهاشمی حکم وکړ چې آس تم کړه ! بیا هغه سړی ته ورغی او ورته وی ویل : سمه خبره وکړه! هغه سړی ومنله چې زه د سوډان جاسوس یم او صلیبیانو راته روزنه او ټرینګ راکړی، د نجونو په هکله یې وویل : چې هغه مصریانی دی خو صلیبیانو د ورانکاری لپاره روزلی دی .

عطا الهاشمی د هغه پښی راخلاصی کړی او بیا یې ځینی پوښتنی ورڅخه وکړی .

بوډا وویل: چې مونږ ته دا دنده سپارل شوی چې د نجونو او سرو زرو په واسطه په سوډان کې خپاره شوی مجاهدین ووژنو او یا یې خپل ملګری کړو که داسې ونشی نو ژوندی یې خپلو کسانو ته په لاس ورکړو.

بیا یې وویل : چې تاسې د کاروان لاره داسې کلکه ساتلی چې صلیبیانو سره د ټولو کوښښنو هغه تر خپلی ولکی لاندی رانه ویستلی شوه، نو هغه ته د دی نجونو سره یو ځای وظیفه وسپارل شوه چې عطا الهاشمی خپل کړی یا دا چې ژوندی یې راولی او که نه کیده نو وی وژنی - خو زه حیران یم چې تاسې د دی ښکلو نجونو په لیدلو هم زمونږ د خبرو اترو اثر لاندی رانغلی او سمدستی راباندی پوه شوی نو ای مجاهده ! ولی تا دا دوه ښکلی نجونی قبولی نکړی؟

عطا الهاشمی ورته وخندل او بیا یې وویل: زما ایمان او عقیده دومره خامه او کمزوری نده چې پداسې شیانو خرابه شي!

عطا الهاشمی دواړه نجونی هم راوغوښتلی، زیاتی خبری کوونکی نجلی وویل: چې زمونږ سره به اوس څه رویه او چلن کیږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


عطا الهاشمي ورته وويل: چې سبا سهار به هغوی خپل مشر سالار تقي الدين ته استقبال کيږي، هغه دري واړه خپلو غازيانو ته وسپارل او ورته يې وويل چې جلا جلا يې سره وساتي، کله چې د هغوی لټون او تالاشي واخيستل شوه نو د دري واړو څخه خنجرونه راووتل او د سړي سره يوه پوړی پوډر هم وه چې په هغې کې حشيش ترل شوی وه.

لمر پريوتو چې د هغه د ټولي يو ګروپ را ورسيده، هغه خپل غازيان هر لوري ته خپاره کړي وه، هغه ټولو ته وويل: چې دا ورانکاري جاسوسان دي، کيدای شي د هغوی ملګرو ته معلومه شي چې دوی نيول شوی نو د هغوی د خلاصولو لپاره حمله کيدای شي، د دی خبرو څخه وروسته هغه ويده شو، هغه ځای لوړ او ژور وؤ، هغه د خوب څخه مخکې وکتل چې دري واړه په څه حالت کې پراته دي، هغه د غونډی په يو اړخ کې پريوت چې خپلو ملګرو نشو ليدلای، هغه سمدستي ويده شو خو لږ وروسته رابيدار شو او په ذهن کې يې دا وګرځيده چې دا دوه نجوني څومره ښکلی او څومره معصومی دي او صليبيان هغوی څومره خرابی استعمالوی. که دا دواړه په کوم مسلمان کور کې پيدا شوی وای نو هغوی به د ښکلو ناوؤ په شان واده شوی وای، هغه ته خپله ميرمن ورپه ياد شوه چې په څه ډول د هغه کورته را واده شوه، د هغه په خيال او تصور کې خپل ميرمن راغله او د ډرامی پشان حالت ورته پيدا شو، هغه د خيالونو او تصوراتو په دنيا ورګډ شو، پدی ورانه او ويجاړه دښته کې دی خيالونو او تصوراتو په هغه باندی نيشه راوسته، پداسې دښتو او بيابانونو کې مجاهدين په همداسې خيالونو کې خپل وخت تيروی.

پدی وخت کې سپوږمۍ راوختله او هر لوري ته روښنايي خپره شوه، هغې د جادو پشان کار وکړ او هر لوري ته يې داسې اثر ورغورځولو چې د مرګ خطر د خلکو له ذهن څخه وځي.

عطا الهاشمي راپورته شو او په هغه لوري ولاړ کوم ځای کې چې دواړه نجونی پرتی وی، هغه پداسې شکل ولاړ لکه خپل کسان کوری او حالت يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلوموي . هغه دواړه نجونې يو ځای پرتې وې شا او خوا يې مجاهدين پراته وه .

د نجونو ملګرې د دوه دری غازيانو په حلقه کې پروت وُ، عطا الهاشمي پخپله پښه د يوې نجلۍ پښه زور کړه نو د هغې سترګې خلاصي شوې، هغې وېیژانده نو راپورته شوه، د عطا الهاشمي سره روانه شوه، نجلۍ پدې ډېره خوشحاله وه چې قوماندان د هغې د حسن او ښکلا تر جادو لاندې راغی نو په خوښۍ ورسره روانه شوه، هغه خپلو همسنګر ملګرو ته کتل چې په څومره بې پروايي سره ويده دي چې يوه نجلۍ ورڅخه پورته کړی شوه او دوی پرې خبر هم ندی. هغه د غصې پر ځای پخپلو کسانو رحم راغی چې پداسې دښتو او بيابانونو کې جګړه کوی، هغوی پرته له الله جل جلاله څخه د بل چا تر کنترول او څارنې لاندې نه وه ځکه چې مرکز يې ختم شوی وُ .

نجلۍ هغه خپل د ملاستې ځای ته بوتله، د هغې په سر پړونی نه وُ، د سپوږمۍ رڼا د هغې په ويښتانو باندې داسې لګيده لکه چې د سرو زرو تارونه وی، تر ډېر وخته پورې هغه نجلۍ ته کتل او هغې ده ته کتل .

نجلۍ په خمارونکې خندا او اواز سره ووېل : زه پدې حيرانه يم چې ته ولې ويرېږې - ايا ته ماته اړتيا نلرې ؟

عطا الهاشمي ورته همداسې پټه خوله کتل نو نجلۍ د هغه يو لاس راونيولو او پخپلو شونډو يې کېښوده، بيا يې ووېل : زه پوهيږم چې تا ولې زه راوستم.وخت غنيمت وبوله او د فکر او خيالاتو د دنيا څخه بيرون شه ؟

عطا الهاشمي خپل لاس د هغې څخه راخلاص کړ ووېل: زه پدې فکر کوم چې ستا پلار به هم زما پشان يو سړی وی زه هم پلار يم زما او ستا د پلار په منځ کې د اسمان او ځمکې توپير دی !

ستا پلار څومره بې غيرته دی او زه د غيرت ساتلو په خاطر پدې دښتو او بيابانونو کې خپل اولادونه يتيمان او ميرمن کونډه کوم .

نجلۍ ووېل: زما هيڅ پلار نشته! ليدلی به مې وی خو په ياد مې ندی !

عطا الهاشمي وپوښتل : ايا مړ شويدی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجلی وویل :دا مې هیڅ په یاد ندی!

عطا الهاشمي وپوښتل : مور دې څیری ده؟

انجلی ځواب ورکړ: دا می هم په یاد ندی! زما دا په یاد ندی چې ایا زه په کوم کور کې پیدا شوی یم او که په کومه خیمه کې! خو اوس د داسی بی خونده خبرو وخت ندی .

عطا الهاشمي وویل : مونږ سپایان په همداسی خبرو وخت تیروو! زه غواړم ستا په ذهن او تصور کې هم پخوانی یادونه راتازه کړم!

نجلی وویل: زه پخپله یو ښکلی او حسین یاد او خاطره یم! زه چې لږ وخت هم د چا سره تیر کړم هغه می بیا د تل لپاره یادوی خو زما خپل کوم یاد نشته .

عطا الهاشمي ورته وویل : خپل ځان حسین او ښکلی یاد نه بلکې بد او خراب یاد وګڼه! ستا څخه ماته د صلیبیانو سوډانیانو او تش په نامه مسلمانانو د ګناهونو بدی بوی راځی!

ته چې ماته رانژدی کیږې نو ماته کانګی راځی، تا هیڅ نارینه نه یادوی، ستا پشان د ښځو ښکاریان نن دلته او سبا په بل ځای کې وي چې کله ورته دویم ښکار پلاس ورشي لومړی یې له یاده ووځی! ستا دا ښایست او حسن د څو ورځو میلمه دی! ته زما په واک او بند کې یې! زه ستا دا غولوونکی ځیره د تل لپاره بد شکله او بدرنګه کولای شم خو دی ته هیڅ اړتیا نشته! دا دښته، شراب او بدکاری به تا په یو کال کې وخوری او داسې مړاوی ګُل به درڅخه جوړ شی چې خلک به دی بیا لری غورځوی !

دا صلیبیان او سوډانیان به بیا تا لری غورځوی او ته به سوال او خیر غواړې! ته به بیا د ډېرو خرابو او بدو خلکو ښکار شي! عطا الهاشمی داسې اغیزناکی خبری کولی چې د نجلۍ په خیال ذهن او فکر کې طوفان او بدلون راپیدا شو.

مسلمان قوماندان ورته ویل: زما یوه لور ده چې ستا څخه به دوه دری کاله کوچنی وي، د هغی واده به د یو عزت مند ځوان سره کیږي چې زما په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شان به یې په ملا کې توره تړې او په ښکلي آس به سپور وي . هغه به زما په شان د جګړې د میدان شهزاده وي او زما لور به ناوې کیږي، هغه به د خپل خاوند په زړه او کور حکومت کوي ، خلک به زما د لور لیدل غواړي خو هغه به نشي لیدلای، زه به هم په هغې ویاړ کوم، خاوند به یې د هغې سره داسې مینه او محبت کوي چې تر زوړ والي پورې به هم هغه نه ختمیږي بلکې زیاتوالی به پیدا کوي .

ستا د لیدلو لپاره په هیڅوک هم په تلوسه کې نه وي، ځکه چې ته یو لوڅ راز یې ، ستا عزت د هیچا په زړه کې نشته ! او هیڅوک تا د مینې او محبت وړ نه ګڼي.

نجلۍ وویل : ته ولې ما سره داسې خبرې کوې ؟

عطا الهاشمي وویل: زه تا پدې پوهوم چې ستا پشان نجونې او لونې پاکې او مقدسې وي! مونږ مسلمانان لورګانې د الله جل جلاله رحمت او پیغام ګڼو، که د عصمت او عفت په معنا پوه شي نو پر تا به د الله جل جلاله رحمت راووریږي خو پدې نه پوهیږي ځکه ته په هغې مینه او محبت نه پوهیږې کوم چې د روح تل ته ښکته کیږي، ته بد مرغه او بد نصیبه یې ، تا د خلکو هوس لیدلې خو محبت او مینه دې نده لیدلې .

عطا الهاشمي ورو ورو غږیده، د هغه په اواز کې اثر او اغیزه وه، خو نجلۍ پدې حیرانه وه چې دا خو د نورو خلکو په شان نارینه دی او د دې ښکلا او حسن ته هیڅ اهمیت نه ورکوي .

عطا الهاشمي د کانړي پشان سړی هم نه ؤ بلکې په ولولو او احساساتو کې ډوب ؤ .

انجلۍ بې هوسیلې شوه او ویې ویل: ستا په خبرو کې داسې خمار او نیشه ده چې ما په شرابو او حشیشو کې هم نده لیدلې، زه ستا په خبرو نه پوهیږم خو هره خبره زما زړه ته ښکته کیږي .

نجلۍ ډېره هوښیاره وه ځکه چې د ورانکارۍ لپاره هوښیار او ذهین انسانان غوره کیدل، نارینه یې په ګوتو نڅول او ګډول د هغوی د لاسونو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوبه وه او د ماشوموالي څخه پدې هکله روزنه ورکړل شوې وه خو دې مؤمن نارينه د دې زهرجن مار زهر خنثي او بې اثر کړل.

نجلۍ د عطا الهاشمي څخه بيا ډيرې پوښتنې وکړې چې ځينې په دين پورې اړوندې وې، اوس د هغې په خبرو او پوښتنو کې ورانکارۍ نه وه او په طبعي توګه يې خبرې کولې، هغې په اخر کې پوښتنه وکړه! تاسې به ماته څه سزا راکوئ؟

عطا الهاشمي وويل: زه تاته هيڅ ډول سزا نشم درکولای؟ سبا سهار به زه تاسې خپل مشر سالار ته استوم!

نجلۍ وپوښتل: هغه به زمونږ سره څه سلوک کوي؟

عطا الهاشمي وويل: هغه څه به درسره کوي چې کوم زمونږ په قانون او دين کې وي!

نجلۍ وپوښتل: تاسې زما څخه کرکه او نفرت کوئ؟

عطا الهاشمي ځواب ورکړ نه هيڅکله کرکه نکوم!

نجلۍ وويل: ما اوريدلي دي چې مسلمانان د يوې څخه زياتې ميرمنې کولای شي! که تاسې ما خپله ميرمن وګرځوئ، نو زه به ستا دين قبول کړم او تر اخري عُمره پورې به ستا خدمت کوم.

عطا الهاشمي وويل: زه تا خپله لور ګرځولای شم خو ميرمن نه! ځکه چې ته زما په لاس کې مجبوره او بندي يې! ته زما هم په پناه کې يې او هم په بند کې، هغوی په خبرو کې بوخت ؤ.

د نجلۍ ملګرې سړي د درې غازيانو په منځ کې پروت ؤ خو هغه ويده نه بلکې ويښ ؤ، هغه ولیدل چې قوماندان يوه نجلۍ له ځان سره راپورته کړه ورکړي هغه به ووژني يا به يې له ځان سره بوځي. هغه همداسې په ځمکه د نجلۍ د راتللو په هيله پروت ؤ، ډېر وروسته هغه وليدل چې د دې په شا او خوا کې پراته غازيان بې پروا او بې هوشه پراته دي - هغوی بايد بې هوشه او بې سده وای ځکه چې ماښام هغه سپايانو ته په خبرو خبرو کې حشيش

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(چرس) ورکړی وه، د هغه شخه یوه پوړی حشیش ویستل شوی وه خو لږ ځه یې په خپله چپن کې پټ کړی وه، کله چې مسلمانو غازیانو هغه وخښل نو د نه عادت په سبب یې ډېر کلک او سخت بی سده او بی هوشه کړل، سوډانی جاسوس د تیښتی کوښښ کاوه

چې ښه زیات وخت تیر شو او نجلۍ بیرته رانغله نو سړی پوه شو چې نجلۍ هغه لری نشی بیولای نو ځکه باید همدلته ځای پر ځای ووژلی شي، هغه د ویدو او بی سده غازیانو څخه یوه لینده او څو غشی راواخیستل او بیا د قوماندان په لوری ورغلو، د سړی په لوری د عطا الهاشمی شا وه خو د نجلۍ مخ په هماغه لوری وې، هغې هم خپل ملګری نشو لیدلایی ځکه چې هغه د شګو د یوی غونډۍ شاته وې، کله چې هغه سړی رانښکاره شو او لینده یې معلومه شوه پداسې حال کې چې عطا الهاشمی د خپل مرګ څخه ناخبره ناست وې، د هغه خنجر په تیکی او په ځمکه پروت وې.

نجلۍ ناڅاپی خنجر له تیکی څخه راوویست او عطا الهاشمی په هغې ورټوپ کړ چې خنجر ورڅخه واخلی خو نجلی خنجر د خپل ملګری په لوری په ډېره چټکتیا سره وویشت.

واټن او فاصله څو ګزه وه. هلته د آه اواز پورته شو، خنجر د سوډانی جاسوس په شا رګ کې ونښت خو هغه د لیندی څخه غشی خوشی کړ، ځرنګه چې غشی په ورخطا یې سره خوشی شوی وې نو ځکه یې ښه خطا شوه او د عطا الهاشمی څخه بل لوری ته ولاړ او ونښت، هغه چې ولیدل نو غشی د نجلۍ په سینه کې ښتی وې، هغه منډه کړه د غشی د ویشتلو په لوری ولاړ، هلته خنجر د سوډانی په شا رګ کې ښتی وې او هغه د وتلو کوښښ کاوه. چې کله یې خنجر وویست نو راپورته شو، عطا الهاشمی د دی ویری څخه چې په خنجر حمله ونکړي یو دم پورته شو او دواړه لتی یې د سوډانی په سینه ورخوشی کړی او هغه یې لری پرمخ وغورځولو، پدی لتو سره عطا الهاشمی هم وغورځیده خو زر راپورته شو او ودریده، سوډانی بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library


راپورته نشو ځکه د رګ څخه یې وینې راخوټیدې. عطا ورڅخه خنجر واخیست او د نجلۍ په لوري ورغی، نجلۍ د خپل ملګري خوشې شوی غشي په سینه کې نیولې او قلاره پرته وه، هغه تر دې وخته پورې ژوندۍ وه خو د غشي ویستلو کوم بندوبست نه ؤ.

نجلۍ د عطا الهاشمي لاس ونیوه او په لړزیدلې اواز یې وویل: ما ستا ژوند بچ کړ، پدې خاطر خپل الله جل جلاله ته ووایه چې زما روح پخپله پناه کې واخلي ترڅو زما روح زما د بدن په شان پدې دښتو او بیابانو کې سرګردانه او لوغړن نشي، زما ټول عُمر په ګناهونو کې تیر شوی، ماته داد راکړه چې الله جل جلاله به ستا د دې نیکۍ په بدل کې ستا ګناهونه وبښي، زما په سر باندې داسې لاس راکش کړه لکه څرنګه چې یې د خپلې لور په سر راکشوی.

عطا الهاشمي د هغې په سر لاس راکش کړ او بیا یې وویل: الله جل جلاله دې ستا ګناه معاف کړي، په تا باندې خلکو ګناه کړې ته بې ګناه یې، تا ته چا د نیکۍ لاره او روښنایي نه وه ښودلې.

نجلۍ په لړزیدلې او بند بند اواز زر او تیزې خبرې پیل کړې او ویې ویل: د دې ځای څخه لږ لرې د سوډانیانو مرکز دی هغوی غواړي تاسې ټول ووژني، نو ته په غور سره زما خبرې واوره! ستاسې پوځ اوس دومره خپور شوی چې پرته د مرګ او بند څخه بل څه درته نشي په برخه کیدای.

ستاسې د هر قوماندان پسې زما پشان نجونې او نارینه اچول شویدي، تر اوسه پورې ما ستاسې څلور قوماندان وژلي، تاسې د خپل مصر غم وخوري، صلیبیانو هلته ډېر خطرناک او تباه کوونکې پلان جوړ کړی.

ستاسې په پوځ او ملکي چارواکو کې داسې کسان شته چې هغوی د صلیبیانو غلامان او د هغوی څخه کومک اخلي او د هغوی لپاره کار کوي، هغوی ته زما پشان نجونې او سره زر ورکول کیږي.

مصر خو ندې کړه او د سوډان څخه ووځه، د خپل قوم خائنان او غداران او د بل چا غلامان ونیسې، زه د چا نوم نه پیژنم خو څه مې چې یاد وه هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې درته وویل - تاسې لومړنی نارینه یاستې چې ماته مو لور وویل: تا ماته د خپل پلار محبت او مینه راکړه، زه تاته د هغې دا بدله درکوم چې د خطرونو څخه دې خبر وم - خپل خواره ګروپونه راټول کړی او د حملې د بندولو کوښښ وکړی - په دوه دری ورځو کې به په تا حمله او برید کیږي، د فاطمیانو او فدایانو څخه ځان وساتی، هغوی په مصر کې د هغو چارواکو د وژلو پلان جوړ کړی کوم چې د صلاح الدین ملګری او پلویان دی.

د نجلۍ اواز په قلاره قلاره خپ کیده او بیا یې یوه ژوره سا وویستله او د تل لپاره چوپ شوه.

چې کله سهار شو عطا الهاشمی دواړه مړی او ژوندۍ نجلۍ د ځان سره کړل او د تقی الدین په لوری وخوځیده. هغه تقی الدین ته ټول حالات بیان کړل او د مړی نجلۍ اخرینی خبری یې هم ورته وکړی تقی الدین له مخکې څخه ورخطاء او اندیښمن ؤ او پدی خبرو نور هم ورخطاء شو خو وی ویل: زه د خپل ورور د اجازی څخه پرته شاته نشم تللی! ما یو هوښیار قوماندان کرک ته لیږلی دی، د هغه تر راتللو پوری ځانونه کلک کړی.

* **

کله چې سلطان صلاح الدین ایوبی د راغلی قوماندان په خبرو او راپور باندی ښه غور وکړ نو بیا یې خپل مرستیالان او سالاران راوغوښتل او ټول معلومات یې ورته بیان کړ هغه وویل: خپور شوی پوځ بیا راټولول او شاته راتلل هم آسان کار ندی، دښمن به هغوی یو ځای کیدو ته نه پریږدي. پشا تلل به د مصر په پوځ او زما سره پدی پوځ باندی هم بد اثر وکړی او د قوم زړه به مات شي، خو د حقیقت څخه هم سترګی نشو پټولای، خپل ځان ته دوکه ورکول هم خطرناک کار دی، د حقیقت غوښتنه دا ده چې تقی الدین خپل پوځ او لښکر راټول کړی او بیا پشا راشی، مونږ هغه ته مرسته نشو ورکولای. مونږ اوس د کرک محاصره نشو پریښودلای او سوډان ته هم نشو تللایی، زما ورور ډېره زیاته غلطی کړی، ډېر غښتلی پوځ تباه او برباد یږی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو لوړ پوړي چارواکي وویل: دا باید یوه شخصي خبره ونه ګڼل شي! مونږ باید په سوډان کې نور جنګ ختم کړو، د چارواکو او مشرانو د غلطو فیصلو په سبب غازیان بدنامیږي، مونږ باید قوم ته څرګنده خبره وکړو چې په سوډان کې زمونږ د ناکامی سبب پوځ ندی .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: هو! دا زما د ورور غلطي ده او دا زما غلطي هم ده چې ما تقی الدین ته ویلي وه که چیری اړتیا پیښه شي نو زما له اجازی څخه پرته هم عملیات کولای شي، هغه دومره لوی عملیات پرته د پوره معلومات او مکمل پلان جوړولو څخه کړی او خپل پوځ یې د دښمن پلاس کې غورځولی دی . زه خپله غلطي او د خپل ورور غلطي د خپل قوم او سلطان نور الدین زنګی څخه پټول نه غواړم - زه تاریخ ته هم دوکه نه ورکوم، زه به پخپلو لیکنو کې دا ولیکم چې د دي ناکامي علت او سبب پوځ نه بلکې زه او زما ورور وه، که داسې ونه شي نو زما څخه وروسته واکمنان به تل تاریخ مسخه کوی ، زه د اسلامی امت راتلوونکو واکمنانو ته دا نمونه او مثال پریږدم چې خپلې غلطي او ګناهونه په بی ګناه خلکو ونه تپی او بی ګناه خلک ذلیل او سپک نکړی. دا داسیی غلطي او چل دی چې اسلام سپیڅلی دین به د ځمکی په کره کې د پراخوالي پر ځای راغونډ کړی .

د سلطان صلاح الدین ایوبی څیره تکه سره شوه، اواز یې په لړزا شو، داسې معلومیدل چې هغه پخپله خو له د شا تللو ویل نه غواړي، هغه هیڅکله شاته شوی نه ؤ، هغه په ډېرو سختو حالاتو کې هم جنګیدلی ؤ خو اوس حالاتو مجبور کړی ؤ، هغه د تقی الدین قوماندان ته وویل : تقی الدین ته ووایه چې خپل پوځ راټول کړی او د کوچنیو ګروپونو په شکل یې ورسره وکړی چې دښمن دړیسی تر خپل سرحدی پولی او مصر ته را داخل نشی - کوم ګروپونه چې مصر ته را ورسیږي هغوی ټول سره یو ځای کړه که دښمن حمله وکړه چې ټول یو ځای مقابله وکړی. د خوندی پشاتګ لپاره کماندویان پکار واچوه، هیڅ ګروپ د دښمن په محاصره کې مه خوشي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوه زه پښا تلل په اسانه نشم زغملی خو دا اوريدل نه غواړم چې زمونږ کوم ګروپ وسله غورځولی او تسليم شوی وی .

پښا تلل آسانه کار ندی ځکه د پر مختګ ځخه په عزت شاته تلل ګران وی، حالات په نظر کې ساته، د استازو تکړه ټولګی تل د ځان سره ساته، زه ليکلی پيغام نشم دراستولی ځکه په لاره کې خطر دی که ستا استازی ونيول شو نو دښمن ته به معلومه شي چې تاسې تيښته کوی .

سلطان صلاح الدين ايوبی استازی قوماندان ته ډيری لارښوونی وکړی او بيا يې هغه رخصت کړ، د هغه د قدمونو آواز لا اوريدل کيده چې زاهدان خيمی ته راغی او سلطان ته يې وويل : چې له قاهری ځخه استازی راغلی .

سلطان صلاح الدين ايوبی هغه خپلی خيمی ته راوبللو، هغه د جاسوسی اداری چارواکی وُ، هغه د مصر ځخه خطرناک او زړه ماتوونکی خبر راوړی وُ، هغه وويل : چې په مصر کې صليبيانو ډير خطرناک پلانونه پيل کړي، علی بن سفيان شپه او ورځ په هغې کې بوخت وی، اوس حالات داسې شوی چې د پوځی بغاوت خطر پيدا شويدی، پدی خبره د سلطان د ځيری رنګ والوت ځکه که يواځی د مصر غم وايی نو هغه يې پروا نکوله، هغه په ډير خطر ناکو حالاتو کې مصر خوندی ساتلی وُ، د صليبيانو او فاطميانو لوی لوی پلانونه يې خنثی او ختم کړي وه، د سمندر له لاری يې د صليبيانو لوی لښکر ته ماتی ورکړی وه. د خليفه ډ لری کولو ستر او خطرناک ګام يې په پوره کاميابی سره پورته کړی وُ خو کله يې چې کرک محاصره کړ نو پښو ته يې ځنځيرونه پريوتل، که چيری هغه نه وي نو د جګړی نقشه بدليدای شوه، د کلا ځخه برسيره هغه د صليبيانو لوی او خطرناک لښکر په هوار ميدان کې کلا بند کړی وُ، هغه پوځ هر وخت د محاصر د ختمولو کوښښ کاوه او پرله پسی بريدونه يې کول، هلته خونړی جنګونه کيدل .

سلطان صلاح الدين ايوبی د خپلو ويارلو تاکتيکونو په برکت د صليبيانو لپاره افت او بلا جوړ شوی وه ، د ده ځخه پرته د دی جګړی مخ په وړاندی بيول امکان نه درلوده .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل لوري ته د سوډان حالاتو هم مصر ته خطر پیدا کړی او دا یوه اضافي مسئله پیدا شوی وه، سلطان صلاح الدین ایوبي پدې اندیښمن ؤ چې که تقي الدین د تیښتي په حالت کې له سوډان څخه راووت نو صلیبي او سوډاني پوځ به د هغه پسې مصر ته هم راشي او هغه به د مرکز څخه مخکې په لاره کې ختم کړي او مصر به تر خپل کنترول لاندي راولي. په مصر کې چې کوم پوځ موجود ؤ هغه د حملې د منع کولو لپاره بس نه ؤ، د کرک فتح او کامیابي هم ډېر زر امکان نه درلوده، په دوارو خبروکې د قاهري د پوځ د بغاوت خبر په هغه بابندي داسې دروند تمام شو چې د هغه پښې یې ولړځولې، هغه تر ډېر وخته پوري په خیمه کې سر ټیټ نیولی او ګرځیده بیا یې وویل: زه د ټولو صلیبي لښکرو مقابله کولای شم، هغه لښکر هم چې په اروپا کې هغوی ساتلي دي، خو د خپل قوم څو خائنان او غداران ماته ماتي راکوي .

د کفارو دا غلامان او پلویان ولې ځان ته مسلمان وایي؟

شاید هغوی به پدې نه پوهیږي که خپل دین بدل کړي نو بیا به هم صلیبیان هغوی تیل وهي چې تاسې وطن خرڅوونکي یاستي، تاسې پخپل قوم کې اوسي زمونږ څخه کومک اخلی او خپل قوم ته دوکه ورکوي .

بیا هغه غلي شو، د هغه سره چې په خیمه کې کوم کسان ناست وه هغه هم چوپ وه. سلطان ټولو ته په وار وار وکتل او بیا یې وویل: الله تعالی زمونږ څخه ډېر سخت امتحان اخلي! که مونږ ټول په خپله خبره او لاره لپاره دا خبري وکړي خو د هغه څیري داسي څرګندوله چې هغه د خپلو ملګرو د ډاډ کلک پاتي شو د قیامت په ورځ به کامیاب ؤ. هغه د خپلو ملګرو د ډاډ اندیښمن دی خو خپله ورخطائي او اندیښنه پټوي .

***

سلطان صلاح الدین ایوبي ته دومره ویل شوي وه چې په مصر کې حالات خراب دي خو اصل حالات ورته څرګند نه ؤ کوم چې ډېر خطرناک او بوګتوونکي وه. د هغه د نشتوالي څخه صلیبیانو دا ګټه پورته کړه چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصر دري څلور لوړ پوړي چارواکي يې پخپل لاس کې ونيول او د هغوی ځخه يې پخپله کته کار اخيستلو.

تقي الدين چې کله په سوډان حمله وکړه نو دري څلور ورځې وروسته يې سامان وغوښت، استازي وويل: چې بايد ډېر زيات سامان زر تر زره واستول شي خو تر دوه ورځو پورې هيڅ کار هم ونشو، کله چې د سامان استولو د مسئول څخه وپوښتل شول نو هغه دا کوت نيونه وکړه چې په يو وخت کې د دوه محاذونو خلاصول غلط کار دی او دواړو ته سامان له کومه کيږي. يوه لاره دا ده چې د مصر پوځ وړې وساتل شي، د بازار څخه ټول شيان راټول شي او په قاهره کې کراني او قيمتي پيدا شي.

دا د لوړې پوړي چارواکي مسلمان ؤ، د سلطان صلاح الدين ايوبي د کابيني څخه هم وه، د هغه په نيت باندې چا شک نشو کولايي، د هغه خبره ومنل شوه چې ريښتيا هم غله دانه په بازار کې کمه ده، خو هغه ته وويل: شول چې هر څرنګه کيږي بايد محاذ ته سامان واستول ښي، هغه کار پيل کړ خو دوه ورځې نوري هم پرې تيرې شوی، په پنځمه ورځ کاروان روان شو، دا د اوښانو او کچرو لوی کاروان وه، مشوره او سلا ورکړل شوه چې د کاروان سره دي يو ګروپ سپاره واستول شي چې دښمن پرې په لاره کې حمله ونکړي خو د سامان ليږونکي چارواکي وويل: چې لاره خوندي ده، ځکه په مصر کې پوځ ته اړتيا ده، نو سامان پرته د ساتوونکو څخه واستول شو، شپږمه ورځ احوال راغی چې د سامان کاروان دښمن تالا کړي، سامان ورڅخه سوډانيانو اخيستی او د سپرليو ساتوونکي يې ټول وژلي.

په قاهره کې ټول چاوراکي ډېر انديښمن شول ځکه د سامان لوټيدل څه عادي خبره نه وه، هلته پوځ ته د سامان اړتيا وه نو د سامان برابرونکی چارواکي ته وويل: شول چې همدومره سامان بيا برابر کړي، هغه وويل: شي چې اوس په بازار کې سامان نه پيدا کيږي، سوداګرو ته بايد وويل: شي چې غلي داني راپيدا کړي، سوداګر راوغوښتل شول نو هغوی خپل ګودامونه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاص کړل چې ټول خالي او تش وه، د غوښې لپاره یوه وزه، پسه، غوی او غواوي نه پیدا کیدی.

دا هم معلومه شوه چې د مصر پوځ ته هم پوره خوراک او څښاک نه ورکول کیږي او پدی توګه په مصري پوځ کې هم اندیښنه پیدا شوي.

سوداګرو وویل: چې د اطراف او کلو څخه هیڅ شی هم بازار ته نه راځي، د علي بن سفیان جاسوسي اداره ډېره فعاله وه، ډېر زر دا څرګنده شوه چې د بهر څخه خلک راځي او د مصر څخه د خوراک او څښاک شیان په لوړ نرخ اخلي د دې څخه څرګنده شوه چې د خوراک او څښاک شیان ټول د هیواد څخه بهر ته ځي، ټولو ته وریه یاد شول چې څو کاله مخکې چې سلطان صلاح الدین ایوبي د مصر سوډاني پوځ مات کړی وُ د هغوی زیات کسان یې سرحدي سیمو ته ولیږل او هلته یې د کرهنې کار وربااندې پیل کړ، هغوی اوس مصر ته خوراکي شیان نه ورکول ځکه چې هغوی په سوډان باندې د حملې کولو سره مخالف وه، دا بدلون په پنځه شپږو ورځو کې راغلی وُ، د دې څخه وروسته د سامان استولو کار پوځ ته وسپارل شو، د ډېر کوښښ څخه وروسته څه سامان برابر او د پوځ په ساتنه او حفاظت کې د سوډان محاذ ته واستول شو.

د لوړ پوړو چارواکو لپاره د سامان مسئله ډېره ستونزمنه شوه ځکه د دې څخه مخکې داسې حال کله نه وُ راغلی، هغوی پدې وپریدل چې که سلطان صلاح الدین ایوبي سامان وغواړي نو مونږ به څه ځواب ورکوو ځکه هغه دا کله منلایی شي چې په مصر کې سامان نه پیدا کیږي، د دې ستونزې د حل لپاره دری کسیزه پلاوی وټاکل شو چې په هغې کې یو لوړ پوړی چارواکی سلیم الادریس د پلاوي د مشر په توګه وګمارل شو.

د شپې دري واړه د غونډې لپاره کیناستل نو دواړو وویل: چې سلطان صلاح الدین ایوبي په یو وخت کې د دوه محاذونو په خلاصولو سره لویه غلطي کړې او تقي الدین باېللې جنګ روان کړیدی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



الادریس وویل: فلسطین د مسلمانانو خاوره ده! د هغه ځای څخه د صلیبیانو ویستل ضروري دي، هلته مسلمانان د چنجیو او طفیلیو پشان ژوند کوي، هلته د مسلمانو میرمنو عزت او حیا خوندي نده، جوماتونه د آسونو طبلې شویدي.

یو کس یې وویل: دا ټول دروغ او بهتان دي! ایا تا پخپلو سترګو لیدلی دي چې صلیبیان په مسلمانانو زور او زیاتي کوي؟

سلیم الادریس وویل: زه یو څرګند او معلوم حقیقت بیانوم!

دویم یې وویل: زمونږ څخه حقیقت پټول کیږي! دویم یې وویل: سلطان صلاح الدین ایوبي د عزت او درناوي سړی دی خو پخپل منځ کې د رینښتیا خبرو څخه باید ونه ویریږو، هغه د خاورې او ملکونو د نیولو حرص نیولی دی.

که صلیبیان زمونږ دښمنان وای نو هغوی به په مصر باندې برید او فلسطین به یې خوشې کړی وای، هغوی یو طوفان دی چې مونږ ورته یوه ورځ هم نشو ټینګیدای، هغوی زمونږ نه بلکې د سلطان صلاح الدین ایوبي دښمنان دي.

سلیم الادریس وویل: ستاسې خبرې ماته د منلو او زغملو وړ ندي! ښه خبره دا ده چې داړوندي موضوع په هکله خبرې وکړو.

یویې وویل: ستا خبرې هم زما لپاره د منلو او زغملو وړ ندي! خو د یو سړي له خواهش څخه ټول قوم نشي قربانیدای، تاسې دواړو محاذونو ته د سامان لیږلو خبره کوئ، د سامان حالت تا خپله لیدلی دی، چې نه پیدا کیږي، د سوډان محاذ ماتیدونکی دی، زما نظر دا دی چې د سوډانی محاذ سامان بند کړو، د دې به دا فایده شي چې تقي الدین به شاته راشي او پوځ به د وژلو څخه وساتل شي.

سلیم الادریس وویل: داسې هم کیدای شي چې مونږ سامان ور ونه لیږو نو تقي الدین به راګیر او ونیول شي! داسې هم کیدای شي چې زمونږ پوځ دښمن ته وسله وغورځوي!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلا کار وویل : ودی غورځوی! مونږ به تور په پوځ پوری وتړو.

سلیم الادریس وویل: تاسې څه فکر کړی چې داسې خبری کوی؟

هغه ځواب ورکړ: زما فکر او نظر ډېر څرګند او روښانه دی - سلطان صلاح الدین ایوبی په مونږ باندی د پوځ حکومت چلوی .

هغه پرله پسی د صلیبیانو سره جګړی کوي او قوم ته داڅرګندوی چې د مصر او قوم ساتوونکی یوازی پوځ دی .

که سلطان صلاح الدین ایوبی امن او قلاري غوښتلی نو د صلیبیانو او سوډانیانو سره به یې جګړی نکولی بلکې د روغی جوړی او سولی تړون به یې کړې وای .

سلیم الادریس ډېر برګ شو ځکه هغه د صلاح الدین په خلاف او د صلیبیانو په پلوی خبری اوریدل نه غوښتل په غونډه کې سختی خبری وشوی، د پلاوی دوه کسانو هغه خبرو ته هم نه پریښودلو، هغه اخر په تنګ شو او وی ویل: زه غونډه ختموم، سبا به ستاسې نظریات او خبری سلطان صلاح الدین ایوبی ته واستوم! بیا په غصه راپورته شو او ودریده .

یو ورځخه ولاړ او بل د سلیم الادریس سره ودریده چې د هغه نوم ارسلان وه، ارسلان د نسب په لحاظ سوډانیانو ته نژدی ؤ، هغه الادریس ته وویل: ته شخصیت پالوونکی او افراطی یې، ما درته حقیقت بیان کړ او بیا تاسې پری خفه شوی. زه اوس تاته دا سلا او مشوره درکوم چې سلطان صلاح الدین ایوبی ته هیڅ مه لیکه کنه دا به ستا لپاره تاوان ورسوی! د هغه په خبرو کې ګوتې څنډنه او چیلنج ؤ،، سلیم الادریس هغه ته د پوښتنی په توګه وکتل نو ارسلان ورته وویل: که ته نه خفه کیږی نو زه ستا سره په یوازی ځای کې خبری کول غواړم.

سلیم الادریس وویل: همدلته یې راسره وکړه!

ارسلان ورته وویل: زما کورته ولاړ شه! خوراک او څښاک زما سره وکړه خو دا لیدنه به یو راز وی .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


سلیم الادریس د هغه سره کورته ولاړ، کله چې کورته ننوتلو نو داسې گمان یې وکړ چې د کوم پادشاه کورته ننوتي دي، ارسلان دومره لوړ پوړي چارواکی نه و. دواړه چې څرنگه په کوټه کې کیناستل نو یوې ډېرې ښایسته او ښکلې نجلۍ په یو گرد پتنوس کې دوه د سپینو زرو پیالې او یو صراحي راوړ او د دوی په وړاندې یې کیښوده، سلیم الادریس د بوی څخه وپوهیده چې دا شراب دي نو د ارسلان څخه یې وپوښتل: ارسلان! ته خو مسلمان یې او شراب څښې؟ ارسلان وخندل او بیا یې ځواب ورکړ: یو غرپ وڅښې بیا به تاسې هم په هغه حقیقت پوه شې په کوم چې زه تا پوهول غواړم.

د دې څخه وروسته دوه سوډانیان راغلل چې د دواړو په لاسونو کې ځلیدونکي پتنوسونه وه چې خوراک پکې ایښودل شوي و، کله چې په دسترخوان باندې خوراک او څښاک کیښودل شوه نو سلیم الادریس په حیرانو سترگو ارسلان ته وکتل، ارسلان وویل: حیرانیږه مه ښاغلی سلیم الادریس! دا عزت او شان و شوکت تاته هم پلاس درتلایی شي! زه هم ستا پشان متقي او پرهیزگار ووم خو اوس .... دوه نجونی زما په کور کې شته! د دمشق او بغداد د امیرانو او وزیرانو کورونه وگوره! هغوی خپل حرمونه د دې پشان زیاتو نجونو څخه ډک کړیدي، هلته شراب بهیږي.

سلیم الادریس وویل: دا نجونې، شراب او دولت د صلیبیانو کرم او پیرزوینه ده! ښځو او شرابو د اسلامي امت ریښې او ډډ خوسا کړیدي.

ارسلان وویل: ته خو د سلطان صلاح الدین ایوبي په خوله خبرې کوې! همدا ستا بد مرغي ده!

سلیم الادریس وویل: ته څه ویل غواړې! ماته شک پیدا شوی چې ته د صلیبیانو په جال او لومه کې پریوتی یې!

ارسلان وویل: زه د پوخ غلام کیدل نه غواړم! زه پوخ غلام گرځول غواړم. د دې یوه لاره دا ده چې تقي الدین ته هیڅ سامان ونه لیږل شي بلکې هغه ته دوکه ورکړل شي چې هغه دي سامان راځي. هغه په دروغو همداسې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګوی ترڅو مجبور شي او وسله وغورځوي. ښکاره ده چې سوډانیان به هغه وژني او پوځ به یې د تل لپاره هلته ختم شي، مونږ به دا تور په پوځ پوري کړو او د قوم په سترګو کې به یې سپک کړو، نو بیا به سلطان صلاح الدین ایوبي هم د خلکو په وړاندې سپک او ذلیل شي تاسې زما خبره په غور سره نه اوري، تاسې ته به هیڅ تاوان او زیان نه رسیږي، تاسې ته به د دې په بدل کې دومره شیان درکړل شي چې هغه به په تصور کې هم نشي راوستلایی.

سلیم الادریس وویل: زه اوس ستا په مقصد او مطلب پوه شوم! ته ما ایمان خرڅولو ته رابولې، دا کار زه نشم کولایی!

د هر بحث او خبرو څخه وروسته سلیم الادریس وویل: د ته دومره خطرناکې خبرې پداسې بې پروایي ولې کوې؟ ایا ته پدې نه پوهیږې چې زه به دې بندي کړم او د خیانت سزا به درکړم؟

ارسلان ځواب ورکړ: نو ایا زه دا نشم ویلایی چې ته پر ما دروغ پوري کوې؟ سلطان صلاح الدین ایوبي زما په خلاف هیڅ شی هم نه اوري.

سلیم الادریس حیران شو چې دومره غټ او لوی حکومتي چارواکي پدې درجه شیطان شویدي او په څومره زړورتیا سره خبرې کوي.

سلیم الادریس یو حقیقي مؤمن او مسلمان ؤ، هغه پدې خبره نه پوهیده چې ایمان خرڅول انسان د سپکاوي او ذلت کومې کندې ته غورځوي. د هغه سره د ارسلا د شیطانت یوازې یوه لاره وه ځکه هغه د ارسلان څخه لوړ پوړي چارواکي ؤ، نو ارسلان ته یې وویل: زه پوه شوم چې ته څه ویل غواړې تاته اوږه ورځې وخت درکوم چې خپل ځان او خپل فکر سم کړه او د اسلام د دښمنانو سره خپل اړیکي وشلوه او ماته داډ راکړه چې زه د اسلامي امت او اسلام ربښتنی بچی یم! زه نور تا د سامان برابرولو څخه لرې کوم زه خپله دا کار په غاړه اخلم! که اړتیا پیښه شوه نو زه تا پدې خپل جوړ کړې صلیبي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنت کې بندي کوم! او اوه ورځې د هر وخت دی، داسې نه چې په اتمه ورځ تا جلاد لدی کور څخه وباسي!

سليم الادريس پاڅيده خو ارسلان خندل او بيا يې ځواب ورکړ: ښاغلی سليم الادريس! ستا دوه ځامن دي او دواړه ځوانان دي؟

سليم الدريس وويل: هو! څه کوی زما زامن!

ارسلان وويل: هيڅ يې نکوم! زه دا در په ګوته کوم چې ستا دوه ځوان زامن دی او همدا ستا ټول اولاد دی !

سليم الادريس پدی کنايه او اشاره پوه نشو هغه وويل: شرابو ستا دماغ خراب کړي! د دی وينا څخه وروسته هغه د باندی ووت .

***

د ارسلان د کور څخه چې کله سليم الادريس ووتلو نو نيغ علی بن سفيان ته ولاړ او هغه ته يې د ارسلان ټولی خبری وکړی. علی بن سفيان ورته وويل: چې ارسلان زما سره هم په شکمن لست کې شته خو د هغه په هکله هيڅ ثبوت مونږ ندی پيدا کړی خو زمونږ تر څارنی لاندی دی .

سليم الادريس ډېر انديښمن او حيران وه چې د ارسلان پشان سړی په دومره زړورتيا سره خيانت او غداري کوي نو علی بن سفيان ورته وويل: چې پدی کار کې هغه يوازی ندی بلکې څو کسان پدی پلان او پروګرام کې شامل دي، دا ميکروبونه اوس پوځ ته هم رسيدلی او هلته خپاره شويدی. پدی ورځو کې مهمه مسئله سوډان ته د سامان ليږلو وه، سليم الادريس علی بن سفيان ته وويل: چې ما ارسلان له کاره ګوښه کړی اوس به خپله دا کار کوو. علی بن سفيان هغه ته وويل: چې د يو منظم پلان او دسيسی په توګه خوراکي شيان د هيواد څخه د باندی استول کيږي او دلته يو جبری قحط او کموالی منځ ته راغلی .

علی ورته وويل: چې ما خپل څارونکی خپاره کړي چې شکمن کسان ونيسی او د مسئلی اصلی علت څرګند کړي، هر چيری چې يوه بوری غله

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


ونیسي هغه دی ورڅخه سرکاري کړي. د ډېر غور او فکر څخه وروسته هغوی د سامان لپاره لاره برابره کړه.

سلیم الادریس پخپلو اداري او جهادي کارونو کې دومره بوخت او مصروف شو چې د ارسلان هغه اشاره یې له یاده ووتله چې ستا دوه ځوان زامن دي او همدا دي ټول اولاد دي .

سلیم الادریس پخپلو زامنو باندي پوره باور درلوده خو ځواني لیونتوب او ړوندوالي وي .

په قاهره کې د سلطان صلاح الدین ایوبی د نشتوالي په وخت کې د بد اخلاقي او بد کارۍ یو طوفان را الوتی وُ چې ځوانان یې رانغاړلي وه. دوه دري کاله مخکې هم همداسي یو باد را الوتی وُ خو ډېر زر تر کنترول لاندي راغی، دا ځل دا باد او هوا د ځمکې لاندي څخه را پورته شوه نو ځکه یې کار وکړ پدی کې لوبې، مداري توب او قمار ( جواري ) رواج پیدا کړ، په ښکاره خو داسې شي نه ښکاریده چې چا پري ګوت نیونه کړی وای خو په پټه پدی لوب ځایونو کې د بد اخلاقۍ اډې او مرکزونه جوړ شوی وه .

په لوب ځایونو کې په پټه توګه داسې تصویرونه اېښودل شوی وه چې بالکل لوڅ او بربنډ وه او بیا دا ښودنه او نمایش د ځوانو او ښکلو نجونو پوسیله ځوانانو ته ښودل کیده چې هغوی د خپلو خنداګانو او اداګانو پوسیله ګناه او بد اخلاقي ته تشویق کیدل .

هلته به ځوانانو ته حشیش هم ورکول کیدل تر څو د ځمکې څخه هوا ته پورته شي، دا کار د ځمکې لاندي کیده خو داسې څوک نه وُ چې ګواهي او وځښبل نو بیا به یې خپله ګناه پټوله، پدی ګناه کې داسې خوند وه چې بیا به هر وخت هغې ته په تلوسه کې وه. هغوی دا خبره د دی لپاره هم پټه ساتله که دا خبره ښکاره شي نو حکومت به بیا د دی مخنیوی کوي او مونږ به لدی مزو او چرچو څخه بی برخی شو. پدی اخلاقي فساد کې ځوانان او پوځیان زیات راګیریدل، هلته په پټه د زنا اډې او مرکزونه هم جوړ شوی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


وه، دا د بد اخلاقۍ او فساد فعالیت او ورانکارۍ څومره کامیابه وه؟ د دې خواب په کرک کې د صلیبیانو د ورانکارۍ استاذ هرمن جرمني خپلو ملګرو ته داسې ورکاوه:

د هسپانیا تصویر جوړونکو چې دا تصویرونه جوړ کړي، هغوی د انسانانو بتان د خاورې څخه هم جوړولای شي، هغه د يوې ښځې او سړي لغړ تصویر خپلو صلیبي ملګرو ته وښودلو، دا ډېر لوی تصویر وه چې په رنګه برس باندې په څو ښکلو رنګونو جوړ شوی ؤ.

صلیبي چارواکو چې دا تصویر ولیده نو پخپلو کې یې سره لوڅې او بې څوکاټه ټوکې پیل کړې.

هرمن وویل: ما داسې ډېر تصویرونه جوړ کړي او مصر ته مې استولي او د هغې د ښودلو لپاره مې پټ ځایونه هم برابر کړي، د هغه ځای څخه زمونږ د برۍ او کامیابۍ راپورونه راځي، ما د قاهرې په ځوانانو کې د بد اخلاقۍ او فحاشۍ آور بل کړیدی.

دا داسې غریزه دی چې یو ځل دا پورته شي بیا ټولې غریزې احساسات او ولولې ختموي که هغه د وطن مینه وي او که د دین او اخرت، دې تصویرونو په قاهره کې د ځوانانو او پوځیانو احساسات او ولولې بیکاره کړي، د دې تصویرونو خوند نیشه هم غواړي چې د نیشې شیان مو هم ورته برابر کړي.

زما ملګرو په قاهره او نورو کلو کې د اطرافي او صحرايي نجونو په شکل کې د ځوانو نجونو پوره لښکر ځای پر ځای کړې- دا ښځینه ورانکارۍ د سلطان صلاح الدین ایوبي پوځ او قوم دوینا او چینجي په شان خورې مخکې چې زما کسان نیول شوي وه د هغې نور علتونه وه، اوس ما نوې لارې او طریقې راویستلې چې هم کامیابۍ او هم نه نیول کیږي. اوس خپله مسلمانان زما د ملګرو ساتنه او حفاظت کوي او هغې ته نور هم زور ورکوي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی د دی فکری او ذهنی عیاشی عادی شویدی ، لږ وخت وروسته به زه د هغوی په فکر او ذهن کې د هغوی د خپل قوم، وطن او دین په خلاف زهر اچوم .

غونډی ته یو کس وویل: سلطان صلاح الدین ایوبی ډېر هوښیار سړی دی هغه چې څرنګه مصر ته راشي نو ستا ټول پلانونه به له خاورو سره برابر کړی .

هرمن وویل: که هغه مصر ته ورسیږي نو. . . د دی ځواب باید تاسې ووایی چې د هغه محاصره بریالی کوی او که نه؟ بیشکه هغه د ریماندو پوځ د کلا څخه د باندی محاصره کړی او کلا خو لا له مخکی څخه محاصره ده خو زه وایم چې دا دواړه د هغه لپاره زیاتمن کیدای شي. تاسې دلته فیصله کوونکي جګړه مه کوی، هغه همداسې د محاصری په حالت کې وساتی چې مصر ته ولاړ نشي - په سوډان کې زمونږ ملګرو د تقی الدین پوځ بالکل تیت پترک کړی، نه هغه اوس جنګیدای شي او نه بیرته راوتلی شی ، د مصر د بازار او مارکیټ څخه ما غله او نور خوراکي شیان ورک کړیدي، ستاسې ورکړی دولت اومال اوس په بریالی توګه کار ورکوي، د سلطان صلاح الدین ایوبی یو نژدی ملګری او حکومتي چارواکی ارسلان اوس ستاسې پلوی او ملګری دی، هغه په ټولو کارونو کې زمونږ سره مرسته کوي، د هغه نور ملګری هم زمونږ سره ملګری شویدی .

فلیپ اګستس وپوښتل : ارسلان ته څومره شی ورکوی؟

هرمن ځواب ورکړ: څومره چې د یو مسلمان چارواکی د دماغ خرابولو لپاره بس وي! ښځه، شراب، مال، د حکومت او څوکی نیشه د هر مسلمان ایمان اخیستلای شي، او مونږ ورڅخه اوس ایمان اخیستی دی، ما تاسې ته ویل چې که اوس سلطان صلاح الدین ایوبی مصر ته ولاړ شي نو هلته به دنیا بدله وګوری - هغه چې په کومو ځوانانو ویاړ کاوه او هغه یې د اسلامی امت لپاره سرمایه بلله هغه اوس تش په نامه مسلمانان دي، د هغوی فکر او ذهن اوس زمونږ په کنترول او واک کې دی، دا نوی نسل به د جنسی خواهشاتو غلام وی ، همدا حال به د هغه پوځ هم وي کوم چې په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصر کې پاتې دي - پدې پوځ کې زما ملګرو دومره کار کړیدی چې اوس هغوی بغاوت او پاڅون ته هم تیار او چمتو دي زه اوس په پوره ډاډ سره تاسې ته ویلی شم چې ستاسې څخه مخکې به ما خپل محاذ ختم کړی او فتح کړی وی. کله چې د دښمن عقیده او اخلاق تباه شي نو بیا جګړی او حملو ته اړتیا نه وی.

د هرمن پدې راپور باندې صلیبی واکمنان ډېر زیات خوشحاله شول، فلیپ اګستس بیا خپله هغه اراده ښکاره کړه چې څو ځله مخکې یې ښکاره کړې وه، هغه وویل: زمونږ جګړه د سلطان صلاح الدین ایوبی سره نه بلکې د اسلام سره ده، سلطان صلاح الدین ایوبی به هم مړ شي او مونږ هم، خو زمونږ پلان او پروګرام باید همداسې ژوندی وی تر څو اسلام مړ او ختم شي او په ټوله نړۍ باندې د صلیب واکمنی او حکومت شی د دې نړیوالی فتحې او برې لپاره همداسې کارونو ته اړتیا ده ترڅو د مسلمانانو اخلاق، عادات او عقاید خراب شي، زه هرمن ته شاباسی او آفرین وایم چې هغه نه یوازې دا کار پیل کړی بلکې تر زیاتې اندازه پورې یې برې هم تر لاسه کړې.

***

د سلیم الادریس دوه ځامن هم ځوانان وه، د یو عُمر اوه لس او د بل عُمر یویشت کاله وُ، دا ندې څرګند چې ایا دوی دواړه هم پدې طوفان کې رانغاړل شوی وه کنه کوم چې صلیبیانو په قاهره کې پیدا کړی وُ، خو وروسته بیا دا ثبوت برابر شو چې دې دواړو نوی ځوانانو د یوې ورانکارې صلیبی نجلۍ سره پټ اړیکې او لاره درلوده - هغې نجلۍ ځان مسلمان بللو خو بې پرده ګرځیده، هغه د یو لویې کورنۍ څخه وه او لیدنې کتنې به یې پټې کولې، هغه ورځ چې ارسلان سلیم الادریس ته ویلې وه چې ستا دوه ځامن ځوانان دي د هماغه په سبا نجلۍ د سلیم الادریس مشر زوی ته وویل: چې زه یو بل تنګۍ ځوان ډېره تنګه کړې یم، زه چې په کوم لورې ځم هغه راپسې وي او ځینې وخت د تبنتولو اخطارونه هم راکوي.
هلک ورځخه وپوښتل چې هغه څوک دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجلۍ خبره يوی او بلی خواته کړه او هغه ته يې وويل: چې کله خبره بالکل خرابه شوه بيا به درته ووايم.

وروسته بيا څرګنده شوه چې هيڅ ځوان هغه نه تنګوله بلکې هغې ځوانان تنګول او د هغوی اخلاق يې خرابول.

د دی ورځې په سبا همدی نجلۍ د سليم الادريس د کشر زوی سره اړيکی ونيول او د هغه سره يې داسې محبت او مينه ښکاره کړه چې هغه يې هم پخپل جال او لومه کې راګير کړ.

د څه ليدنو څخه وروسته يې هغه ته هم وويل: چې ما يو ځوان تنګوی او د تښتولو اخطارونه راکوي، د هلک وينه په جوش راغله نو هغې ته يې وويل: چې دا څوک دی؟

نجلۍ هغه ته هم کړه وړه خبره وکړه چې زه به يې وروسته درته بيا ووايم.

په هماغه ماښام يې د هلک مشر ورور ته وويل: چې ما هغه تنکی ځوان ډېره تنګوی او وايی چې زه به دا ځلمی ځوان داسې وژنم چې هيچاته څرګنده نشي نو ته له ځان سره خنجر ګرځوه چې ناڅاپی درباندی بريد او حمله ونشي.

په دويمه شپه يې کشر ورور ته وويل: چې هغه ځوان ما تنګوی او ستا د وژلو پلان لري نو له ځان سره خنجر ګرځوه.

دواړه وروڼه د دی څخه ناخبره وه چې يوی نجلۍ دواړه په خپل جال او لومه کې راګير کړي او يو د بل په خلاف يې استعمالوی، نجلۍ به د هغه دواړو سره جلا جلا ليدل او هغوی يې يو د بل په خلاف راپارول تر دی چې هغوی د حيواناتو پشان شول.

يو ماښام هغې مشر ورور ته وويل: چې د بازار څخه د باندی فلانی ځای ته په تياره کې راشه چې هلته سره وګورو خو هغه بل ځوان وايی چې زه به ستا پسی ووم او خپل دښمن به وژنم نو خيال کوه چې هغه کيدای شي هلته زما پسی راشي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کشر ورور ته یې هم همداسې وویل: چې نن ماښام د بازار څخه د باندې راشه خو کیدای شي هغه بل ځوان زما پسې راشي او ستا د وژلو هڅه وکړي نو چې د خطر لپاره ځان تیار او چمتو کړې. دواړه وروڼه په بې خبرۍ کې یو د بل وژلو ته تیار شول.

ماښام مشر ورور سره د خنجره هغه ځای ته ورسیده چې نجلۍ ورته په ګوته کړې وه، هغې داسې کمال وکړ چې ځای یې تیار غوره کړ چې دواړه ورونه سره یو بل ونه ګوري او سره ونه پیژني چې ټوله ډرامه به خرابه شي، کله چې نجلۍ هلته ورسیده نو مشر هلک هلته ولاړ و.

هغه ته یې وویل: چې زما پسې هغه بل هلک را روان دی او ستا د وژلو پلان لري.

مشر ورور خنجر راوویستلو چې پدې کې کشر ورور یې راښکاره شو، نجلۍ مشر ته وویل: هغه دی راغی! زه نه غواړم چې وینې توی شي زه به هغه منع کړم چې بیرته ولاړ شي.

نو سمدستي د کشر هلک په لوري ورغله او هغه ته یې وویل: چې بل ځوان راغلی او خنجر یې پلاس کې تیار نیولی ولاړ دی. کشر او مشر دواړه تنکي ځوانان وه، د هغوی په عقل د ځوانۍ او نجلۍ پرده پرته وه چې فکر او سوچ وکړي نو کشر خنجر پلاس د مشر په لوري په منډه شو، کله چې مشر خپل دښمن حمله کوونکی ولیده نو هغه هم رامنډه کړه، دواړو ورونو یو پر بل سخت او کلک ګذارونه وکړل، ولویدل او بیا راپورته شول او یو پر بل یې همداسې د خنجرونه ګذارونه کول، نجلۍ دواړه راپارول تر دې چې دواړه له کاره ولویدل په همدې وخت کې د علي بن سفیان څارونکي پدې لاره برابر شول نو نجلۍ تیښته وکړه خو څارونکو هغه راګیر کړه، ګوري چې دوه ځوانان په وینو کې لت پت پراته او اخرې سلګۍ وهي.

نجلۍ ډېرې بانې او پلمې وکړې خو څارونکي هغه خوشې نکړه، هغه څارونکي ته د ډېرو شیانو وړاندیز وکړ خو هغه یو هم ونه منلو، هغه چیغې کړې او پیره کوونکي یې راوغوښتل، پدې وخت کې دواړه وروڼه مړه شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه، نجلی سمدستي علي بن سفیان ته ورسول شوه، مړی هم راوړل شول چې په روښنایي کې یې وکتل نو دواړه د سلیم الادریس زامن وه. سمدستي سلیم الادریس ته احوال ورکړل شو څه فکر کیدای شي چې د هغه به پدې وخت کې څه ډول حالت وه چې کله یې دواړه ځامن مړه ولیدل.

نجلی ګډه وډه بیان او خبرې وکړې خو دا یې ونه ویل چې د چا لور او چیرې اوسیږي.

سلیم الادریس ډیر په بد حالت کې و هغه علي بن سفیان ته وویل: علي! دا د عذاب ځای ته بوځه کنه اصلي خبره نه کوي!

د ویلو لپاره نور څه شته! نجلی هم په غصه سره د مشر هلک لوری ته اشاره وکړه چې ده زه رابللې وم او زه ورغلم، د بل لوری پرې کښر ورور راغی او دواړو سره په خنجرونو یو پر بل ګذارونه وکړل. زه د ویرې څخه وتښتیدم خو په لاره کې یو سپور راګیر کړم، ما د خپل پلار نوم ورته ځکه وانخست چې هغه به هم رسوا او سپک شي.

د علي بن سفیان دماغ ډیر قوي وه هغه ته سمدستي د ارسلان او سلیم الادریس هغه خبرې وریه یاد شوی چې څو ورځې مخکې یې کړې وې، ارسلان د علي بن سفیان په تور لست کې و او پدې هم پوهیده چې اوس د هغه په کور کې څه روان دي.

علي بن سفیان سلیم الادریس ته اشاره وکړه او ویې ویل: دا نجلی که هر څوک ده خو قاتله او وژونکې نده! ځکه دوه ځوانان دا یو ځای نشي وژلی، دا سمه خبره کوي او زه د دې په خلاف هیڅ نشم کولای!

بیا یې نجلی ته وویل: ته ولاړه شه ته ازاده یې خو بیا داسې ونکړې کنه وبه وژل شې.

نجلی په ډیره چټکتیا سره له خونې ووته او روانه شوه، علي بن سفیان خپلو دوه څارونکو ته سمدستي وویل: چې یو د نجلی پسې شي او بل د ارسلان د کور د دروازې په مخ کې یو ځای پټ شي چې څوک مو ونه ګوري او د نجلی ځای او لاره معلومه کړي. دواړه څارونکي ورپسې شول.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجلی تیزه تیزه روانه وه خو د هغې پسې څارونکی هم روان وُ، د علی بن سفیان شک ریښتیا شو، نجلۍ دا ارسلان کورته ننوته. هلته له مخکې څخه یو څارونکی رسیدلی وه هغه سمدستي احوال راوړ چې نجلۍ د ارسلان کورته ننوته. کله چې سلیم الادریس خبر شو چې نجلۍ د ارسلان سره اړیکی لري نو بیا یې علی بن سفیان ته وویل: ماته ارسلان په خبرو کې هغه ورځ ویلی وه چې ستا خو دوه ځوانان زامن دي خو زه پدی کنایه او اشاره پوه نشوم، څرګنده خبره ده چې زما د زامنو د وژلو مسئول ارسلان دی . هغه په حیرانوونکی توګه دواړه هلکان پخپلو کې سره ووژل ، سلیم الادریس لوړ پوړی او تر ټولو مشر چارواکی ته خبر ورکړ ، پدی وخت کې د پولیسو د امنیه عمومي قوماندان عیاث بلبیس هم را ورسیده. ټولو فیصله وکړه چې د ارسلان کور تالاشي او هغه هم بندي شي .

زه به اوس سلیم الادریس ته ووایم چې ولی زه په دومره زړورتیا سره داسې خبرې کولای شم !

ارسلان چې کله د نجلۍ کامیاب راپور واوریده ! زه به دا هم ورته ووایم چې ستا په خلاف زه څه نشم کولای! ارسلان د دی بری او کامیابۍ په خاطر نجلۍ ته ښکلی شراب وړاندی کړل او بیا دواړو د خوشحالۍ جشن لمانځل پیل کړل .

د هغوی د خوشحالۍ جشن لا ختم شوی نه وُ چې سلیم الادریس بی له اجازی خونی ته ورننوت، ، هغه ارسلان او نجلۍ په لوڅ ، لغړ او د نیشی په حالت کې بیاموندل او نجلۍ یې سمدستي وپیژندله .

ارسلان د نیشی په حالت کې وویل : تا خپل زامن پخپلو کې سره ووژل او اوس غواړی خپل ځان هم په ما ووژنې؟ پیره کوونکی چیری دی؟ دا سړی زما د اجازی پرته څرنګه زما جنت ته راغی؟

سلیم الادریس ځواب ورکړ تا جهنم ته د رسولو لپاره راغلی یم- زه د خپلو زامنو د غچ اخیستلو لپاره نه یم راغلی! زه غدارانو او خاینانو ته د سزا ورکولو لپاره راغلی یم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې وخت کې د مصر تر ټولو لوړ پوړي واکمن هم را ورسیده کوم چې د تقی الدین او سلطان صلاح الدین ایوبی په نشتوالی کې کم د مصر واکمن وه، د هغه سره د امنیه عمومی قوماندان غیاث بلبیس او علی بن سفیان هم ملګري وه، نجلی سمدستی ونیوله شوه، د ارسلان د کور ټول کسان له کوره وویستل شول او په کور باندې د پوځ پیره ودریده په کور کې تالاشي او لټون پیل شو، هلته یوه تاکاوی او د ځمکې لاندې لوی ځای پیدا شو چې ښه پراخه وه، د هغه ځای څخه د غشو، نیزو، لیندو او پوځي وسایلو پراخه زیرمه او ذخیره راووته، آور غورځوونکی مواد هم پراته وه، له یو بکس او صندوق څخه حشیش او زهر هم راووتل، له یوی بلی خونی څخه د سرو زرو خښتې او د اشرفیو کڅوړي راپیدا شوی، هغه خپلی دوه پخوانی میرمنی او بچیان بل ځای ته استولی وه، په کور کې دری نجونی هم پیدا شوی، دری واړه یو له بلی ښکلی، ښایسته او مسلمانی نه وی. شپه په شپه د ټولو کار کوونکو څخه پوښتنې وشوی چې په هغوی کې دری د صلیبیانو جاسوسانی وختلی.

لوړ پوړی چارواکی له ارسلان څخه وپوښتل: ایا ته خپله دا ویلی شی چې ستا قصد او اراده څه وه؟ دا ټول پلاس راغلی شیان ستا د مرګ او وژلو لپاره بس او کافی دي!

ارشلان د نیشی په حالت کې وویل: نو بیا د مرګ سزا راکړی ! که زما وژل حتمی وی نو بیا همداسی چوپ باید مړ شم.

لوړ پوړی چارواکی وویل : د الله جل جلاله په وړاندی به دا ډېره لوی نیکی وی چې ته مونږ د خطرونو څخه خبر کړی! زما هیله ده چې پدی نیکی به ستا دا لوی ګناهونه وبښل شی .

ارسلان وویل : تاسې خو ما نه بښئ!

علی بن سفیان وویل: الله تعالی د دی څخه لوی ګناهونه هم بښی! ستا د ژوند پاتی کیدو چانس پیدا کیدای شی ، تاسې ووایی چې دلته کومه کومه ورانکاری کارونه کیږي، نور کسان هم په ګوته کړی .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارسلان په کوټه کې ګرځیده، نور تول چارواکي یو او بل لوري ته ناست وو، هغه سلیم الادریس ته ورغی او د هغه د ملا څخه یې د برښنا په شان توره را واخیستله او په خپله ګېډه کې یې ننباسله، مخکې لدې چې نور خلک څه وکړي هغه توره له ځان څخه بلی خواته وویستله، هغه پخپله بستره راپرېوت، بل سړي د هغه د ګیډې څخه توره ویستله خو ده ورته وویل: دا خوشې کړه خو زما دوه دري خبرې په غور سره واوره! کله چې مړ شوم نو توره را څخه وباسی، ما خپل ځان ته سزا ورکړه، زه ژوندی د سلطان صلاح الدین ایوبی سره مخامخ کیدلی نشوم ځکه چې هغه پر ما باور او اعتماد کړی و، زه ستاسې هیڅ پوښتنی ته ځواب نه درکوم، توری خپل کار کړیدی، مصر باندی توره وریځ خپروونکی پوځ د بغاوت او پاڅون لپاره تیار او چمتو دی. د پوځیانو خوراک او څښاک ما بند کړی و، سپاهیانو ته هیڅ نه ورکول کیدل، صلیبی ورانکارو په پوځ کې دا اوازه خپره کړی وه چې د سلطان صلاح الدین ایوبی سره او تقی الدین سره همسنګره غوښې خوری او شراب څښی او هلته هر څه پریمانه دي، د مجاهدین په غنیمتونو باندی عیاشي او مزی چرچی کوي . زما ډېر چارواکی ملګری دی خو زه د چا نوم نه اخلم، په عام ډول فدایانو او فاطمیانو د مسلمانانو د تباه کولو لپاره پوره تیاری کړی، تاسې د بغاوت او پاڅون مخه نشی نیولای ، نوی پوځ راولی، حالات ستاسی له کنترول څخه .... نوری خبری بندی شوی او ساه یې ورکړه .

د هغه په کور کې چې کومی دری نجونی پیدا شوی وی هغوی هم لدی څخه زیات څه ونه ویل، هغوی یوازی دومره وویل: چې مونږ ته د مسلمانانو د بی لاری کولو او پخپلو کې د جنګولو دنده او مسئولیت راکړل شوی و، د شپی به دلته غونډې او مجلسونه جوړیدل چې ډېر چارواکی به پکې وه، هغوی به زمونږ څخه پرته غونډې او خبری کولی. نجونو دا خبره هم وکړه چې په مصر کې د پاڅون او بغاوت لپاره لاره هواره شویده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه نجلۍ چې د سليم الادريس دواړه زامن يې پخپلو کې سره جنګولي او وژلي وه هغې خپله ټوله کيسه بيان کړه، هغې وويل: چې ما د سليم الادريس مشر زوی لومړی پخپل جال کې راګير کړ څکه ارسلان غوښتل هغه د خپل پلار الادريس په خلاف استعمال کړي خو وروسته يې پلان بدل کړ او بيا يې وويل: چې دواړه ورونه پخپلو کې سره ووژني.

په يوه شپه کې نژدې يو نيم سل په غله او سامان بار اوښان د لوی دفتر مخې ته راوستل شول، دا اوښان د مختلفو ځايونو څخه نيول شوي وه چې غله او نور شيان يې له بازار څخه ويستل.

د قاهرې څخه د خوراکي شيانو د ويستلو د مخنيوی لپاره ګزمې تاکل شوي وې، دا د هغوی لومړنۍ کاميابي وه، نيول شوي کسانو د څو سوداګرو نومونه واخيستل چې هغوی غلې او دانې د ځمکې لاندې ګودامونو کې زيرمه او ذخيره کړيدي - هغوی به دا پټ ساتلي سامان د شپې په بهرنې خلکو خرڅولو. دی نيول شوو کسانو د قاهرې څخه د باندې هم څو کسان وښودل چې هغوی غلې او دانې پټې ساتي او بيا يې په بهرنيو سوداګرو خرڅوي.

نيول شوو کسانو د مصر او سوډان په پوله هم يو ځای په ګوته کړ چې د هغې څخه غله او دانه سوډان ته رسول کيږي. هلته يو سرحدي څوکۍ هم وه چې د هغې مشر لدی کاروانونو څخه رشوت او بدله اخيستله، بيا د دې خبرې ثبوت هم وشو چې دا ټول کاروونه د ارسلان تر مشرۍ لاندې سرته رسيدل.

* * *

پدی توګه په لس ګونو پلانونه او پروګرامونه صليبيانو په مصر کې روان کړي وه چې د سلطان صلاح الدين ايوبي هلته نه و.

سليم الادريس او نورو لوړو پوړو چارواکو سمدستي پدی حالاتو د غور کولو لپاره غونډه جوړه کړه.

علي بن سفيان او غياث بلبيس دا سلا او مشوره ورکړه چې اوس حالات دومره خراب شوي چې د دوی وسه هم پرې نه رسيږي. هغوی وويل: مخکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لدې څخه چې په مصر کې بغاوت وشي یا کوم لوړ پوړي چارواکی ووژل شي او قاهره د دښمن د جګړې میدان وګرځي باید د سلطان صلاح الدین ایوبي د دې ټولو حالاتو څخه خبر شي، که کیدای شي هغه د کرک محاصره خپلو مرستیالانو ته پرېږدي او خپله قاهرې ته راشي.

دوی یو استازی مخکې استولی وُ خو هغه ته پوره معلومات نه وُ ورکړل شوي. اوس چې لویه پیښه مینځ ته راغله نو فیصله پدې وشوه چې باید خپله علی بن سفیان کرک ته ولاړ شي او هلته سلطان صلاح الدین له ټولو حالاتو څخه خبر کړي.

د کرک د محاصرې دوه میاشتې پوره شوې وې خو د بري هیڅ درک نه معلومیده، صلیبیانو پوره دفاعي پلان جوړ کړی وُ، هغوی ښه پوره سامان او خوراکي شیان ذخیره کړې وه، د سلطان صلاح الدین ایوبي څارونکو له دلې څخه یو غازي په غشي پورې پیغام تړلی او راویشتلی وُ چې په کلا کې د خوراک او څښاک هیڅ کمی نشته، په مسلمانانو باندې دومره سخت بندیز لګیدلی دی چې د هغوی دیوالونه هم اوس جاسوس کوي نو ځکه د کلا دننه هیڅ ډول کار هم نشي کیدای کنه د خوراک او سامان ذخیره تباه کیدای شوه.

په کلا کې د ایوبي څارونکو کموالی پیدا شوی وُ کوم چې ژوندي وه هغوی به کله نا کله د شپې په غشي کې پیغام وتړلو او بیا به یې د باندې ویشتلو، پوځیانو ته حکم شوی وه که چیرې کوم داسې غشی راشي هغه خپل قوماندان ته ورسوي، صلیبیانو د هرمن د پلان د عملي کیدو لپاره د محاصرې ختمولو کوښښ پرېښی وُ ترڅو د سلطان صلاح الدین ایوبي همدلته پاتې شي، هغوی غوښتل همدلته د هغوی قوت او ځواک ختم شي.

مسلمانان د هغوی پدې پلان او چل باندې پوه شوي وُ نو ځکه یې خپل پلان بدل کړ.

د صلیبیانو دا کوښښ ناکام شوی وُ چې د بهر څخه په محاصرو پوځ باندې برید وکړي ځکه چې د سلطان صلاح الدین ایوبي د منې حملـ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



برید لپاره تیار او چمتو ؤ او هغوی یې په ډېره هوښیاری سره هم محاصره کړل، د دې بهرنی پوځ د محاصره کیدو هم یوه نیمه میاشت تیره شوی وه، بهرنی لښکر د محاصری ماتولو لپاره کوښښ کاوه خو غازیانو د هغوی هره حمله پشا تمبوله خو محاصره ډېره پراخه شوی وه، هغه سیمه شنه او د اوبو لرونکی وه نو ځکه صلیبیانو ته واښه او اوبه پلاس ورتللی. کوم ځاروي به چې مړه کیدل هغه به دوی خوړل خو دی ورته بس والی نکولو، همدا رنګه د زرګونو سپرلیو او ځارویو لپاره واښه بس نه وه. هلته کوم سیند یا بند نه ؤ بلکې څو چینی وی چې ځینی پکې وچی هم شوی.

په صلیبتی سپایانو کې غم او اندیښنی زور کړی ؤ، هغوی ته خوراک او څښاک ډېر کم ورکول کیده او د اوبو لپاره به ډېر لری تلل، د شپی به پری د سلطان صلاح الدین ایوبی کماندویانو حملی کولی او هغوی به یې وژل، په یوه نیمه میاشت کې نیمایی پوځ ختم شو، د هغوی ځاروی هم نور له کاره لویدلی وه، د دې لښکر قوماندان ریمانډ هم ډېر خفه او اندیښمن ؤ او مرستی ته سترګی په لاره ؤ چې کیدای شی نور صلیبی واکمنان راشي او هغه لدی عذاب څخه خلاص کړي خو د هیڅا درک نه معلومیده.

که د سلطان صلاح الدین ایوبی غوښتلی نو د څلورو لورو څخه یې برید پری کولو او دوی یې ختمول خو پدی سره هغه ته هم ډېر زیان رسیده او د جګړی اوښتل او بدلیدل هم امکان درلوده، د سلطان صلاح الدین ایوبی خپل ځواک ختمول نه غوښتل، هغه صلیبیان په قلاره قلاره ختمول، هغه ته دا زیان هم رسیدلی وه چې د پوځ دریمه برخه یې د دې لښکر په محاصره کولو کې بوختـه شوه نو ځکه هغه د کلا د نیولو لپاره دا ډله نشوه استعمالولایی.

د هغه سره احتیاطی پوځ موجود ؤ او هغه غوښتل د همدی پوځ څخه کار واخلی او مسئله زر تر زره ختمه کړي په هغه وخت کې به په محاصری کلونه کلونه تیریدل، د شپږ اوو میاشتو محاصره زیاته نه بلل کیده خو د سلطان صلاح الدین ایوبی د دومره محاصری پلوی او غوښتوونکی نه ؤ،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه میړنی انسان د هغه حمله کوونکو څخه هم نه وُ چې د محاصرې څخه وروسته اوسیدونکو ته خبر ورکړی چې دومره سره زر، دومره سپین زر او دومره شیان راکړی، مونږ بیرته درڅخه ځو.

د سلطان صلاح الدین ایوبی صلیبیان له خپلی اسلامی خاوری او هیواد څخه ویستل، هغه به ویل دا خاوره د مسلمانانو ده او لدی ځای څخه به ټولی نړی ته اسلام خپریږي

سلطان صلاح الدین ایوبی خپل عمر لنډ بللو او پدی لنډ عُمر کې یې د یرغلګرو صلیبیانو ویستل غوښتل، هغه ویل چې زه پدی ویریږم چې د ازادی وروسته به د هغوی تر سیوری لاندی ژوند کوی [ لکه اوس چې ټول عربی هیوادنه د نصرانیانو او یهودانو تر ولکی لاندی خپل د ذلت شپې ورځې تیروی ] یا د مسلمانانو واکمنان دا مقدس ځایونه په صلیبیانو پلوری .

یوه شپه هغه پخپله خیمه کې په ژور فکر او سوچ کې ډوب وُ، هغه پدی فکر کاوه که چیری له لری څخه کلا ته تونلونه وکیندل شي او بیا د هغې تونلونو له لاری مجاهدین کلا ته ننوځی نو کیدای شي کلا ونیول شي ، څه نوری لاری چاری یې هم سنجولی ځکه هغه غوښتل پدی څو ورځو کې کرک ونیسی. په همدی وخت کې علی بن سفیان د هغه خیمی ته ورننوت ، خو سلطان صلاح الدین ایوبی د هغه په لیدلو خوشحاله نشو ځکه هغه ته مخکې خبر ورکړل شوی وُچې د قاهری حالات خراب دي. په ځیره کې یې خفګان ښکاره شو او د علی بن سفیان سره یې روغبړ وکړ بیا یې وویل: یقیناً تا زما لپاره کوم ښه خبر ندی راوړی؟

علی بن سفیان وویل: په ښکاره خو څه خلصه خبره نشته خیریت دی! خو د زیری او خوښی خبره هم راسره نشته .

علی بن سفیان ورته د قاهری او مصر حالات بیانول پیل کړل، هغه نه غوښتل د سلطان صلاح الدین ایوبی څخه څه شیان او خبری پټی کړی او نه یې هغه پهٔ دوکه کې ساتلو، د حالاتو غوښتنه دا وه چې ټول حالات باید په زغرده او په ډاګه ورته وراندی کړی .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



علی بن سفیان د تقی الدین غلطی په ګوته کړې او بیا یې د سلطان صلاح الدین ایوبی دوه دری غلطی هم پرته د کومی ویری څخه بیان کړی، کله چې سلطان صلاح الدین ایوبی د ارسلان او سلیم الادریس د دوه زامنو څخه خبر شو نو د سترګو څخه یې اوښکی روانی شوی، که ارسلان خپل ځان نه وای وژلی نو سلطان صلاح الدین ایوبی به دا کله هم نه وی منلی چې هغه خائن او غدار دی، د دی څخه مخکې هم دوه کسانو ورسره همداسی خیانت او غداری کړې وه .

علی بن سفیان وویل: که ارسلان لږ ژوندی پاتی وی نو ډېر شیان به یې رسوا کړی وایی! د هغه د اخری خبری څخه داسې څرګندیده چې په قاهره کې پاځون او بغاوت کیدونکی دی، په مصر کې چې زمونږ کوم پوځ پروت دی هغه په ذهنی او عقیدوی لحاظ فلج شویدی. زما څارونکی وایی چې تر قوماندانانو پورې خلک په شک او اندیښنه کې پراته دي پوځ ته د غلی او غوښی د کموالی په پیدا کولو سره دا اوازی خپری شوی چې ټول شیان محاذ ته استول کیږي او پاتی برخه یې چارواکی خوری، د دښمنانو پلانونه او دسیسي مخ په کامیابیدو دی .

د دښمن پلانونه او دسیسي هلته کامیابیږي چیری چې څو کسان د هغوی سره لاسونه یو ځای کړی!

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: کله چې زمونږ ورونه د دښمن مرستیالان شي نو بیا به مونږ دښمن ته څه زیان ورسولی شو.

لکه څرنګه چې زه دغه سربښندونکی غازیان د کفر او بی لاری په خلاف استعمالوم او زما چارواکی هم همداسی وای نو اوس به د مسلمانانو لومړی قبله ازاده او خپلواکه وای اذانونه به د اروپا په کلیسا ګانو کې اوریدل کیدل. ..ر زه د دی غدارانو او خائنانو له لاسه تر اوسه پوری په مصر کې بندی یم. زما قصد او اراده په مصر کې تړلی شوی ده .

علی بن سفیان وویل: زه د دی لپاره راغلی یم که تاسې ته محاذ اجازه درکوي نو د څه وخت لپاره به مصر ته ولاړ شی!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: زه د حقیقت څخه سترګې نشم پټولایی علي! خو زه دا هم نه پټوم چې د صلیبیانو ژغورونکي او د فلسطین خاوره د کفارو په لاس خرڅوونکي زمونږ خپل تش په نامه مسلمانان دي .

علي! که چیرې مونږ اوس د مسلمانانو سره خیانت کوونکي د صلیبیانو غلامان او تالي څټي ختم نکړل نو بیا به هیڅکله هم ختم نشي، دوی به تل زمونږ ویاړلی تاریخ سپک او سپانده کړي .

په قوم او ملت کې دا ډول ډلې ټپلې هر وخت موجوې وی چې د الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم د سر سختو دښمنانو سره دوستي او د مسلمانانو سره دښمني کوي .

بیا سلطان صلاح الدین ایوبی وپوښتل چې د سوډان حالات اوس څه ډول شوي؟ ما خو تقی الدین ته خبر استولی ؤ چې خپل پوځ له هغه ځایه راټول او بیا یې شاته راشه !

علي بن سفیان وویل : په مصر کې خو دا حالت هیڅاته ندی معلوم چې تاسې څه فرمان ورکړی ؟

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : باید هم هلته خلکو ته معلوم نه وي بیا یې پیره کوونکي ته وویل: چې کاتب او لیکوونکي راوغواړه .

کاتب د قلم او رنګ سره راغی نو سلطان صلاح الدین ایوبی ورته وویل: د قدر او درناوی وړ سلطان نور الدین زنګی ته ولیکه ....

***

هغه استازی د ډېر تیز او چټک روان ؤ کوم چې د کرک څخه یې دمشق ته د صلاح الدین ایوبی پیغام سلطان نورالدین زنګی ته رسولو. سلطان صلاح الدین ایوبی ورته ویلي وه چې هغه به له هره څوکۍ چې په لاره دي تازه آس اخلي او آرام او دمه به نکوي، هیڅ ځای کې اس په قلاره نکړي بلکې څومره چې کیدای شي زر تر زره ځان هلته ورسوه. که د شپې سلطان نورالدین زنګی ته ورسیدی نو پیره کوونکي ته ووایه چې سلطان راپاڅوي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabt... Digital Library



که چيرې پدې کار سلطان خفګان ښکاره کړ نو ورته ووايه چې صلاح الدين وويل: چې مونږ ټول بيدار او ويښ يو.

استازي چې کله د سلطان نورالدين زنګي دروازې ته ورسيده نو د پيره کوونکو مشر وويل: چې سهار بايد هغه ته پيغام ورسول شي اوس شپه ده!

استازي څو آسونه بدل کړي وه خو په لاره کې يې يو غړپ اوبه هم نوې څښلې. دوه شپو او ورځو ستړتيا، لوږې او تندې هغه بې حاله کړې وُ، د هغه ژبه وچه شوې وه او په ښنو نشو ودريدايې، د هغه د خولې څخه خبرې نه راوتې، هغه په اشارو سره وويل: چې پيغام ډېر ضروري دی. نور الدين زنګي هم د صلاح الدين په شان خپلو ساتوونکو او پيره کوونکو ته ويلې وه چې که پيغام ضروري او مهم وي نو ما راپاڅوی او زما د خوب او آرام غم مه کوی.

د استازي حالت چې د ساتوونکو مشر وليده نو د سلطان نورالدين زنګي د خوب خونې ته ورغی او دروازه يې وټکوله، بيا هغه ډېر ژر د باندې راغی، استازي يې له ځان سره د ليدلو او ميلمنو خونې ته بوتللو. استازي چې کله خونې ته ننوت نو راپريوت، سلطان نورالدين زنګي د خپلو کار کوونکو پوسيله هغه سمبال کړ او بيا يې د پيغام په لوستلو پيل وکړ، صلاح الدين ايوبي ورته ليکلي و :

د قدر او درناوی وړ سلطان نورالدين زنګي! په تا دی د الله جل جلاله رحمتونه وي! زما پيغام به تا خوشحاله نکړي، ستا لپاره د خوښې پيغام دا دی چې ما خپله حوصله او عزم له لاسه ندی ورکړی، ستا سره کړې ژمنه پوره کوم، تاسې به زما ځای ته تشريف راوړي نو ټول حالات به درته له نږدې نه ووايم، ما کرک محاصره کړيدی، تر اوسه پورې برې پلاس ندی راغلی، دومره کاميابي مې پلاس راوړې چې د صليبيانو يو لښکر چې ريمانډ يې مشرې کوله او پر ما يې له بهر څخه بريد کولو هغه مې اوس محاصره کړی او نيمايي پوخ مې ورته ختم کړی، وړې صليبيان اوس هغه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



امر نه او اوښان خوري کوم چې دوی یې تر دی ځایه پوری را رسولي وه. زما پلان دا دی چې ریمانډ ژوندی ونیسم خو د کرک محاصره به اوږدیږي .
صلیبیان اوس د پخوا څخه په ښه طریقه جګړه کوي، ما د محاصرې د کامیابی په هکله فکر کولو او زه پدې هیله وم چې زما سرښندونکی به د کلا دیوالونه مات کړي، هغوی چې په کومه طریقه دیوالونه ماتوی هغه به تاسې هم حیران کړي، خو زما ورور تقی الدین په سوډان کې ناکام شویدی، هغه دا غلطی کړی چې د سوډان په دښتو کې یې خپل پوځ خپور کړی، اوس هغه مرسته غواړي، ما ورته د پوځ د یو ځای کیدو او بیرته پښا راتللو حکم کړیدی، د مصر څخه بد او خراب احوال راغلی .
غدارانو، خائنانو او ایمان پلورونکو هلته د صلیبی طوفان لپاره لاره هواره کړی او د بغاوت امکانات یې پیدا کړیدی. علی بن سفیان تاسې ښه پیژنی، هغه خپله کرک ته راغلی دی، زه د هغه مشوره نشم ماتولای، هغه وایې چې تاسې باید زر تر زره مصر ته ولاړ شی .
ښاغلیه! زه د کرک محاصره پریښودل نه غواړم ځکه چې بیا به صلیبیان وایی چې صلاح الدین پښا کیدای هم شي، د دښمن ورمیږ اوس زما په پنجو کې ده، راشی او د یرغلګرو دا مری په خپل لاس کې ونیسی، خپل پوځ له ځان سره راولی ځکه زه خپل پوځ مصر ته له ځان سره بیول غواړم په مصر کې د بغاوت خطر دی، هیله ده چې تاسې به زما دویم پیغام ته ځنډ ونکړی .
سلطان نورالدین زنګی لږ ځنډ هم ونکړ، د شپې په جامو کې په کار بوخت شو، پوځی مشران یې راوغوښتل، هغوی ته یې حکمونه او لارښوونې وکړې، نیمه ورځ لا هم نه وه تیره شوی چې د هغه لښکر د کرک په لوری وخوځیده. سلطان نورالدین زنګی! هغه مؤمن او مجاهد شخصیت وه چې صلیبیان د هغه د نامه څخه لرزیدل د هغه په سینه کې د ایمان ډیوه او شمع روښانه وه، هغه د جګړې د میدان شهزاده وه، هغه په لاره کې ډیره کمه دمه او ځنډ هم ونه کړ ، دومره زر کرک ته ورسیده چې صلاح الدین ایوبی حیران شو. که چیری استازی هغه ته له مخکې څخه خبر نه وای

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړي نو هغه د دوړو او ګرد په لیدلو فکر کولو چې د صلیبیانو لښکر را روان دي.

صلاح الدین ایوبي خپل آس په منډه کړ او هر کلی ته ور ورانندی شو، سلطان نورالدین زنګی چې کله هغه ولیده نو د آس څخه یې راټوپ کړل، کله چې د اسلام دا دواړه ساتونکی غازیان او مجاهدین سره غاړه په غاړه شول نو د ډېرو ولولو او احساساتو څخه د صلاح الدین ایوبي د سترګو اوښکې روانې شوې.

***

صلاح الدین ایوبي سلطان نور الدین زنګی ته د صلیبیانو او ایمان پلورونکو چارواکو ټول حالات او پیښې بیان کړې، نو سلطان نور الدین زنګی ورته په ځواب کې وویل: صلاح الدینه! ستا لا تر اوسه دومره عُمر نه دی تیر شوی چې ته ځینو حقایقو ته تسلیم شې، دا د مسلمانانو بد مرغي ده چې په هغوی کې هر وخت غداران ،ایمان پلورونکي او ځتمیسن پیدا کیږي او دوی هیڅ وخت د دې ناولې میکروب څخه پاک نشول. ماته داسې ښکاریږي چې یو وخت به همدا غداران او ایمان پلورونکي په اسلامي امت باندې حکومت کوي، د دښمن په خلاف به خبرې کوي، لوئې لوئې ژمنې او خبرې به له خپلې ټې همتې او بې وجدانې سره سره به کوي، د دښمن د ختمولو چیغې به وهي، خو قوم به پدې نه پوهیږي چې د دوی واکمنان او چارواکې د دوی دښمنان او د کفارو او د اسلام د دښمنانو پلویان او ملګري دي. دښمن به د هغوی څخه توري او سپرونه جوړوي، او د همدوی په لاسونو به خپل قوم ختموي (لکه اوس اوس چې په ټوله اسلامي نړۍ کې کټ مټ همداسې حالت روان دی).

خفه کیږه مه صلاح الدینه! مونږ حالات سمبالوو، ته سمدستي مصر ته ولاړ شه! تقي الدین ته مرسته ولیږه او هغه د سوډان څخه روغ رمټ راوباسه! ښي او چپ لوري ته حملې پیل کړه او دښمن د ځان سره ونښلوه، تر څو پورې چې تقي الدین د هغوی د محاصرې څخه راووځي او هیڅ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګروپ یې ګیر نشي، په مصر کې چې کوم پوځ دی هغه ټول راټول کړه، هغه پوځ چې په قاهره کې دی هغه سمدستي ماته راولیږه زه به د هغوی د دماغونو څخه د بغاوت چنجي وباسم.

د ماښام په مهال سلطان نور الدین زنګي خپل پوځ د کلا په محاصره کې بوخت کړ چې پدې سره د صلاح الدین ایوبي پوځ را شاته شو. هغوی ته سمدستي د قاهري په لوري د تللو حکم وشو هلته یوه غلطي رامنځ ته شوه کله چې د سلطان نور الدین زنګي او صلاح الدین ایوبي پوځونه سره بدلیدل او کسان مخکې وروسته کیدل، ناڅاپي په هماغه لوري ریمانډ حمله وکړه ځکه چې هغه لوري ورته کمزوري ښکاره شو. کله یې چې هغه حمله وکړه نو د صلاح الدین سپایان تللي او د سلطان نور الدین زنګي کسان نه وه را رسیدلي، ریمانډ د هماغي لاري څخه سره د خپلو څه پوځیانو ژوندي وتښتیده، پاتي برخه پوځ پرته د قوماندان څخه راګیر شو.

هغوی ته سبا څرګنده شوه چې قوماندان پېښي سپکې کړي او د وی یې د قرباني لپاره پریښي دي. پدې خبر سره صلیبي پوځیانو د تیښتي لپاره هر لوري ته منډې کړې چې پدې سره ځیني ووژل شول او ځیني ژوندي ونیول شول.

تاوان دا وشو چې ریمانډ ژوندي د جنګ له میدان څخه وتښتیده، خو ګټه دا وشوه چې د ریمانډ لښکر ختم او ټول پوځ د کلا محاصرې ته وزګار شو.

کله چې صلاح الدین ایوبي د کرک څخه د قاهري په لوري روان شو نو کرک ته یې د افسوس څخه په ډکو سترګو وکتل او بیا یې سلطان نور الدین زنګي ته وویل: تاریخ خو به دا نه وایي چې صلاح الدین ایوبي پښا ولاړ! ما خو محاصره نده ماته کړې.

سلطان نور الدین زنګي د هغه په اوږو باندې لاسونه کیښودل ویې ویل: نه صلاح الدینه! تا ماتې نده خوړلې - ته هسې احساساتي شوی یې! جنګ په احساساتو نه کیږي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلاح الدین ایوبی کرک ته په کتلو کتلو کې وویل: زه راځم زما فلسطینه! زه به انشاء الله بیا راځم! بیا یې خپل آس ته پونده ورکړه نور یې شاته راونه کتل.

سلطان نور الدین زنګی هغه ته کتل، کله چې هغه د خپل پوځ سره په ګرد او دوړو کې پټ شو نو سلطان نور الدین زنګی خپل یو مرستیال ته وویل: اسلام ته په هر وخت کې د یو صلاح الدین ایوبی اړتیا وی!

دا پیښه په۱۱۷۳میلادی او ۵۶۹ هجری کال کې وشوه چې تاریخونو به بار بار یادونه کړیده.

❁❁
❁

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چې مړي یې ژوندي کول

د مصر کلي والو او اطرافی خلکو د هغه لاره څارله ، د هر چا په ژبه دا خبره وه چې هغه د اسمان څخه رالېږل شوی، د الله جل جلاله دین یې راوړی ، د زړه خبری خلکو ته په ډاګه کوي، په راتلوونکي تورو تیارو کې روښنایي ښيي او مړي بیا را ژوندي کوي .

هغه څوک و؟ چا چې هغه لیدلی و نو د هغه د کراماتو څخه دومره اغیزمن شوي وه چې هیچا هم دا اړتیا نه ګڼله چې آخر دا سړی څوک دی ؟

هغوی دا منله چې له اسمان څخه راغلی دی - د الله جل جلاله دین یې راوړی دی، چا چې د ده لاره څارله هغوی هیڅ د دی اړتیا نه محسوسوله چې هغه څوک دی؟ کاروانونه چې تیریدل هغوی به د دی نوی شخصیت کرامتونه خلکو ته بیانول، کوم یو مسافر او لاروی به چې کوم کلی ته ولاړنو هلته به یې کلی والو ته د نوی شخصیت د کرامتونه قصی کولی ، ځینو خلکو به هغه پیغمبر او نبی ګڼلو، ځینو خلکو هغه د الله تعالی باران بللو او د هغه د خوشحالولو لپاره انسانی قربانی ورکولو ته هم تیار وه .

هغوی یو هم پدی فکر نه کاوه چې دا سړی د کوم مذهب او دین خاوند دی؟ کومه عقیده یې له ځان سره راوړی ده، خلک ډېر ساده زړی و بی سواده وه، هغوی ته به چې کوم ځای کې د مشکلاتو د حل لاره پیدا شو ه هلته به ورتلل او سجدی به یې کولی .

هغوی مسلمانان وه او اسلام هغوی ته د پلورنو څخه په میراث پاتی وُ، مسلمانانو هلته جوماتونه هم جوړ کړی وه، پنځه وخته لمونځونه هم کیدل، خو د اسلامی عقیدی او ایمان د پخوالی لپاره هیڅ کوښښ نه کیده. د هغوی امامان بی علمه وه نو ځکه یې د خپل امامت د ساتلو لپاره خلکو ته داسې کیسی بیانولی چې هغو به هیڅ حقیقت نه درلوده. هغوی قرآن مجید یوازی د تعویذونو کتاب جوړ کړی او دا یې خلکو ته ویل چې پدی یوازی امامان پوهیږي او بس، نور څوک که په هغه ځان پوهول غواړي نو کافر کیږي، په همدی خاطر عوامو قرآن مجید ته لاس هم نه نژدی کولو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو امامانو د خلکو په ذهنونو او فکرونو کې غیب ځای پر ځای کړی ؤ چې په هغه پرته له امام څخه بل څوک نه پوهیږي، آمامانو عام خلک او انسانان کمزوري معرفي کول. د همدې عقیدې او ښوونې څخه د وسوسو او وهمونو لړۍ را ولاړه شوه، هغوی به چې د باد آواز اوریده نو فکر به یې کاوه چې پدې کې یو نالیدونکی مخلوق دی چې کمزوري خلک هغه نشي لیدلای، ناروغي د پیریانو او جنیانو اثر وګڼل شو چې د هغې علاج او درملنه یوازې د امامانو لخوا څخه کیدله نو ځکه امامان د خلکو د ژوند واکمنان وګرځیدل.

هغوی ویل جنیات او پیریان د هغوی په واک کې دي، عام خلک د غیب او د هغې د اسرارو څخه دومره ویرول شول چې په هغوی کې د اسلام اصلي او ریښتنې عقیده کمزوري شوه، پدې سبب هغوی هر هغه چاته سجدې کولې چې په غیب پوهیدلو دعوه یې کوله، ځکه نو دې خلکو د هغه لاره خارله چې له اسمان څخه راغلي او مړي ژوندي کولای شي.

دا نوی شخصیت د مصر په جنوب لویدیځ سیمه کې پیدا شوی ؤ، په هغه وخت کې دهیوادنو تر مینځه کوم څرګند سرحد او پوله نه وه.

صلاح الدین ایوبي په کاغذونو باندې کرښه کش کړې وه خو هغه به ویل چې اسلام پوله او سرحد نلري.

اصلي سرحد د عقیدو تر منځ وي نه په خاوره او منطقه کې، په کومه خاوره چې د مسلمانانو واکمني وه هغه اسلامي خاوره او کومه چې د هغوی د واکمنۍ څخه د باندې وه هغه بهرنۍ سیمه بلل کیده. د مصر په کوم کلي کې چې د مسلمانانو اکثریت وه هغه د مصر آخري پوله او سرحد بلل کیده. صلیبي ورانکارو به پدې کلو باندې فکري او عقیدوي حملې کولې تر څو خپل غلط عقاید پکې ځای پر ځای کړي، د دې څخه داسې څرګندیږي چې هغه وخت جغرافیوي پولې کمې او عقیدوي پولې زیاتې وې. د هغه وخت د لیکنو څخه دا څرګندیږي چې کفارو او صلیبیانو په مسلمانانو باندې د فکر او عقیدې له لارې حملې کولې ځکه هغوی پوهیدل چې د مسلمانانو د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بری او فتح علت د هغوی عقیده او ایمان دی ځکه هغوی د الله جل جلاله په لاره جنګ کول جهاد بولی او قران مجید جهاد د نورو عباداتو پشان فرض کړیدی او ځینی وخت د نورو عباداتو څخه غوره او افضل هم دی، کله چې تیری وشی او یا په مسلمانانو ظلم زیاتی کیږي نو په نورو مسلمانانو جهاد فرض عین ګرځی ترڅو مظلوم مسلمانان د کفارو له ظلم او تیری څخه وژغوری که پدی لاره کې جګړی ته اړتیا پیښه شي هم به يې سرته رسوی.

همدی قرآنی احکامو په مسلمانانو کې عسکری او پوځی احساس او جذبه راپیدا کړی او د همدی اثر دی چې کله په کوم لوری باندی هغوی جنګیږي مقصد او موخه يې څرګند او روښانه وي - سره د دی چې د غنیمت مال ورته حلال دی خو د جنګ مقصد او هدف د مال لاس ته راوړل او پیدا کول ندي او نه د غنیمت لپاره هغوی جنګیږي، د دی برعکس د صلیبیانو هدف او مقصد د هیوادونو او ملکونو نیول او د مال لاس ته راوړل وه ځکه نو هغوی دی شیانو ته زیات اهمیت ورکاوه. لکه مخکې چې وویل شول صلیبیانو د مسلمانانو د کاروانونو لوټول خپل پوځ ته سپارلی وه. صلیبیانو ته د دی جذبی او احساس زیان را رسیده چې هغوی به د مسلمانانو څخه ځلور، پنځه چنده زیات وه خو د یو موټی مسلمانانو په مقابل کې به يې ماتی خوړله او که ماتی به يې هم نه خوړله خو کامیابی او بری به په لاس نه ورتللو. هغوی پدی پوهیدل چې قرآنی احکامو په مسلمانانو کې او چته عسکری او جهادی جذبه را پیدا کړی.

هغوی د خپل الله په نامه جنګیږي او خپل ځانونه قربانوی، ځینی صلیبی جنرالان داسي هم وه چې هغوی په مسلمانانو کې د دینی او مذهبی جذبی د کمزوری کولو کوښښ کاوه، هغوی پدی هم پوهیدل چې یو مسلمان په لسو کفارو بریالی کیږي دا پیریان او پرښتی ندی بلکې هغوی په خپل ځان کې ایمانی قوت او د خپلی عقیدی ځواک پیدا کړیدی کوم چې دوی د مال، دنیا او خپل ځان څخه هم بی پروا کوي، په همدی خاطر یهودیانو او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


عیسایانو له پخوا څخه د مسلمانانو د اخلاقو او عقایدو د خرابوالی لپاره کوښښونه پیل کړي وه ترڅو د هغوی عسکري، پوځي او جهادي روحیه او جذبه په دوی کې ختمه کړي - هغوی د دین او عقیدي په نامه داسی خرافات او غلط شیان راویستل چې په ښکاره به دین خو په اصل کې به بی لاري او بی دیني وه.

د سلطان صلاح الدین ایوبی او سلطان نور الدین زنګی بد نصیبی دا وه چې کله هغوی د صلیبیانو په خلاف راپورته شول نو صلیبیانو په اسلامی امت کې خپل زهرجن تبلیغات پیل کړي او تر یو ځای پوري کامیاب شوی هم وه. د اسلام قسم خوړلو دښمنانو دا برید او یرغل هر لوری ته استعمالاوه، په مسلمانانو کې چې کومه طبقه لوړه وه یعنی امیران، وزیران، چارواکی او شتمن خلک وه هغوی یې د شرابو، ښځو، او سرو زرو لیوني او حریصان وګرځول او په هر یو کې یې د لوړی څوکی لاس ته راوړلو حرص پیدا کړو ترڅو پدی توګه هغوی د نورو د ختمولو او کمزوري کولو سبب او لامل وګرځی.

هغه طبقه چې لاندی او د عوامو وه په هغوی کې یې وسوسی، غلطی عقیدی او د دین په خلاف شکونه پیدا کړل ترڅو د اصیل او حقیقی اسلام څخه لري او په غلطو لارو سر شی چې بیا په اسانه د دوی ښکار ګرځیدای شی.

لکه څرنګه چې سلطان نور الدین زنګی او سلطان صلاح الدین ایوبی د جنګ او جګړي په میدان کې نوی لاري او طریقی را پیدا کړي په همدی توګه صلیبی شیطانانو د بد اخلاقی او بی لاری لپاره نوی نوی طریقی او لاري راوویستلی، پدی معنی چې دوو جبهو کې جنګیدل.

دري څلور اروپایی تاریخ لیکوونکو دا هم لیکلی دي چې ځینی صلیبی واکمنانو د جګړي میدان ته اهمیت نه ورکاوه بلکې هغوی پدې خبره کلک ولاړ وه چې د مسلمانانو په خلاف داسې جګړه وکړه چې د هغوی ایمان کمزوری شي او عسکری جذبه پکې ختمه او ورکه شي. د هغوی په اخلاقو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او عقایدو بریدونه وکړي او د هغوی په زړونو کې داسې شکونه راپیدا کړي چې د عوامو، واکمنانو او مجاهدینو تر منځ بې باوري او بې اعتمادي راشي.

پدې پلانونو او پروګرامونو کې تر ټولو مهم سړی فلیپ اګستس وُ، ده د اسلام دښمنی خپله دینی دنده او وظیفه ګڼله، هغه به ویل چې زمونږ جګړه د سلطان نور الدین زنګی او سلطان صلاح الدین ایوبی سره نه بلکې د اسلام له دین سره ده، دا د اسلام او صلیب جنګ دی، دا که زمونږ په ژوند کې کامیاب نشو نو په راتلونکی کې به خامخا بریالی کیږي. د دی لپاره پکار دي چې د مسلمانانو په راتلوونکی نسل کې د دینی احساس پر ځای جنسی او شهوانی احساس رابیدار شي تر څو هغوی په عیاشی او فحاشی کې خپل ځواک له لاسه ورکړي.

فلیپ اګستس د جګړې په میدان کې په وسله غورځولو او تسلمیدلو هم ډیل ندی کړی او دا یې څه بده خبره نه بلله د کوم وخت کیسه چې مونږ وړاندی کوو د ۱۱۶۹ میلادی کال ریښتنی کیسه وه په هغه وخت کې فلیپ اګستس د سلطان نور الدین زنګی له لوری ماتی خوړلی او خپلی ځمکی او سیمی یې هم له لاسه ورکړې وی، هغه سلطان نور الدین زنګی ته ذد جنګ تاوان هم ورکړی ووا و د جنګ نه کولو تړون یې هم لاس لیک کړی او جزیه یې ورکوله خو د بندیانو په بدلون کې هغه یوازی څو معیوب مسلمانان خلاص کړل ځکه نور د کار مسلمانان یې لا دمخه وژلی وه.

اوس هغه د کرک په کلا کې د اسلامی بنیادونو د ختمولو او د مسلمانانو د اخلاقو او عقایدو د خرابولو په خاطر په پلانونو جوړولو بوخت وُ، د هغه په فکر او ذهن کې د اسلام دښمنی د لیونتوب درجی ته رسیدلی وه. د هغه ځینی پروګرامونه او پلانونه به دومره پټ او خطرناک وه چې خپله صلیبی واکمنان به پری شکمن کیدل. په هغه صلیبیانو دا تور لګولو چې په پټه هغه د مسلمانانو دوست او ملګری دی او د هغوی سره راکړه ورکړه کوي. د یو اروپایی تاریخ لیکوونکی اندری ازون په وینا یو ځلی فلیپ اګستس د دی تور په هکله دا رنګه ویلی وه: د یو مسلمان واکمن د بی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاری کولو لپاره زه د خپلو پیغلو لورګانو قرباني کولو ته هم چمتو یم. تاسې د مسلمانانو سره له ترون او روغې جوړې ځخه ویرېږې ځکه تاسې په هغې کې خپل سپکاوی ګوري خو تاسې پدې نه پوهیږې چې مسلمانان د جګړې په میدان کې ماتې نه خوري بلکې د سولې په ډګر کې ماتې ورکول کیږي، که ارتیا شوه نو هغوی ته وسله وغورځوی او سوله ورسره وکړې، ترون وکړي او بیا په ګور کې د هماغه ترون تر سیوري لاندې د مسلمانانو په ورانۍ سرچپه کار نامه وکړې !

ایا زه همداسې کارونه نکوم؟

ایا تاسې پدې خبر نه یاستې چې زما دوه خپلوانې نجونې په دمشق کې د یو شیخ په حرم کې ناستې دي؟

ایا تاسې د هماغه شیخ ځخه پرته له جګړې ډېره سیمه ونه ګټله؟

ایا هغه د دوستۍ حق اداء نکړ؟

هغه اوس هم ما خپل ملګری او دوست ګڼي خو زه د هغه ځانې دښمن یم، زه هر غیر مسلمان ته وایم چې د مسلمانانو سره روغه جوړه وکړې او بیا هم هغوی د لړم په شان په نیش باندې ووهې !!!

***

دا وُ هغه صلیبي فکر او عقیده چې د یو کامیاب او بریالي پلان لاندې یې د اسلامي امت ریښې د چنجې او وینې په شان خوړلې - د همدې فکر او عقیدې په نتیجه کې په قاهرې او مصر کې د بغاوت شکل جوړ شوی وُ او سلطان صلاح الدین ایوبي مجبور شو چې بریاوو ته نژدې محاصره خوشې کړې او ځان قاهرې ته ورسوی - هغه محاصره سلطان نور الدین زنګي ته پریښودله او د خپل پوځ سره رخصت شو، هغه بې زړه شوی نه وُ خو په زړه یې داسې دروند بار پریوتی وُ چې اثار یې په څیره باندې له ورایه ځرګندیدل - عام غازیان پدې خوښ وه چې د ډېرې مسافرۍ ځخه وروسته اوس کورونو ته روان دي خو قوماندانان او سر ګروپان پدې حیران وه چې ځرنګه محاصره پریښودل شوه او سمدستي د قاهرې په لورې ناڅاپي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرکت وشو ځکه هغه د فتحی یا ناکامی پوری جنگیدونکی وُ، یوازی دوه دری سالارانو ته څرگنده وه چې په قاهره کې حالات ډېر خراب دی او د تقی الدین پوځ په سوډان کې ماتی خوړلی ده اوس د هغه په خیریت سره بیرته راویستل ضروری دی. د سلطان صلاح الدین ایوبی سره علی بن سفیان هم ملگری وُ کوم چې د قاهری د حالاتو راپور یې راوړی وُ.

سلطان صلاح الدین ایوبی د کرک څخه د حرکت په وخت کې ویلی وه چې په لاره کې به ډېر کم وخت آرام کیږي او حرکت به ډېر تیز او چټک وي. د دی حکم څخه غازیانو ته دا شک پیدا شوی وُ چې په قاهره کې څه گډ وډی شته.

کله چې د لومړۍ ورځی ماښام راغی نو پوځ د ټولی شپی لپاره تم شو، د سلطان صلاح الدین ایوبی لپاره خیمه ودرول شوه وروسته هغه ټول سالاران او مرستیالان راوغوښتل او هغوی ته یې وویل: په تاسې کې ډېر داسې کسان دي چې هغوی ته معلومات نشته چې ولی ما محاصره خوشی کړه او قاهری ته روان یم! بیشکه محاصره ماته نده او نه مونږ پښا شوی یو خو که دا ماتی نه وی نو پښا تگ خو حتمًا دی زما ملگرو! مونږ پښا کیږو او ستاسې پښا کوونکی ستاسې خپل وروڼه دی ! هغوی د صلیبیانو ملگری شویدی، د پاځون او بغاوت پلان یې جوړ کړیدی.

که چیری علی بن سفیان او غیاث بلبیس ویښ او بیدار نه وای نو اوس به تاسې مصر او قاهری ته نشوای تللی اوس به هلته د صلیبیانو او سوډانیانو واکمنی وه، د ارسلان پشان سړی د صلیبیانو ملگری او غلام وختلو، هغه د سلیم الادریس دوه زامن مړه کړل او بیا یې خپل ځان هم ووژلو، که ارسلان خائن وي نو بیا تاسې په چا باور کولای شی.

په ناستو غازیانو او مجاهدینو باندی چوپتیا خپره شوه او ټول بی سده شول، خفگان او اندیښنه د هغوی د څیرو څخه څرگندیده، سلطان صلاح الدین ایوبی غلی شو او بیا یې ټولو ته وکتل.

د هغه وخت د حالاتو لیکوونکی قاضی بهاؤ الدین شداد د سترگو لیدلی حال دارنگه بیانوی: د دوه رپیدونکو شمعو په رڼا کې د ټولو څیری

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې ښکاريدی لکه چې يو بل هيڅ نه پيژني، هغوی سترګی هم نه رپولی، د سلطان صلاح الدين ايوبی خبرو او د هغې طريقی ټول تر اثر لاندی راوستی وه، د هغه په اواز کې زورنه بلکې لړزه وه چې ټول يې ويرول هغه بيا وويل: زه پدی خبره ښښنه نه غواړم چې په تاسې کې غداران شته! زه دا هم درته نه وايم چې تاسې په قران مجيد باندی قسم وخوری چې د اسلام او وطن سره به وفاداری کوو، ايمان پلورونکی قران پلاس کې نيسی، قسمونه خوری او ځان دوست او ملګری ښکاروی ، زه يوازی دا خبره تاسې ته کول غواړم چې څوک مسلمان نه وی هغه ستاسې دښمن دی، دښمن چې کله هم ستاسې دوستی څرګندوی نو په هغې کې به هرومرو دښمنی نغسنی وي. هغه تاسې د خپل دين، خپل قوم او خپلو خلکو په خلاف استعمالوی او کله چې په مسلمانانو باندی ورته د واکمنی وخت پلاس ورشی نو بيا د مسلمانو ميرمنو بی حيايی او بی عزتی کوي او اسلام له منځه وړی .

همدا د هغوی مقصد او هدف دی کوم جنګ چې مونږ پيل کړی دا زمونږ شخصی جنګ ندی، دا د خپل ځان د واکمن کولو کوښښ ندی، دا د دوه عقيدو حق او باطل جګړه ده، دا د اسلام او کفر جګړه ده، دا جګړه به تر هغې پوری روانه وي چې يا اسلام يا کفر ختم نشی .

يو سالار وويل: د سپين سترګی ښښنه غواړم ستر سالار! مونږ دا ثابتول غواړو چې مونږ خو غداران نه يو نو مونږ ته د مصر او قاهری ټول حالات بيان کړی! مونږ به پخپل عمل او کړو وړو دا ثابته کړو چې مونږ څوک يو! ارسلان د پوځ سړی نه بلکې يو اداری چارواکی دی، تاسې به په پوځ کې غدار پيدا نکړی .

د کرک محاصره تاسې پورته کړی مونږ نده پورته کړی!
سلطان نور الدين زنګی تاسې رابللی دی مونږ ندی رابللی!
زمونږ امتحان به د جګړی په ميدان کې اخيستل کيږي، په لاره کې څه معلوميږي!
په مصر کې څه روان دي ؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلاح الدین ایوبي د علي بن سفیان په لوري سترګې راواړولې او هغهٔ ته یې وویل! علي! دوی ته ووایه چې هلته څه روان دي!

علي بن سفیان وویل: غدارانو د دښمن سره لاس یو کړی او د سوډان د محاذ سامان یې بند کړی، د مارکیټ او بازار څخه غله او خوراکي شیان ورک کړل شویدی، کلو او باندو ته بهرني کسان راځي، غله او خوراکي شیان په لوړه بیه اخلي او بیا یې بهرته استوي، غوښه ورکه شویده، سامان چې کله لیږل کیږي نو قصداً په هغې کې ځنډ راوستل کیږي، داسې هم شوي چې سامان استول شوی او بیا دښمن ته هم خبر ورکړل شوی، دښمن د سامان ټول شیان ولکه کړي په ښار کې بد کاري او بد اخلاقي عامه شویده، د قمار او جواری داسې په زړه پوري طریقې را پیدا شوي چې زمونږ ځوانان یې ټول خپل ځان ته راکش کړي.

په پوځ کې خفګان او شکونه راپیدا شویدي، زمونږ د دیني او ملي احساس د مړه کولو کوښښ روان دی، چارواکو ته له بهر څخه بې دریغه مال او دولت ورکول کیږي څرنګه چې د حکومت واګې او اختیارات د همدوی پلاس کې دي نو هغوی داسې حالات او شرایط برابر کړي چې ټول د دښمن په ګټه دي، د ټولو څخه خطر ناکه خبره دا ده چې په اطرافونو کې غلطې خبرې او عقیدې خپرول کیږي - خلک د غیر اسلامي اصولو پابند ګرځي، د خطر خبره دا ده چې د همدې سیمو څخه مونږ ته پوځیان پلاس راځي، اوسني پوځ د هماغو سیمو اوسیدونکي دي.

بې بنسته او غلطې عقیدې په پوځ کې هم خپرې شویدي.

د غونډې د کسانو څخه یو وپوښتل: ایا تاسې د هغې څه چاره نده کړې؟

علي بن سفیان وویل: هو! زما ټوله اداره د مجرمانو په لټون او نیولو باندې لګیا ده او کار کوي، ما خپل څارونکي باندو او سرحدي سیمو او پولو ته هم لیږلي دي خو د دښمن ورانکاری دومره زیاته شوې چې د هغوی نیول اوس ګران کار دی. خطرناکه خبره دا ده چې زمونږ خپل کسان هغوی ته ځای او پناه ورکوي.

Scanned by CamScanner

(c) keta... Digital Library



ایا تاسې به پدې خبره حیران نشی چې زمونږ د اطرافی او کلیوالی سیمومسجدونو امامان هم د دښمن ملګري او جاسوسان شوی دي؟

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : داسې هم نشي کیدای چې زه اداری چاری پوځ ته تسلیم کړم! پوځ چې د کوم هدف او مقصد لپاره روزل شوی هغه په پوره توګه سره سرته رسوی او په هغې کې بوخت دي چې دا د پوځ او ملت دواړو لپاره غوره ده لکه څرنګه چې یو اداری چارواکی سالار نشی کیدای همدا اسې یو سالار اداري چاري په ښه توګه مخ په وړاندې نشی بیولای خو دا باید هر سالار ته څرګنده وی چې اداری چارواکی کوم کارونه سرته رسوی او په خپلو کارونو کې خو غلطی او ورانی نه کوی ؟

زما ملګرو! الله پاک جل جلاله مونږ د تاریخ په یو سخت ازمیښت کې اچولی یو! د مصر حالات تاسې پخپله واوریدل، د سوډان حمله ناکامه شویده، تقی الدین د خپلو غلطیو په سبب د سوډان په دښتو او بیابانو کې نښتی دي، لالهانده ګرځی د هغه پوځ په کوچنیو ګروپونو ویشل شویدي. د هغه پشا تلل هم ممکن نه ښکاري - زه دا هم نشم ویلایی چې ښاغلی نور الدین زنګی به کرک فتح کړی او که نه؟ نو هغه هم زه خپله ناکامی بولم! تاسې په دې ړرو خرابو حالاتو کې هم دښمن ته ماتی ورکولای شی خو په کوم محاذ چې دښمن حمله کړی هغه تاسې ته فتح کول آسان نه ښکاري.

تاسې توریالی یاستی د دښتو سینی ځیرولی شی خو زه دا خطر احساسوم چې پدی محاذ کې به تاسې وسله وغورځوی.

د دی خبرو په ځواب کې د غونډی څخه خو احساساتی اوازونه راغلل چې بیا سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: کله چې د قاهری اوسنی پوځ مخکې په شوبک او کرک کې و د هغوی ولولی او احساسات هم ستاسې پشان تاوده او ګرم وه خو کله چې په قاهره کې هغوی ته دښمن شنه باغونه وښودل شوه نو د بغاوت لپاره تیار او چمتو شول اوس هغوی داسې حالت ته رسیدلی چې تاسې پری باور نشی کولای.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


یو سالار وویل: مونږ به د داسې قوماندانانو او چارواکو په وژلو باندې خپل کار پرمخ بیا یو!
بل سالار وویل : مونږ به تر ټولو د مخه خپل صفونه له غدارانو څخه پاکوو!
یو بوډا سالار وویل : که زما زوی هم د دښمن پلوی او ملګری شي نو زه به یې سر پرې کړم او ستا په قدمونو کې به یې واچوم او زه به دا ثابته کړم! خو زه د داسې احساساتی او جذباتی خبرو پلوی نه یم!
سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: د غونډې کسان ټول په جوش کې راغلل، هغوی داسې خلک وه چې د صلاح الدین په وړاندې د خبرو کولو څخه هم ویریدل خو اوس چې هغوی دا واوریدل چې د پوځ ځینی کسان د دښمن پلویان شوی او پوځ یې بغاوت ته چمتو کړی نو د آور بڅرکی ورڅخه جوړ شول، یو پکې سلطان صلاح الدین ایوبی ته دا هم وویل: تاسې تل مونږ ته د صبر او حوصلې خبره کوی خو ځینې حالات داسې وی چې صبر او تحمل نور هم کار خرابوی، مونږ ته اجازه راکړه چې تر قاهرې پورې هیڅ دمه ونکړو، د خوراک ، څښاک او دمې څخه پرته سفر وکړو، مونږ به هغه پوځ بې وسلې کړو.
سلطان صلاح الدین ایوبی ته نور پدې خلکو کنترول کول ګران شول، هغه څو خبرې نورې وکړې او غونډه یې ختمه کړه، سهار وختی پوځ حرکت وکړ چې په پوځی نظم او ترتیب باندې برابر وُ سلطان صلاح الدین ایوبی د خپلو ساتوونکو سره جلا روان وُ، هغه ولیدل چې علی بن سفیان د هغه سره ملګری ندی، تر ماښام پورې دوه ځلې پوځ تم شو، د ماښام څخه وروسته هم پوځ روان وُ او د شپې تر اولې برخې پورې همداسې مخکې تلل. کله چې شپه نیمه پخه شوه نو صلاح الدین ایوبی پوځ ته د تم کیدو حکم ورکړ، کله چې هغه د خوراک او څښاک څخه وزګار شو نو علی بن سفیان هم راپیدا شو.
سلطان صلاح الدین ایوبی وپوښتل : ټوله ورځ چیرې وې علی!
علی بن سفیان وویل: تیره شپه زما په زړه کې یو شک پیدا شوی وُ د هغې شک د لرې کولو یا باوری کولو لپاره ټوله ورځ په پوځ کې وګرځیدم .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبي وپوښتل : څه شک!

علي بن سفیان وویل: تا د شپې ونه لیدل چې ټول قوماندانان، سالاران او مرستیالان د قاهرې د پوځ په خلاف راپاریدلي! ماته شک پیدا شو چې دوی به خپل لاندې کسان هم راوپاروي او زما همدا شک ریښتیا شو! دوی ټول پوځ ته د قاهرې د پوځیانو په هکله داسې خبرې کړې چې ټول لښکر راپاریدلی، ځینې غازیانو دا هم ویل چې مونږ په محاذ کې زخیمان او شهیدان کیږو او زمونږ ملګرې په قاهره کې عیش او مزې چړچې کوي او بیا د اسلامي نظام په خلاف بغاوت هم کوي. مونږ به د رسیدو سره هغوی ټول ختموو، بیا به د سوډان نښتې او راګیر شوي پوځ ته مرسته ورکوو، ښاغلې آمیره! که مونږ د دې خلکو مخه ونه نیوله نو په قاهره کې به خپل منځې جګړه پیل شي، زمونږ دا لښکر په احساساتو او ولولو کې دی، او د قاهرې پوځ خو لا مخکې د بغاوت لپاره پلمې لټولې .

زه پدې خوشحاله یم چې د محاذ په سترې او ستومانه پوځ کې کې دومره قوې جذبه او اسلامي احساس شته!

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل : خو زمونږ دښمن همدا غواړې چې پوځ په دوه ډلو وویشي او پخپلو کې یې سره بیا ووژني .

سلطان صلاح الدین ایوبي په ژور غور او فکر کې ډوب شو، بیا یې علي بن سفیان ته وویل: کله چې مونږ له قاهرې څخه لږ لرې شو، نو زه به قاهرې ته یو هوښیار استازې واستوم او د قاهرې پوځ او لښکر به د بلې لارې څخه کرک ته ولیږم، یا به خپله ولاړ شم او هغه پوځ به کرک ته نو هیڅوک به پلاس ورنشي، تا ډېر ښه کار وکړ علي! زه دې کار ته هیڅ متوجې نشوم .

***

هغه نوې شخصیت چې د غیب خبرې یې کولې، نوی دین یې راوړی، د اسمان څخه راښکته شوی او مړې ژوندې کولایې شي د خپلو ملګرو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاروان کې په سفر بوخت وُ، چا چې لیدلی وه هغوی ویل چې عُمر یې زیات ندی بلکې سور سپین ځوان دی، ږیره یې خړ رنګ لري او د سر ویښتان یې لوی په اوږو پراته دي، خلکو به ویل چې د هغه په سرو سترګو کې د پوره او مکملی سپوږمی پشان روښنایي وي، غاښونه یې د ستوري پشان ځلیږي، ونه یې لوړه او بدن یې قوي او مضبوط دي، کله به یې چې خبری کولی نو خلک به یې تر اثر لاندی راوستل.

د هغه سره ډېر ملګري، خدمت کوونکي او ډېری سپرلي وي، په اوښانو باندي غټ غټ متکي بار وه، هغه به د کلو او باندو ځخه لري په دښته کې تیریدلو او هلته به یې اړول او د خلکو سره به یې په هماغه ځای کې لیدل. هیڅ کلي ته نه تللو، په کوم لوري به چې تللو د هغه ځخه مخکې به څه اوښ سپاره او آسپ سپاره په منډه تلل او په کلو کې به یې خلکو ته ویل چې اسماني شخصیت را روان دی، هغوی به خلکو ته د هغه کرامتونه او نا اشنا شیان بیانول، خلک به د ځو ځو ورځو ځخه هغه ته سترګې په لار ناست وه.

په هغه شپه چې علي بن سفیان سلطان صلاح الدین ایوبی ته وویل چې د محاذ پوځ د قاهري د پوځ په خلاف را پاریدلی په همدی شپه نوی غیب ویوونکی د قاهری ځخه ډېر لری د خرماؤ په یو بڼ کې دیره اچولی وه. د هغه یو اصل دا وُ چې د سپوږمی په شپه به یې د چا سره نه لیدل، د ورځی خو یې د چا سره خبری هم نکولی، تیاره شپې د هغه خوښي وي، د هغه په مجلسونو او محفلونو کې به داسې رڼاګانی بلیدلی چې د یوی رنګ به د بلی ځخه توپیر درلوده، دی رڼاګانو خپله یو اثر درلوده چې خلک به یې اغیز من کول. هغه چې د خرماؤ په کوم بڼ کې دیره لګولی وه د هغه سره نژدی یو کلی وه چې زیات اوسیدونکی یې مسلمانان وه چې ځینی پکې حبش او سوډانیان وه، په هغه کلي کې یو جومات هم وه چې امام یې د چوپ او غلی طبعیت ښتن وه. د یوی یا یوی نیمی میاشتی ځخه د هغه سره یو ځوان د زده کړی لپاره هم اوسیده دا ځوان چې خپل نوم یې محمود بن احمد ښودلو د بل کلي ځخه د زده کړي لپاره راتللو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ځوان کار يوازې په زده کړې پورې اړه درلوده خو هغه يو بل په زړه پورې کار هم پيدا کړی و، په هغه کلي کې يوه پيغله نجلۍ اوسيده چې نوم يې سعديه وه، د سعديې محمود دومره خوښ شوی وه چې څو ځلې يې پرې د خپلو وزو شيدې هم څښلي وې په لومړي ځل د محمود او سعديې ليدل په هغه دښته کې شوي وه چې هلته به يې خپلې وزې او دوه اوښان څرول او اوبه يې ورکولې. يو ځلې سعديې خپل څاروی د اوبو لپاره چينې ته بوتلل چې هلته محمود بن احمد هم د اوبو لپاره راغلی وه، سعديې ورڅخه وپوښتل له کوم ځای څخه راغلی او چيرې روان يې؟

محمود ورته وويل چې زه نه د کوم ځای څخه راغلی او نه چيرې ځم!

سعديه په دې خبره وخندل ځکه ځواب د خندا وړ و، نو سعديې د محمود څخه وپوښتل: مسلمان که ...

محمود بن احمد ورته وويل : زه مسلمان يم نو سعديه ډېر خوشحاله او په خندا شوه.

محمود هغې ته خپل اصلي ځای نښودلو، هغه د سعديې سره داسې خبرې وکړې چې د هغې خوښ شو، هغې ورڅخه د سوډان د جګړې په هکله وپوښتل ځکه هغې ورسره مينه درلوده چې مسلمانان په څه حالت کې دي، کله چې هغې د صلاح الدين په هکله وپوښتل نو محمود ورته داسې خبرې وکړې چې د هغې په نظر کې سلطان صلاح الدين ايوبي يوه پرښته او آسماني انسان معلوم شو.

سعديه وپوښتل: ايا سلطان صلاح الدين ايوبي د هغه چا څخه هم ډېر مقدس او سپيڅلی دی چې له اسمان څخه راښکته شوی، په غيب پوهيږي او مړي را ژوندي کوي؟

سلطان صلاح الدين ايوبي مړي نشي را ژوندي کولای په غيبو يوازې يو الله جل جلاله پوهيږي !

سعديه وويل: خلک وايي چې هغه هم مسلمان دی او زمونږ پشان لمونځ او روژه نيسي خو هغه ژوندي خلک وژني!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمود بن احمد وپوښتل: تاته چا ويلي دي چې سلطان صلاح الدين ايوبي خلک وژني؟

سعديه وويل: زمونږ له کلي څخه ځينې مسافر تيريږي، هغوی وايي چې سلطان صلاح الدين ايوبي ډېر بد انسان دی

محمود ورڅخه وپوښتل: ستاسې د جومات آمام څه وايي؟

سعديه وويل: هغه ډېرې ښې او ښکلې خبرې کوي! هغه وايې چې سلطان صلاح الدين ايوبي د اسلام روښنايي په ټول مصر او سوډان کې خپرول غواړي، او اسلام يوازې د الله پاک جل جلاله ريښتنی دين او قانون دی.

محمود د سعديه سره په همدې موضوع باندې خبرې کولې، محمود ته د سعديه له خبرو څخه څرګنده شوه چې دی کلو ته داسې کسان راځي چې ځان ته مسلمان وايي خو خلکو ته د اسلام په هکله شکونه پيدا کوي.

محمود سعيده ته داسې خبرې وکړې چې د هغې شکونه يې ختم کړل او د خپل شخصيت او خبرو په وسيله يې په هغې دومره آثر وغورځولو چې هغې ورڅخه غوښتنه وکړه چې زه دلته هر وخت خپل څاروی راولم نو تاسې هم دلته راځئ او زما سره ګورئ.

محمود هغه د ولولو او احساساتو په منځ کې پريښوده او کلي ته روان شو. سعديې فکر کولو چې دا څوک دي؟ له کومه راغلي او چيرې روان دي؟ د هغه جامې د دی سيمې ښکاري خو رنګ، خبرې او حال يې د دی ځای ندی د بلې سيمې اوسيدونکی معلوميږي.

د سعديه شک ريښتيا وه، محمود بن احمد د دی کلو او سيمې اوسيدونکی نه ؤ بلکې دا سکندريې د ښار اوسيدونکی وه، هغه د علي بن سفيان د اداری يو هوښيار کار کوونکی او تکړه غړی ؤ، هغه له څو مياشتو څخه د خپلې دندې او مسئوليت د سرته رسولو لپاره په سرحدی سيمې او کلو کې ګرځيده، هغه خپل ځای پټ ساتلی ؤ، د هغه سره خپل نور ملګري هم وه چې پدی کلو او بانډو کې خپاره شوی وه، هغوی به کله

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله سره یو ځای کیدل او خپل معلوماتونه به یې سره شریکول چې په هغې کې به یې ضروري او مهم شیان قاهري ته استول.

د همدې راپورونو څخه علي بن سفیان ته څرګندیدله چې په سرحدي سیمو کې څه څه کارونه کیږي.

کله چې محمود ته سعدیه په مخه ورغله نو د هغې سره یې هم همداسې خبرې وکړې چې د هغې څخه یې د کلي او خلکو په هکله معلومات راټول کړل هغه د جومات د آمام په هکله ځکه پوښتنه وکړه چې هغه ته د نورو دوه جوماتونو آمامان شکمن ښکاره شوي وه او د خلکو څخه ورته څرګنده شوې وه چې هغوی دواړه نوي نوي راغلي. په هغې جوماتونو کې مخکې آمامان نه وه، هغوی دواړو د جهاد په خلاف خبرې کولې او د قرآن مجید ایاتونه به یې غلط ترجمه او تفسیرول. هغې دواړو نوي غیب پوهیدونکي او مړي ژوندي کوونکي برحق پیغمبر بللو او خلکو ته یې د هغه په هکله ترغیب ورکولو، محمود بن احمد د دې دواړو آمامانو په هکله قاهرې ته پوره معلومات استولي وه او اوس یې غوښتل د سعدیې کلي ته ولاړ شي او د هغوی د امام او کلي په هکله معلومات راټول کړي. هغه پدې خبره ډېر خوشحاله شو چې د هغوی آمام حقیقي مؤمن او مسلمان دی او د اسلام خدمت کوونکی دی نو له ځان سره یې فیصله وکړه چې پس لدې په همدې کلي کې د زده کړې په پلمه پاتې شي.

***

هغه جومات ته ولاړ او د آمام سره یې ولیدل، هغه خپل بدل نوم او ځای امام ته وښودلو او دا یې ورته وویل چې د علم په زده کولو پسې سرګردانه او لوغړن ګرځي.

آمام د هغه سره ژمنه وکړه چې علم به ورته زده کوي، امام ورته دا هم وویل چې په همدې جومات کې اوسیږه هم. محمود په جومات کې ځان بندي کول نو غوښتل نو آمام ته یې وویل چې زه به دوه درې ورځې وروسته کورته ځم، هغه آمام ته خپل نوم او ځای ونښوده.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا آمام ورځخه د ځای او نوم پوښتنه وکړه نو ده ورته هماغه پخوانی خبره وکړه!

امام په خندا شو او په خپ اواز یې ورته وویل : محمود بن احمد! زه پدی خوشحاله یم چې ته د خپلی دندی او مسئولیت څخه بی پروا نه یې، د اسکندریی مسلمانان وظیفه پیژندونکی خلک دی .

پدی خبره محمود ناځاپی وشوریده لکه چې توکر یې خوړلی وي، هغه پدی شک کې شو چې دا آمام د صلیبیانو جاسوس دی خو آمام هغه سمدستی پوه کړ او شک یې ورته لری کړ ویی ویل: زه اوس اړین بولم چې تاته خپل ځان ځرګند کړم، زه ستاسې د اداری غړی یم، زه ستا ټول ملګری چې پدی سیمه کې اوسیږی پیژنم.

خو تاسې یو هم ما نه پیژنی، زه د علی بن سفیان د هغې اداری غړی یم چې د دښمن د حالاتو څخه د خبریدو سره سره پخپلو غړو او کسانو باندی هم نظر ساتی، زه دلته د امام په حیث اوسیږم او خپل کار کوم .

محمود بن احمد وویل: بیا زه تاته هوښیار سړی نشم ویلایی! تاسې چې ماته خپل ځان ځرګند کړ کیدای شي کوم صلیبی جاسوس ته هم همداسې ځان ځرګند کړی .

امام وویل: زه پدی باوری وم چې ته زمونږ د اداری غړی یې! ما دا اړین وبلل چې تاته خپل ځان ځرګند کړم، زما سره دوه ساتوونکی دی چې دلته په کلي کې د کلی والو په شکل اوسیږي، ماته د ډېرو کسانو اړتیا ده، ښه شوه چې ته هم راغلی، دی کلی ته د دښمن ورانکاری راځی، تا به د هغه سړی په هکله هم اوریدلی وي چې نوی را پیدا شوی، مړی ژوندی کوي او د راتلوونکی په هکله معلومات ورکوی . دا کلی هم د هغه د نا لیدلی کراماتو تر اثر لاندی راغلی. ما لومړی دی خلکو ته ویلی وه چې دا ټول دروغ دي او په مړو کې څوک روح نشي اچولی خو د هغه د جادو زور دومره دی چې خلک اوس زما سره مخالف شوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library


بيا ما ځان سمبال کړ ځکه ما لدې جومات څخه وتل نه غوښتل، ما ته د يو مرکز او ځاى اړتيا وه، دلته خلکو ته ريښتني اسلام ښودل او د هغوى لارښودنه هم اړينه ده، شل ورځې مخکې ماته دوه کسان د شپې راغلل او زه يې پوازې ووم، هغوى مخونه پټ کړي وه، هغوى ماته اخطار راکړ چې لدې جومات څخه ولاړ شم، ما هغوى ته وويل چې زه پرته لدې جومات څخه بل ځاى نلرم، هغوى وويل که دلته اوسيدل غواړې نو درس او سبق بنده کړه او د نوې شخصيت چې له اسمان څخه راکوز شوى او مړې ژوندى کوى خبرې او ستاينه پيل کړه، ما د هغوى مقابله کولاى شوه، د هغوى وژل او ځان وژل راته ګران کار نه ښکاريده خو پدې شکل ما خپل مسئوليت نشو سرته رسولى، ما هغوى ته دا ډاډ ورکړ چې سر له نن څخه ما خپل دوست او ملګرى وبولى، هغوى راته وويل که دا کار دى وکړ نو هم به نه وژل کيږي او هم به درته د سپينو زرو سکى په تحفه کې درکول کيږي .

محمود بن احمد وويل: نو بيا تا د خپل وعظ او خطبې رنګ او شکل بدل کړى ؟

امام ځواب ورکړ: تر يوى اندازې پورى! زه اوس دوه ډوله خبرې کوم، ماته د سپينو زرو اړتيا نشته خو د خپل ځان اړتيا راته شته! زهٔ د خپل مسئوليت د پوره کيدلو څخه مخکې مړ کيدل نه غواړم ما نه غوښتل چې ستاسې ملګرى ولتهوم او هغوى هم په خطر کې واچوم .

الله پاک جل جلاله اوس ته خپله راوستى؟ په هغه شپه زما ساتوونکى زما سره نه وه، اوس به ته زما سره اوسيږي ته به زما د شاګرد په صفت دلته پاتې کيږي، ته به د ساده او بې سواده خلکو په شان خبرى کوى، پدى کلى کې خلور پنځه کسان داسې دي چې زمونږ ملګرتيا کولاى شي. که چيرى پدى نژدى برخو کې زمونږ د پوځ کوم تولى پيدا شي نو دا به زمونږ کار نور هم آسانه کړي خو زمونږ د ګروپونو په قوماندانانو باور کول هم خطر لرى دښمن هغوى د ښځو او اشرفيو پوسيله د ځان ملګرى کړيدى، هغوى تنخوا زمونږ څخه اخلى خو کار دښمن ته کوى .

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمود بن احمد له هماغی ورځی څخه د امام سره اوسیده، امام هغه ته خپل دواړه ساتوونکی وښودل او پخپلو کې یې سره پیژند ګلوی وشوه.
مابنام چې کله سعدیه امام ته خوراک او څښاک راوړله نو محمود یې هم هلته ولیده ډېره حیرانه شوه او بیا په مسکا شوله.
محمود ورته وویل: زما لپاره خوراک او څښاک نه راوړی؟
سعدیی خوراک او څښاک د امام په خونه کې کیښودل او بیا په منډه کور ته ولاړه، له ځان سره یې د شیدو پیاله او ډوډۍ راوړله. چې کله سعدیه ولاړه نو امام محمود ته وویل: دا د دی سیمی تر ټولو ښکلی او ښایسته نجلۍ ده، هوښیاره او تنکی ځوانه ده! د هغی سودا اوس روانه ده.
محمود وپوښتل :سودا که واده؟
امام وویل: سودا! ته پوهیږی چې د دی خلکو واده هم سودا ده خو د سعدیی بالکل سودا روانه ده، مونږ باید د هغې په هکله اندیښمن نه وای خو سوداګر شکمن خلک ښکاری، هغوی د دی سیمی اوسیدونکی نه ښکاری، ماته دا کسان هغه معلومیږي چې ماته یې ګوت خنډنی کړی وی، ته پدی ښه پوهیږی چې دا خلک به دا نجلۍ په خپل رنګ کې رنګوی او بیا به یې زمونږ په خلاف استعمالوی- اوس د دی نجلۍ ساتل او بچکول د دی لپاره اړین دي چې دا به زمونږ په خلاف استعمالیږي او د دی لپاره هم چې دا مسلمانه پیغله ده، مونږ د خاوری، دین او ملت د ساتلو په خوا کې د خپلو لوڼو او خویندو پت، عزت او حیا هم خوندی کوو، زه هیله من یم چې دا سودا به نه کیږي ځکه د سعدیی پلار ما خپل ملګری او پلوی کړیدی خو هغه غریب او یوازی دی، هغه د رسم او رواج څخه هم نشی تښتیدای.
په هر صورت دلته د سعدیی پرته له مونږ څخه بل څوک ساتوونکی او محافظ نشته.
د دی څخه وروسته محمود د امام شاګرد شو، شپی او ورځی تیریدی، د محمود او سعدیه لیدنی کتنی سره کیدی، نجلۍ به څرڅای ته تلله او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمود به هم هلته ورتللو. کله چې د محمود او سعدیه تر منځ خبرې ازادې شوې نو هغه ورځخه وپوښتل چې هغه څوک دي چې ستا سودا کول غواړي؟
سعدیه خو هغوی نه پیژندل، ځکه هغې کله نه وه لیدلې او یو ځل هغوی د ښاروی د لیدلو پسې راغلل او هغه یې لاندې باندې وکتله او بیا بیرته ولاړل.
سعدیې ته ښه معلومه وه چې هغه به د چا میرمن کیږي نه، هغه که کوم شتمن یا مالدار سړي واخلي او په خپل حرم کې به یې بندې کړي پرته له کور او کورنۍ جوړولو به بوډۍ او بیا مړه شي. یا به ورته نڅا کول و رزده کړي او د خلکو د وخت تیرولو لپاره به ورڅخه کار اخلي. هغې د خپلو کلي والو پوځیانو څخه د داسې نجونو او میرمنو ډیرې کیسې اوریدلې وې، هغه پداسې لرې او پس پاتې سیمه کې اوسیده خو په ډیرو شیانو پوهیدله او فکر یې پرې کولای شو. له کومې ورځې څخه چې هغې محمود بن احمد لیدلی نو پخپل زړه کې یې ځای ورکړی و، او کله چې هغه پدې پوه شوه چې محمود هم د دې سره مینه او محبت لري نو بیا یې په زړه کې دا اراده پخه شوه چې اوس به نو نه خرڅیږي ځکه هغه پدې پوهیده چې په یوازې توګه خپله ځان د سوداګرو څخه نشي خلاصولای. یوه ورځ یې له محمود څخه وپوښتل ایا ته ما نشې اخیستلایې؟
محمود ورته وویل: اخیستلایی دې شم! خو کوم قیمت او بیه چې زه درکوم هغه به ستا پلار ونه منې!
سعدیې وپوښتل : څومره قیمت او بیه به ورکړې؟
محمود ورته ځواب ورکړ: زما سره ستا لپاره د زړه څخه پرته بل څه نشته! زه نه پوهیږم چې ته د زړه په قیمت او بیه پوهیږې کنه؟
سعدیه وویل: که چیرې ستا په زړه کې زما لپاره مینه او محبت وي نو دا زما لپاره تر ټولو زیات دي! ته ریښتیا وایې چې زما پلار به دا قیمت قبول نکړي خو زه تا ته دا وایم چې زما پلار ما خرڅول نه غواړي، د هغه مجبوریت دا دی چې هم بې وزلې او هم یوازې دی، زما هیڅ ورور نشته !

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوداګرو زما پلار ته اخطار ورکړی که قیمت وانخلی نو مونږ هغه درڅخه په زور تښتوو .

محمود وپوښتل: د نجونو خرڅول خو دلته رواج دی ستا پلار ولی دومره زیات قیمت ونه منلو؟

سعدیه وویل: پلار می وایی چې هغه سوداګر مسلمانان نه معلومیږي! ما هم پلار ته ویلی چې زه د غیر مسلمان سره تلل نه غواړم - بیا یې په ورخطایی سره وویل: که ته ما له ځان سره ساتلی شی نو زه سمدستی ستا سره تللو ته چمتو یم .

محمود وویل : زه بالکل تیار یم !

سعدیه وویل: همدا نن شپه باید ولاړ شو!

د محمود د خولی څخه ووتل : نه! زه د خپل مسئولیت د پوره کولو څخه مخکې نشم تلای .

سعدیه په حیرانتیا سره وپوښتل : څه مسئولیت !

محمود را بیدار شو ځکه هغه سعدیی ته ویل نه غوښتل چې هغه څه مسئولیت لری، هغه د خولی څخه په وتلی خبره پرده اچول غوښتل خو سعدیه ورپسی شوه خو هغه ته خپله پخوانی خبره ور په یاد شوه نو ویی ویل: زه د دینی تعلیم او زده کړی لپاره راغلی یم او د هغې د پوره کیدو څخه مخکې چیری تللی نشم .

سعدیی په افسوس سره وویل : تر هغه وخت پوری به یې زه تر کوم ځای پوری رسولی ووم!

محمود د یوی نجلی لپاره د دندی او مسئولیت پریښودلو ته تیار نه ؤ، هغه ته دا شک هم پیدا شو چې کیدای شي دا د دښمن جاسوسه نه وی چې د هغه د بی کاره کولو لپاره پکار ګمارل شوی، نو هغه د سعدیه په هکله لټون او پوښتنی کول اړین وبلل .

***

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سلطان صلاح الدین ایوبي پوځ د قاهرې څخه اته میله لرې و، هغه ته ویل شوي وه چې پوځ احساساتي شوی او د قاهرې په پوځ حمله کوي، سلطان صلاح الدین ایوبي هلته د تم کیدو حکم ورکړ او د هغوی په منځ کې یوي او بلی خواته وګرځیده، هغه خپله د پوځیانو معلومات اخیستلو، هغه یو سپور ته ورغی نو نور پوځیان هم راټول شول، هغه ورسره یوی او بلی خوا خبری پیل کړی نو یو سپاره وویل: سپین سترګی وبښه لوی سالاره! دلته تم کیدو ته اړتیا نه وه مونږ تر ماښام پوری قاهرې ته رسیدلو!
سلطان صلاح الدین ایوبي وویل: تاسې جنګیدلی او ستړی راغلی یاستی! زه تاسې ته پدې پراخه دښته د دمی وخت درکوم.
سپاره وویل : مونږ جګړه کوونکی راغلی یو او جګړې ته تلوونکی یو!
سلطان صلاح الدین ایوبي په حیرانتیا سره وپوښتل: ایا جګړې ته تلوونکی یاستی؟ زه خو تاسی قاهرې ته بیا یم، چې هلته د خپلو ملګرو او دوستانو سره وګوری !
سپاره وویل: هغوی زمونږ دښمنان دي! که دا خبره سمه وي چې د قاهرې پوځ بغاوت ته چمتو دی نو بیا هغوی زمونږ ملګری نه بلکې دښمنان دی .
یو بل سپاره وویل : د صلیبیانو څخه هم کلک او سخت دښمنان! ایا دا سمه نده چې هغوی بغاوت ته چمتو دي! یو بل یې د سلطان صلاح الدین ایوبي څخه وپوښتل .
سلطان صلاح الدین ایوبي ځواب ورکړ: څه ګډوډی شته! خو زه به خائنانو ته سزا ورکوم .
یو سپاره وپوښتل: تاسې به ټول پوځ ته څه سزا ورکړی ! سزا به مونږ ورکوو، مونږ ته قوماندانانو د قاهرې ټول حالات بیان کړی، زمونږ ملګری په شوبک او کرک کې شهیدان شوی، په دواړو ښارونو کې زمونږ د خویندو او لوڼو بې عزتی او بی آبروی کیږي، زمونږ ملګری د کلا څخه په راغورځیدونکی آور کې لولپه کیږي، په لومړنی قبله باندی د صلیبیانو واکمنی ده، او زمونږ پوځ په قاهره کې مزی چړچی کوي او د بغاوت لپاره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چمتو دي! څوک چې د شهیدانو پروا نه ساتي، د خپلو خویندو د عصمت او او آبرو فکر نکوي هغوی د ژوندون حق نلري! مونږ پوهیږو چې هغوی د اسلام د قسم خوړلو دښمنان ملګري او دوستان شوي، ترڅو پوري چې مونږ د دي غدارانو څټونه غوڅ نکړو تر هغې به د شهیدانو روحونه مونږ ونه بښي! لږ خو دي زخمیانو ته وګوری، چې مونږ له ځان سره راوستي! د چا پښه نشته د چا لاس! ایا د دوی غړي د دي لپاره غوڅ شوي چې زمونږ ملګري د دښمنانو په لاسونو کې ولوېول شي.

مونږ به هغوی ته پخپل لاس سزا ورکوو! یو دم ټولو پوځیانو چیغی او ناري کړي، سلطان صلاح الدین ایوبي ته ګرانه شوه چې دا خلک راکنټرول کړي هغه د غازیانو جوش، جذبه، احساسات او ولولی سړول هم نه غوښتل، هغه ورته د صبر او زغم نصیحت وکړ، هیڅ حکم یې ونکړ بیا خپلی خیمی ته ولاړ.

سلا کاران او مرستیالان یې راوغوښتل او دا یې ورته وویل چې تر دویم حکم پوري به پوځ همدلته پروت او تم وي.

ځکه زه ګورم چې خپل منځی جګړه کیږي، د پوځ خپل منځی جنګ د دښمن په ګټه دی، زه همدا نن شپه قاهری ته ځم، هیچاته څرګنده نشی چې زه دلته نه یم، د غازیانو ولولی او جوش سوړ نکړي.

هغه اړینی لارښوونی ورکړی او بیا یې وویل: د قاهری پوځ چې بغاوت ته چمتو دی هغه ملامت ندی، زمونږ ځوانان چې د قمار او بد اخلاقی عادی کیږي هغوی هم ملامت ندی، پوځ ته زمونږ چارواکو غلطی خبری کړی او هغوی یې راپارولی! د همدی چارواکو په کومک دښمن زمونږ په لوی او ستر ښار کې فکری او ذهنی ورانکاری پیل کړی. دی بد اخلاقی او ورانکاری، ځکه دومره زور اخیستی چې د دی کارونو بندونکی چارواکی د هغې د خپرولو کوښښ کوي. دښمن هغوی ته مزدوری او بدله ورکوی، د کوم قوم او ملت چې آمیران او چارواکی د نورو غلامان او تالی څټی شي د هغې قوم او ملت همداسې حالت وي، زمونږ پوځ د سوډان په دښتو کې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


لوغړن جنګیږي! مړه کیږي، زخمیان کیږي، په لوږه او تنده یوی او بلی خواته ګرځي خو زمونږ چارواکی د هغوی سامان او خوراکی شیان ورڅخه منع کوي. ایا دا د دښمن دسیسه نده چې زمونږ خپل وروڼه هغه بریالی کوي؟ دښمن د دی څخه دوه ګټی اخلی چې تقی الدین د خپل پوځ سره ختم او یا تسلیم شي، دویمه ګټه دا اخلی چې قوم ته وایی چې ستاسې پوځ ماتی وخوړه او باید هغه ختم شي. زمونږ ځینی دوستان او چارواکی د مصر په تخت او څوکی باندی ځان کینول غواړی، هغوی د ټولو څخه وړاندی پوځ د خلکو په سترګو کې سپکوی ترڅو خپلی غوښتنی او خواهشات پری پوره کړی.

زه د امارت وږی نه یم او نه د هغې غوښتونکی یم، که هر څوک ما ته داړ راکوي چې زما مقصد به پوره کوي نو زه به د هغه په پوځ کې د یو غازی پشان وجنګیږم خو دا به څوک وي؟ د دی راتلوونکی ژوند د پاشاهانو پشان تیرول غواړی سره د دی که دا څوکۍ ورته د دښمن سره په سودا کولو هم پلاس ورځی، خو زه خپل قوم او ملت داسې درجی ته رسول غواړم چې د دښمن په سر پښی کیږدی او حکومت وکړی. د دی حریصو واکمنانو او چارواکو سترګی یوازی ځانته او نن ورځی ته دی خو زه د قوم راتلوونکی ته ګورم.

هغه خبری بس کړی خو بیا یې وویل: زما آس سمدستی چمتو او تیار کړی! د هغو ټولو کسانو نومونه یې واخیستل چې د ده سره تلل. هغوی ټول په پټه راوغواړی او قاهری ته د تللو ورته ووایی.

زما خیمه همداسې ولاړه پریږدی چې چا ته شک پیدا نشی چې زه دلته نه یم!

بیا یې ژور نفس وویستلو او ویی ویل: زه په کلکه تاسې ته وایم! کوم پوځ چې بغاوت ته چمتو دی هغې ته زه هیڅ سزا نه ورکوم، تاسې هم د هغوی په ضد په زړه کې کینه مه ساتی! همدارنګه خپل ځوانان هم ملامت او ګرم مه بولی، زه به د هغه چا په خلاف سخت ګام پورته کوم چا چې د قوم، ملت د ځوانانو او پوځ د بی لاری کولو کوښښ کړی - کله چې دا پوځ د دښمن سره مخامخ شي او هغوی یې په غشو او نیزو هر کلی وکړی نو دوی به بیا پوه شي چې مونږ د الله جل جلاله او اسلام پوځ یو! د دماغ څخه به یې د بغاوت

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځنجې ووځې. تاسې چې کله خپلو بچیانو ته دښمن څرګند کړې نو هغوی به خپله د قمار او بد اخلاقۍ څخه د جهاد میدان ته راوګرځي. زه تاسې ته په زغرده وایم چې د قوم، خاورې او دین ساتنه او حفاظت د پوځ څخه پرته امکان نلري، زه چې د یهودیانو او صلیبیانو پلانونو او ورانکاریو ته ګورم نو دا په څرګنده ویلی شم چې هغوی د اسلام پوځ کمزوری کوی ترڅو پدې توګه اسلام ختم کړي.

په هر وخت او هر ځای کې چې د کوم هیواد پوځ کمزوری شي د هغې ازادي او خپلواکي به په غلامۍ باندې بدلیږي. په هیڅ وخت کې هیڅ اسلامي هیواد د پوځ څخه پرته ژوندی نشي پاتې کیدای.

زمونږ ننی غلط کار به د اسلام راتلوونکی تور تم کړي، زه نشم ویلایی چې راتلوونکی نسل به زمونږ د غلطیو، ناکامیو او کامیابیو څخه ګټه پورته کړي او کنه!

یو سلا کار وویل: ښاغلی د مصر امیره! که زمونږ ورونه په غداری کې تجربه لاس ته راوړي نو زمونږ راتلوونکی نسل به خامخا غلام وي، هغوی به پدې هیڅ نه پوهیږي چې ازادي څه شی ته وایي! قومي او ملي عزت څه شی دی! ایا زمونږ سره د دې څه علاج شته؟

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل: د قوم او ملت فکر او ذهن رابیدار او ویښ کړي! قوم او ملت ته رعیت مه وایي، د ملت هر سړی پخپل ذات کې پادشاه دی، هیڅوک د ملي وقار او عزت څخه مه بې برخې کوی!

زمونږ په خلکو باندې د پادشاه او خلیفه کیدو لیونتوب سپور دی ځکه نو هغوی خلکو ته رعیت وایي او د خپلې واکمنۍ لپاره یې استعمالوي، په یاد ولرئ، چې ملت د بدنونو او جسمونو ټولګه نده چې تاسې یې د خارویو پشان هر لوري ته کش کړئ، په ملت کې دماغ هم شته! روح هم شته! ملي حیثیت هم! د قوم دا استعدادونه راویښ او بیدار کړئ ترڅو ملت خپله فکر وکړي چې څه ښه دي او څه بد، څوک ښه دي او څوک بد! که قوم پوه شو چې د صلاح الدین څخه غوره امیر شته چې د اسلامي هیواد د ساتلو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره سره مونږ ته د سمندر څخه پورې غاړه هم ازادي راکوي نو هر څوک کولای شي زما مخې ته ودرېږي او په پوره زړورتیا سره راته ووایي چې مونږ له تا څخه غوره انسان پیدا کړی ته خپله څوکۍ خالي کړه، په قوم او ملت کې باید فکر وی او دا زړورتیا هم او په ما کې باید دا فرعونیت نه وی چې د ځان په مقابل کې ګوت نیوونکی پرنېږدم - زه په همدې ویره کې یم چې زمونږ ملت به د داسې فرعونیانو ښکار شي، د ملت څخه به ځاروی جوړ شي، بیا به مسلمان مسلمان نه وی ، که وی هم نو تش په نامه به وي .

دین به یې په نامه وی خو کلتور، دود او رواج به د صلیبیانو سرته رسوی .

پدی وخت کې یو ساتونکی راغی چې آسپ تیار دی، کوم دری څلور کسان چې راغوښتل شوی وه هغوی هم راغلی دی .

سلطان صلاح الدین ایوبی د خپل ځان سره څلور ساتوونکی ملګری کړل، نورو ساتوونکو ته یې وویل چې هغوی د ده په خیمه کلکه پیره وکړی او هیچا ته معلومه نشي چې زه دلته نه یم! هغه خپلو ملګرو ته وویل چې یو فلانی ځای ته ځانونه ورسوی، هغه به ورسره هلته یو ځای کیږي، بیا یې خپل ځای ناستی وټاکلو او روان شو.

***

دښته تیاره او چوپه وه، څوارلس آسونه ځغلیدل، صلاح الدین ایوبی د سهار راختلو څخه مخکې ځان قاهری ته رسول غوښتل، علی بن سفیان د هغه سره ملګری وه، د هغه پوځ په دښته کې په درانه خوب ویده وه، پیره کوونکو ته هم څرګنده نه وه چې د هغوی ستر سالار وتلی دی، د قاهری د قاهری ته را روان دی، د شپې په اخرینی برخه کې هغه د خپل کوچنی کاروان سره د قاهری ښار ته ننوت، هغه هیڅ پیره کوونکی ونه درولو، پدی معنی چې اصلاً هلته هیڅ پیره کوونکی نه ؤ. سلطان صلاح الدین ایوبی خپلو ملګرو ته وویل: همدا د بغاوت پیل دی چې په ښار کې هیڅ پیره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوونکې نشته! ټول پوځ ویده شویدی، بې پروا بې غمه! حال دا چې مونږ په دوه محاذونو کې جنګیږو، د دښمن د حملې او برید امکان هر وخت شته .

خپل ځای ته په رسیدو یې پرته له ځنډ څخه د مصر لوړې پوړې چارواکې چې د ده پر ځای ناست وه سمدستي را وغوښت، سلیم الادریس یې هم راوبللو کوم چې دوه زامن یې غدارانو په چل او دوکه سره یو پر بل وژلي وه، لوړ پوړي چارواکي چې سلطان صلاح الدین ایوبي ولیدلو نو وویریدلو، سلطان صلاح الدین ایوبي سلیم الادریس ته ډاډ او تسلي ورکړه خو هغه ورته وویل: که زما زامن د جګړې په میدان کې وژل شوي وایې نو زه به ډېر خوشحاله ووم، هغه په چل باندي ووژل شول، دا وخت زما د زامنو د ماتم او ویر کولو ندی، تاسې زه د کوم بل کار لپاره رابللې یم حکم وکړی !

لوړ پوړی چارواکی ریښتنی مؤمن او مسلمان وه د هغوی څخه سلطان صلاح الدین ایوبي د قاهرې په هکله مکمل معلومات وغوښت او ویې پوښتل چې ستا په وړاندې کوم کوم کسان شکمن دي ؟ هغه د پوځي مشرانو په هکله په ځانګړې توګه وپوښتل .

سلطان صلاح الدین ایوبي ته څو نومونه په ګوته شول، هغه لارښووني پیل کړې چې شکمن کسان دي په قاهره کې پاتې شي او نور ټول پوځ دې د سهار د لمر ختو څخه مخکې د رخصت کیدو ځای ته راټول کړای شي، نوري ډېرې لارښووني یې هم وکړې او بیا یې یو پلان جوړ کړ.

لږ ځنډ وروسته د پوځ په کیمپ کې غال مغال جوړ شو، پوځ له وخته مخکې راپاڅول شو، ټول شکمن کسان د سلطان صلاح الدین ایوبي دفتر ته راوغوښتل شول، هغوی حیران وه چې دا څه پیښه شویده! هغوی یوازې دومره پوه شوي وه چې سلطان صلاح الدین ایوبي خپله راغلی دی، هغوی یې آس هم لیدلی ؤ، خو په هغه یې لا سترګې نه وې لګیدلې ځکه چې هغه اوس سمدستي ورسره کتل نه غوښتل .

هغه د پوځیانو تر حرکت پورې دوی ور څخه جلا ساتل او همدا د هغه مقصد او هدف وه .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



له د سهار روښنايي نه وه خوره شوې چې پوځ په ترتيب او نظم سره ودرول شو، د سپرو او پياده پوځيانو شاته د سامان اوښان هم ولاړ وه. سلطان صلاح الدين ايوبي پوځ ته داسې روزنه او تړينګ ورکړې وچې کله حکم وشي بايد په يو ساعت کې خپل ځانونه حرکت ته چمتو او تيار کړي .

د همدې روزنې او تړينګ برکت و چې هغوی سهار وختي حرکت ته چمتو او تيار شول، سلطان صلاح الدين ايوبي په خپل آس باندې سپور شو او خپل مرستيالان هم ورسره وو، هغه ټول پوځ ته وکتل او بيا د يوې ليکې په مخکې تير شو، هغه په خندا او مسکا وو، د هغه د خولې څخه بيا بيا دا خبرې وتلې: آفرين ، سل آفرين! د اسلام ساتونکو! پر تاسې دې د الله جل جلاله رحمت وي .

د صلاح الدين ايوبي د شخصيت خپل يو اثر وو چې هر غازي به هغه حس کولو، د بل لوري د هغه خندا او د آفرين ويل سپايان ټول تر اغيز لاندې راوستي وه، د آمير او ستر سالار دومره نږدې کيدل سپايانو ته ډېره غټه او لويه خبره وه. هغه ټول پوځ وکتلو او بيا يې په لوړ اواز هغوی ته وينا وکړه:

د هغې وخت په ليکنو کې چې کوم شيان راغلي هغه پدې ډول دي: د الله جل جلاله په نامه قربانيدونکو مجاهدينو! د اسلام ناموس ساتونکو غواړي! تاسې د شوبک کلا چې د کفر تر ټولو قوي مورچه وه د شګو د غونډۍ په شان له خاورو سره برابره کړه، تاسې صليبيان په دښتو او بيابانو کې خواره واره کړل، او په جنت فردوس کې مو ځانته ځای پيدا کړ، ستاسې ملګري او ستاسې خواږه دوستان ستاسې په وړاندې شهيدان شول، تاسې پخپلو لاسونو هغوی ښخ کړل، هغه کماندو شهيدان ياد کړئ چې د دښمن د پوځ شاته شهيدان شول، تاسې د هغوی جنازې ونشوی کړای، د هغوی مړي هم تاسې ونه ليدل، ايا تاسې تصور کولايي شی چې د هغوی سره به دښمن څه کړي وي، د نو هغو شهيدان يتيم بچيان راپه ياد کړئ، د هغوی کونډې را يادې کړئ د چا چې د سر تاج د الله تعالی په لاره کې قربان شول، نن د هماغو شهيدانو روحونه تاسې ته بلنه درکوي، ستاسې غيرت او

(c) ketabton.com: The Digital Library


ستاسې نارینتوب ته بلنه درکوي، دښمن کرک دومره قوي کړی چې ستاسې د هر ملګري د دیوالونو لاندې په اور باندې لولپه شول، که تاسې هغه حالت لیدلای وایی نو د سر په هډوکو به مو هغه دیوال نړولی وایی، هغوی په اور لولپه کېدل خو دیوال یې هم کېندلو خو مرګ هغوی ته وخت ورنکړ.

د اسلامي عزت او عظمت ساتونکو! د کرک په ښار کې ستاسې د خویندو او لونو بې آبرو یې او بې عزتې کېږي، د بوډاګانو ځخه د ځاریو پشان کار اخیستل کېږي، ځوانان په بند او چوپالونو کې اچول شوي، مورګانې د بچیو ځخه جلا کړې شویدي، ما چې د هرو کلا ګانې نړولې د خاورو دا کلا مې فتح نکړایی شوه، زما زور او ځواک تاسې یاستې! زما نا کامې ستاسې ناکامې ده!

پدې سره د هغه اواز نور هم لوړ او اوچت شو، هغه خپل لاس پورته کړ او وې ویل: زما سینه په غشو سورۍ او غلبیل کړي، زه ناکام راستون شوی یم! خو د مړکیدو ځخه مخکې زما په غوږ کې دا زیری وکړي چې تاسې کرک فتح کړیدي، او خپل بې اسرې لورګانې مو پخپلو سینو پورې ونیسي.

د هغه وخت یو حالات لیکونکي الاسدي لیکي چې سپرلیو داسې حرکتونه کول لکه چې هغوی د خپلو سپرو احساسات او ولولې حس کړي وي، سپاره چوپ وه خو زیات آسونه شنیدل او خپلې پښې یې په ځمکه وهلې سپرو واګې راکش کولې او د خپلو ولولو او احساساتو ځرګندونه یې کوله.

د هغوی ژبې چوپ وې خو د هغوی مخونه او ځیرې تکې سرې شوي وي چې د هغوی د زړه حالت یې ځرګندولو، د سلطان صلاح الدین ایوبي خبرې لکه د غشو پشان د هغوی زړونو ته ننوتلې، د بغاوت سپرغۍ مړې شوي او د سلطان صلاح الدین ایوبي مقصد او هدف پوره شوی وُ.

د اسلامي هیواد د عزت ساتونکو! تاسې د کفارو لپاره هیبت، ویره او دهشت ګرځیدلي یاستې، ستاسې د تورو د پخولو لپاره صلیبي یرغلګر خپلې لونې او حشیش استعمالوي، تاسې پدې نه پوهیږئ چې هغوی د یوې ښځې د عصمت او آبرو تویولو په بدل کې زر کسه مجاهدین بې کاره کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د دي يوي لور د بي پته كيدو په بدل كې پخپلو لاس لاندي سيمو كې د زرگونو مسلمانو پيغلو بي پتي او بي آبرويي كوي - ستاسې منځ ته يوه فاحشه راليږي او په هغې باندي زمونږ زر ميرمني فاحشه كوي، ولاړ شي او د خپلو خويندو او لورگانو عصمت، آبرو او پت وساتی، تاسې به هغه كرک ته انشاء الله ځی چې د هغې د ديوالونو لاندي قران مجيد ټوټې ټوټې پروت دی، هلته د جوماتونو څخه كنارابونه جوړ شويدی، هغه صليبيان چې ستاسې له نومونو څخه ويريږي، نن ورځ دربانـدي په كرس كرس خاندي، شوبک تاسې فتح كړی ؤ اوس به كرک هم تاسې فتح كوی.

صلاح الدين ايوبي پوځيانو ته دا هيڅ ونه ويل چې تاسې بی لاری شوی یاست او بغاوت ته مو ملا ترلی وه، هغه د هيچا په خلاف يوه خبره هم ونکړه، د هغې پر ځای يې د هغوی غيرت او احساسات راوپارول، هغوی چې مخكې پدی حيران وه چې ولی مونږ دومره وختـی راپاځول شو اوس پدی حيران وه چې مونږ ته د كرک په لوری د تللو حكم نه كيږي، ټول پوځ په احساساتو راغلی ؤ، سلطان صلاح الدين ايوبي ټول قوماندانان راوغوښتل او د حركت په هكله يې لارښوونی ورته وكړی، هغوی تـه يې د حركت بله لاره په گوته كړه، دا نوی لاره د هغې لاری څخه ډيره لری وه چې په كومه لاره له محاذ څخه پوځ راتللو، د دی پوځ سره سلطان صلاح الدين ايوبي هغه قوماندانان واستول كوم چې ده له ځان سره راوستی وه او هغوی ته يې پټی لارښوونی وكړی، كله چې پوځ ته د حركت حكم وشو نو هغوی دومره د تكبير ناری پورته كړی چې د قاهری ديوالونه يې ولړځول، د سلطان صلاح الدين ايوبي ځيره د احساساتو څخه ځليدله.

كله چې د قاهری پوځ حركت وكړ او د سلطان صلاح الدين ايوبي له ستر گو پناه شول نو هغه يو استازی راوغوښت او د هغه پوځ په لوری يې وليږلو چې له محاذ څخه راغلی او په لاره كې تم شوی ؤ، استازی ته وويل شول چې ډير زر ځان ورسوی، فاصله كمه وه استازی زر هلته ورسيده، او د سلطان صلاح الدين ايوبي پيغام يې د مرستالانو غوړو ته ورساوه چې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمدستي دی پوځ د قاهرې په لوري را روان شي هغوی ته د حرکت حکم وشو، مابنام د پوځ مخکې ګروپ قاهرې ته راننوت چې وروسته ورپسې نور پوځ هم را ورسیده. هغوی ته هماغه بارکونه ورکړل شول چې تر پرون شپې پکې د قاهرې پوځ اوسیده، پوځیانو ته قوماندانانو وویل چې د قاهرې پوځ محاذ ته استول شویدی، نوی راغلی پوځ ډېر په جوش راغلی وه، علي بن سفیان د هغوی د سرولو لپاره ترتیب نیولی ؤ.

سلطان صلاح الدین ایوبي د سرحدي پوستو معلومات هم ځانته وکړی وه او بیا یې سهار سمدستي د هغوی د بدلیدو حکم ورکړ، هغه ته ویل شوي وه چې پخوانی سرحدي پوځیان غله او خوراکي شیان په پټه سوډان ته لیږي او د دښمن سره مرسته کوي، هغه نوی تلونکو قوماندانانو ته لارښوونې وکړې او د پخوانیو ګروپونو په هکله یې حکم وکړ چې له هماغه ځای څخه باید محاذ ته واستول شي.

د کورنۍ جنګ او د پوځ بغاوت مخه یې ونیوله هغه ټول پوځي سالاران او قوماندانان یې راوغوښتل او هغه قوماندان یې هم چې د قاهرې له پوځ څخه جلا کینول شوی وه..

***

سعدیه به دوه ځلې د خوراک او څښاک ورلو لپاره جومات ته تلله، محمود بن احمد د شاګرد په توګه دیني زده کړه کوله. هغه به څړځای ته هم تللو چیرې چې سعدیې خپل څاروي څرول. هلته غونډۍ وی او ځای شین وه څکه چې هلته اوبه وی، هغه چمن او شین ځای له کلي څخه لرې ؤ، سعدیه اوس محمود خپل ساتونکی ګڼلو، او پدې باوري وه چې هغه به د کفارو له منګلو څخه راخلاصوی.

سعدیې محمود ته وویل چې خپل کلي خوشی کړی او همدلته واړوی ترڅو چې زده کړه پوره کړي، محمود هغې ته نشول ویلایی چې د هغه کور د مصر په بل سر کې دی چې هلته دومره زر نشي تللی، هغه د خپل فن په وسیله دا معلومه کړه چې سعدیې د دښمنانو پلوی او ملګري نده، که د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دندي او مسئوليت خبره نه وايي نو محمود به لا مخکې هغه له ځان سره بيولی وای. د دندي څخه برسيره امام د هغوی د اداري افسر وُ، چې د هغه په شتوالی کې یې وظیفه نشوه خوشي کولای، امام هغه ته ویلي وه چې باید له ما سره به وی، د هغه وینا د حکم او امر حیثیت درلوده.

یوه ورځ ناڅاپي په کلي کې خلک زیات شول، نوي خیري تر سترګو شوی، د هر چا په ژبه همدا یوه خبره وه: هغه راتلوونکی دی، هغه له آسمان څخه راغلی دی، مړي ژوندي کوونکی راځي!

د کلي هر اوسیدونکی خوشحاله وُ، هغوی ویل چې زموږ مطلب او مشکلات حل کوونکی را روان دی.

سعدیه په منډه راغله او محمود بن احمد ته یې وویل: تا هم اوریدلی دي چې هغه را روان دی ته پوهیږې چې زه به د هغه څخه څه غواړم؟ زه به هغه ته ووایم چې محمود ما سمدستي لدې ځای څخه وباسی، نو بیا به ته ما درسره بوځي.

محمود هیڅ ځواب ورنکړایی شو، هغه تر اوسه پوري دا د رازونو څخه ډک سخصیت نه وُ لیدلی کوم چې عامو خلکو خدای او پیغمبر بللو، د محمود سیمي ته هغه په لومړي ځل را روان وُ، د هغه د کرامتونو احوال او خبري لا مخکې را رسیدلی وی، محمود د باندي ووت نو خپل دوه ملګري یې ولیدل، د هغوی سیمه بله وه، محمود هغوی ته وویل چې تاسې ولی له خپلي سیمي څخه دلته راغلي یاست؟ هغوی ورته وویل چې موږ په غیبو پوهیدونکی سړي ته راغلي یو، هغوی د ښارني لپاره نه وه راغلي بلکې د هغه څخه پوره آغیز من شوی وه، موږ دواړو یې کرامات لیدلي دي.

محمود فکر وکړ چې د علي بن سفیان تربیه شوی کسان چې د ده څخه آغیز من شویدي نو دا سړی په حق دی.

محمود هغه شین ځای ته ولاړ چیري چې سعدیه خپل ښاروی څرول او ده به ورسره لیدل خو هلته بل ډول کارونه پیل شوی وه، هغه له لري دوه کسانو رامنځ کړ چې دلته د خدای استازی راځي، دا ځای د هغه لپاره پاکیږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه به دلته پاتې کیږي، هغه له لرې ولیدل چې په یوه غونډۍ کې غار او تونل جوړیږي او ځای هواریږي. هلته اوس هیچاته د تللو اجازه نه وه .

د کلو خلکو خپل کارونه پریښودل او هلته راټولیدل، نوي او نا اشنا خلک به راتلل او د کلي خلکو ته به یې د نوي شخصیت په هکله معلومات ورکاوه، د هغه کرامتونه به یې هم بیانول خلک تر اثر او اغیزې لاندې راتلل، د شپې خلک خپلو کورونو ته هم ولاړ نشول او هلته پاتې شول، د هغه سره د خلکو مینه دومره زیاته وه چې جومات ته هیڅوک ولاړ نشول .

سبا سهار وختي بیا خلک هلته نږدې ورغلل، هغوی لرې ودرول شول، د شپې نا بلد خلک نور هم زیات شول، هغو خلکو هلته کندې هم ویستلې، د هغوی سره څو اوښان وه چې ډېر زیات سامان پرې بار ؤ، کله چې سامان خلاص شو نو ډیرې خیمې پکې څرګندې شوې، چې وروسته یې هغه ودرولې.

ماښام تیاره شو، دا شپې تیاره وې، شپوږمۍ د شپې په اخرې برخه کې راپورته کیدله، د دې غیب پوهیدونکې په هکله ویل کیدل چې هغه یوازې په تیاره شپو کې خلکو ته ځان څرګندوي، د ماښام څخه وروسته هم خلک هلته پاتې شول. یو لوری ته د کلي میرمنې هم ولاړې وې چې سعدیه هم پکې وه .

هغه ځای چې د راتلونکې شخصیت لپاره پاکول کیده هلته مشعلونه لګیدلي وه، دوه کسان د میرمنو تر شا راتاو شول چیرې چې سعدیه ولاړه وه، انجونو هغوی ونه لیدل، د مخې څخه هم څلور پنځه کسان راغلل او نجونو ته یې وویل تاسې ولې د دې ځای څخه نه ځۍ، هغوی د ویرولو په خاطر په نجونو پسې منډې کړې نو هغوی په منډه شوې او هر لوري ته خپرې شوې، د شا لخوا یو کس په سعدیې باندې کمپله واچوله او بل کس کلکه ونیوله، په یو لاس یې ورته خوله بنده کړه، هغه یو کس په اوږه کړه او په منډه شو، یو خو تیاره وه بله دا چې نجونو منډې کړې نو هیچا هم ونه لیدل چې سعدیه چا له ځان سره وتښتوله .

سبا سهار لکه سیلاب چې راغلي وي د کلي خلک د چمن او نوي جوړ شوي ځای په لوري په منډه شول، یو کاروان را روان وه چې د هغې په

(c) ketabton.com: The Digital Library


مخکې شپاړس او لس اوښان روان وه، په هر اوښ باندې ښکلې او ډولۍ دولۍ ایښودل شوې وې چې پردې یې پرې بندې وې.
هغه شخصیت پدې اوښانو کې په یو سپور و، مخکې مخکې ساز او موسیقي غږول کیده، ځینې کسانو په خمارونکې اواز سره ځه زمزمه کول، د اوښانو په غاړو کې غټو غټو ګونګړو ګانو داسې اواز او غږ پیدا کاوه لکه چې د دې ساز او موسیقۍ برخه وي.
په ټول کاروان کې هیڅ بې نظمي او ګډوډي نه وه، په هر چا د تقدس او سپیځلتیا ویره او رعب پروت و، دا د مریدانو او مخلصینو کاروان وه چې د مختلفو ځایونو څخه ورسره یو ځای شوی وه، کاروان داسې حرکت کاوه لکه اوښان او د هغې سپاره چې له آسمان څخه راښکته شوي وي.
کاروان هماغه جوړ کړې او شین چمن ته ولاړ، هلته کوچنۍ غونډۍ وې، په یو ځای کې ډېرې خیمې ودریدلې وې چې یوه پکې ښه لوی او پراخه وه، د کلي خلک په شا وتمبول شول.
بیا چا ونه لیدل چې د اوښانو څخه څوک راښکته شول او چیرې چیرې غیب شول، د مریدانو او مخلصینو سیلاب پښا ولاړ او هلته ټول خلک په اخلاص او احترام سره کیناستل.
د سعدیې د کلي خلکو د دې سپیځلي شخصیت په هکله خبرې اوریدې، څومره چې انسان ناپوهه او بې علمه وي په هماغه اندازه د پټو شیانو معلومولو ته په تلوسه کې وي، هغه په خبرو کې د راز شي پیدا کوي او هلته همدا ډول حالت منځ ته راغلی وه.
امام او محمود دواړو د خلکو سیلاب لیدلو، هغوی تر دې وخته پورې هیڅ هم نشول ویلایې چې دا څه دي، هغوی ته د قاهرې له لورې ویل شوي وه چې په سرحدي سیمو کې نوې عقیده خپرول کیږي، تاسې هغه معلومه کړې او دا پته ولګوې چې د دې تر شا څوک ولاړ دي ځکه قاهرې ته تر اوسه پورې پدې هکله کوم معلومات نه و استول شوي او د دې اصلي علت دا و چې کوم کسان د قاهرې څخه د څارنې لپاره لیږل شوي وه هغوی ټول د

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي نوي غيب پوهيدونکي مريدان او مخلصين شوي وه، هغوى د دې ښځه ويريدل چې د داسې سپيڅلې شخصيت په هکله ځرنګه خبره وکړي، سرحدي پوستو او پوځيانو هم همدا اغيزه منلې وه، اوس نو يوازې د آمام خبره پاتې وه چې هغه دا خبره څرګنده کړي چې دا جادو دى، مداري توب دى او که بل کوم کار هغه ته دا خبره په ډاګه شوي وه چې خلک د دې نوي سړي ښځه دومره اغيزمن شوي چې جومات ته تلل يې هم بند کړي. ټول د هغه يو نظر ليدلو لپاره راټول شوي او د هغو خيمو مخې ته ناست وه چيرى چې هغه غيب شوي وه.

امام او محمود هم په خلکو کې ولاړ وه، د سعديې پلار راغى او د هغوى په څنګ کې ودريده، هغه د غم او خفګان په حالت کې آمام او محمود ته وويل چې سعديه د شپې ښځه لا درکه ده! نجونو هغه ته ويلي چې څو کسان له مخې ښځه راغلل او مونږ يې وډار کړو بيا ټولې يوى او بلې خواته خپرى شوي يوى نجلى، وويل چې ما شاته دوه کسان وليدل خو نوره پوه نشوم.

پلار يې د سعديې په لټون پسې روان شو نو محمود هم ورسره ملګرى شو، سعديه هلته چيرى هغوى ته پلاس ورتلله خو هغه پلار ؤ زړه يې کله صبريده، په بې صبرۍ سره يوى او بلې خواته لوغړن ګرځيده، محمود هم ورسره وه، هغوى يو نا بلد سړى رامنع کړل او پوښتنه يې ځينې وکړه: ايا تاسې څوک لټوى؟

د سعديې پلار ورته وويل چې د شپې ښځه زما لور ورکه شويده!

نا بلد سړى د سعديې نښې وويلى او بيا يې د هغې پلار ته وويل: اوس اوس ماته چا وويل چې ته د هغې نجلى پلار يې! که تاسې هغه دلته ګورى نو پلاس نه درځى! هغه به اوس د مصر د پولې ښځه ډېره لرى رسيدلى وي، بيګاه ماښام ما يو سپور وليده چې د نورو نجونو ښځه يوه نجلى هغه لورى ته ورغله چې سپور د آس سره ولاړ ؤ، نجلى د هغه سړي سره څه خبرى وکړى سپور څو ګامه وړاندى ولاړ، نجلى يوى او بلې خواته وکتل او بيا په سپور پسې روانه شوه، بيا پخپله د سپاره په مخکې په آسپ سپره شوه،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپور آسپ ته پونده ورکړه او په چټکتيا سره روان شو. ما فکر کاوه چې دا نجلۍ به څوک وي چې د يو سپاره سره پخپله خوښه ولاړه، نن ماته چا وويل چې هغه د دې سړي لور ده، اوس د هغې لتون هيڅ ګټه نلري.

هغه نا بلد سړی ولاړ او د سعديې د پلار اوښکې رواني شوې ځکه چې د هغه همدا يوه لور وه، خو محمود بل شان فکر کاوه، هغه څارونکی وه، هغه پدې پوه شوه چې دی سړی سوچه درواغ وويل، د هغه بيان او ټول شيان غلط وه، هغه ته چا دا ويل چې هغه نجلۍ د ده لور ده؟

پداسې حال کې چې صحنې ليدونکې يوازې همدې دي. هغوی ته همداسې روزنه ورکړل شوې ده چې د چا په خبره به سمدستي باور نکوی بلکې هر چاته به د شک په سترګه ګوري.

محمود سمدستي د هغه نا بلد سړي پسې شو، هغه د خلکو په منځ کې ولاړ او غونډيو ته ننوت او بيا په خيمو کې غيب شو، د دې ځخه محمود پوه شو چې سعديه په همدې خيمو کې ساتل شوې او د هغې په تښتولو کې د دې سړي لاس خامخا شته. کيدای شي دا به هماغه سوداګر وي چې د سعديې پلار ورسره سودا ونکړه نو هغه ته يې ويلی وه چې لور به دې تښتوو، د سعديې پلار دا سړی ونه پيژندلو او هغه داسې دروغ وويل چې پلار نور د خپلې لور پسې لټون ونکړي.

د سعديه سره د محمود دومره مينه او محبت پيدا شوی ؤ چې د هغې د راخلاصولو قصد يې وکړ، هغه ولاړ او آمام ته يې ټوله خبره وکړه، آمام د څارونکو د ډلې مشر او هوښيار سړی ؤ، هغه هم همدا وويل چې هغه غريب ته درواغ ويل شويدي چې لور يې د چا سره پخپله خوښه ولاړه.

محمود د آمام هغه دوه ملګرو ته وويل چې د ده سره په کلي کې اوسيدل چې سعديه بايد د دې ځای ځخه راخلاصه کړي او پدې کار کې ستاسې مرستې ته اړتيا ده خو د غونډيو منځ ته اوس هيڅوک هم نشول تللای.

***

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


سلطان نور الدین زنګی د کرک محاصره کلکه کړې او خپل لښکر یې هلته ځای پر ځای کړی و، هغه د دیوالونو د ماتولو په هکله فکر او سوچ کولو، هغه په لومړنی ورځ خپلو قوماندانو او سالارانو ته ویلی وه چې کومه کلا صلاح الدین ایوبي ونشوه نیولای هغه تاسې هم په اسانی سره نشی نیولای ځکه هغه یو ناشونی کار شونی کوي، هغه ماته ټولې طریقې ښودلې چې دلته ازمیل شویدی، او هغه یې هم راته ویلی چې د کلا په دننه کې څه څه دی، سامان او څاروی چیرې دي او عام خلک په کوم لورې کې اوسیږي، هغه ته دا معلوماتونه خپلو جاسوسانو او څارونکو ورکړیدی .

هغه د کلا دننه آور غورځول غوښتل خو منجنیقونه کوچنی وه، بله دا چې د صلیبیانو سره لوی لوی لیندی دي چې تر لرې یې پورې غشې ویشتلی شول، دغو غشو منجنیقونه نژدې نه راپرېښودل، په همدې خاطر د کلا په دروازه آور نشو غورځیدلی، کوم لورې ته به چې مجاهدینو د دیوال نړولو کوښښ کاوه هلته به د کلا د دیوال څخه پرې د آور سکروټې راتویول کیدې .

سلطان نور الدین زنګی د خپلو سالارانو او مرستیالانو غونډه راوغوښتله او هغوی ته یې وویل: صلاح الدین ایوبي ماته ویلی وه که دوه لوی منجنیقونه راوغواړې او د کلا دننه آور واچوې خو هلته د مسلمانانو کورونه هم دي که د هغوی څخه یو هم وسوځیده نو دا به د ټل لپاره پښېماني وي، زه نن د صلاح الدین ایوبي د فکر او سوچ په خلاف فیصله کوم، ما د یو لوی منجنیق جوړولو فیصله کړې چې تر لرې پورې ډبرې او کاڼي ورسولایی شي، تاسې به دا هم قبلوې چې ستاسې په آور او ډبرو به څو مسلمانانو ته زیان هم رسیږي .

زما ملګرو! که تاسې د کلا په دننه کې د مسلمانانو د حال څخه خبر شې نو دا به غوره وګڼې چې هغوی مړه شي ښه ده ځکه هلته د هیڅ مسلمان عزت، حیا او آبرو خوندي نده، د مسلمانانو بچیان د صلیبیانو په واک کې دي او نارینه په یو خلاص میدان کې بندیان شوي او د بیګار کارونه کوي .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغوی به دُعا ګانی کوی چې الله جل جلاله ورته مرګ ورکړی، ستاسې محاصره چې څومره اوږدیږي په هماغه اندازه د کلا په مسلمانانو باندی کړاونه زیاتیږي، او دا خو حتمی خبره نده چې خامخا دی پدی اور کې مسلمانان وسوځی، که یو څو پکی مړ شي نو دا قربانی به مونږ ورکوو، تاسې هم د مرګ لپاره راغلی یاستی ، که اسلام ژوندی ساتل دي نو زمونږ هر یو به قربانی ورکوي، زه دا خبری ځکه درته کوم چې بیا پر ما باندی تور پوری نکړی چې سلطان نورالدین زنګی د کلا په نیونی کې مسلمانان ووژل .

په مونږ کې هیڅ یو هم داسې فکر نکوی!

یو سالار وویل: مونږ دلته د خپلی پادشاهی قایمولو لپاره نه یو راغلی! فلسطین د مسلمانانو خاوره ده! مونږ دلته د خپل رسول صلی الله علیه وسلم نظام ځای پر ځای کوؤ، لومړۍ قبله زمونږ ده د صلیبیانو او یهودیانو نده.

یو بل سالار وویل: مونږ هیڅکله دا نشو منلی چې فلسطین د یهودیانو دی! مونږ ټول د سوځیدو او مړه کیدو لپاره چمتو یو! مونږ د خپلو بچیانو قربانی کولو ته هم تیار یو.

د نورالدین زنګی په شونډو مسکا راغله چې په هغې کې خوشحالی نه وه، هغه وویل: تاسې پدی ښه پوهیږۍ چې یهودیان د فلسطین د خپلولو لپاره په کوم محاذ او میدان کې جګړه کوي ؟

یهودیانو خپلی لوڼی او خپل مال او شتمنی د صلیبیانو پلاس کې ورکړی ترڅو هغه زمونږ په خلاف استعمال کړي، د خپل مال، دولت او نجونو پوسیله زمونږ په لیکو کې غداران راپیدا کړی، د هغوی ستر هدف مصر دی، د مصر په لویو لویو ښارونو کې د فاحشه او بد اخلاقه میرمنو شمیر ورځ په ورځ زیاتیږي چې دا ټولی فاحشی، بد کاری او بد اخلاقه ښځی یهودیانی دي. د افسوس خبره دا ده چې زمونږ د اسلامی هیوادو، مشران، سوداګر او آمیران د یهودیانو په ښکلی جال کې نښتی دي، په هغوی کې بی اتفاقی او اختلاف پیدا شوی، کفارو اوس هغوی سره پخپلو کې جنګوی، که مونږ بیدار او راویښ نشو نو حتمًا به یهودیان د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


مسلمانانو لمرنی قبله خپل وطن ګرځوی، او مسلمان هیوادونه به پخپلو کې سره جنګوی خو مسلمانان به پدی نه پوهیږي چې د دی خپل منځی جګړو تر شا د یهودیانو او صلیبیانو لاسونه دي. دا به د مال، شتمنی، شرابو او ښځو پوسیله کیږي چې اوس یې پیل شویدی. که مونږ خپل راتلوونکی نسل ته د قدر او عزت ژوند غواړونو باید اوس خپل ځانونه او اولادونه قربانی ته وړاندی کړو، زه د نوی میاشت تر راختلو پوری کرک نیول غواړم، که د کلا کنډوالی هم پلاس راشي.

مونږ نور ځنډ نشو کولایی، مونږ به یهودیان او صلیبیان د روم په بحیره کې ډوبو ؤ، دا کار به پخپل ژوند کې سرته رسوؤ، زه داسې محسوسوم چې زمونږ ځخه به وروسته د اسلام بیرغ د غدارانو او د صلیبی غلامانو او تالی ځټو لاس ته ورځی.

سلطان نور الدین زنګی د ځان سره د کسب کارانو یوه ډله ساتلی وه، هغه کسب کارانو ته ویلی وه چې د خرماؤ اوږدی ونی راووهی او د هغې ځخه غټ منجنیقونه جوړ کړی، هغه د کسب کارانو په سلا او مشوره باندی ځه نوری ونی هم ووهلی ترڅو د هغوی ځخه تر وچوالی مخکې کار هم واخلی- کسب کاران شپه او ورځ په کار بوخت ؤ، د دی په خوا کې هغوی د غټو ډبرو انبارونه جوړ کړي وه، د هغه سره د صلاح الدین ایوبی ځخه پاتی اور غورځوونکی مواد هم وه، سلطان نور الدین زنګی له ځان سره هم اور اچوونکی او بلن مواد راوړوی وه، هغه د آور ګولۍ جوړی کړی، په همدی ورځو کې د صلاح الدین ایوبی رالیږل شوی لښکر او پوځ هم محاذ ته را ورسیدل. سلطان نور الدین زنګی ته ویل شوی وه چې د قاهری پوځ بغاوت ته تیار دی خو چې کله هغه پوځ او لښکر معاینه کړ نو په هغوی کې د بغاوت هیڅ اثر هم نه ښکاریده، سلطان نور الدین زنګی د صلاح الدین ایوبی پشان هوښیار او لری لیدونکی انسان وه، هغه پخپلو موثرو خبرو باندی هغوی نور هم راوپارول، هغوی لا مخکې صلاح الدین ایوبی راپارولی وه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ لمر پرېوتی وه، صلیبي واکمنان او قوماندانان د کلا په منځ کې په یوه غونډه او کانفرانس کې ګډون کړی وُ، د هغوی د خبرو څخه څرګندېده چې د محاصرې په هکله هیڅ اندیښنه نلري.

هغوی ته دا هم معلومه شوې وه چې صلاح الدین ایوبي مصر ته تللی دی او د هغه پر ځای سلطان نور الدین زنګي اوس راغلی دی، د کانفرانس او غونډې په ورځ هغوی ته سهار خبر را ورسیده چې د مصر څخه نوی لښکر هم صلاح الدین را استولی دی، د همدې حالاتو په هکله د خبرو کولو لپاره ټول سره یو ځای کیناستل، هغوی خبرې پیل کړې وې چې یو دم چاودنه وشوه او خاورې یوې او بلې خواته خپرې شوې، صلیبي واکمنان په منډه د باندې راووتل، د ځنګ کوټې برنډه رانړېدلې او ډېره غټه درنده ډبره وه خو دیوال نه وُ سوری شوی، په همدې وخت کې بیا اواز پورته شو او چاودنه وشوه په هماغه ځای کې نژدې بله غټه ډبره ولوېده، صلیبیان د هغه ځای څخه وتښتېدل، هغوی پوه شول چې مسلمانانو په منجنیقونو ډبرې ویشتل پیل کړې، هغه وخت تیاره شو او هیڅ شی نه معلومېدل.

دا د سلطان نور الدین زنګي نوی جوړ شوی لوی منجنیق وُ چې د تجربې په توګه یې څو ډبرې استعمال کړې.

دا ډېر لرې ویشتوونکی وه خو د هغه چلول او استعمالول خورا ګران کار وُ، د یوې غټې او اوږدې ونې په منځ کې به یې رسۍ بنده کړه او بیا به یې د اسونو پواسطه کشکوله چې هغې به کوږوالی پیدا کړ، په کوږ ځای کې به یې ډبره کېښودله، چې کله به یې ونه ډېره کږه کړه نو رسۍ به یې غوڅې کړې، زیان دا کېده چې دا رسۍ به بیا په سختۍ سره استعمالیده، دویم زیان دا وه چې کله به رسۍ پرې شوې نو آسونه به په ډېر سخت ډول ټیله شول چې پدې سره آسونه یو پر بل پرېوتل، دوه سپاره هم پدې آسونو لویدلو کې زخمیان شول، سلطان نور الدین زنګي تر نیمې شپې پورې د ډبرو ویشتل روان وساتل چې پدې سره د صلیبیانو مرکزي دفتر او نورې دوه کوټې خرابې شوې دا زیان او تاوان ډېر نه وُ خو د صلیبیانو زړونه یې مات

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړل ، د مرکزي دفتر او نورو نژدې ودانیو څخه صلیبیان وتښتیدل او سهار په تول ښار کې د شپې د بمبارۍ اوازې خپرې شوې او په خلکو کې ویره خپره شوه .
خو د نیمې شپې څخه وروسته لمړۍ لوی منجنیق په ملا باندې مات شو او ناکاره شو، اخرۍ ډبره د کلا د منځ پر ځای د کلا په دیوال ولګیده، سلطان نور الدین زنګی د ډبرو ویشتل بند کړل. خو دا تجربه ناکامه نه بلکې کامیابه شوه، په کسب کارو کې دوه کسان ډېر هوښیار او تکړه وه، هغوی تجربه ولیده او اصول ورته څرګند شول نو ځکه هغوی اوس نوی لرې ویشتوونکی منجنیق جوړولی شو. هغوی پدې فکر پیل کړل چې رسۍ باید غوځه نشي او یا آسونه د رسۍ غوځولو څخه مخکې خلاص شي چې هغوی ته زیان ونه رسیږي. سلطان نور الدین زنګی هغوی ته وویل چې هر څه کوی خو وخت به پرې ډېر نه تیروۍ، هغوی کار پیل کړ، د دې په خوا کې سلطان نور الدین زنګی کسب کارو ته وویل چې لرې ویشتوونکی لیندې جوړې کړي، هغه خپلو قوماندانانو ته وویل چې په خپلو ګروپونو کې ډېر تکړه او قوي ځوانان وګوري او د دې غشو ویشتلو لپاره یې تیار کړي .

***

د سعدیه د کلې څخه د باندې په کوم ځای کې چې هغې ښاروی ځرول او د محمود بن احمد سره به یې لیده کاته کول هلته اوس داسې دنیا اباده شوې وه چې د ځمکې نه بلکې د آسمان څخه راښکته شوې ښکاریده چې هغې خلکو لدې څخه مخکې د هغې تصور هم نشو کولایی. لمر پریوتی او ماښام ښه تیاره شوې وه نو خلکو ته د غونډیو په لوری اجازه وشوه چې نژدې ولاړ شي او هلته په یو هوار میدان کې کینې، هیچاته هم د غونډیو په سر د پورته کیدلو اجازه نه وه، په کوم ځای کې چې خلک کینول شوی وه د هغه ځای څخه د پورته کیدو اجازه نه ورکول کیده.
هغوی ته امر او حکم نه کیدلو بلکې د هغه شخصیت څخه ویرول کیدل چې ګوندې په مصیبت به مو اخته کړي، هغوی ته ویل کیدل که د چا د کوم غلط حرکت په سبب هغه خفه شو نو په ټولو به یو لوی مصیبت راشي،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک بالکل چوپ او غلي ناست وه هيڅ‌ها هم حرکت نکولو او هر يو سترګې په هماغه لوري ځنبې کړې وې، د هغوی ځخه لږ مخکې ښکلې سطرنجي او قاليني غوړول شوي وې او شاته يې لوی لوی ښايسته پردې ځوړندې وې چې په هغې کې ستوري ځليدل.

د ستورو ځليدل د هغو مشعلونو د رڼا ګانو ځخه پيدا کيدل چې په يو خاص ترتيب سره هلته ايښودل شوي وه، د هر دو تر شا يوه نيغه او عمومي غونډۍ وه چې نا اشنا خلکو هلته غارونه او سوري کيندل، د دې غونډۍ شاته هواره ميدان او زياتې خيمې پکې ولاړې وې.

په خلکو او سيلا نيانو باندې داسې ويره، ډار او چوپتيا خپره شوې وه چې هيڅ‌ها هم د بل سره پس پسک هم نه کولو، دا هغه شپه وه چې مخکې شپه پکې سعديه تښتول شوې وه يعنې د سعديه د تښتولو په دويمه شپه ځوړندې پردې لږ شانته وښوريدې، د پردو ستوري د اسمان د ستورو پشان وريپيدل. سمدستې داسې خمارونکې ساز پيل شو چې هغه چا کله په خوب کې هم نه وُ اوريدلی. دا يوه زمزمه وه چې د جادو په شان يې اثر کولو، پدې دښته او بيابان کې د خمارونکې ساز او نغمه د انسان باطن ته ننوتله، خلکو داسې احساس کاوه چې د دې خمارونکې ساز او نغمې ځپې او موجونه د دوی په سرونو تيريږي او دوی يې محسوسولې او لمس کولی هم شي، په همدې خاطر خلکو پورته پورته کتل تر ځو دا ځپې او موجونه وګوري خو هيڅ هم نه ليدل کيدل، پدې ساز کې يوه بله خمارونکې نغمه او ترانه هم ورګډه شوه چې د زياتو کسانو لخوا ځخه په ګډه زمزمه کيده، پدې نغمه او ترانه کې د نجونو اوازونه هم وه، د دې نغمې، ساز او ترانې سره سره به چې پردې او د هغې ستوري ښوريدل او ځليدل نو يو ډول خمارونکې او مستې راوستوونکې حالت به يې راوستلو کله چې خلک پوره اغيزمن او تر اثر لاندې راغلل نو له يو لوري ځخه انګازه کوونکې اواز پورته شو: هغه شخصيت راغی کوم چې الله پاک له آسمان ځخه راليږلی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، خپل زړه او دماغ د فکر او خیالونو څخه خالي او پاک کړي خو هغه به ستاسې په زړونو او دماغونه کې د الله پاک ربښتني خبرې خای پر خای کړي.
پر دو حرکت وکړ او د هغې څخه یو انسان رابښکاره شو، هغه خو خپله انسان وه خو پدې جادو یې چاپیریال کې یو آسماني او روحاني مخلوق معلومیده، د هغه د سر ویښتان خړ رنګي اوږده او د وریښمو پشان ځلیدونکي وه، خیره یې سره سپینه او ډکه او بېره یې په ډېر ښه توګه جوړه شوې وه، بدن یې قوي او شنه چپن یې اغوستې وه، په چپن باندې ستارې لګول شوې وې چې له ورایه ځلیدلې، د ستارو په شان د هغه سترګې هم ځلیدلې، په هغه کې داسې اثر، جادو او اغیزه وه چې خلک یې حیران او بې سده کړل.
سمدستي ساز، نغمې او ترانې پیل شوې چې ډېرو کسانو په ترنم زمزمه کولې.
د دې ټولو څخه برسیره خلک هغه اوازو او خبرو تر اثر لاندې راغلي وه چې دوی د دې آسماني شخصیت په هکله مخکې اوریدلي وي، هغه معجزاتي اوازو خلک بالکل پخپله لمن کې رانغاړلي وه، کله یې چې د هغه شخصیت ولیده نو لومړی یې سرونه ښکته کړل او بیا داسې لاس په نامه ودریدل لکه چې په لمانځه باندې ودریږي.
هغه آسماني شخصیت د پر دو مخې ته ودریده، بیا یې لاسونه پورته کړل او ویې ویل: په تاسې دی د هغه الله رحمت وي چې پدې نړۍ کې یې پیدا کړي یاستئ، سترګې او غوږونه یې درکړي، چې په هغې لیدل او اوریدل وکړئ، دماغ یې درکړی چې په هغې فکر وکړئ، تاسې ته یې ژبه درکړې چې په هغې خبرې وکړئ، خو ستاسې پشان د سترګو لرونکي، ستاسې په شان د غوږونو او بدن لرونکي په تاسې واکمنان شوي، هغوی تاسې غلامان کړځولي او د دنیا د نعمتونو څخه یې بې برخې کړي یاستئ، اوس ستاسې داسې حال شوی چې سترګې مو شته خو څه پرې نشئ لیدلای، ستاسې غوږونه شته چې د حق خبره پرې نشئ اوریدلی، تاسې پخپل دماغ فکر کولای شئ خو هغه د دروغو له کیسو څخه ډک دي، ستاسې ژبې شته خو په هغې باندې د خپلو بادارانو او واکمنانو په خلاف یوه خبره هم نشئ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


کولایی، هغوی ستاسې خاروی، ستاسې اولادونه او ستاسې خامن اخیستی، هغوی ستاسې ځوان زامن داسې جنګوی لکه چې څوک سپی جنګوی، هغوی ستاسې آسونه او اوښان په غشو سوری سوری او غلبیلوی. ستاسې زامن چې مړه کړی بیا یې په شګو کې وغورځوي چې ځناور او غوښه خوړونکی مرغان یې خوري .

زه هغه سترګه یم چې په هغې راتلوونکی وخت لیدل کیږي، د خلکو د زړه حال او راز پرې معلومیږي، زه هغه غوږ یم چې په هغې د الله جل جلاله اواز اوریدل کیږي، زه هغه دماغ یم چې په هغې د انسانانو د خیر فکر او سوچ کیږي، او زه هغه ژبه یم چې د الله ریښتنی پیغام خلکو ته رسوی زه د خدای ژبه یم .

د خلکو د منځ څخه یو اواز پورته شو ایا ته تل پاتی او لا فانی هم یې چې مرګ او مړینه نلری؟

ټول یو دم لکه چې بی سده شوی وی. ځینی وویریدل چې دی بی آدبه سړی خو د هغه آسمانی شخصیت خبره پرې کړه چې مصیبت ته یې خپله بلنه ورکړه او په کلی به راپریوځی .

هغه شخصیت وویل: تاسې همدا کار امتحان کړی! زما په سینه باندی غشی وولی !

د هغه په اواز او اداء کې جادو و، هغه بیا وویل: ایا پدی خلکو کې څوک غشی ویشتونکی شته چې زما په سینه غشی وولی؟

په خلکو کې چوپتیا خپره شوه، هغه په غصه او لوړ اواز وویل: زه حکم کوم چې دلته څوک لینده او غشی لری هغه دی مخی ته راشی.

څلور غشی ویشتونکی چې د دی کلی اوسیدونکی نه وه په قلاره قلاره مخی ته راغلل، هغه شخصیت ورته وویل: دیرش ګامونه وشماری او بیا زما مخامخ ودریږی، هغوی دیرش ګامونه وشمارل او بیا د آسمانی شخصیت په وړاندی مخامخ ودریدل .

آسمانی شخصیت وویل: په لیندو کې غشی کیږدی او زما زړه په نښه کړی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځلور واړو په خپلو لیندو کې غشي کېښودل لیندۍ یې نیغې ونیولې او د آسماني شخصیت زړه ی په نښه کړ .
آسماني شخصیت وویل: پدې فکر مه کوی چې زه به مړ شم پخپل ټول زور او طاقت سره غشي پر ما راخوشي کړی .
هغوی خپلې لیندۍ ښکته کړې ځکه هغوی فکر کاوه چې دی به مړ شي.
آسماني شخصیت په برج سره حکم وکړ: زما زړه په نښه کړی او غشي خوشي کړي! که داسې ونکړی نو پخپل ځای ولاړ به لولپه او وسوځيږی .
غشي ویشتونکو د خپل مرګ له ویرې لیندۍ پورته کړی او زړه یې په نښه کړ، ناست خلک داسې چوپ او بې سده شول چې د هیچا سترګې هم نه رپیدی، ساز او نغمې نوری هم خمارونکې شوې، پدې خوا کې د زیاتو خلکو لخوا څخه خماروونکی نغمې پیل شوی چې نغمه ویوونکی یې نه معلومیدل .
په همدې جادو یې چاپیریال کې د ځلورو غشو ویشتل کیدو اواز واوریدل شو، ځلور واړه غشي د آسماني شخصیت په زړه باندې ونښتل هغه پخپل حال ولاړ وه، لاسونه یې غځولي او په خندا وُ.
آسماني شخصیت وویل: ځلور خنجر ویشتوونکی دې مخکې راشي !
غشي ویشتوونکي دې ولاړ شي.
غشي ویشتوونکي حیران او اندیښمن ولاړل، د دې سره ځلور کسان د بل لوری څخه راپورته شول، هغوی ته حکم وشو چې پنځلس ګامه مخکې د خنجرونو سره ودریږی، هغوی پنځلس ګامه مخکې د هغه په وړاندې مخامخ ودریدل .
آسماني شخصیت ورڅخه پوښتنه وکړه: تاسې په نښه باندې خنجر سم ویشتلی شئ؟
ځلور واړو ځواب ورکړ چې هو بالکل!
آسماني شخصیت شخصیت ورته وویل نو بیا په یو ځل ځلور واړه زما په زړه باندې خنجرونه راخوشي کړی .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلور وارو په پوره قوت او څواک سره په هغه باندې خنجرونه ورخوشې کړل، خنجرونه د هغه په سينه کې ونښتل او سرونه يې په سينه کې ننوتي وه خو هغه لا ولاړ او خندل يې، د خلکو له لورې اواز پورته شو : آفرين ... د ده پلاس کې د مرګ پربښتې دي .

آسماني شخصيت وويل:ايا هغه سړې ته ځواب ورکړل شو چې ويلې يې وه زه مرګ نلرم او تل پاتې ژوندي يم؟

پدې وخت کې يو اطرافي او صحرايي کوچي راپيدا شو، مخکې راغې او د هغه په پښو کې يې سجده وکړه، هغه سړي راپورته کړ او بيا يې ورته وويل: ولاړ شه په تا دې رحمت وي .

هغه صحرايي سړي وويل: د دې څخه معلوميږي چې تاسې مړي هم ژوندي کولايې شې؟

يو بوډا سړي راوړاندې شو او په چيغو چيغو په ژړا شو ويې وويل: الله پاک ماته يو زوی راکړی ؤ، هغه په ځوانۍ کې مړ شو، ماته چا وويل چې تاسې مړي هم ژوندي کولای شۍ، ما د خپل زوی مړی له لرې ځای څخه راوړی دی، زما په بوډا توب باندې رحم وکړه او زما زوی راته را ژوندی کړه !

څلور کسانو يو مړی په اوږو ايښی را وړاندې شول، مړی د څو کړو وړو لرګيو په سر اچول شوی وه، څلور کسانو مړی د آسماني شخصيت په وړاندې کيښوده .

آسماني شخصيت وويل: يو مشعل راواخلې او ټولو خلکو ته دا مړی وروښۍ چې بيا څوک ونه وايي چې دا لا پخوا ژوند ؤ، مړی ټولو خلکو ته ورروښودل شو، کفن يې له مخ څخه لرې او د مشعل په رڼا کې خلکو وليده چې خيره يې د مړي پشان سپينه ده .

سترګې يې نيمې پټې او خوله يې هم وازه پاتې وه، چې کله ټولو خلکو وليده نو بيا يې د مقدس انسان مخې ته کيښوده، ساز او نغمې بدلې شوې او د مخکې څخه نوري هم خمارونکې وګرځيدې، مقدس انسان خپل لاسونه خلاص کړل او د آسمان په لوري يې وکتل او په لوړ اواز يې وويل:

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژوند او مرګ ستا پلاس کې دي، زه ستا د زوی زوی یم، تا خپل زوی د صلیب څخه راښکته کړ او ماته دي د صلیب تقدس راکړ، که ستا زوی او صلیب ریښتنی وي نو ماته ځواک راکړه چې د دې بد مرغه بوډا زوی را ژوندی کړم.

هغه په مړي راښکته شو او بیا یې څه وویل، بیا یې د مړي په سر لاندې باندې خپل لاسونه تیر کړل چې لاسونه یې ریږدل، کفن وښوریده، مقدس انسان خپل لاسونه هماغسې په هوا کې یوی او پلې خواته وړل راوړل، بیا یو دم کفن په زور سره وښوریده، خلک له ویرې یو بل ته نژدې شول ، ځینې ښځې وویریدې او چیغې یې کړې دا حالت څکه ویرونکې وه چې د مقدس آنسان په سینه کې څلور غشې او څلور خنجرونه هماغسې نښتې وه ، د دې سره کفن لرې شو او مړی راکیناست، هغه خپل مخ او سترګې پاکې کړې او بیا یې وویل: ایا زه اوس پاکې دنیا ته را ورسیدم؟

آسماني شخصیت وویل : نه!

ژوندي کوونکی انسان هغه ته تکیه ورکړه او راپورته یې کړ بیا یې ورته وویل: ته په همدې دنیا کې یې چیرې چې پیدا شوی وې، ولاړ شه د خپل پلار سره یو ځای شه!

پلار ور منډه کړه او زوی یې پخپله سینه پورې ونیوه، هغه یې ښکل کاوه او بیا یې ژوندي کوونکی انسان ته سجده وکړه، خلک راپورته شول، هغوی پخپلو کې سره خبرې پیل کړې، د هغوی په وړاندې مړی اوس پخپلو پښو روان ؤ، مړی را ژوندی شوی ؤ، پلار یې هغه د ټولو خلکو په مخکې تیر کړ چې ټول یې وګوري چې زوی را ژوندی شویدی .

مقدس آنسان وویل: خو زه نور خلک او مړي نه را ژوندي کوم! ژوند او مرګ د الله تعالی په لاس کې دي، ما دا مړی د دې لپاره را ژوندی کړ چې تاسې پدې پوه شئ چې زه د الله تعالی استازی یم او د معجزې لپاره یې د خپل پلار څخه اجازه وغوښتله چې دا مړی را ژوندی کړم، الله تعالی ماته اجازه راکړه او ځواک یې هم راکړه چې دا مړی را ژوندی کړم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


په جنګ کې وژل شوي خلک هم د خلکو د ډلې څخه یوه وپوښتل ایا ته په جنګ کې وژل شوي خلک هم ژوندي کولای شي؟

مقدس انسان ځواب ورکړ: نه! په جنګ کې د وژل شوو خلکو څخه الله تعالی دومره خفه او ناخوښه وي چې هغوی ته بیا ژوند نه ورکوي، په بله دنیا کې به هغوی د جهنم اور ته غورځول کیږي، انسان د دې لپاره ندی پیدا شوی چې نور انسانان ووژني، بلکې د دې لپاره پیدا شویدی چې هغه اولادونه پیدا کړي لکه څرنګه چې دی پیدا شویدی، په همدې خاطر تاسې ته اجازه شویده چې څلور څلور میرمنې په نکاح کړئ، د سړي او ښځې همدا کار دی چې بچي وزیږوي او چې بچیان لوی شي هغوی هم بچیان وزیږوي او همدا اصل عبادت دی.

***

هغه وخت چې مقدس شخصیت خپل کرامات خلکو ته ښودل په هماغه وخت کې دوه کسان د هغه غونډۍ تر شا پټ وه چې هلته خیمې لګیدلې وې، د یوې خیمې څخه د نجونو اوازونه او خنداګانې هم راتللې ، دا دوه پټ شوي کسان آمام او محمود بن احمد وه، محمود پدې باوري ؤ چې سعدیه همدلته پدې خیمو کې پټه ساتلې شوې ده، په محمود کې دومره مذهبي پوهه او معلومات نه ؤ، هغه د دې نوي آسماني شخصیت په هکله کومه فیصله نشوه کولایي خو آمام ورته ویلي وه چې هیڅ انسان مړي نشي ژوندي کولایي، هغه پدې هیڅ فکر نه ؤ کړی چې دا نوی آسماني انسان خلکو ته څه وړاندې کوي ، هغه د دې څخه یوازې دومره ګټه پورته کړه چې ټول خلک په هغې کې بوخت شول نو دی د غونډۍ تر شا ولاړ تر څو اصل حقیقت ځانته څرګند کړي، د هغه فکر او توجه یوازې په سعدیې باندې وه، او هماغه یې لټوله، د خیمو په ځای کې تیاره وه، یوازې په درې خیمو کې رڼا وه چې د هغې پردې هم بندې وې، هلته د پیرې او څارنې هیڅ ترتیب نه ؤ نیولی شوی ، دوه درې کسان په یو ځای کې ناست او خبرې یې کولې، د دې خطر هر وخت موجود ؤ که چیرې هغوی دواړه چا لیدلي وای نو حتماً به

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژل کیدل ، د غونډۍ د بلې خوا څخه د مقدس انسان اواز اوریدل کیده، چې د هغې سره ساز او نغمې هم وې خو د نغمو او ساز کوونکې هیڅ نه معلومیدل چې چیرې ناست دی .

امام او محمود هغې خیمې ته نژدې شول د کومې څخه چې د نجونو اوازونه راتلل، د هغوی خبرو د دوی زړونه راپورته کړل ځکه یو ښځینه اواز داسې اوریدل کیده: دلته هم زمونږ ډرامه او لوبه کامیابه ده!

یوې بلې نجلۍ وویل: دا ډېر احمق او ناپوه خلک دی .

د مسلمانانو د بې لارې طریقه همدا ده چې هغوی ته ډرامې او مداری توب وښودل شي! دا د یوې میرمنې آواز وه .

یوې نجلۍ وویل : معلومه نده چې د هغې به څه حال وی ؟

بلې ورڅخه وپوښتل : د چا حال ؟

لومړنۍ په ځواب کې وویل: د نوې مرغۍ! تاسې ټول باید دا ومنئ چې هغه زمونږ ټولو څخه ښکلې او ښایسته ده، هغې نن توله ورځ ژړل .

یوې نجلۍ وویل: نن شپه به د هغې ژړل بند شي! هغه د الله تعالی د زوی لپاره چمتو کیږي .

نجونو په کړس کړس وخندل، الله تعالی به څه وایي چې هغه ته څه ډول زوی ورکړل شویدی، ډېر بلا او چالاک سړی دی .

د دې څخه وروسته نجونو پخپلو کې سره بد اخلاقه او فحشې خبرې او ټوکې پیل کړې، آمام او محمود پدې پوه شول چې د نوې مرغۍ څخه مطلب سعدیه ده، اوس هغوی پدې بالکل باوري شول چې دا ډرامې ، مداری توب او لوبې د ناپوهه مسلمانانو د بې لارې کولو او غولولو لپاره سرته رسول کیږي .

امام د محمود په غوږ کې پټ وویل : د دې نجونو لوڅې او لغړې خبرې او ټوکې د دې ثبوت وړاندې کوي چې دا څه ډول خلک او ډله ده! مونږ بې ځایه دلته نه گرځو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غونډۍ په څنګ لوی خیمې ته نژدې ورغلل، دا لویه خیمه د غونډۍ په څنګ هغوی دواړه لوی خیمې ته نژدې ورغلل، دا لویه خیمه د غونډۍ تر منځ نیم ګز کې ولاړه وه چې نیغه او عمودي وه، د خیمې او شاته غونډۍ تر منځ نیم ګز فاصله وه، هغوی هماغه خالي ځای ته ولاړل او هلته یې وکتل، د خیمې پردې د پړو پوسیله تړل شوې وې. د سترګو په اندازه ځای پکې سورې وُ، هغوی په هماغه سوري کې وکتل نو شک یې ختم شو، په خیمه کې یوه لوی او غټ تخت پروت وُ چې قیمتي قالینه پرې پرته وه او دوه رڼا ګانې بلیدې، یو لوري ته صراحي او د شرابو پیالې ایښودل شوې وې، د دې خیمې د شان او شوکت څخه څرګندیده چې دا د دې شکمنې ډلې د سردار او مشر خیمه ده، د سعدیې سره یوه ښځه او یو نارینه ناست وه، سعدیه د ناوې په شان جوړیده .

یوې میرمنې سعدیه ته وویل: نن خو تاډیر وژړل! لږ وروسته به ته خاندې او خپل ځان به هم نه پیژنې، ته خو بختوره یې ځکه ته هغه چا خوښه کړې یې چې د آسمان څخه خدای زمکې ته رالیږلی دی! هغه یوازې ستا په خاطر دلته راغلی دی، هغه د شل ورځو په فاصله د غیب په سترګو لیدلې وې، ستاسې کلي ته هغه خدای رالیږلی دی ، که هغه نه وای راغلی نو ته به د کوم شپون سره واده کیدې، یا به ته په غلامانو باندې خرڅول کیدې .

په سعدیه باندې د دې میرمنې جادو اثر کولو، هغه چوپ ناسته او خبرې یې اوریدې، محمود په جوش او جذبه کې راغی خو آمام هغه رامنع کړ، آمام د دې کوښښ کاوه چې دا د چا لپاره تیارول کیږي. ډېر ځنډ نه وُ تیر شوی چې د غونډۍ شاته اعلان وشو: هغه څوک چې د خدای له لوري پیغمبر رالیږلی شویدی، او د هغه په لاس کې زمونږ ژوند او مرګ دی، د هغه سترګه راتلوونکې پټ او غیب شیان ګوري، په توره شپه کې اسمان ته ګوري، د چا ستورې چې د آسمان د ستورو پشان ځلیږي، تاسې هیڅوک هغه لوری ته ونه ګورۍ کوم ځای کې چې خیمې لګیدلی دي، غونډیو ته به هیڅوک هم نه ځي، چا چې هغې لوری ته د کتلو یا تللو کوښښ وکړ هغه به د تل لپاره ړوند شي، سبا شپه به هغه ستاسې هیلې، ارزوګانې او امیدونه اوري .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



آمام او محمود پخپل ځای ولاړ وه، په خیمه کې نارینه او میرمنې سعدیه ته یو ځل بیا نصیحت وکړ چې د مقدس انسان په وړاندې سپین سترګی او بې احترامي ونکړي، هغه راغی او د مخې له لوري خیمې ته ننوت، آمام او محمود پدې ډېر حیران شول چې د هغه په سینه کې لا تر اوسه پوری څلور غشي او څلور خنجرونه ننوتي وه .

سعدیې چې کله غشي او خنجرونه ولیدل نو له ویرې او ډار څخه یې خپل لاسونه په سترګو کیښودل او د خولې څخه یې چیغه ووتله، مقدس انسان په خندا شو او ویې ویل: مه ویرېږه نجلې! دا کرامات ماته الله تعالی راکړیدي ، زه په غشو او خنجرونو نه مړ کیږم هغه د سعدیه سره ځان ونښلولو او کیناست .

امام محمود ته په غوږ کې وویل: ما دا ډرامه او مداری توب یو ځل په قاهره کې لیدلی وُ! ته به هم نه ویرېږې. ته پوهیږې چې غشي او خنجرونه چیری نښتي دي ؟

مقدس انسان پورته شو او د خیمې پردې یې په پرو کلکې وتړلې، امام او محمود پخپل لوري کې د خیمې پردې خلاصي کړې، هغوی د دې پروا ونکړه چې څه به کیږي، په خپو پښو خیمې ته ننوتل، کله چې مقدس انسان شاته وکتل نو د امام او محمود په پنجو کې راګیر شوی وُ، محمود په خپ اواز سعدیه ته وویل : په کوم تړکر چې ته ناسته یې هغه د ده په مخ او خوله باندې واچوه، سعدیه لکه چې بې سده شوی وی، هغه د تخت څخه تړکر راتول کړ او د سړي په مخ او سر یې ور واچولو، سړی ډېر قوی او ځواکمن وُ خو آمام او محمود دومره کلک نیولی وُ چې هیڅ یې نشول کولایی، بیا یې په تړکر کې وتړلو او کلک یې کړ، رناګانې یې مړې کړې، د امام د خبرې په آساس لومړی سعدیه له خیمې څخه ووتله، بندي او تړلی مقدس انسان محمود په خپله اوږه واړولو، آمام پخپل لاس کې خنجر نیولی مخکې مخکې روان وُ، له کوم لوري چې دی خیمې ته راغلی وه له هماغه لوری څخه ووتل او ولاړل د نیولو خطر په هر ګام کې موجود وُ خو هغوی داسې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاره ونیوله چې سمدستي د خطر څخه ووتل ، شپې د هغوی سره ډېره مرسته وکړه .

***

هغوی د لرې لارې څخه کلي ته ننوتل او خپل جومات ته ولاړل کله چې خپلې خونې ته ورسیدل نو مداري یې خلاص کړ، تر اوسه پورې غشي او خنجرونه د هغه په سینه کې ننبتي وه خو په اوږه باندې د پورته کولو په سبب هغه کاږه شوی وه، سعدیه یې هم د جومات په خونه کې وساتله ، د دې لپاره که ددې نجلۍ د ورکیدو معلومات خلکو ته وشي نو کیدایی شي د هغې د پلار په کور به برید او حمله وکړي اصلاً حمله کوونکی او برید کوونکی داسې مست او خمار شوی وه چې هغوی ته دا هم څرګنده نه وه چې د هغوی د خدای زوی چیرې ورک شوی او ورک دی.

هغوی دا تصور هم نشو کولایی چې د هغوی سردار به د نوی مرغی سره تښتول کیږي .

امام او محمود مداري ته وویل چې چپن وباسي، هغه لومړي غشي او خنجرونه راوویستل، بیا یې چپن را وویستله، هغه لاندې جامې هم وویستلې، په همدې جامو کې د کارک پشان لرګی اېښودل شوی وه چې په هغې څرمن سرښن شوی وه، هغه تخته دومره لویه وه چې د هغه څخه د ده سینه ټوله پټیدله، غشي او خنجرونه په همدې تخته باندې لګیدلي او ننبتي وي - هغه آمام او محمود ته وویل: خپل قیمت بیان کړې، که سره زر غواړې، که آسونه غواړې، که اوښان غواړې هر څه چې غواړې سمدستي یې درکوم خو ما خلاص او ازاد کړې .

آمام ورته وویل: ته اوس نشې خلاصیدای ! مونږ هم د خلکو پشان تاته سترګې پلار وُ.

آمام محمود ته وویل: تاته به معلومه وي چې زمونږ د پوخ نژدې څوکۍ او پوسته چیرې ده! سمدستي ولاړه شه او ټول پوځیان درسره را ورسوه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ورته د پوستی لوری، فاصله او پټ شفر هم وویلو چې هغوی یو بل وپیژنی بیا یې هغه ته د خپلو دوه ملګرو ځایونه په ګوته کړل چې هغه سمدستی جومات ته راولیږي .

محمود سمدستی د آمام په آسپ پښه واړوله او روان شو، په لاره کې ورسره د آمام دواړه ملګری مخامخ شول نو هغوی یې د جومات په لوری واستول او خپله د پوځی پوستی په لوری ولاړ، کله چې د کلی څخه لرې شو نو آس یې چار ګام کړ، پوسته یو نیم ساعت لرې پرته وه، هغه په لاره کې په اندیښنه کې وه، د دی پوستی قوماندان هغه پیژندلو ، هغه بی پروا سړی و، سوډانیانو او صلیبیانو هغه ته رشوت ورکولو او هغه یې د ځان سره ملګری کړی و، محمود د هغه په هکله قاهری ته راپور هم استولی و خو تر اوسه پوری د هغه په خلاف کوم ګام نوو پورته شوی .

محمود فکر کاوه چې هغه به ورسره خپل پوځیان ونه لیږی او یا دا چې وخت به هسی تیر کړی تر دی چې دښمن له لاسه ووځی محمود په همدی فکر او سوچ کې و چې که د پوستی پوځیان ورسره ملګری نشی نو څه به کوي .

د سهار څخه مخکې پوځیان کلی ته رسول اړین وه، که پوځیان هلته ورنشی نو د آمام، محمود او دوه نورو ملګرو ژوند په خطر کې و څکه چې د دی مداری سړی سره د ډېر خلک ملګری وه او نورو د سیمی ځلکو یې هم مرسته کوله څکه هغه یې خپل مریدان کړی وه .

د آمام سره خنجر و، د هغه دوه ملګری هم ورسره یو ځای شول هغوی هم خنجرونه درلودل، هغوی مقدس مداری بندی کړی و، هغه دومره زیات قیمت ورکولو چې د آمام او د هغه د ملګرو په تصور او خیال کې هم نه راتللو.

آمام هغه ته وویل: زه په جومات کې ناست یم، دا د هغه الله پاک کور دی چې ته یې د ریښتنی دین سره له آسمانه را استولی یې، ایا همدا ستا ریښتنی دین او عقیده ده؟

ګوره مداری! زه د قاهری د حکومت غړی یم زه تا نشم خوشی کولایی او نه خپل ایمان خرخولایی شم .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


محمود بن احمد چې کله د پوستي خيمو ته ورسيده نو د قوماندان په خيمه کې يې رڼا وليده، د آس د قدمونو آواز چې هغه واوريده نو د خيمې څخه راووت، محمود خپل ځان ور وپيژانده او د قوماندان سره خيمې ته ولاړ، محمود دا قوماندان نه پيژندلو، هغه ورته وويل چې پرون ماښام پخواني کسان ولاړل او مونږ دلته راغلو، مونږ اوس د کرک له محاذ څخه راغلي يو.

محمود قوماندان ته ټوله کيسه بيان کړه او هغه ته يې وويل چې مونږ د هر لوی ښکار نيولی دی، نو د هغې ټولو د نيولو لپاره د پوستي ټولو غازيانو ته اړتيا ده چې زمونږ سره هلته ولاړ شي ځکه دا کسان بايد شپه په شپه ونيول شي .

قوماندان سمدستي خپلو غازيانو ته چې تر پنځو سويي شمير زيات ؤ حکم وکړ چې پخپلو آسونو سپاره شي، د هغوی سره توري، نيزې، برچې او ليندی هم وې، اته، لس کسان يې په پوسته کې پريښودل. ځرنګه چې دوی نوی د محاذ څخه راغلي وه نو ځکه يې احساسات د مجاهدينو په شان تازه وه، قوماندان ټول آسونه په منډه کړل او محمود د هغوی لار ښونه کوله ، کله چې خپل هدف ته نژدې شول نو آسونه يې سست کړل ترڅو غداران خبر نشي، حال دا چې هغوی يو هم پداسې حالت کې نه وه چې خبر شوی وايي، شرابو او خوب هغوی بې سده کړي وه .

قوماندان د محمود په لارښونه هغه ځای محاصره کړ خو عمليات يې تر سهار پورې وځنډول، محمود آمام ته خبر ورکړ چې غازيان را ورسيدل، سعديه لا تر اوسه پورې د امام په خونه کې وه، آمام د هغې پلار هم د خپل ملګرې پوسيله راوغوښتلو.

مخلصين، مريدان او زيارت کوونکي چې د مقدس او آسماني شخصيت دکرامتونو او راتلوونکي خبرونو د ليدلو لپاره راغلي وه ټول په رانه ميدان باندې پراته وه ځکه هغه شخصيت ورته ويلي وه چې راتلوونکي شپه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسې هیلې، ارزوګانې او امیدونه اوري او هغه به پوره کوي. دا خلک پداسې وخت کې راویښ شول چې لا روښنایي نه وه خپره شوې.
هغوی پدې لړ رڼا کې د ډېر آسونه ولیدل، په هغې آسونو سپاره پوځیان معلومیدل.
خلک هیڅ پوه نشول، هغوی پدې نه وه خبر چې آسماني شخصیت. د مړو ژوندي کوونکې، د خدای لمسي او استازي په جومات کې بندي او لاس تړلي پروت دی، هغه اوس د مسلمانانو د ریښتني خدای په پنجو کې راګیر وه، د غازیانو قوماندان د دمشق اوسیدونکی رُشد بن مسلم وه، هغه خپلو غازیانو ته ویلي وه چې ټول اسلامي هیواد ستاسې په ډاډ خوب کوي، سلطان صلاح الدین ایوبي هر وخت ستاسې سره وي، که هغه تاسې ته نه ښکاري نو زما په سترګو هغه ته وګورۍ، مونږ ټول ایوبیان یو، که د دې ګروپ کوم کس د پخوانیو پشان خپل ایمان خرڅ کړ نو زه به یې پښې او لاسونه وروتړم او پدې لویه دښته کې به یې وغورځوم، د داسې خلکو د سزا او جزا حکم زه د قاهرې څخه نه اخلم بلکې د خپل الله جل جلاله څخه یې اخلم.
رُشد بن مسلم سهار ولیدل چې په خیمو کې هیڅ حرکت او خوځښت نشته، د خیمو اوسیدونکي زر راپورته کیدونکې نه وه، رشد بن مسلم عامو خلکو ته وویل چې شاته ولاړ شي او هلته ودریږي ځکه اوس به هغوی ته مقدس او آسماني انسان وښودل شي، کله چې عام خلک لرې شول نو بیا قوماندان څلور پنځه سپاره د غونډیو په سرونو ودرول چې پیره او څارنه وکړي تر څو هیڅ بهرني سړي ونه تښتي، نور سپاره یې د آسونو څخه پلي کړل او هغوی ته یې حکم وکړ چې خیمو ته ننوځي او خلک راوباسي، که څوک مقابله وکړي او یا د تیښتې کوښښ وکړي هغه باید ووژني، هلته د تیښتې سوال نه پیدا کیده ځکه چې ټول بې سده او نیشه پراته وه، رشد بن مسلم لوڅه توره پلاس کې ونیوله او یو خیمې ته ننوت هلته یې ولیدل چې یوه نجلۍ لوڅه لغړه پرته ده او دوه نارینه هم په څنګ کې ورسره پراته دي، هغه د تورې څوکه ور وړاندې کړه او د راپورته کیدو لپاره ي ورته اواز وکړ، هغوی د راپورته کیدو پر ځای راپورته کوونکي ته کنځلې او بد رد وویل بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې اړخونه بدل کړل او ویده شول، رشد د خپلې تورې څوکه زور کړه نو د هغوی په پوستکی کې ورننوته، دری واړه وبریدل او راپورته شول، هغوی دری واړه د خیمې څخه د باندې میدان ته راووتل شول، په ټولو خیمو کې لوڅې نجونې او نارینه سره ګډ وډ پراته وه او په یوه خیمه کې ډېر د موسیقۍ او ساز وسایل پراته وه .

د ټولو خیمو څخه کسان میدان ته راووتل شول او پیره وربانډې ودرول شوه، اوښان او نور سامان غازیانو پخپل واک او کنترول کې واخیستل ، آمام د رشد بن مسلم سره وُ، آمام هغه سړی هم راوښت چې خپل ځان یې د الله تعالی زوی یعنی لمسی بللو، د هغه لاسونه شاته تړلی شوی وه، هغه یې په هغه میدان کې ودرولو چې بیګاه شپه یې خلکو ته کرامات ښودلی وه، د هغه شاته هماغه پرونۍ پردې ځوړندې وې، نور ملګرې یې د هغه په مخکې کښینول چې د ټولو لاسونه شاته تړل شوی وه ټول ساز سامان د هغوی په وړاندې کیښودل شو چې د خیمې څخه پلاس ورغلی وه، آمام خلکو ته اعلان وکړ چې ښه نژدې راشې نو خلک ټول رانژدې شول بیا آمام وویل: تاسې دی سړی ته ووایې چې ځان د الله تعالی زوی او یا استازی ګڼی چې خپل لاسونه د رسۍ او پړې څخه خلاص کړی، دا خو مړی ژوندی کولی شی نو زه به د ده یو ملګری ووژنم، هغه دی راژوندی کړی، آمام د رشد څخه توره واخیستله او د هغه د ملګرو څخه یې یو راپورته کړ، چې کله یې توره پورته کړه نو هغه سړی چیغې کړی : ما وبښې، دا سړی ما نشی ژوندی کولایی، دا ډېر غټ ګنګار دی ، د الله تعالی د زوی په خاطر ما مه مړ کوی .

خلکو چې دا لوبه ولیده نو حیران شول خو لا شک یې نه وُ لرې شوی، آمام د هغه مقدس سړی چپن او جامې هم له ځان سره راوړی وې، آمام سمدستی د هغه جامې او چپن واغوستل، چاته د ښودلو پرته یې تخته د جامو لاندې کیښودله او چپن یې پرې راکش کړه، بیا یې رشد ته وویل چې خپل څلور غشی ویشتوونکی را وړاندې کړی، کله چې غشی ویشتوونکی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلل نو آمام ورته وویل: دیرش ګامه وړاندی ودریږه او بیا زما زړه په نښه کړه او غشی راخوشی کړه، غشی ویشتونکو خپل قوماندان ته وکتل .

محمود هغه ته د شپی تړوله کیسه کړی وه ، رشد بن مسلم غشی ویشتونکو ته حکم وکړ چې غشی ورخوشی کړی، څلور واړو یو ځل څلور غشی خوشی کړل څلور واړه د امام د زړه په برخه کې ونښتل، آمام بیا وویل: اوس څلور کسان راشی زما په زړه باندی څلور خنجرونه په پوره زور سره راخوشی کړی څلور خنجرونه په پوره زور سره ور ویشتل شول او د امام په سینه کې ونښتل .

آمام غشی ویشتوونکو ته وویل : هر یو پخپله لینده کې یو یو غشی کیږدی، پدی وخت کې یې مقدس مداری رامخی ته کړ بیا یې خلکو ته په لوړ اواز وویل : دا سړی ځان ته تل پاتی او نه فنا کیدونکی وایی، اوس به یې زه تاسې ته څرګند کړم چې دا په اصل کې څوک دی .

آمام غشی ویشتوونکو ته وویل: د ده زړه په نښه کړه او غشی پری ورخوشی کړی .

کله چې لیندی راپورته شوی، هغه منډه کړه او د آمام شاته پټ شوه، هغه د مرګ له ویری رپیدلو، د سوال کوونکو په شان یې د خپل ژوند غوښتنه کوله، آمام هغه ته وویل : را وړاندی شه او دی خلکو ته ووایه چې زه د صلیبیانو ورانکاری او مداری یم، آمام د خپلی توری څوکه د هغه په ګیډه کښښوده .

خلکو! مقدس انسان رامخی ته شو او په لوړ اواز یې وویل: زه تل پاتی او نه فنا کیدونکی نه یم، زه ستاسې پشان انسان یم، زه صلیبیانو را لیږلی یم تر څو ستاسې ایمان خراب کړم، پدی کار ماته ډېر مال راکول کیږی .

آمام وویل: د شمعون لور سعدیه همدی د جال غلا کړی وه! اوس مونږ هغه راخوشی کړی .

امام چپن لری کړه، جامی یې وویستلی، د لرګی تخته یې جلا کړه، د رشد یو غازی ته یې ورکړه او ترڅو هغه په ټولو خلکو وګرځوی، آمام خلکو ته وویل چې غشی او خنجرونه پدی تخته باندی نښتل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ډرامې د رسوا کیدو څخه وروسته عوامو خلکو ته وویل شول چې تول ځایونه او خیمې پخپلو سترګو وګوري، خلک په منډه په ټولو ځایونو کې خپاره شول، د پردو شاته یو غار جوړ شوی وُ چې هلته د شپې سازنده ګان ناست وه او ساز یې غږولو، خلک چې خیمو ته ولاړل نو هلته د شرابو بدبوي خپره شوي وه، کله چې خلک ښه پوره وګرځیدل نو بیا ټول راټول کړي شول او دا ورته وویل شول چې دا ټول څه وه او د څه لپاره سرته رسیدل.

هغه دا هم معلوم کړي وه چې بیګانی مړي څوک وه نو هغه یې په رسیو تړلی وه، هغه یې خلکو ته وښودلو، بل سړی یې هم خلکو ته وښودلو چې د بوډا سړي په جامه کې د مړي سره راغلی وه، څلور غشي ویشتوونکي او خنجر ویشتونکی هم را وړاندی کړی شول او خلکو ته وښودل شول لنډه دا چې ټول راز خلکو ته رسوا شو.

امام خلکو ته وویل: د اسلام زامنو! په غور سره واورئ! دا ټول د صلیب عبادت کوونکی دی، ستاسې د ایمان او عقیدی د خرابولو لپاره راغلی، تاسې پدی پوهیږئ چې هیڅ انسان بل انسان نشي ژوندی کولای، د ځمکی پر مخ دا د الله تعالی قانون دی چې انسانان به نه ژوندي کیږي، د الله جل جلاله ذات یو او واحد لا شریک دی، هغه هیڅ زوی او اولاد نلري، صلیبیان دا ډرامې او چلونه د اسلام د نړولو او بربادولو لپاره پکار اچوي.
دا د باطل او کفر بچیان ستاسې د زړورتیا، باتورۍ او جهاد څخه په ویره کې دي، ستاسې مقابله د جګړي په میدان کې نشي کولایی، په همدی خاطر ستاسې په زړونو کې شیطاني وسوسی اچوی ترڅو تاسې د اسلام د ساتنی لپاره د صلیبیانو په خلاف توره راپورته نکړئ، په همدی مصر کې فرعون خبیث خپل ځان الله بللو، حضرت موسی علیه السلام د فرعون جعلي خدایی د نیل په دریاب کې ډوبه کړه، خپل عزت، خپل شان او خپل عظمت وپیژنئ! خپل اصلي دښمن په ښه توګه وپیژنئ!

خلک چې ټول مسلمانان وه یو دم راوپاریدل، هغوی بی علمه او ناپوهه وه نو آور پکی او سخت دریزه وه، هغوی چې دا لوی خبیث او شیطان انسان

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


ولیده نو هغه یې د الله تعالی په زوی والی ومنلو خو کله چې د هغه حقیقت او اصلیت ورته څرګند شو نو دومره راوپاریدل چې په هغه شیطان او نوره ډله باندی یې برید او حمله وکړه .

آمام غوښتل دا شیطانان له ځان سره قاهری ته ژوندی بوځی تر څو د هغوی څخه ډېر معلومات واخلی خو د دی لوی ډلی څخه یې راویستل شونی نه بریښیدل .

رشد بن مسلم وویل چې دا خلک باید رامنع کړو چې دوی ونه وژنی خو امام وویل چې د دی خلکو په خلاف زور استعمالول زیان لری ځکه دا ساده خلک دي او زیات به پکې مړه شي.

آمام رشد ته وویل: پریږده چې دا خلک پخپل لاس هغه شیطان ووژنی کوم چې ځان ته یې د الله جل جلاله زوی ویلی تر څو هغوی پدی پوه شی چې دا ګنهګار دی .

آمام، رشد او محمود د خلکو له مخی څخه لری شول، رشد یوی غونډۍ ته پورته شو او خپلو غازیانو ته یې وویل : تاسې چې چیری یاستی همالته ودریږی، دا خلک مه رامنع کوی.

لږ څنډ وروسته هلته یوازی آمام، رشد ، محمود او د هغوی د ډلی کسان پاتی شول او نور خلک ټول پخپله مخه ولاړل، د شپی چې په کوم میدان کې مداری توب ښودل کیده هلته اوس لوی مداری او شیطان سره د خپلو ملګرو ټوټه ټوټه او میده میده پراته وُ، نجونی هم خلکو وژلی وی، هیڅ مړی هم نه پیژندل کیده، ټول کوفته شوی وه، خلکو خیمی، سامان او ټول شیان چور کړی وه، خلکو د هغه شیطانانو اوښان هم له ځان سره بوتلل، پداسې حال کې چې د رشد د غازیانو نهه آسونه هم ورک وه، ځکه هغوی آسونه خلاص پریښی وه او خپله پلی ګرځیدل، خلکو ته دا څرګنده نه وه چې دا زمونږ د خپل پوځ آسونه دي، داسې څرګندیدله لکه چې سیلی راغلی او هر څه یې له ځان سره وړی وی. اوس باید مونږ قاهری ته ولاړ شو، آمام رشد او محمود ته وویل: دا معامله باید حکومت ته وړاندی شی .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

پدی څو ورځو کې چې سلطان صلاح الدین ایوبی کوم احکام نافذ او عملی کړل هغه انقلابی وه، هومره انقلابی چې د هغه نژدی ملګری او دوستان هم حیران شول، تر ټولو لومړی یې د ټولو هغو چارواکو کوروته ولټول چې د علی بن سفیان او غیاث بلبیس په شکمن لست کې وه، چې په هغوی کې دوه دری لوړ پوړی چارواکی هم وه، د هغوی د کورونو څخه زر، ملغلری، مال او ډېری حسینی او ښکلی نجونی راووتلی، له ځینو کورونو نه داسې کسان هم ونیول شو چې د سوډان تکړه جاسوسان وه، څه نور ثبتونه او بیلګی هم پیدا شو، سلطان صلاح الدین ایوبی د چا د رتبی او مقام په نظر کې نیولو څخه پرته حکم وکړ چې دا ټول تر نا معلوم وخت پوری په بند کې واچوی او د مجرمانو پشان سلوک ورسره وکړی، د دی ګام په پورته کولو سره څو لوړ پوړی چارواکی کم او ځایونه یې خالی شول .

سلطان صلاح الدین ایوبی دویم برید په هغې ډلی وکړ چې ځان یې د دین او مذهب اجاره دار بلل .

سلطان صلاح الدین ایوبی ته خپلو سلا کارانو مشوره ورکړه چې د دین او مذهب معامله ډېره نازکه او خطری وی، خلک د جومات د امامانو او خطیبانو مریدان وی .

سلطان صلاح الدین ایوبی وپوښتل : پدی کې څومره کسان د مذهب او دین په روح باندی پوهیږي ؟

زه پوهیږم دا ډول امامان یوازی د خپل ځان لپاره کار کوی او خلک د دین او مذهب څخه لری ساتی - د خلکو لپاره د زده کړی غوره ځای جومات دی، ځکه په مسجد او جومات کې دومره اثر وي چې د دین خبره د خلکو زړه ته ښکته کیږي، او دا د جومات د پاکوالی او تقدس اثر دی، خو دلته جوماتونه په غلطه توګه استعمالیږي، په جومات کې اوس امامان خپل خانونه پیران او مرشدان جوړوي، که زه په جوماتونو کې باعمله علماء ونه ټاکم نو څه وخت وروسته به ټول خلک د امامانو او پیرانو عبادت پیل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړي، دا بې علمه او بې عمله امامان او پیران ځان د خلکو او الله پاک تر منځ رابطه او واسطه ګڼي او د صلیبیانو په شان عقیده په خلکو کې خپروي او راوجوي پدې توګه هغوی د اصیل اسلام بیخ او بنسټ وباسي .

سلطان صلاح الدین ایوبی خپل یو لوی عالم او پوه انسان علامه زین الدین علی بن نجاالواعظ د سلا او مشورې لپاره راوغښتلو، دی باعمله انسان خپل ځان ته د څارنې او پلټنې یوه اداره جوړه کړې وه، هغه یو ځلې د صلیبیانو یو لوی پلان خنثی کړی او ډېر جاسوسان یې نیولې وه، هغه په مذهب او د دین په نامه ورانکاری ښه پیژندل ، هغه سلطان صلاح الدین ایوبی ته سلا ورکړه که نن تاسې د هغوی په ضد قدم پورته نه کړو نو ډېر زر به پدې پوه شی چې خلک به د الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم په حکم باندې د عمل کولو اجازه له امامانو څخه غواړي او د هغوی خبره به ورته لومړنۍ او مخکې ښکاري، اوس صلیبیانو د دین خبرې د غلطو عقایدو سره ګډې وډې کړې ، خلکو ته شکونه ، وسوسې او وهمونه په زړه کې اچوي .

سلطان صلاح الدین ایوبی سمدستي یو لیکلی حکم ولیکلو چې د اسلامي هیواد د ټولو جوماتونو د امامانو څخه به د ټولو شیانو امتحان او معلومات علامه زین الدین علی کسان اخلي او هغوی به د علمیت ، اهلیت او تقوی په اساس ټاکي .

سلطان صلاح الدین ایوبی چې د نوی امامانو لپاره کوم شرایط وړاندې کړل هغه دا وه چې هر امام باید د الله تعالی کتاب فرقان حمید او د هغه د پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم احادیث لوستلی وی ، عسکری پوهه او روزنه ولری .

سلطان صلاح الدین ایوبی ویل کوم انسان چې د اسلام په سپیڅلي دین پوهیږي هغه کولی شی د قوم قیادت وکړي .

سلطان صلاح الدین ایوبی په ټول هیواد کې هغه لوبې، ډرامې او د ساعت تیرې شیان منع کړل چې په هغې کې به جواري کیدله .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي بن سفیان لاس لاندې غړو د لوبو او نورو ساعت تیریو په مرکزونو باندې حملې وکړې چې له هغو ځایونو څخه د ایطالیا د تصویر جوړونکي هغه تصویرونه د نجونو او ځوانانو چې لوڅ و راوویستل .

سلطان صلاح الدین ایوبي دا بد اخلاقه لوبو او ډرامو پر ځای توري وهل، خنجر غورځول ، غشي ویشتل ، د آس سپرلي، پرته د وسلې څخه جګړه، پالواني او لامبو ته رواج ورکړ او د دې د څارنې لپاره حکومتي چارواکي وټاکل .

په لومړۍ مسابقه کې سلطان صلاح الدین ایوبي خپله ګډون وکړ او لومړۍ درجه ګټونکو ته یې ښکلي او تکړه آسونه ورکړل، هغه په مدرسو او جوماتونو کې د علمي او دیني مسابقو لپاره هم ترتیبات ونیول .

سرحدي پوستو او ګروپونو ته یې ځانګړې پاملرنه وکړه، هغه پدې پوهیده چې اطرافي او صحرای اوسیدونکي ډېر زر د وسوسو او تبلیغاتو تر اثر لاندې راځي او تر ټولو د مخه د دښمن تر برید او حملې لاندې هم راځي، د دې پوستو د غازیانو لپاره هغه د بدني او معنوي خوندي توب ترتیبات ونیول - هغه چې کله د سرحدي ګروپونو ویش او تقسیم کولو نو خپله یې قوماندانانو ته لارښووني کولې او ډېر سخت او کلک اصول یې ورته وښودل .

د دې پوستو قوماندانان ډېر هوښیار او چالاک خلک او د ټول پوځ څخه غوره شوي غازیان او افسران وه .

رشد بن مسلم هم د همدې غوره شوو قوماندانانو له ډلې څخه یو ؤ، کله چې محمود بن احمد ورته اشاره وکړه نو سمدستي هغه د خپل ګروپ غازیانو سره د صلیبي شیطانانو پسې ورغی او هغوی یې د خپل جرم په سزا ورسول که چیرې پخواني قوماندان وایي نو هغه به په صلیبي شرابو کې خمار او مست پروت ؤ او صلیبي ورانکارو به د خپل لوی شیطان د خلاصون لپاره ور وړاندې شوي وای او هغه به یې د امام یوسف بن آرز او محمود بن احمد له منګلو راخلاص کړې وي .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



رشد بن مسلم، محمود بن احمد او امام یوسف بن آرز پخپله خونه کې ناست وه، هغوی د لوی مداری او شیطان کیسه کوله چې د کلی خلکو پخپلو لاسونو کوفته کړی وه، پدی خونه کې علی بن سفیان هم ناست وُ، هغه د دری واړو څخه معلومات او راپور اخیستی وه، بیا یې هغوی سلطان صلاح الدین ایوبی ته بوتلل، هغه ډېر خوشحاله وه چې دومره لوی شیطانی پلان ختم او برباد شو، خوعلی بن سفیان وویل : یوازی برید او حمله شویده د هغې د اثر ختمولو لپاره ډېر وخت پکار دی، ماته چې څه معلوم دي هغه دا دي چې په خلکو کې د جهاد جذبه ختمه شویده ځکه مونږ ته د سرحدی سیمو څخه پوځیان نه راځی، هغوی مونږ ته غله او څاروی نه راکوي بلکې د مسلمان دښمنانو ته یې ورکوی جوماتونه ړنګ او ویجاړ شویدي، خلک د وسوسو او وهمونو ښکار شوی اوس هغوی د مداری پیرانو په هدایاتو عمل کوی مونږ باید د دی خلکو نیغی لاری ته د راوستو لپاره پوره او مکمل پروګرام پیل کړو، که دا ډله نه وی وژل شوی، نو مونږ به په ټولو سیمو کې هغوی ګرځولی او خلک به خپله پوه شوی وایی .

سلطان صلاح الدین په وړاندی تر ټولو ضروری او مهمه مسئله د سوډان څخه د تقی الدین او د هغه د پوځ راویستل وه، هغه چې د کومی ورځی څخه قاهری ته را رسیدلی وه نو پلانونه یې جوړول ، هغه د سوډان جګړی ته پخپله نشو تللی ځکه چې په مصر کې حالاتو ته پام لرل پکار وه، هغه چې کله قاهری ته را ورسیده نو سمدستی یې تقی الدین ته استازی واستولو چې زه اوس قاهری ته را رسیدلی یم - استازی لاړ بیرته راستون شوی وه .

استازی وویل چې تقی الدین ته ډېر زیات زیان رسیدلی او ځینی کسان د دښمن لخوا څخه نیول شوی او ځینی په دښتو او بیابانونو کې ورک دی - اوس یې خپل پاتی پوځ سره یو ځای کړی خو دښمن هر وخت د هغوی په سر موجود وی، هغه ته د برید او حملی وخت هیڅ نه برابریږي، هغه ته د خو ګروپونو اړتیا ده چې په دښمن حملی وکړی او هغوی ته لاره ازاده کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبی خو ګروپونه کماندویان او خو هغه سپاره ګروپونه چې په ځوابی حملو کې یې پوره پوهه لرله د سوډان په لوری د تقی الدین مرستی ته واستول، هغوی به حملې کولې او دښمن به یې په ځان پسی خپرا وه او زیات زیان به یې ورساوه، کماندویانو لارې تشې کړې او مخه یې بلې خواته واړوله .

هغوی ډېر زر بریالی شول‌د هغوی د پوره قربانۍ او سربښندنې ځخه برسیره دا خبره هم وه چې دښمن هم ښه ستومانه او ستړی شو. دښتې او بیابان ډېر ګرم او سخت ځنو آسونه او اوښان یې له کاره وولیدل .

په سوډان برید سخت ناکام شو، بری یوازې دا وشو چې تقی الدین سره د خپلولوړ پوړو پوځی افسرانو او پوځ سره مصر ته راغی او د پوره ختمیدو ځخه وژغورل شول، کله چې تقی الدین د مصر خاوری ته راننوت نو ورته ځرګنده شوه چې خپل نیمائی پوځ یې له لاسه ورکړی دی .

***

د سلطان نور الدین زنګی کسب کارانو د اړتیا سره سم لرې ویشتوونکی منجنیقونه جوړ کړی وه، چې په هغوی باندې کلا ته ډبرې او د اور غونډاری غورځول کیدل .

صلاح الدین ایوبی هغوی ته په کلا کې مهم ځایونه په ګوته کړی وه، پدی مهمو ځایونو کې د سامان زیرمې هم وې، د اور لومړنی غونډاری په هماغه ځای وروغورځول شول چیرې چې د سامان زیرمې وې، کله چې اور خپل اصلی ځای ته ورسیده نو لمبې پورته شوې چې دی لمبو د زنګی د غازیانو مورال او حوصله لوړه کړه، غازیانو لرې ویشتونکی غشی هم جوړ کړی وه، د هغو د ویشتلو لپاره یې ښه تکړه غازیان غوره کړی وه .

خو د اته، لس غشو ځخه وروسته به هغه غازی بیا له کره لویدلو. سلطان نور الدین زنګی یو بل زړور کار وکړ، هغه د خپل پوځ ځخه ډېر زړور سرتیری راټول کړل او بیا یې ورته حکم وکړ چې په دروازه برید وکړی ، هغوی ته یې د دروازې د ماتولو اړین وسایل ورکړل .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د سربښندونکو دا ډله د دروازې په لوري په منډه شوه نو د دیوال څخه پرې صلیبیانو د غشو باران پیل کړ چې ځو سربښندونکي زخمیان او ځو شهیدان شول. زنګي سمدستي لرې ویشتونکي غشي او نور عام غشي ویشتونکي هلته راوغوښتل، هغوی یې هلته نژدې ځای پر ځای کړل او د دروازې په شا او خوا دیوال باندې یې د غشي ویشتلو حکم وکړ، دومره زیات غشي ویشتل پیل شول چې د دیوال سر پکې پټ شو، پدې وخت کې د دروازې ماتوونکو یو بل ګروپ د دروازې په لوري په منډه شو، زنګي د غشو ویشتل نور هم زیات کړل، لږ څنډ وروسته د دیوال په سر باندې د آور څخه ډک بیلرونه را ښکته شول، کله چې د دې بیلرونو د راپورته کوونکو سرونه راښکاره شول هغوی د غشو ښکار وګرځیدل، یو، دوه بیلرونه د باندې راتوی شول نور ټول د دیوال په سر چپه شول، هلته لمبې پورته شوې چې د هغې څخه څرګندیده چې اور غورځوونکي پخپل اور کې وسوځیدل.

د سلطان نور الدین زنګي یو قوماندان چې کله دا طریقه ولیدله هغه پخپل اس پښنه واړوله او د کلا بلې دروازې ته ولاړ او هلته یې اړوند قوماندان ته وویل چې په بل لوري کې څه ډول لوبه روانه ده، دواړو قوماندانانو په بله دروازه کې هم همدا کار پیل کړ، په لومړنۍ برید کې د غازیانو زیات زیان وشو. څومره چې سربښندونکي شهیدان کیدل په هماغه اندازه به یې ملګري تیزیدل او د دروازې په لوري به په منډه کیدل، زنګي غشو ویشتوونکو آور غورځوونکو ته وخت نه ورکاوه، سلطان نور الدین زنګي حکم وکړ چې منجنیقونه باید په کلا کې پرله پسې آور وغورځوي، کله چې د سلطان نور الدین زنګي سربښندونکو په دوه دروازو برید او حملې ولیدلې نو پرته د حکم څخه په دوه برخو تقسیم شول، یوه برخه د لومړنۍ دروازې او بله شاتنۍ دروازې ته ولاړله، په دواړو دیوالونو باندې دومره ډېرې ویشتل کیدې چې مقاومت یې ختم کړ، پدې وخت کې دواړه دروازې ماتې شوې او ټول سربښندونکي یو دم کلاته ننوتل، په کلا کې خونړۍ جګړه پیل شوه د کلا په اوسیدونکو کې ګډ وډي او بې نظمي پیل شوه - په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدی گډ وډی کې صلیبي چارواکی له کلا څخه ووتل ، تر مابنام پورې صلیبي پوځ وسله وغورځوله، سلطان نور الدین زنګي ټول مسلمان بندیان له بند څخه راخلاص کړل ، د دې څخه یې وروسته په ټوله کلا کې د صلیبي چارواکو لټون پیل کړ خو هیڅ یو هم پیدا نشو. دا جګړه او فتح د ۱۱۷۳ میلادی کال په آخري دري میاشتو کې سرته ورسیده او کرک فتح شو چې د دې څخه وروسته مسلمانانو ته بیت المقدس ښکاره شو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


## کله چې خزانه پيدا شوه

د صليبيانو دا کانفرانس ډېر احساساتي او جذباتي وه، هغوی د هرې ماتې، هرې فتحې، هر پشاتګ او هر کامياب پرمختګ څخه وروسته سره کيناستل، پخپلو کې به يې نظريات او معلومات تبادله کول او شراب به يې څښل، هغوی فکر کاوه چې پرته د شرابو او انجونو جنګ نه ګټل کيږي ، هغوی به خپلې لوڼې او ناموسونه د مسلمانانو سيمو ته د دې لپاره استول چې د مسلمانانو اخلاق پرې خراب کړي ، جاسوسي او ورانکاري وکړي. د خپل لاس لاندې سيمو څخه به يې مسلمانې انجونې راتښتولې او د وخت تيرولو لپاره به يې ورڅخه کار اخيستلو.

جاسوسانو چې کله هغوی ته وويل چې صلاح الدين ايوبي وايي : صليبيان د ناموسونو سوداګر او مسلمانان يې ساتوونکي دي نو پدې خبره صليبي چارواکو ډېر وخندل، په هغوی کې يو په صلاح الدين ايوبي پورې مسخره او ټوکه وکړه چې صلاح الدين ايوبي پدې ساده خبره هم نه پوهيږي چې صليبي ځوانان د دښمن په مقابل کې خپل ځان او بدن سربښندنې او قربانۍ ته وړاندې کوي نو ايا صليبي نجونې د خپل دښمن د ماتولو لپاره له خپل بدن څخه کار وانخلي ؟

يو بل چارواکي وويل: صلاح الدين ايوبي خوارکي لا پدې اوس هم ندی پوه شوی چې زموږ سربښندونکو نجونو او د سرو زرو سکو څومره مسلمانو واکمنانو ته ماتې ورکړې او هغوی پدې ماتو باندې وياړ او فخر هم کوي او د هغې څخه خوند اخلي، هغه به زموږ څخه د اسلام ناموس او عصمت څه ډول خوندي وساتي چې نور مسلمان واکمنان زموږ ملګري او پلويان وي .

دا د صليبيانو د يو کانفرانس حالات او پيښې وې خو (۱۱۷۳) ميلادي کال په آخر کې چې کوم کانفرانس د کرک تر فتحې وروسته په بيت المقدس کې وشو د هغه بيا يو بل شان او حالت ؤ، هغوی دا ځل په سلطان صلاح الدين ايوبي پورې ټوکې او مسخرې ونکړې ، د هيچا په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شونډو مسکا نه ښکاريد، هیچاته دا هم یاد نه وه چې کله به هغوی کیناستل نو شراب به بادیدل.

د کرک څخه هغوی ډېر په شرم او بې عزتۍ سره راتښتیدلی وه، پدې تښتیدونکو کې ریجنالډ هم ؤ کوم چې د کرک د کلا مشر بلکې واکدار ؤ، هغه ډېر جګړه مار او جنګی سړی ؤ، هغه د سلطان صلاح الدین ایوبی سره د خپل زغرې لرونکی پوځ سره یو ځای څو ځله جګړې کړې وی، پدی کانفرانس کې ریمانډ هم ؤ چې د کرک د محاصرې په وخت کې یې پوځ د کلا څخه د باندې د سلطان صلاح الدین ایوبی لخوا محاصره شوی وه، ریجنالډ او ریمانډ دواړو داسې پلان جوړ کړی ؤ چې هغوی پرې ویاړ او افتخار کولو خو سلطان صلاح الدین ایوبی پرله پسی کرک محاصره کړ او ریمانډ یې داسې راګیر کړ چې خپله محاصره شو او د پلان عملی کیدل ممکن نه شو. د ریمانډ سامان تباه شو او پوځ یې دومره مجبور شو چې مړه آسونه او اوښان به یې خوړل.

په آخر کې نیمایی پوځ ختم شو، څه ژوندی ونیول شول او څه وتښتیدل. ریجنالډ نیک مرغه ؤ چې د کرک په فتح کې د خلکو د ګڼې وډې په وخت کې ژوندی راوتښتیده او نورالدین زنګی ته ژوندی پلاس ورنغی چې اوس به پدی کانفرانس کې د ګډون لپاره ژوندی نه وای پاتی، پدی کانفرانس کې د هغو صلیبی سردارانو شمیر هم کم نه ؤ کوم چې د نایټ لقب یې ګټلی وه، دا لقب به پادشاه هغو خلکو ته ورکولو چې په جګړه کې به یې تر ټولو زیاته میړانه ښکاره کړه بیا به یې هغه ته د سر څخه تر پښو پورې د اوسپنې جامې ورکولې او د نایټ په نامه به یادیده.

پدی کانفرانس کې د عکرې لوی بطریق هم ګډون کړی ؤ چې د صلیب د ساتوونکی په نوم یادیده، د دوی برسیره ګایی او د هغه وررور المارک هم وه، د اسلام قسم خوړلی دښمن فلیپ اګستس هم راغلی وه، د صلیبی جاسوسی اداری مشر هرمن او د هغه دوه مرستیالان هم وه، په لومړی وخت کې هغوی ټول چوپ وه ځکه هر یو د بل څخه شرمیدلو خو بیا فلیپ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


اګستس د عکرې بطريق اعظم د دې غونډې او کانفرانس د مشر په حيث وټاکلو او د هغه څخه يې د لومړۍ خبرو کولو غوښتنه وکړه .

د عکرې پادري لوی بطريق ووېل : زه چې د دې خلکو سره خبرې کوم نو ماته شرم راځي ځکه چې دوی ټولو څو څو ځلې خپل قسمونه مات کړي ، ژمنې يې ندې پر ځای کړې او اوس د هغو ټولو سره سره ژوندي او روغ رمټ په بيت المقدس کې ناست دي!

زه د عيسی مسيح په وړاندې شرميدلی يم، چې کله صليب ته ګورم نو سترګې مې ښکته شي، ايا تاسې ټولو په صليب باندې خپل لاسونه نه وه ايښي او قسمونه مو نه وه خوړلي چې دښمن به له منځه وړو سره د دې که زمونږ سر پکې قربان شي؟

ايا تاسې ټولو دا قسم نه وُ خوړلی چې مونږ به د اسلام نوم او نښان ورکوو؟

ايا په تاسې کې څو کسانو زخمونه خوړلي او يا ګيريدلي هم ياستی؟

تاسې شوبک مسلمانانو ته ورکړ او خپله ورڅخه راوتښتيدلی بيا مو کرک درته وسپارلو ، زه پدې پوهيږم چې څوک ميدان ته وړاندې کيږي هغه ماتې هم خوري، د کاميابيو څخه وروسته ماتې څه معنا نلري خو پرله پسې دوه ځلې ماتې دا فکر پيدا کړی چې صليب يوازې په اروپا کې پاتې او که همداسې حالت وی نو ډېر زر به د اروپا په کليساګانو کې د مسلمانانو اذانونه واوريدل شي .

فليپ اګستس په زوره ووېل : داسې به هيڅکله هم نه کيږي! د صليب اعظم ساتوونکيه! داسې به هيڅکله هم نه کيږي، د ماتې څه لاملونه وه چې مونږ په هغې غور او فکر کړيدی، اوس به ستاسې په وړاندې بيا پرې غور وکړو.

د عکرې بطريق اعظم ورته د طنز په توګه ووېل : شايد تاسې به پدې غور ونکړی چې اوس به د مسلمانانو هدف بيت المقدس وی ؟

آيا تاسې د دې څخه ناخبره ياستی چې صلاح الدين ايوبی د بيت المقدس د نيولو قسم خوړلی دی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا تاسې پدې نه پوهیږئ چې د مسلمانانو لومړی قبله بیت المقدس ده ؟
او هغوی به د دې ځای د تر لاسه کولو لپاره خپل ځانونه هم قربانوي؟
فلیپ اګستس وویل: مونږ په مسلمانانو کې د خیانت او غداری تخم کرلی دی؟ مونږ په مسلمانانو کې دومره خائنان او غداران پیدا کړیدی چې د نور الدین زنګی او صلاح الدین ایوبی په لاره کې به خنډونه اچوی او هغوی به په لوږه او تنده ختموی .
د صلیب اعظم ساتوونکی وویل: بیا نو دا کوم مسلمان دی چې ستاسې څخه یې دا دوه کلکی او قوی کلاګانی ونیولې؟
دا له یاده مه باسی چې مسلمانان احساساتی دی! کله چې مسلمان غدار شي د خپل ورور په غاړه چاړه راکاږي، خو چې کله په هغه کې دینی او ملی جذبه او ولوله راپاریږي نو بیا خپلې غاړې او سرونه سرښندنی ته وړاندی کوي او کفاره وربانډی اداء کوی ، که مسلمان غدار او خائن شي نو هم به پرې باور مه کوی! ډېر لرې مه ځی، پدې لسو کلنو کې چې څه وشول هغو ته وګورئ! د اسلام غدارانو تاسې ته څومره سیمی درکړې؟
ایا په تاسې کې دا همت شته چې مصر ته ولاړ شی؟ نن ورځ مسلمانان د فلسطین په خاوره کې پراته دی ، سبا به ستاسې په سینو باندی ناست وی!
یاد ولرئ زما دوستانو! که نور الدین زنګی او صلاح الدین ایوبی ستاسې څخه بیت المقدس ونیولو نو بیا اروپا هم درڅخه نیولی شی! یوازې د فلسطین خبره نده، د ځمکی د کومې ټوټې خبره هم نده، اصل مسئله او لانجه د اسلام او صلیب تر منځ ده! دا د دوه دینونو او مذهبونو، فکری او نظریاتی جګړه ده، په دواړو کې د یو ختمول دی ، ایا تاسې د صلیب ختمیدل زغملی شی؟
په غونډه کې جوش او جذبه راپیدا شوه ټولو په یوه خوله وویل : نه مقدس پلاره! داسې هیڅکله هم نشی کیدای! دومره ناهیلی کیدل نه دی پکار.
د عکری بطریق اعظم وویل : بیا نو تاسې په هغو لاملونو غور او فکر وکړئ چې ستاسې د پشاتګ سبب شول زه د جګړی په هکله تاسې ته سبق

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


او روزنه نشم درکولایی، زه د فکر او عقیدې د میدان ساتوونکی یم، زه د کلیسا ساتوونکی یم، زما د کلیسا په پاکو نجونو قسم چې که ماته لس پاخه او کلک مسلمانان راوسپاری زه به ورځخه د صلیب عبادت کوونکی جوړ کړم!

تاسې پدې خبره غور وکړه چې ولې ستاسې لوی زغره لرونکی پوځ د مسلمانانو د کم پوځ په مقابل کې ماتې خوري؟ ستاسې پنځه سوه سپاره د سلو پیاده مسلمانانو لخوا ځخه ولې ماتې خوری؟

د دی لامل دا دی چې مسلمانان د دین په جذبه او جوش سره جنګیږي! هغوی چې کله ستاسې سره مخامخ کیږي نو د ټولو په ژبه یوه خبره وی فتح یا شهادت! ما اوریدلی دي چې د هغوی کماندویان ستاسې شاته راتاویږي ، ستاسې ملا ماتوی او خپله په غشو سوری سوری کیږي یا ژوندی بیرته خپل ځایونو ته ګرځی! فکر وکړه چې ولی د هغوی لس، لس کسان ستاسې په زرګونی لښکر کې راننوځی؟ دا یوازې دینی او مذهبی لیونتوب دی! هغوی پدی باور لری چې الله تعالی د هغوی سره ملګری دی! د الله جل جلاله رسول هم د هغوی سره دی! هغوی پداسې سختو حالاتو کې د خپلو مشرانو ځخه نه بلکې له قران ځخه هدایات اخلی! ما قران په غور سره مطالعه کړی، زمونږ په خلاف جګړه قران جهاد بللی چې په هر مسلمان باندی جهاد فرض شوی دی - ان تر دی چې جهاد په لمانځه او نورو عباداتونو غوره او افضل بلل شویدی... تر څو پوری چې تاسې پخپل ځان کې داسی جذبه او جوش راپیدا نکړی د اسلام هیڅ شی نشی خرابولایی .

***

څه جذباتی او احساساتی خبری او کلمات وه چې د عکری لوی پادری او بطریق صلیبی چارواکی ټول په جوش او جذبه راوستل او یو ځل بیا یې په هغوی کې ژوند راپیدا کړ، هغه د دی وینا ځخه وروسته رخصت شو او وی ویل : اوس تاسې پخپل منځ کې غور او فکر وکړی چې ستاسې د ناکامی لاملونه څه او څوک څوک پکی ملامت دی؟ څه ډول دا ناکامی په فتحی او بری بدلولای شی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیت المقدس د خپل ژوند او مرګ مسئله وبولی! صلاح الدین ایوبی پرښته نده! ستاسې پشان یو انسان دی، هغه پدی ځواکمن او قوی دی چې ایمان او عقیده یې پخه او کلکه ده!

په غونډه او کانفرانس کې چې کومه ګرمی او ژوندی توب راغی هغه پدی سبب وُ چې څه ځانګړی فیصلې وشوی .

یوه پریکړه دا وه چې ځوابی برید ونشی بلکې صلاح الدین ایوبی او نورالدین زنګی ته د پرمختګ وخت ورکړای شی تر څو هغوی د خپلو ځایونو څخه بېـه لری شي، بیا خپاره او ګډ وډ شي. پدی توګه به د هغوی د سامان لاری لری او غیر خوندی شی .

دویمه پریکړه دا وشوه چې یونانیان، بازنطنیان او فرنګیان دي ته چمتو کړایی شي چې د سمندر له لاری په مصر باندی برید وکړی، د مصر په شمال ختیځ باندی خپل پوځونه ښکته کړی او هلته پوځی او عسکری مرکز جوړ کړی ،دا مرکز به د فلسطین د دفاع او په مصر باندی د یرغل لپاره پکار اچول کیږی .

مهمه پریکړه دا وشوه چې په اسلامی سیمو کې د بد اخلاقی لپاره کار نور هم تیز شی او هم د خرابو او غلطو عقایدو خپرول پیل شی .

مخکې وویل شول چې د مصر په سرحدی سیمو کې د صلیبیانو یو تخریبی او ورانکاری پلان رسوا او ټول کار کوونکی یې تباه او کوفته شول کوم چې د بد اخلاقی او اسلامی عقایدو د خرابولو لپاره یې کول .

صلیبی جاسوسانو خپلو چارواکو ته خبر راوړ چې صلیبی پلان ناکام او کوم کسان چې د دی کار کوونکی وه هغوی ټول د خپلو مریدانو او مخلصینو لخوا څخه کوفته او ټوټه ټوټه شول .

په کانفرانس کې دا راپور هم وړاندی شو چې د صلیبیانو تر لاس لاندی سیمو کې د مسلمانانو ژوند تنګ شویدی، هغوی د کاروانونو په شکل هجرت کوی چې په لاره کې پری حملې کیږي - مال، دولت او نجونی یې تښتول کیږي .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


په کانفرانس کې پریکړه وشوه چې د مسلمانانو د ختمولو کار دې همداسې روان وي بلکې هغه دې نور هم تیز شي او هم د هغوی د انجونو ښځه د مسلمانانو په خلاف کار واخیستل شي.

په غونډه کې دا پریکړه هم وشوه چې په مسلمانانو کې دې د عیسایت تبلیغ او دعوت زیات شي، د دې لپاره زیات مال او دولت ته اړتیا لیدل کیده چې هغه صلیبي واکمنانو ورکوله خو پدې لاره کې ځه ستونزې راپیدا شوې.

یو دا چې مال او دولت به په اوښانو بار ورل کیده نو په لاره کې به غازیانو هغه نیول او یا به د غلو او ډاکوانو له لوری لوټ او تالا کیده. هغوی دا اړتیا حس کړه چې مال او دولت د هماغه سیمو ځخه پلاس راشي تر څو ورلو ته یې اړتیا پیدا نشي.

د ډېر وخت ځخه پدې خبره غور کیده، د صلیبي جاسوسي اداری مشر جرمنی نژاد هرمن د علي بن سفیان پشان تکړه استاذ او ذهین سړی وه، هغه پدې پوهیده چې د مصر په خاوره کې دومره خزانې شته چې په هغې باندې ټوله دنیا اخیستل کیدای شي خو هغې ته ځان رسول او پلاس راوړل ګران معلومیدل.

دا خزانې د فرعونیانو په قبرونو کې پټې او ښخې شوې وي، تاریخ د دې خزانو ځخه ناخبره نه ؤ ځکه چې کله به کوم فرعون مړ کیده نو د هغه سره به بې شماره مال او سامان هم په لوی قبر کې کیښودل کیده چې هر قبر د یوې پادشاه ماڼۍ پشان لوی او غټ وه.

فرعونیانو به پخپل ژوندانه کې د ځان لپاره داسې قبرونه جوړول چې هغه به د هغه د شان او شوکت سره برابر وه او هغه ته به هیڅوک هم نشو رسیدایی، د مرګ ځخه وروسته به د هغې ودانۍ دروازې او خوله پداسې توګه بندیدله چې پرته له جوړونکو ځخه به بل چاته ځرګنده نه وه چې ځرنګه خلاصیدای شي، د فرعون تر ښخیدو وروسته به یې خپلوانو هغه کسب کاران وژل چې قبر به یې چا جوړ کړی ؤ.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرعونیانو دا ګڼله چې دوی خدایان دي او د مرګ څخه وروسته به همداسې شان او شوکت ورته په نصیب وي، هغوی به غرونه او غونډۍ سوري کولې او د هغې لاندې به يې د پادشاهي ماڼۍ پشان خونې، دهلیزونه او برنډې جوړولې چې په هغې کې به ډېر زيات سره زر، سپين زر، ملغلرې، قیمتي ډبرې، د خوراک شیان، شراب او شهد کينبودل کيدل او هم به يې د فرعونيانو مړي موميايي کول چې خراب نشي. پدې قبرونو بلکې ماڼيو کې به بګۍ سره د آسونواو ګاډۍ وانانو، کشتۍ سره د کشتۍ وانانو هم وو - د خدمت لپاره به يې غلامان، وينځې او خپلې ميرمنې ساتلې.

داسې عادت، رواج او دود شوی وُ چې د يو انسان د مرګ سره به بې شماره مال، دولت، څاروی، کشتۍ، او بې شماره انسانان يو ځای قبر ته ننباسل کيدل او بيا به په ټولو پسې په ژوندانه د لوی قبر خوله بنديدله، نو هغوی به په څه حالت کې د سا بنديدلو څخه مړه کيدل، د فرعونيانو ځينې مړي اوس هم په لندن او نورو موزيمونو کې ساتل شويدي.

د فرعونيانو دوره چې ختمه شوه، د هغوی څخه وروسته چې څومره حکومتونه راغلل او راځي هغوی ټولو د فرعونيانو هديرې او قبرونه ولټول او دا لټون لاهم روان دی چې په ځينې سيمو کې دا کار ناشونی بريښيده او بريښي.

مصر پخپل تاريخ کې ډېر پادشاهان ليدلي دي، هر يو قبر لټولي چې څه پلاس ورغلي هغه يې لوټ کړي. تر ټولو زياته برخه انګريزانو ته پلاس ورغله ځکه چې هلته د هغوی خپل حکومت او نظام وه. نوی وسايلو پدې کار کې د انګريزانو هم سره ډېره مرسته وکړه، اوس هم ويل کيږي چې د مصر خاوره د فرعونيانو د خزانو څخه ډکه ده، که د مصر تاريخ ته په غور سره وکتل شي نو هلته داسې خطرناکي پيښې شوي چې د انسان غوني پرې زيږيږي.

د صليبيانوڅه کسان پخپل پروګرام د فرعونيانو قبرونو ته ورسيدل، هغې ته ننوتل خو بيا معلومه نشوه چې کوم لوری ته غيب شول. کوم چې ژوندي راووتل، هغوی د نورو خلکو لپاره د عبرت درس وګرځيده. نن هم د ځينو خلکو سره دا عقيده ده چې فرعونيان خدايان ندي خو د هغوی سره د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


مړګ څخه وروسته هم داسې څواک شته چې څوک هلته ورننژدې شي نو سخته سزا ورکوي، پدې څکه خلک عقیده ساتي چې هر پادشاه د فرعونیانو د خزانې هیله او قصد کړي او هغې ته يې لاس اچولی د هغه پادشاهۍ او حکومت ختم شوی څیني خلک بیا دا د فرعونیانو سپره توب او نحوست ګڼي .

د سلطان صلاح الدین ایوبي څخه مخکې صلیبیانو ته څرګنده وه چې مصر د فرعوني خزانو خاوره او مرکز دی، په همدې خاطر هغوی د مصر په خاوره خپل حکومت جوړول غوښتل، کله چې هغوی پدې پوه شول چې سلطان صلاح الدین ایوبي ته ماتې ورکول آسان کار ندی نو دا پریکړه يې وکړه چې پخپله د مصریانو پلاس دا خزانې راوباسي او بیا هغه د مسلمانانو په خلاف پکار واچوي. هغوی ته دا معلومات شوی و چې د مصر د حکومت په پخوانیو کاغذونو او پاڼو کې داسې نقشې او اسناد شته چې په هغو کې د فرعوني خزانې معلومات او ځایونه په ګوته شویدي هغه کاغذونو او اسنادو ته ځان رسول څه اسانه کار نه ؤ، صلیبیانو تکړه او هوښیار جاسوسان مصر ته استولي وه چې هغوی د کاغذونو ځایونه په ګوته کړي، او بیا د هغې د تښتولو پلان جوړ کړي .

هغه وخت چې سلطان صلاح الدین ایوبي د شوبک او کرک په جګړو کې بوخت ؤ نو د صلیبیانو د جاسوسي اداري مشر هرمن پدې بریالي شو چې د قاهرې يو چارواکی احمر درویش خپل ملګری او پلوی وګرځوي.

احمر درویش سوډاني وه او د هغه په خلاف هیڅ ډول شک او شکایت نه ؤ چې هغه غدار یا خائن دی، سلطان صلاح الدین ایوبي په هغه باور او اعتماد لرلو، هغه د سلطان صلاح الدین ایوبي سره په بې شمیره جګړو کې برخه اخیستې او نوم يې پیدا کړی ؤ.

وروسته څرګنده شوه چې دا د يوې صلیبي نجلۍ میریا ایستینا کمال وه چې هغه د احمر درویش په دماغو کې د سوډان د خاورې محبت، د سلطان صلاح الدین ایوبي مخالفت او د مصر سوډان په پوله د يو ازاد حکومت

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


نیشه پیدا کړه، هغه پخپله مسلمان ؤ خو صلیبیانو د هغه په دماغ کې دا خبره اچولې وه چې هغه لومړی سوډاني او بیا مسلمان دی. هغه وخت چې نورالدین زنګي د کرک کلا نیولې وه، احمر درویش د صلیبي جاسوسانو سره ځو ځلې لیده کاته کړي وه، هغه په دومره پټه توګه لیده کاته کول چې هیچاته هم څرګنده نه وه چې هغه ګوندي د دښمن سره اړیکې لري. هغه په دفترونو کې دومره اثر پیدا کړ چې پخوانی اسنادو او کاغذونو ته ورسیده، هغه چې کوم کاغذونه راپټ کړل په هغې کې څو کرښې او لیکې موجودې وې، هغه نقشې یوازې کاغذونه نه بلکې د کاغذ او ټوکر څخه جوړه شوې وې په هغې کې کرښې، لیکنې او څه یاداشتونه وه چې لوستل یې شوني نه وه، هغه کاغذونه او اسناد بل چاته ښودل کیدل هم نه ځکه چې د رسوا کیدو امکان یې زیات وه. څه وخت وروسته د هغې لیکنو څخه مطلب واخیستل شو او دا څرګنده شوه چې د قاهرې څخه لرې یوه غرنۍ سیمه ده چې هلته ځناور هم نه ځي‌خو په هغه ځای کې د کوم فرعون قبر شته دی.

دا هم څرګندنه وه چې دا لیکنه سمه او صحیح ده او که هسې کرښې ښکل شویدي. پدې کاغذونو کې څه تصویرونه هم ښکل شوي وه چې د هغو څخه ټوله کیسه څرګندیدله.

احمر د خپل قسمت ازمیلو نیت او قصد کړی ؤ، د دې فرعون نوم دویم ریمینس وه، صلیبیانو د دې هدیرې د کیندلو لپاره څو تکړه او هوښیار جاسوسان قاهرې ته استولي وه، د دې ګروپ مشر ایټالوي مارکوني ؤ چې په ګرځندوی کې یې پوره تجربه لرله، احمر درویش دې جاسوسانو ته داسې ځیرې جوړې کړې وې چې هیچا هم نه پیژندل، دوه کسان یې پخپل کور کې نوکران کړي وه، د دې په بدله کې دا پریکړه شوې وه چې د خزانې څخه چې څه پلاس راځي هغه به د احمر درویش په کور کې زیرمه کیږي. هغه به د سلطان صلاح الدین ایوبي په خلاف استعمالیږي، فدایانو ته به ښه پریمانه مال ورکول کیږي کله چي سلطان صلاح الدین ایوبي ووژل شي او مصر ونیول شي نو هغه به یو ازاد حکومت جوړ شي، چې څه برخه به د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


مصر او څه برخه به د سوډان وي، که پدې وخت کې سلطان صلاح الدين ايوبي په صليبيانو بريد وکړي نو بايد احمر درويش خپل اړوند پوځ د سلطان صلاح الدين ايوبي په خلاف استعمال کړي .

د احمر درويش دماغ د دومره لويې خزانې په حرص کې راګير شوی ؤ، هغه مارکونې د خپلو دوه جاسوس نوکرانو سره د خزانې په لټون پسې د غرونو سيمې ته واستول. د جاسوس پوسيله يې هرمن ته هم خبر استولی وه چې کار پيل شويدی .

هرمن د صليبيانو په کانفرانس کې چاروا کو ته ويلي وه که دا خزانه راپيدا شوه نو هغه مال او دولت به د مسلمانانو په خلاف پکار اچول کيږي چې پدې باندې به د مصريانو ريښې د مصريانو پوسيله وچې شي .

د ۱۱۷۴ ميلادي کال آخري درې مياشتې وې، د قاهرې څخه اتلس ميله لرې يو ځای درې اوښان ولاړ وه چې په هر يو باندې يو يو سړی سپور ؤ، د هغوی څيرې او مخونه پټ وه، يو سپور د خپلې چپنې څخه تاو شوی کاغذ راوويستلو، هغه يې خلاص کړ او بيا يې خپلو ملګرو ته وويل: ځای همدا دی! د هغه په اشاره ټول روان شول، دوه غونډۍ د ديوالونو په شان يو بل ته مخامخ ولاړې وې چې د دواړو تر منځ د يو اوښ تيريدو لاره وه، درې واړه يو پر بل پسې هغې تنګۍ ته ننوتل، د غونډيو شکل او صورت داسې ؤ لکه چې خونې او ودانۍ خو چتونه يې نه وي، د شګو پدې لوی سمندر کې د غرونو دا لړۍ درې څلور کيلو متره پراخه پرته وه، د دې څخه د باندې غونډۍ او کمرونه وه، د هغوی تر شا د سختې خاورې غونډۍ او بيا وروسته د ماتو ګوډو ديوالونو په شان غونډۍ وې چې په هغې کې ځينې ډيرې ډبلې او ځينې ګردې د ستنو پشان تر زر فټو پورې پورته ختلې وې .

د لمر پريوتو څخه وروسته چې ماښام لا نه ؤ تياره شوی، دا سيمه لکه د پيريانو او جنياتو په شان ښکاريده، دې سيمې ته هيچا د ننوتو کوښښ نه ؤ کړی، چا به د څه لپاره هلته زړه کولو ځکه چې هلته تللو ته هيڅ اړتيا نه وه، د دښتې او بيابانونو مسافرو ته يوازې اوبه پکاريدې، دا لوړ او وچ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرونه چې له لرې څخه په ورځ کې د اور د لمبو پشان بریښېدل د اوبو ذ یو څاڅکي شک هم پکې نه لیدل کیده، دا ځای د هیڅ لاري په سر نه ؤ پروت، د ډېر لرې څخه خلکو ته ځرګندیده، خلکو د دې ځای په هکله ډارونکې کیسې اوریدلې، یوه کیسه پکې دا وه چې دا د شیطانانو او بدو روحونږ ځای دی، کله چې الله جل جلاله شیطان د آسمان څخه راوشړلو نو په همدې ځای کې راښکته شو، څرنګه چې پوځی یې اهمیت هم یې نه درلوده نو ځکه پوځیان هم هلته نه ورتلل، پدې سیمه کې پرته د شګو، ډبرو او صحرای ځناورو څخه بل څه نه وه ؟

ښایي په تاریخ کې تر ټولو لومړنی انسانان همدا دري کسان وي چې دې سیمې ته له بهر څخه راغلي وه. هغوی همدې ځای ته راتلل ځکه چې د دې سیمې نقشه د هغوی سره وه، یوازې یوی کربښې شک پیدا کولو چې هلته یوه ویاله ښکل شوې وه حال دا چې هلته د ویالې هیڅ اثر هم نه ؤ، هلته د ویالي پر ځای یوه ژوره کنده وه چې د هغې پلن والي لس دولس ګزه وه، د هغه ځای شګو داسې ښودله چې هلته په پخوا وختونو کې اوبه وې ، دا ژوره کنده همداسې د نیل دریاب ته رسیدلې وه، اوښ سپرو ته ډاډ ورکړل شو چې د نقشې سره سم زمونږ مقصدی ځای همدا دی .

پدې سپرو کې یو مارکونی ایتالوی نژاد او دوه نور د هغه ملګری وه چې دري واړه صلیبیان وه، هغوی دري واړه د سلطان صلاح الدین ایوبی یو قوماندان احمر درویش د دویم ریمینس د هدیرې راسپړلو لپاره استولی وه، د نقشې سره سم هغوی سم او صحیح ځای ته راغلي وه، اوس خبره دا وه چې هغوی باید د غرونو د لړې منځ ته ننوځی چې اصلي ځای همدا دی او که غلط شوی.

مارکونی خپلو ملګرو ته وویل چې فرعون پداسې ځای کې ځانته هیڅکله هم هدیره نه جوړوي، ځکه چې دا ځای خو تیار جهنم دی، احمر او هرمن مونږ هسې په یو امتحان او ازمیښت کې اچولي یو، دوه نور کسان چې مارکونی یې خپل قوماندان بللو هغه ته هیڅ ونه ویل، ځکه چې هغوی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


د حکم تابع وه، مارکوني ډېر تکړه صلیبي وه، د همت بایللو سړی نه و، همداسې مخ په وړاندې روان و. هغوی چې څومره تلل په هماغه اندازه د ډبرو او کمرونو شکل بدلیدلو، هغه کمرونه، ډبرې او غونډۍ رنګارنګ وی ، ځینې سرې، ځینې بادامي او ځینې خړې وې - هلته د تختو څخه جوړ شوی غونډۍ هم وې او نیغ ولاړې هم، ځینې مایلې وې چې شګې ورڅخه لاندې راتوی شوې معلومیدې .

چې کله هغوی ښه وړاندې ولاړل نو لاره بنده شوه، مارکوني ښې لورې ته وکتل نو یوه غونډۍ په منځ کې داسې بیله شوې وه لکه زلزله چې دیوال سره جلا کړي، هغه د درز او بېل شوې ځای څخه وکتل. یوه کوڅه وه چې تر لرې ځای پورې تللې وه، د دې درز څخه د اوښ تیرول ګران وه، مارکوني پخپل اوښ سپور پدې کوڅه کې ورننوت خو دواړه پښې یې د دیوالونو سره لګیدلې، هغه دواړه پښې راټولې کړې او د اوښ په شا کیناستلو، شاتني دواړو سپرو هم همداسې وکړل، د اوښانو بدنونه د دیوالونو سره لګیدل نو خاورې به راتویدې، غونډۍ په دوه برخو ویشل شوې وه او مخ پورته ولاړه وه، او ډېر لرې د دواړو غونډیو څوکې سره نښتې او یو ځای شوې وې. پدې برخه کې تیاره وه خو مخکې روښنایي ښکاریده چې د دې څخه دا هیله پیدا کیده چې کوڅه هلته ختمیدونکې ښکاري او بیا به پراخه میدان وي .

کوڅې اوس د تونل شکل غوره کړی و چې د اوښانو د پښو اواز یو ډول ویرونکې انګازه خپروله، مارکوني همداسې مخ په وړاندې روان و، هلته یوازې همدا یوه لاره وه ځکه نو د لارې د غلطیدو امکان کم و، د روښنایي نښه لږ لږ زیاتیده او پراخیده چې کوڅه مخ په ختمیدو وه. کله چې هغوی د کوڅې اخري سر او خولې ته ورسیدل نو اوښ سره د سپرو نشو تیریدای، درې واړه سپاره د اوښانو غاړو ته رامخکې او راښکته شول ځکه چې د اړخونو څخه نشول ښکته کیدای، اوښان په ډېره سختۍ سره راوویستل شول، کله چې وړاندې ولاړل نو د یوې کلا پشان لوړ لوړ دیوالونه یې ولیدل دا کلا طبعي وه، غونډۍ تر درې څلور سوه ګزه پورې مایلې وې او بیا

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسې نیغې پورته تللي وي. ځینې لوړې او ځینې د هغې څخه ښکته وې، داسې معلومیده چې دا ځای د هر لوري څخه بند دی، هغوی یوې او بلې خواته وګرځیدل آخر یې داسې یوه لاره پیدا کړه چې پیاده پرې تللی شول.

مارکوني او ښاغلي هلته چو کړل او خپله روان شول، غونډۍ راتاو شوې وه، پښې کلکې لګول پکار وه ځکه چې هلته شګې او خاورې وې او د ښویدو امکان یې لاره، هلته لاره نه وه بلکې د تللو لپاره ځای وه، د ځمکې او غونډیو څخه داسې معلومیده چې دلته د پیړیو پیړیو څخه څوک ندي تیر شوي. هغوی چې کله وړاندې ولاړل نو غونډۍ ښکته تللې وه او لاندې لوري ته یې بله غونډۍ وه، هغوی خپل قدمونه کلک کلک کیښودل، خو چپ لوري ته ځمکه وار په وار ژوره کیده. دا یوه ډېره ژوره کنده وه، د هغه ځای څخه د ښویدو نتیجه مرګ ؤ، د لارې په خوا کې لوړ غر ؤ چې دوی ورسره په خوا کې روان وه.

دې خطرناک ګړنګ ته چې را ورسیدل نو د مارکوني څخه یې یو ملګري وپوښتل: ایا پدې باور لرې چې د فرعون جنازه او مړی به لدې لارو څخه تیر شوی وي؟

مارکوني وویل: احمر درویش همدا لاره راښودلې وه! څومره چې زه په نقشه پوه شوی یم خو د تیریدو لاره همدا ده، د فرعون تابوت خامخا له بلې لارې څخه تللې دی نو هغه لاره باید مونږ پیدا کړو، هغه به پټه لاره وي چې سیلیو، ګرد او دوړو به اوس بنده کړې وي، که هغه لاره پیدا شوه نو مونږ فرعوني هدیرې ته رسیدلای شو.

د مارکوني یو ملګري وویل :که ژوندي پاتې شو نو!

مارکوني وویل: زه پدې هکله تاسې ته ډاډ نشم درکولایی! دومره درته ویلی شم که خزانه پیدا شوه نو تاسې دواړه به ښه مالا مال کړم.

وروسته لاره پراخه او ژوره کنده ختمه شوه ، اوس هغوی د داسې غونډیو په منځ کې تلل چې لمنې یې سره نښتې وې خو لږ وړاندې دواړه سره بالکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو شوی وه، کله چې هلته ورسیدل نو مخ پورته روان شول چې سل گزه وړاندي ولاړل نو یوه کوڅه ورته راغله چې مخ ښکته تللې وه .

هغوی چې ولیدل نو د غرونو څوکې نیغې نیغې پورته تللې وې، ډېر ویرونکي ښکاریدل، هغوی ښکته روان شول، هغوی پدې کوڅه کې څو ځلې تاو راتاو شول او بیا یو پراخه گرد میدان ته ورسیدل، د دې ځای هوا د زغملو نه وه، په غرونو کې یو ډول ځلا معلومیده ځکه چې هلته په خاوره کې کوم فلز گډ شوی وه په همدې خاطر گرمي زیاته وه، هر لوري ته غونډۍ او غرونه وه یوازې څو گزه ځای هوار معلومیده. هغوی چې څو گزه مخکې ولاړل نو بیرته له ویرې پشا راغلل، هلته یوه لویه پراخه کنده وه چې شگې پکې ځلیدې. شگه دومره گرمه وه چې دود ورڅخه پورته کیده او لړزیدلو چې د هغې څخه د کندې ژوروالی نه معلوميدل، د دې طبعي ژورې کندې دواړو خواؤ ته طبعي دیوالونه معلومیده چې نیغ ولاړ وه، دا د شگو او خاورو غونډۍ چې نیغه ولاړه وه، د هغې پلن والی د یو گز څخه کم وؤ.

ځینې برخې ډېرې نرۍ وې چې تیریدل ورباندې گران وه، که مارکوني بلې غاړې ته تیریدل غوښتل نو همدا یواځنی لاره وه چې د پل صراط پشان وه. د هغې اوږدوالی تر پنځوس گزو پورې او پلن والی یې تر یو گز کم وه او لاندې ورڅخه ډېره ژوره گړنگ وه .

د مارکوني یو ملگري وویل: د دې دیوال په سر د تیریدلو څخه برسیره د ځان وژنې نورې آسانه لارې هم شته !

مارکوني وویل: خزانې په لارو کې پرتې نه وې! مونږ به د همدې لارې څخه بلې غاړې ته ځان رسوؤ.

د مارکوني دویم ملگري وویل:که وښویدو نو جهنم ته به ورسیږو!

مارکوني وویل: ایا مونږ او تاسې په صلیب باندې قسم نه وؤ خوړلی چې د صلیب د عزت ساتلو او د اسلام د بیخ ویستلو لپاره به هر ډول قرباني او سربښندنې ته چمتو کیږو ! ایا د جگړې په میدان کې زمونږ ملگري خپل ځانونه نه قربانوي؟ زه د بې زړه خلکو په خیر احمر درویش ته بیرته ورتللی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


او هغه ته ويلی شم چې، د خو پيړيو په تيريدو سره اوس تولی لاري گودري بندي شوي، کوم ځای چې وياله وه اوس هغه کمرونه او ډبری دي، نقشه چې کوم ځای کې کمرونه او ډبری ښکاره کوی هلته اوس هيڅ هم نشته خو زه هم ويريږم ، زه بی زړه توب نبايم ، زه درواغ نه وايم!

زه د خپل زړه په مقابل کې جگړه کوم. زما ويره زياته نکړی ملگرو! که تاسې زما سره ملگرتيا نکوی نو تاسې د صليب سره خيانت کوی ، چې د دی سزا به ډيره خطرناکه وي، زه اوس ستاسې څخه مخکې مخکې روان يم، په کوم ځای کې چې د ښويدلو خطر وی هلته لکه د آس په شا چې کينی همداسی کينی او مخ په وړاندی حرکت کوی .

***

هلته پلن والی دومره کم ؤ چې تلل وربانـدی شـونی نـه وه، مـارکونی کيناسته لکه د آس په شا چې ناست وی، بيا هغه لږ لږ مخ پـه وړانـدی ځان ښويولو، د ديوال پلن والی کم او گريدلو، مارکونی لانـدی وښويـده، د هغه پسـی يې دويـم ملگـری هـم لانـدی راښکتـه شـو، ناځـاپی د دريـم ملگـری خطرناک او ډارونکی اواز راغی، مارکونی ما ونيسه! خـو هغـه تـه هيڅـوک ونه رسيدل، هغه يـو لـوری تـه ځوړنـد شـوی ؤ، د تکيـا د نشـتوالی پـه سبب هغه لاندی پريوت، د هغه چيغی اوريدل کيدی چې وار پـه وار لـری کيـدی، بيا يو ډب غونډی واوريدل شو او چيغی بندی شوی .

نتيجه ځرگنده وه، مارکونی لاندی وکتل خو هيڅ ورته نه ښکاريدل، د مړ کيدونکی صليبی اوازونه اوس هم په هغه کمرونو کې انگازه کيدل.

دويم ملگری يې وويل : زه پداسې مرگ ځان وژل نه غواړم .

مارکونی هغه ډاډه کړ او مخ په وړاندی ولاړل، ديوال مخ پورته جگيده، مارکونی په ناسته ناسته ښويده، د ژړا اوازونه هلته اوريدل کيدل، د لويدلی او مړه شوی ملگری چيغی هم د کمرونو او غرونو په منځ کې داسې زمزمه کيدی لکه چې د مرگ سوری په دوی هم راخپروی، لږ وروسته ديوال بيا پلن شو، مارکونی شاته د خپل ملگری لاس ونيوه ، د دی څخه مخکې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغوی نورداده تللی شول خو د هوا څپی دومره تیزی وی چې ځان کنټرولو یکی گران وه.

هغوی په قلاره قلاره روان وه تر دی چې دیوال ختم شو. مخکې ډبری او کمرونه سخت وه، د دوه کمرونو تر منځ تنګه لاره وه چې دواړه پکې ورننوتل، د مارکونی څخه خپل ملګری وپوښتل: جیفر بیا هیڅکله لیدلی نشو هغه به ضرور مړ شوی وی؟

مارکونی هغه ته وکتل، آفسوس یې وکړ او بیا یې سر وښورولو چې نه! د مارکونی په سترګو کې اوښکی ډنډ شوی، هغه د څه ویلو څخه پرته د خپل ملګری په اوږه لاس وټپولو او مخ په وړاندی روان شول، دا هم یوه کوڅه وه چې لږ لږ پراخیدله مارکونی خپل ملګری ته وویل: مونږ نیک مرغه یو، هر څیری چې ځو یوه لاره مخی ته راځی که ډیری لاری وایی نو بیا د غلطیدو امکان زیات وه، دا کوڅه هم ختمه شوه، مخکی ځای پراخیده او ډېر زیات پراخه شو، ځمکه نوره پورته ختلی وه، هوا تر اوسه پوری تیزه چلیده، مارکونی پدی نه پوهیده چې دوی دی خطرناکی سیمی ته څومره ننوتی دی، هغه دومره پوهیدلوچې د نوری دنیا سره د دې اړیکی شلیدلی دي، هغه د صلیب لپاره لیونی شوی وه، د فرعون د خزانی څخه د هغه یواځنی مقصد دا و چې پدی دولت باندی مسلمانان واخلی او اسلامی هیواد پری تباه او برباد کړي، په ټوله نړۍ باندی د صلیب حکومت او واکمنی راشی -

هغه د خپل ویریدلی ملګری سره مخ په وړاندی روان و، د هوا څپی له هماغه لوری څخه راتللی، د غرونو څوکی یو له بل څخه لری کیدی او اسمان ځرګندیده، هغوی همداسی پورته روان وه، هغه ودریده او بیا یې خپل ملګری ته وویل: په هوا کې چې کوم بوی دی هغه د دښتی او صحرا نه ښکاري!

ملګری یې مارکونی ته وویل: ستا دماغ خراب شویدی! په دښته کې چې د دښتی او صحرا بوی نه وی نو د څه وی ؟ ته ایتالوی یې شاید تا به د خپل کور بوی حس کړی وی ؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارکونی په بل فکر کې و، هغه هوا بوی کوله! هغه خپل ملګري ته وويل: ته رېښتيا وايي، شايد دښتې زما دماغ خراب کړی وي، دلته اوبه نشته، زه دلته د شين چمن، د خرما د ونو او اوبو بوی حس کوم، زه د داسې بوی سره بالکل بلد او اشنا يم! دا زما تجربه ده، داسې ښکاري چې ماته د خپلې شامي حس دوکه راکوي، دلته د اوبو يو څاڅکی هم پيدا کيدايي نشي.

ملګري يې لاس ونيوه او بيا يې ورته وويل: مارکوني! زه هم يو بوی حس کوم، د مرګ بوی، ماته مرګ نږدې کيدونکی ښکاري، راځه چې په کومه لاره راغلي يو په هماغه لاره بيرته ولاړ شو! که ته دا فکر کوې چې زه ډارن او ويريدونکی يم نو ما د جګړې ميدان ته وليږه، د سل مسلمانانو د وژلو څخه مخکې نه مړ کيږم.

مارکونی زياتې خبرې کوونکی سړی نه و، هغه د خپل ملګري په اوږه لاس کيښوده او ويې ويل: مونږ سل مسلمانان نه بلکې په زرګونو مسلمانان وژنو خو خپله به ژوندي پاتې و.

هغه خپل ملګري له ځان سره يو ځای کړ او بيا مخ پورته روان شول، څمکه په قلاره قلاره پورته کيدله، لمر سترګه وړاندې تللې وه، سوري اوږده شوي وه، هغوی ډېر زيات ستړي شوي وه، هغوی همداسې مخ په وړاندې تلل چې بلاخره لوړې څوکې ته ورسيدل، شکو د هغوی سترګې پټې کړې وې، مارکوني خپلې سترګې ومښلې او بيا يې وليدل، مخکې لاره ښکته شوې وه او کوچنۍ غونډيانې وې.

هغه خپل ملګري ته اواز وکړ او کيناسته، بيا يې وويل: که ته د شګلنې دښتې په اړه څه معلومات لرې نو تاته به څرګنده وي چې په دښته کې سراب معلوميږي، مخامخ وګوره چې دلته خو سراب نه ښکاري؟

د هغه ملګري وکتل، سترګې يې پټې کړې، بيا يې خلاصې کړې او په غورسره يې وکتل، ويې ويل: دا سراب نشي کيدايي! هغه رېښتيا هم سراب نه و، هغوی د څو خرماو سرونه او څوکې وليدې، پاڼې يې شنې وې.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


لمر سترګه د غرونو سرونه ته نژدې شوه، د مارکوني نفس وسوځیده، د هغه ملګرې خپلې پښې په ځان پسې راښکولې، مارکوني یو دم په شا را روان شو لکه یو ډارونکی شی یې چې لیدلی وي، ملګرې یې ورسره ونښتلو او په حیرانتیا سره یې ورته لیدل .

***

هغوی پخپلو سترګو باور نشو کولایې، هلته یې یو لوی او پراخه میدان ولیده چې یو میل یې پلن والی وُ، د هغې شا او خوا طبعي دیوالونه وه، دا میدان تک شین وه چې لوړ او ژور وُ، هلته د خرماوُ ډیرې ونې او اوبو ښه پریماني وی ، پدې جهنم کې دا شین ځای غولوونکی معلومیده.

د همدې برخې او سیمې بوی مارکوني حس کړی وُ، مارکوني ته د دې ځخه وړاندې داسې غونډۍ ځرګندیدې چې د ډبرینو تختو ځخه جوړې شوې وې چې تور رنګ یې درلوده، د لرې ځخه دا غرونه نه ښکاریدل او د شنې سیمې خو چا تصور هم نشو کولایې.

مارکوني سمدستي کیناسته او خپل ملګرې یې هم کینولو، هغه حیرانوونکې شیان ولیدل، دا دوه انسانان وه چې په لاندې میدان کې پدې لورې را روان وه، هغوی بالکل لوڅ او لغړه وه، د هغوی رنګونه بادامي وه، بل لورې نه یوه ښځه راپیدا شوه چې مخلف لور ته روانه وه، هغه هم لوڅه او لغړه ، د هغې ویښتان خپاره او تر ملا پورې رسیدل، د شکل او صورت ځخه دا انسانان وحشي او ځنګلې نه معلومیدل .

مارکوني خپل ملګرې ته وویل : دا بد روحونه دي! دا انسانان نشي کیدای !

ملګرې یې وویل :مارکوني! راځه چې د دې ځای ځخه وتښتو، دوی مونږ ژوندي نه پریږدي!

مارکوني سره لدې چې هغوی یې بد روحونه بلل خو بیا یې هم ویل چې کیدایې شي انسانان وي، هغه دا خبره باورې کوله چې ایا دا انسانان دي کنه؟

مارکوني درې ماشومان ترسترګوشول چې یو په بل پسې یې منډې وهلې نو د هغوی د حرکتونو ځخه داسې ځرګندیدله چې انسانان دي، نو خپل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګری ته یې وویل : دا انسانان دی څکه زمونږ په شان په ځمکه روان دی ، مارکونی څملاست او په سینه هغې لوری ته ورو ښویده، د هغه ملګری هم ورسره څملاسته، هغوی چې له کوم لوری کتل هغه دیوال عمودی نه بلکې مایل غوندی و، د مارکونی ملګری د مخکې کیدو کوښښ کاوه چې یو دم وښویده او ښکته ولویده، د هغه ځای څخه بیرته راپورته کیدل شونی نه وه، مارکونی شاته وښویده او د داسې غونډی شاته پټ شو چې لاندی یې ښه لیدلی شول .

صلیبی چې کوم ځای ته لویدلی وه هغه څه دیرش څلویښت ګزه لاندی وه چې مایل او خو هغه میلان وه کنده نه وه، مارکونی خپل ملګری لیدلو چې د راختلو کوښښ کوی خو مارکونی د هغه سره هیڅ ډول مرسته نشوه کولای .

هغه دوه لغړ انسانان چې دی لوری ته را روان وه اوس را په منډه شول، مارکونی هغوی دواړه په منډه باندی ولیدل، ملګری یې هغوی نه لیدل، مارکونی هغه ته اواز نشو کولایی څکه هغه نه غوښتل خپل ځان رسوا کړي. لغړو انسانانو د مارکونی ملګری د شا له لوری کلک ونیولو، د هغه سره توره او یو خنجر و خو د هغې د راویستلو وخت ورته پیدا نشو، هغوی راچپه کړ، هغه ښځه چې بل لوری ته تلله هغې هم رامنډه کړه، ماشومان هم را ورسیدل، هغوی پخپله ژبه چاته اوازونه وکړل، د نامعلوم ځای څخه لس دولس لغړ انسانان راپه منډه شول ، یو د مارکونی د ملګری څخه توره واخیستله او د هغه غاړه یې پری کړه، ټول لغړ انسانان په ګډا او نڅا شول، هغوی هم خندل او هم یې څه زمزمه کول، پدی وخت کې یو بوډا سړی راپیدا شو، د هغه سره د خپل قد په اندازه امساء وه، کله چې نورو هغه ولیده ټول یو نوری ته شول دا بوډا هم لغړ و، د هغه د امساء په څوکه باندی د دوه مارانو سرونه جوړ شوی وه، دا د فرعونیانو ځانګړی نښانی وه، بوډا د مارکونی د ملګری په بدن لاس کینښوده، هغه اوس نه رپیدلو، څکه مړ شوی و.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا خپل یو لاس په هوا کې پورته کړ او څه یې وویل، د دی سره ټول کسان چې هلته راټول شوی وه په سجده پریوتل، بوډا لا هماغسی څه ویل هغه بیا لاس پورته کړ نو ټول د سجدی څخه راپورته شول او ودریدل .

هغې خلکو بوډا ته اشاره وکړه چې دا د دی ځای څخه راښویدلی دی بیا یې مړی پورته کړ او ولاړل .

مارکونی پدی وپریده چې دا خلک پورته رانشی او زما د نیولو کوښښ ونکړی، بیا نو لمر سترګه پریوتله.

مارکونی مرګ ومنلو او دا پریکړه یې وکړه چې د دی خلکو راز معلوم کړی ، څو ساعته وروسته هغه په یو لاس کې توره او په بل لاس کې خنجر روان شو هغه همداسی په پورته او لوړه برخه په هغه لوری روان وه په کوم لوری یې چې د هغه د ملګری مړی وړلو، هلته پاس هیڅ خبره هم نه وه، هر لوری ته ویرونکی چوپتیا وه، هغه ښی، چپ او شاته کتل او مخ په وړاندی روان ؤ، هغه خپ خپ اوازونه واوریدل، چې کله هغه اوازونه پورته شول نو ترانی او نغمی زمزمه کیدی.

مارکونی د اوازونو په لوری ورغی نو هلته یې بل شان حالت ولیده .

هلته یو لوی شین چمن وه چې مشعلونه او رڼاګانی بلی وی، په هغې کې نژدی شل، پنځه ویشت نارینه، ښځی او ماشومان په قلاره قلاره نڅیدل او نغمی یې ویلی، د شغوی په منځ کې ډیر زیات اور لمبی وهلی. د دی اور په خوا کې د یو انسان مړی د ځمکی سره موازی ځوړند شوی ؤ چې هغه یې اور ته د کباب کولو لپاره تاؤولو. دا مړی د مارکونی ملګری ؤ چې هغوانسانانو کبابولو، مارکونی دی زړه بوګنوونکی حالت ته همداسی حیران حیران کتل، بیا هغه ولیدل چې بوډا سړی د کباب شوی مړی څخه غوښه راپری کړه او په نورو خلکو یې وویشله .

د دی بوګنوونکی حالت تر لیدلو وروسته د مارکونی زړه مات شو او بیرته هغه لوري ته وګرځیده د کوم لوری چې راغلی ؤ. هغه ته اوس لاره معلومه وه خو په احتیاط سره روان ؤ، هغه بیا هماغه دیوال ته ورسیده چې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تصور څخه د زیات کندي په غاړه ولاړ و، په کوم کې چې د هغه یو ملګري مخکې لویدلی و، کله چې هغه د خپل ملګري د لویدلو ځای ته راورسید نو لاندې یې د غوریدلو اواز واوریده. هغه پدې پوه شو چې لیوان او ځناور د هغه د ملګري مړي خوري، د هغه بل ملګري انسانانو وخوړ، اوس هوا تیزه نه وه، هغه په ښویدو، ښویدو مخکې ولاړ او له دیوال څخه تیر شو، د شپې په اخري برخه کې هغه ځای ته ورسیده چیرې چې د هغوی دري واړه اوښان ولاړ وه، هغه دومره هم ونکړل چې اوبه یې څښلي وایي، سمدستي په یو اوښ سپور شو او دوه نور اوښان یې د ځان سره روان کړل .

***

سبا ماښام مارکوني د یو لوی سوداګر په شکل په قاهره کې د احمر درویش کورته ننوت، احمر چې کله هغه ولیده نو پوښتنه یې ځیني وکړه؟ ته یوازې راغلی دوه نور ملګري دې څه شول؟

مارکوني د څواب پر ځای په قلاره کیناسته، د هغه حواس پر ځای نه وه، هغه احمر درویش په خپل وړاندې کینولو، بیا یې ورته تړوله کیسه ټکی په ټکي وکړه، احمر د مارکوني په دوه ملګرو هیڅ افسوس او غم ونکړ، کله چې هغه دا واوریدل چې یو ملګري سړي خورو وخوړلو نو هغه د خوشحالي څخه په ګډا شواو وی پوښتل: ایا تا پخپله ولیدل چې د هغوی په بدن جامې نه وی اود بوډا په امساء باندې د دوه مارانو سرونه جوړ شوی وه؟

ایا تا ښه په غور سره وکتل چې هغوی زمونږ د یو کس غوښه وخوړله؟

مارکوني وویل: زه د خوب خبري نه درته کوم! په ما چې څه تیر شوی هغه درته بیانوم او ته راته خاندی!

احمر درویش راپورته شو او د ډېري خوشحالۍ څخه یې د مارکوني په اوږه لاس کیښوده، هغه یې وښوراوه او بیا یې وویل: نقشي همدا بیانوی کوم چې ته بیانوی!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا راز پیدا کړي مارکوني! همدا خلک دي چې زه ورپسې لوغړن وم، دا قوم او اولس له پیړیو څخه همدلته پراته دي، د هغوی په خیال کې به هم دا نه ګرځېدل چې دوی به یو وخت د انسان غوښې خوړلو ته هم اړ شي .

ته دا لیکنې نشې لوستلی، ما لوستې دي ، وایي چې د خزانو ساتنه ماران کوي، خو زما د هدیرې ساتنه به انسانان کوي چې د پیړیو څخه وروسته به ځناور او ځیرونکي وګرځي .

زما د هدیرې سیمې ته چې هر څوک ننوځي هغه به د همدې ساتوونکو انسانانو لخوا څخه خوړل کیږي، د وخت په تیرېدو به هغوی لوڅ او لغړ شي، خو کوم ځای چې ما خوښکړی هغه به یې سترونه پټوي- د باندې انسانان به د هغوی ښځې نشي لیدلایي، څوک چې ورته وګوري هغه به ژوندي نه خلاصیږي .

مارکوني وویل : زه خو ژوندي راغلی یم!

احمر درویش وویل: ددې په خاطر چې ته لاندې نه وی تللی! تا چې هلته د تورو تختو غرونه لیدلی په همدې ځای کې د فرعون مړي او خزانه ځای پر ځای شویده، او دا لغړ انسانان د فرعون له وخت څخه د دې ځای پیره او ساتنه کوي! هغوی پیدا کیږي او مړه کیږي، د اولس پیړیو څخه دوی همدلته اوسیږي، زه پدې نه پوهیږم چې دوی څه ډول ژوندي پاتې کیږي، شاید هغوی به د دښتې او ځیرونکو ځناورو په شان د انسانانو ښکار کوي او بیا به یې خوري؟ هلته اوبه زیاتې دي ، خرماګانې ښې پریمانه شته، د هغوی ژوندي پاتې کیدل حیرانوونکي ندي! هغوی اوس هم فرعونیان خپل خدایان ګڼي، که د هغوی عقیده بدله شوی وای نو هلته بیا نه پاتې کیدل ... ایا تا د هغوی سره کومه وسله ولیدله؟

مارکوني وویل : ما هیڅ ورسره ونه لیدل! د شپې چې کله هغوی سره یو ځای شول نو پنځه ویشت کسان برابریدل .

احمر درویش وویل :د دې څخه هغوی زیات نشي کیدایي!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارکونی وویل: هوا ما د هغوی سره دوه اونبان هم ولیدل، کیدای شي چې ډېر به وي خو ما ورسره یوازې دوه ولیدل.

احمر درویش وویل: نو بیا هغوی حتمًا د باندي هم راوځي! هغوی خامخا د باندي راوځي، هغوی به د مسافرانو د نیولو او ښکار کولو لپاره راوځي!

مارکونی! هلته کومه نیغه او هواره لاره شته چې هغوی پرې راوځي او واوره بیا بیرته ځي، دا به د غرونو پټه لاره وي، ما چې تاته کومه لاره وښودله، هغه د تللو راتللو لاره نده، هلته کومه روغه او آسانه لاره شته چې د دې سړي خورو څخه معلومیدای شي - ما د دې لپاره لاره او چل برابر کړیدی، لاره دا ده چې هلته برید او حمله وشي، د هغه کمر څخه باید څو کسان ښکته واچوو او قرباني ورکړو! ایا د دې کسانو د وژلو او ژوندي نیولو لپاره ستا څومره کسان پکاریږي؟ تر ټولو لږ کسان ووایه! ته به د هغوی لارښود وی!

مارکونی وویل: زه په پلان باندي پوه شوم! یو پلان زما په ذهن کې هم شته! مونږ هغوی وژلي شو، دوه، درې یکې ژوندي نیولي هم شو، خو زه تاته دا نشم ویلی چې مونږ ته به هغوی هر ډول راز ووایي، هغوی چې د خپلې قبیلې مړي وګوري نو مرګ ته به تیار شي او راز به ونه وایي، زه داسې چل جوړوم چې د هغوی دوه درې کسان وتښتي او مونږ د هغوی پسې شو، پدې توګه به لاره معلومه کړو.

احمر درویش وویل: ته ډېر هوښیار یې مارکوني! ووایه څومره کسان درکړم!

مارکونی وویل: پنځوس! خو زیات کسان به زه پخپله خوښوم، زه به هغوی لټوم، خو د کار پیل کولو څخه مخکې زه خپل شرایط درته وړاندې کوم!

احمر درویش وویل: تاته به د خپلې خوښې سره سم بدله او انعام درکول کیږي!

مارکونی وویل: دومره خطرناک کار زما په مسئولیت او وظیفه کې داخل ندی، زه جاسوس او ورانکاری یم، زه یې د خزانې د لټون لپاره نه یم را استولی، دا ستا شخصي کار دی، زه بدل او انعام نه غواړم، زه برخه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



حصه غوارم، که دا پلان کامیاب شي نو ته به د یو ازاد حکومت مشر او واکمن شي او زه به همداسې جاسوس پاتې وم .

احمر درویش وویل: دا پلان او دا کار شخصي ندی مارکوني! دا د مصر، صلیب او سوډان د واکمنۍ پلان دی .

مارکوني پخپله خبره کلک ولاړ و، احمر درویش اړ شو خکه چې هغه پدې پوهیده چې پرته له مارکوني څخه بل څوک د فرعون خزانې ته نشي رسیدایی، د هغه د غوښتنې د پوره کیدو څخه پرته بله چاره نه وه،

مارکوني بیا وویل: زه پدې نه پوهیږم چې په دښته او بیابان کې به څومره ورځې پاتې کیږم نو زه خراب خوراک څښاک نشم کولی، ماته دوه درې اوښان زیات راکړې چې هلته یې کباب کوؤ او خورو یې او هم به قدومي نڅا کوونکې زموږ سره ملګرتیا کوي .

احمر درویش په حیرانتیا سره وویل: قدومي! دومره نازکه او نازولې نڅا کوونکې پداسې خطرناک کار کې ستا سره ولیږم؟ هغه به داسې ځای ته د تللو لپاره د لاسه او راضي نشي؟

مارکوني وویل : هغې ته زیات شي ومنې حتمًا را سره ځي زه به د هغې لپاره داسې شرایط برابر کړم چې هیڅ فکر ونکړي چې موږ په دښته او خطرناک کار کې بوخت یو، زه د هغې د قدر او قیمت څخه خبر یم .

موږ د هغه وخت حالات بیانوؤ چې کله به پوځي مشرانو ، شتمنو او مالدارو خلکو له ځان سره ښکلې محبوبې او ګرانې میرمنې په سفر کې ملګرې کولې او که میرمن به یې خوښه نه وه نو یوه نڅا کوونکې به یې له ځان سره ملګرې کوله .

په هغه وخت کې حسینو او ښایسته ښځو د سرو زرو څخه هم زیات قیمت او ارزښت لرلو- په همدې خاطر یهودیانو او صلیبیانو د اسلامي امت د ختمولو لپاره د ښځو او شرابو څخه کار اخیستلو.

د مارکوني دا غوښتنه چې هغه به له ځان سره یوه سندر غاړې او نڅا کوونکې ملګرې کوي څه حیرانوونکې غوښتنه نه وه خو دا چې قدومي به د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نخا کوونکي خان سره کوي حيرانوونکي بريښيده، ځکه قدومي يوه ځوانه نخا کوونکي وه چې يوازې شتمنو او مالدارو خلکو ته ورتلله، هغه د سوډان اوسيدونکي او د مسلماني کورني ښځه وه، هغه ښايسته او ښکلې وه خو د هغې ناز، نخرې او اداګانې داسې وې چې غټ غټ خلک به يې د خپل تاثير لاندې راوستل.

دا په تصور کې هم نه راتلله چې د قدومي غوندې نازکه نخاکوونکې به د مارکوني سره پدې مرګوني او خطرناک صحرايي سفر کې ملګرتيا وکړي، مارکوني د قدومي ښځه پرته تللو ته نه چمتو کيدو، احمر درويش بلاخره اړ شو او ژمنه يې وکړه چې قدومي به ورسره ملګرې کوي.

په هماغه ورځ د پنځوسو کسانو لټول پيل شو، په قاهره کې د صليبي جاسوسانو او ورانکارو کمی نه ؤ، مارکوني همدا ورانکاري صليبيان له ځان سره ملګرې کول، ځکه چې هغه يې باوري ملګري وه احمر درويش هم غوښتل چې همدا کسان له ځان سره بوځي که څه هغه هم يوه ورانکاري ډله جوړه کړې وه.

احمر درويش خپل ايمان پلورلی ؤ او هغه کسان يې هم ايمان پلورني ته برابر کړي وه، دوی ټول د صلاح الدين دښمنان ګرځيدلي او د حسن بن صباح د فدايانو سره يې ناسته پاسته وه.

مارکوني خپله د احمر درويش غوښتنه قدومي ته وړاندې کړه، هغه څه عادي سړی نه ؤ بلکې عسکري او پوځي چارواکی وه، قدومي د احمر درويش تر اثر لاندې وه، هغې زړه نازړه هو وکړه خو چې کله ورته مارکوني د خزانې خبرې وکړې نو هغه سمدستي تللو ته چمتو او تياره شوه.

مارکوني ډېر هوښيار، تجربه کاراو چالاک جاسوس او سيلاني ؤ، هغه د قدومي ښځه د مصر مشهوره پخواني ملکه قلوپطره جوړه کړه، هغې خپل څه احساس او جذبه نلرله، بلکې هغې د خپل ښايست، ځواني، نخا او سرو زرو سره مينه او محبت درلوده، قدومي د هغو ښځو له ډلې ښځه وه چې فکر يې کاوه ځواني او ښايست تل پاتې شي دي، مارکوني قدومي ته ونه ويل چې پدې خزانه به څه کيږي؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پنځوس کسانو لټون پیل شو چې پدې کار کې پنځلس شل ورځې تیرې شوې، پدې کسانو کې زیات صلیبي ورانکاري وه خو څو په کې ایمان پلوونکي مسلمانان هم وه. ټول په اوښانو سپاره شول خو یو ځای ونه وتل بلکې درې، درې، څلور، څلور ولاړل چې ټول د مسافرو او سوداګرو په شکل ښکاریدل.

قدومي د یوې پردې لرونکې میرمنې په توګه روانه شوه، مارکوني د هغې خاوند وګرځیده، د هغوی سره دوه نور کسان ملګري شول چې هغه د ساتونکو په حیث ورسره ملګري وه، پدې دوه کسانو کې یو صلیبي او بل مسلمان وه چې اسماعیل نومیده، اسماعیل د احمر درویش نژدې او باوري سړی وُ، هغه د خپل ځان په خاطر او د مال په خاطر هر ډول ګناه او جرم ته بډی راوهلې، هغه د کرایی قاتلانو له ډلې څخه وُ، په ټولنه کې د هغه هیڅ حیثیت او عزت نه وُ خو د عزت خلکو هغه ته سلامونه کول، مارکوني هم هغه ښه پیژندلو، په هغه یې پوره باور کاوه، دوی ټول د جلا جلا لارو څخه روان شوي وه، هغوی ته اتلس میله لرې هغه ځای په ګوته شوی وه چې هلته به ټول سره راټولیدل، د هغوی سره توري، لیندۍ او غشي هم وه، پړی او د کیندلو سامان هم ورسره وُ.

د ټولو څخه د مخه مارکوني، قدومي ، اسماعیل او د هغه صلیبي اندیوال خپل ټاکلي شوي ځای ته ورسیدل.

مارکوني هغوی د غرونو منځ ته بوتلل، لمر پریوتی وُ، هغوی سمدستي خیمې ولګولې، په همدې شپه د هغوی نور ملګري هم راورسیدل اسماعیل قدومي پیژندله خو قدومي هغه نه پیژندلو.

***

یو محاذ هغه وه چې په هغې کې سلطان نورالدین زنګي جنګیدلو، هغه د کرک کلا نیولې او شا خوا سیمې یې تر خپل واک او کنترول لاندې راوستې وې، هغه څو ګروپونه جوړ کړي وه چې لرې لرې یې ګزمې کولې تر څو صلیبیان ناڅاپي برید ونکړي، دې ګروپونو به د صلیبیانو سره جګړې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



واک کولی، نورالدین زنګي د کرک تر فتحې وروسته غوښتل چې د سیمې واک او اختیار د صلاح الدین ایوبي پوځ ته وسپاري، هغه په همدې هیله په کرک کې شپې ورځې تیرولې چې صلاح الدین ایوبي راشي او واک پلاس کې واخلي خو صلاح الدین ایوبي په بل محاذ کې جنګیده کوم چې صلیبي ورانکارو او غدارانو په مصر او قاهره کې خلاص کړي وو، دا محاذ او میدان ډېر خطرناک وو، صلاح الدین ایوبي پدې پټ میدان کې هم د جنګیدلو استعداد او اهلیت درلود، هغه پدې میدان کې ښه جنګیده او بریالی هم وو خو د نوی خلاص شوی محاذ څخه نه وو خبر کوم چې احمر درویش، قدومي او مارکوني جوړ کړي وو.

د ماښام خوراک او څښاک څخه وروسته سلطان صلاح الدین ایوبي هغه سالون ته ولاړ په کوم کې به چې هغه خپلو چارواکو ته لارښوونې کولې، هلته د پوځي سالارانو سره علي بن سفیان او غیاث بلبیس هم ناست وه، په همدې ورځ صلاح الدین ایوبي ته د سلطان نورالدین زنګي یو لوی او ستر لیکلی پیغام را رسیدلی وو، صلاح الدین ایوبي د پیغام ضروري برخې خپلو کسانو ته ولوستلې، هغه لیکلي وه:

ګرانه صلاح الدینه! الله تعالی دې ژوندی او روغ رامټ لره، مسلمانان تاته ډېره اړتیا لري، کرک او شا او خوا سیمې د دښمنانو څخه پاکې شویدې، زمونږ ګروپونه یوې او بلې خواته ګرځي او کله نا کله ورسره صلیبي ورانکاري جګړې هم کوي. صلیبیان مونږ ته دا څرګندوي چې مونږ دلته یو، ستا کماندوي ګروپونه د ستاینې وړ کار کوي، هغوی ډېر لږ لري ځي، په هغوی چې تا څومره کار کړی هغوی یې پوره پوره قدر اداء کوي. ستا څارونکي ډېر هوښیار، زړور او سربښندونکي کسان دي، زه د دښمن څخه دومره لرې هم د هغوی د حالاتو او د هغوی د هر حرکت څخه خبریږم.

نوې خبره دا ده چې صلیبیان ځوابي حمله او برید نکوي، هغوی مونږ راپاروي چې هلته ورشو او حمله پرې وکړو، ته پوهیږې چې د مسلمانانو لومړی قبله بیت المقدس څومره لرې پروت دی- زه پوهیږم چې ته د خطرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او لري والې څخه ویریدونکي انسان نه یې، لاري لري ندي خو خنډونه او ستونزې زیاتي دي .

تر بیت المقدس پوري ډیري کلاګانې باید مونږ فتح کړو تر څو بیت المقدس ته ورسیږو، پدې کلاګانو کې څو ډېرې قوي او کلکې دي، هغوی د لومړۍ قبلي د ساتلو لپاره هر لوري ته دفاعي ترتیبات نیولي دي، صلیبیان پدې کوښښ کې دي چې یونانیان، بازنطنیان او فرنګیان دي ته وهڅوي چې د اوبو او سمندر له لاري په مصر حمله وکړي او د مصر په شمال ختیځ برخه کې خپل پوځونه ځای پر ځای کړي، تاسې باید داسې حالاتو ته بالکل چمتو اوسی او د دی حملی د ناکامولو لپاره ترتیبات ونیسی ، تاسې سره باید لري ویشتونکي منجینقونه او آور غورځوونکي غونډاري زیات وي. زما مشوره دا ده که د مصر شمال ختیځ ځمکه او سیمه اجازه درکوي نو دښمن راخوشي کړه چې ساحل ته راشي، په لاره کې ورسره جګړه مه کوه، هغوی ته داسې څرګنده کړه چې مونږ په هیڅ هم خبر نه یو، کله چې پوځونه راښکته شي په کشتیو باندی آور واچوه، بیا پیاده پوځ داسې ځای ته بوځه چې ستا د خوښې وی .

زه ستا د ستونزو څخه ناخبره نه یم، ستاسې استازی ماته ټول حالات بیان کړل، د کعبې په رب مي دی قسم وي! که د صلیبیانو ټولي لښکری او پادشاهان راشي نو د اسلامي امت هیڅ هم نشي کولی، اسلامي امت وینه ورکول پیژني، دا د سرښندونکو امت دی خو ایمان پلورونکو زمونږ پښو ته ځنځیرونه اچولی دی .

ته په قاهره کې بندی یې او زه د دمشق څخه بلې خواته تللی نشم! ښځې، شرابو او زرو زمونږ په کورونو کې قلاري وای اوس زه او ته دواړه د صلیبیانو په خلاف جنګیدو خو کفارو داسې لاري چاري او طریقې پیدا کړی چې مسلمانان هم کافران شول .

دا کافر مسلمانان دومره بی غیرته او بی حسه شویدی چې د هغوی د لونو او خویندو په حیا ، عزت - عفت او عصمت باندی صلیبیان لوبې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي. د کرک مسلمانان په ډېر بد حالت کې وه، د کرک صلیبیانو چې په هغوی کوم ظلمونه کړي وه که د هغې څخه خبر شي نو د وینې اوښکې به توې کړي، زه د قوم خائنان او غداران په څه ډول پوه کړم چې د صلیبیانو د دښمنۍ څخه دوستي ډېره خطرناکه ده .

تا افسوس کړی چې زما پلاس زمونږ خپل ډېر چارواکي ووژل شول .

صلاح الدینه! پدې آفسوس ندی چې ستا پلاس هغوی وژل شویدي، آفسوس پدې خبره دي چې د خیانت او غداری په سبب ووژل شول او پدې کار باندې زمونږ دښمنان صلیبیان خوشحالیږي ځکه چې مسلمان د مسلمان پلاس وژل کیږي تاسې غداران معاف کولی نشی ځکه چې د هغوی سزا وژل دي، زه ستا لپاره سترګی په لار یم! دا ځل چې راځی باید پوځ درسره زیات وي. صلیبیان تا په محاصرو باندې بوختوی او پدی توګه ستا پوځ ختموي، داسې ونشی چې د بیت المقدس په لاره کې بې لاس او پښو شې! ته چې کله راځی نو باید د مصر حالات پوره کنترول کړی بیا راشې، د سوډانیانو په لوری هم خپله پوره توجه او پاملرنه وکړه، ماته څرګنده ده چې ته مالی ستونزې هم لرې، زه به ستا سره د مرستې کوښښ کوم، ښه خبره دا ده چې خپلې ستونزې پخپلو وسایلو باندې حل کړې، دا کوښښ هم وکړه چې زر تر زره له قاهرې څخه راووځې خو داخلي او بهرنی حالات په نظر کې ساته، الله پاک جل جلاله دې مرسته کوونکی او ناصر شه!

***

صلاح الدین ایوبی په غونډه کې د سلطان نورالدین زنګی پیغام خلکو ته واورولو او بیا یې خپلو ملګرو ته وویل چې د لرو او اطرافی سیمو څخه اوس مونږ ته پوځیان را روان دي، صلیبیانو چې کوم عقیدوی او فکری سیلاب جوړ کړی ؤ هغه اوس ختم شویدی خو په ځینو سیمو کې یې لا اوس هم اثرات لیدل کیږي یو سیلاب د جوماتونو څخه هم را روان شوی وه چې هغه هم تر کنترول لاندې راغی، صلیبیانو د خپلو ګوډاګیانو پوسیله جوماتونه هم نیولی وه او هلته یې د اسلام په خلاف پروپاګند او تبلیغات

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


کول - درې څلور صليب پلوی امامانو دا کار پيل کړی وه، ځينو خپل ځانونه د الله پاک استازی معرفی کولو، داسې خلک هم شته چې هغوی نيغ په نيغ د الله تعالی څخه څه نه غواړي بلکې آمامانو ته نذرانې ورکوي او بيا د هغوی پوسيله شيان غواړي ، هغوی داسې تبليغات کړی چې عام خلک له الله جل جلاله څخه نيغ په نيغ څه نشي غوښتلی ځکه الله پاک د هغوی خبری نه اوري .

سلطان صلاح الدين ايوبی وويل: ما دا گمراه او بی لاری امامان د جوماتونو څخه لری کړل او پر ځای مو داسې آمامان وټاکل چې عقيده يې د قران او حديث سره برابری وي، هغوی اوس خلکو ته دا تعليم او زده کړه ورکوي چې الله جل جلاله د مالدار او غريب، حاکم او رعيت، عالم او بی علم ټولو خبره اوري او د ټولو سره اړيکی ټينگوی - د ښه او بد عمل سزا او جزا ورکوي زه پخپل قوم او ملت کې همدا ډول عقيده او فکر ليدل غواړم، هغوی بايد خپل خالق او پالوونکی وپيژنی .

دوستانو! تاسې وليدل چې زمونږ دښمن يوازی په ميدان کې جگړه نکوی، بلکې هغوی ستاسې په زړونو کې وسوسی او غلطی خبری اچوی ، يهوديان پدی کار کې تر ټولو مخکې دی .

يهوديان ستاسې سره مخامخ نه جنگيږي، هغوی ستاسې د ايمان خرابولو او کمزوری کولو کوښښ کوی - هغوی پدی کار کې زر نه کاميابيږي خو ناکامی يې هم نشته، داسې وخت به راشي چې دا ذليل او سپک شوی قوم به مسلمانان په کمزوری حالت کې وگوری او بيا به داسې کار وکړی چې خپل هدف او مقصد ته ورسيږی، د هغوی خنجر به د اسلامی امت په سينه او زړه کې ننوتی وی که خپل تاريخ د دی ذليل قوم څخه خوندی ساتی نو همدا اوس د هغه فکر وکړی ، خپل قوم ته ورشی ، خپل ځان بادار او نور غلامان مه گنی، په هغوی کې داسې جذبه او احساس راپيدا کړی چې پخپل عزت او ملی وقار باندی ځانونه قربان کړی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبی وویل چې د یهودیانو او صلیبیانو سره ښځې او شتمنۍ ده او زمونږ سره د دې دواړو حرص او امید ، زمونږ یو کار دا هم دی چې د قوم او ملت د زړونو څخه د ښځې، شرابو او دولت محبت او حرص ختم کړو، د دې لپاره د ایمان قوت او کلکوالی پکار دی .

یو سالار وویل: ښاغلی امیر! مونږ ته هم د دولت او مال اړتیا ده، خرڅونه زیات شویدی، مونږ ته په ډېرو کارونو کې ستونزې پیدا کیږي .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : مونږ به یو بل ته لاس ورکړو او ستونزه به حل کړو! تاسې به دا حقیقت قبلوی چې تل د مسلمانانو سره د مال او پوځ کمبود وی زمونږ محبوب پیغمبر لومړنی جنګ د ۳۱۳ غازیانو پواسطه سرته رسولی وه، د دې څخه وروسته مسلمانان د کفارو سره په همدې تناسب جنګیدل، مسلمانان د مال او دولت د کموالی سره ندی مخامخ بلکې مال او دولت د څو کسانو په لاسونو کې لویدلی دی، زمونږ په قوم کې هم همداسی کار دی، د کوچنیو کوچنیو ریاستونو د واکمنانو سره د مال او دولت لوی لوی زیرمی او ذخیری پرتی دی .

غیاث بلبیس وویل: د مال او دولت ذخیری او زیرمی دلته هم شته! که ستاسې اجازه وي مونږ یو نوی کار پیل کوو .

تاسې ته څرګنده ده چې مصر د خزانو هیواد دی، دلته چې څومره فرعونیان مړه شوی د هغوی سره په هدیرو کې تهوله خزانه خښه شویده، دا خزانې د چا وی؟ دا د هغه قوم او ملت خزانه وه چې هغوی په لوږه او تنده پریښې وه او خپل ځان ته یې پری سجدې کولې.

د هغه وخت انسانانو فرعون ځکه الله بللو چې هغوی وږی او تږی وه، د هغوی قسمت د فرعونیانو پلاس کې ؤ، د هغوی ژوند او مرګ فرعونیانو په خپل واک اخیستی وه، فرعونیانو پدې غریبو او بې وزلې خلکو غرونه او غونډۍ کندلی او په هغې کې یې ځانته هدیری جوړولې، هغه هدیری نه بلکې پادشاهی مانۍ وی .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغوی پخپلو هديرو کې د مال او دولت خزانې جوړې کړې کوم چې د ملت او قوم حق وُ، که ستاسې اجازه وي مونږ به د فرعونيانو هديرې ولټوو او لاس ته راغلی دولت به د خلکو او عوامو د خدمت په لاره کې مصرف کړو.

د غياث بلبيس په پلوۍ ډېرو کسانو خپل اوازونه پورته کړل، هغوی ټولو وويل: دا سمه خبره ده ښاغلی آمير!

مونږ مخکې پدې باندې غور او فکر نه وُ کړی، مونږ د دې د راويستلو لپاره پوځ هم استعمالولی شو، د ښارد خلکو څخه هم پوځ برابرولی شو، هو! هو! غير پوځي کسان استعمال کړی او هغوی ته مزدوري ورکړی.

په غونډه کې غال مغال جوړ شو او هر چا هر څه ويل، يوازې سلطان صلاح الدين ايوبي چوپ او غلی ناست وُ، په غونډه کې ډېر وروسته خلک پوه شول چې د هغوی آمير او سالار چوپ او غلی ناست دی.

په غونډه باندې چوپتيا شوه، سلطان صلاح الدين ايوبي ټولو ته وکتل او بيا يې وويل: زه د دې کار اجازه نشم ورکولايی کوم چې غياث بلبيس د هغې په هکله غوښتنه وړاندې کړه.

په غونډه بيا چوپتيا خپره شوه، هيچا هم تصور نه کاوه چې سلطان صلاح الدين ايوبي به دا غوښتنه رد کړی.

سلطان صلاح الدين ايوبي وويل: زه نه غواړم چې له مرګ څخه وروسته تاريخ ماته د قبرونو او هديرو غل او ډاکو ووايی، که تاريخ زه سپک کړم نو دا سپکاوی ستاسې هم دی، راتلونکی څوځات به وايی چې د صلاح الدين ايوبي سلا کاران او وزيران هم د قبرونو او هديرو ډاکوان وه، صليبيان به دا تور نور هم ډېر پورته ښکته کړی، ستاسې د ازادۍ جنګ به غلا او ډاکی وګرځوی او د راتلوونکی څوځات په وړاندې به يوازې دلته ناست کسان نه بلکی ټول مسلمانان رسوا کړی.

علي بن سفيان وويل : سپين سترګی وبښه ښاغلی آميرا! د لږ وخت لپاره مصر د صليبيانو په واک کې راغلی وُ، د ټولو څخه تر مخه هغوی د خزانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اطراف کې چې مونږ د پخوانیو کنډوالو څخه لټول پیل کړل ، د قاهرې په پخوانی فرعون قبر او هدیره وه .
صلیبي او فدای ورانکاري ونیول هغه د پخوانی فرعون قبر او هدیره وه .
هغوی ورڅخه هر څه وړي وه، د صلیبیانو حکومت ډېر پاتې نشو ګنی هغوی به ټولې خزانې وړې وې .
غیاث بلبیس ربېتیا وایي چې دا خزانې د فرعونیانو نه بلکې د دې ملت حق او مال دی .
زه د دې خبرې کولو اجازه غواړم چې دا خزانې راویستل شي او دننی خلکو په ګټه استعمال شي .
سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: او زه به دا هم درته ووایم! که دا خزانې ستاسې مخې ته راغلې نو تاسې به هم فرعونیان شی، انسان ته دا اجازه چا ورکړې وه چې هغه دې ځانته الله ووایي؟ یوازې مال او د مال حرص!
د انسان په وړاندې چا سجده کړې وه؟ بې وزلي او غریبي!
تاسې وایئ چې صلیبیانو د فرعون یوه خزانه لوټ کړې ده، زه تاسې ته وایم چې له کله څخه د فرعونیانو مړې د خزانې سره یو ځای خښېدل پیل شول له هماغې وخت څخه د قبرونو غلا او لوټ پیل شو. انسانان د ځناورو په شان د فرعونیانو په قبرونو ور پرېوتل، د هغوی دین او ایمان یوازې مال او شتمنی وګرځیده، فرعونیانو هم له خپل مړې سره مال قبر ته وړلو او د قبر غلا همداسی کسب ورځیدلو، وروسته فرعونیانو پداسې ځایونو کې خپل قبرونه او هدیرې جوړې کړې چې هلته څوک ونه رسیږي، د مړې وارثانو هغه داسې بند کړل چې هیڅوک یې خلاص نشی کړی .
د فرعونیانو څخه وروسته چې کوم حکومت راغلی هغوی د دې خزانو لټون پیل کړی- زه پوهیږم چې د ځینو فرعونیانو قبرونه هیڅ معلوم ندی .
هغه د ځمکې لاندې مانۍ دی، تر قیامت پورې به خلک دا هدیرې او قبرونه لټوي .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا ټول حکومتونه ولې ختم شول- ځکه چې د هغوی ټوله پاملرنه خزانو ته شوې وه! عامو خلکو ته ویل شوي وه چې مال او دولت عزت دی، که لاس خالي وي نو تاسي او ستاسي اولادونه ټول د هغې خلکو دي چې شتمني لري !

زما دوستانو! صلاح الدین پدې ډله کې مه ودروی ، زه خپل قوم ته وایم چې اصل عزت دولت او مال نه بلکې ملي وقار او ملي عزت او ایمان دی! دا عزت او عظمت هلته پیدا کیدای شي چې کله زه او د حکومت ټول چارواکی د زړه څخه د مال او دولت حرص او خواهش لرې کړو.

یو قوماندان وویل: مونږ د دی خزانو لټون د شخصي کار لپاره نه کوو! مونږ د ملي اړتیاؤ لپاره دا کار سرته رسوؤ.

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل: زه پدی پوهیږم چې زما انکار کول به ستاسي خوښ نوی! زما په خبره د پوهیدو لپاره باید تاسي خپل ذهنونه خالي او صفا کړی، ماته خپل عقل وایي چې د باندی څخه راغلي مال او دولت چې د قومي او ملي اړتیاؤ لپاره راځي هغه د چارواکو ایمانونه لړځوي، دا د دولت لعنت دی، که زما سره د آس اخیستلو لپاره مال نه وي نو زه د پوځ سره پلې هم بیت المقدس ته ځم! زه د مړو د قبرونو څخه په راویستلې مال خپل ځان ته شیان اخیستل نه غواړم، زما مقصد او هدف د صلیبیانو څخه بیت المقدس ازادول دی نه د قبرونو په مال باندی آسونه اخیستل .

که تاسې د ملي اړتیاؤ لپاره د فرعونیانو خزانی لټول پیل کړل نو خلک به ټول قبرونه او هدیری ړنګې او خرابی کړي، که د دی خزانو مال ستاسی په وړاندی راغی نو بیا به یو د بل دښمنان شي که دښمنان نشی نو یو بل ته به د شک په سترګه ګوری، چیری چې خزانی پیدا شي هلته انساني مینه او محبت ختم شي، د حقوق العباد احساس ختم شي، همدی زرو او ملغلرو د انسانانو څخه خدایان جوړ کړي ، هغه خدایان څه شول؟ په آسمانونو کې نه بلکې د ځمکی لاندی دی !

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما دوستانو! زه د یو نوي ګناه او جرم بنسټ اواساس نږدم! د دې خزانو څخه ځان وساتئ! دا د همدې خزانو بد مرغي ده چې ستاسې په منځ کې بیا بیا غداران او ملي خائنان پیدا کیږي.

تاسې چې دوه مړه کوي د هغې پر ځای څلور نور پیدا کیږي، خپل راتلونکي پخپل تدبیر سره جوړ کړئ، تاسې مسلمانان یاستئ، خپل قسمت کفارو ته پلاس کې مه ورکوئ، ګنې ټول به غداران شي ، فرعون مړ شویدی، هغه همداسې د ځمکې لاندې خښ پریږدئ .

د غونډې یو ګډون کوونکي وویل : ستاسې د حکم او خوښې څخه پرته مونږ داسې کار نه پیل کوو!

سلطان صلاح الدین ایوبي په خندا غیاث بلبیس ته وویل: تاته نن څرنګه د دې پټو خزانو فکر او خیال پیدا شو! زه خو دلته څلور کاله کیږي چې راغلی یم! مخکې دې ولې دا پلان وړاندې نکړ؟

غیاث بلبیس وویل: ما هیڅکله هم داسې فکر نه وُ کړی! ښاغلی آمیرا! " نژدې دوه میاشتې وړاندې ماته یو مامور وویل چې د کتابتون څخه څه پخواني کاغذونه ورک شویدي، ما ورته وویل چې څه ډول کاغذونه دي ، هغه وویل چې د اهمیت وړ ندي چې ولټول شي، څه نقشې وې چې په هغې کې د فرعون د وخت لیکلي شیان وه، ډېرې پخوانۍ د ټوکر او کاغذ څخه جوړ شوي وې. هغه چې د فرعون نوم واخیست نو زه پوه شوم چې پدې کې به د فرعون د هدیرو او قبرونو اړوند معلومات وي. ما هغه کڅوړې ولیدې چې کاغذونه ورڅخه ورک شوي وه، ما ځکه ورته پاملرنه ونکړه چې پدې پخوانیو لیکنو څوک څه پوهیږي .

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل : تا سم او صحیح فکر ندی کړی! په مصر کې داسې خلک شته چې پدې لیکنو او اشارو باندې پوهیږي، د دې کاغذونه ورکیدل حیرانوونکي ندي، دا کاغذونه به د خزانې کوم حریص او مینوال پټ کړي وي، زه د هغه کاغذونو سره څه کار نلرم خو زه غل پیدا کول غواړم، ته د دې لټون پیل کړه چې ستاسې کوم ملګری او مامور نه وي .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


علي بن سفيان ووېل : ماته شک پیدا شوی چې د دی کاغذونو خامخا څه اهمیت شته! زه به د غیاث بلبیس سره پدی هکله خبره وکړم، د ډېرو ورځو څخه زمونږ څارونکی ماته د یوی نامعلومی ډرامی او لوبی راپور راکوی- قدومی یو نامتو نڅا کوونکی ده چې د آمیرانو او شتمنو خلکو د غونډو او مجلسونو د شمعی په نامه شهرت لری، د دری څلور ورځو څخه ورکه ده، د ښار څخه د یوی نڅاکوونکی ورکیدل دومره غټه خبره نده، خو ما قدومی تر نظر لاندی ساتلی وه، ما ته خپلو څارونکو ویلی وه چې هغی ته دوه شکمن کسان ډېر تلل راتلل، یوه ورځ د قدومی د کور څخه پرده لرونکی ښځه ووتله، هغه د یو نا بلد او نا اشنا سوداګر سره ولاړه، زه پدی شکمن یم چې هغې به خپله څیره او شکل بدل کړی وي، ځینو څارونکو خبر راکړیدی چې د جنوب په لوری ځینی شکمن کسان لیدل شویدی، ماته شک پیدا شویدی چې د دی شکمنو کسانو کار به د دی ورک شوی کاغذونو پوری اړه ولری، دا هم کیدای شي چې دا به صلیبی ورانکاری وي، که دا هر څوک وي خو مونږ به د هغوی راز راسپړو.

سلطان صلاح الدین ایوبی ووېل : خامخا يې معلومات واخلی! دا خزانی د خپل ذهن څخه وباسی، زه پدی پوهیږم چې د خلکو د خدمت او هم د صلیبیانو سره د پریګنده جګړی لپاره مونږ مالی وسایلو ته اړتیا لرو خو زه د هیچا څخه هم مرسته نه غواړم.

ښاغلی نورالدین زنګی د مرستی ژمنه کړیده، خو زه د هغه څخه هم مرسته نه قبلوم!

که مرسته او کومک د سکه ورور څخه هم پلاس راشي دا د سری عزت، استعداد او ایمان ته خلل رسوی، بیا انسان د خزانو په لټون کې لوغړن ګرځی، د مصر څمکه شنډه نده! کوښښ وکړه چې همدا ځمکه حاصل درکړی، قوم ته ووایی چې هغوی په حکومت باندی کوم کوم حقوق لری، تر څو هغوی خپل ځانونه غلامان ونه ګڼی، او قوم ته دا په ګوته کړه چې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی څه مسئولیتونه لري، که قوم د خپلې دندې او مسئولیت څخه مخ وګرځولو نو حقوق بیا پایمالیږي.
ته چې د کومې ځمکې د ساتنې او عزت لپاره خولې او وینې توی نکړې هغه ستا حق نه اداء کوي.
بیا به د دې هیواد واکمنان د باندنیو خزانو په لټون پسې ګرځي، د قوم خلک به ګډ وډ او د کفارو غلامان شي.

***

کومې خزانې ته چې سلطان صلاح الدین ایوبي لاس وروړل هم نه غوښتل د ده یو قوماندان احمر درویش د هغې د لاس ته راوړلو لپاره پنځوس کسان استولي وه.
مارکوني، اسماعیل، قدومي او یو صلیبي ماښام هلته رسیدلي وه، نور ملګري یې هم یو یو راورسیدل، تر نیمې شپې پورې ټول پنځوس کسان راپوره شول، دوی داسې ځای غوره کړی وه چې هلته هیڅ مسافر او لاروی نه راتللو ځکه چې دا ځای هم ویرونکی او هم د لارې څخه یو لورې ته پروت وُ، دا ځای د پولې او سرحد څخه هم ډېر لرې پروت وُ نو د سرحدي ساتونکو له نظره هم لویدلی وُ، مارکوني خپل ټول کسان د شپې دې ځای ته ننباسل چې بل څوک هغوی ونه ګوري، بیا یې هغوی ته وویل چې پوره دمه او ارام وکړې ځکه چې د دې څخه وروسته نور پیاده او پلې تلل دي، دا سفر او وراندې تګ د بدن پر ځای دماغ سترې کوونکي وُ، مارکوني د قدومي سره خپلې خیمې ته ولاړ.
دوی ټول سبا داسې وخت راپورته شول چې لمر په غونډیو باندې راپورته شوی وه، مارکوني هغوی ټولو ته وویل چې کوم سامان، وسایل او شیان له ځان سره وړل او کوم د پرېښودلو دي، هغوی له ځان سره توري، لیندۍ، غشي، مضبوطې او کلکې رسۍ او پړې، کولنګان او قوي جبلونه واخیستل.
مارکوني ټولو ته د لارې د ستونزو او مشکلاتو په هکله هم پوره معلومات ورکړ، د هغه خطرناک دیوال په هکله یې هغوی په ذهني او

(c) ketabton.com: The Digital Library


فکری لحاظ چمتو او تیار کړل د کوم شخه چې د ده یو ملګری ته لویدلی او د تل لپاره ورک شوی و، مارکونی هغوی ته وویل چې پدی غرونو او تونلونو کې د ښځو د ژړا اوازونه هم شته چې باید ورته ورخطا نشي. هغوی خپل اوښان هم له ځان سره نشول ورلایی ځکه لاره ډېره تنګه او سخته وه.

مارکونی د اوښانو د ساتلو لپاره یو سړی پریښوده، قدومی هم پدی لارو نشوه تللایی، هغه دا فکر کاوه چې اسانه لاره به خزانی ته پیدا کړی او بیا به قدومی له ځان سره هلته بوځی، د قدومی د ساتنی لپاره هم یو کَس ته اړتیا وه چې هغه یوازی اسماعیل کیدای شو.

مارکونی اسماعیل ته وویل: ته به د قدومی سره دلته پاتی کیږي خو فکر دی وی چې ستا حیثیت د هغې په وړاندی د هیڅ سره برابر دی، د دی د ساتنی او خوښی مسئولیت ستا په غاړه دی، زه ډېر زر بیرته راځم بیا به تاسې دواړه د ځان سره بوځم.

مارکونی خپله ډله له ځان سره ملګری کړه او روان شو، هغه دا لاره مخکې لیدلی وه، پرته له ویری او ډار شخه مخ په وړاندی روان و، څومره چې دا کسان وړاندی تلل ویره او ډار پری راتللو، هغوی د دښتو او صحراګانو سره پوره بلدتیا لرله خو داسې ځای یې هیڅکله هم نه و لیدلی.

کله چې هغوی د ژړا ځای ته ورسیدل نو وتریدل او پورته یې کتل، پرته د کوم شک شخه میرمنو او ښځو ژړل، پدی خلکو کې دری شلور کسان داسې هم وه چې هغوی د دی سیمی په هکله ډارونکی کیسی اوریدلی وی چې کومی په خلکو کې مشهوري وی. هغه خپلو صلیبی ملګرو بیان کړی او هغوی یې هم وویرول. هغوی ټول د ویری او ډار تر اثر لاندی راغلی وه خو د کوم شی او دولت چې د دوی سره ژمنه شوی وه هغه د دی ټولو ویرو لری کوونکی او ختمونکی و- بله دا چې دوی د صلیب تنخوا خوړونکی او مارکونی د هغوی مشر او قوماندان و، هغوی د مال، دولت او حکم تر اثر لاندی روان وه، کله چې هغوی د ښځو د ژړا په شان اوازونه واوریدل نو مارکونی ورته وویل چې دا د ښځو ژړا نده او نه بد روحونه دي بلکې هوا

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدی ځایو کې همداسی اوازونه پیدا کوي. هغوی ټول ډاریدل او له ویرې یې یو بل ته کتل خو مخ په وړاندې روان وه، هغوی ایله ماښام هغه کندی او ژور ځای ته ورسیدل چې هلته په نرې دیوال باندې بلې خواته تیریدل او تلل ضروري وه، مارکوني ته هلته ستونزه پیدا شوه، په دیوال باندې د پښو کیښودلو څخه هر یو ویریدلو، مارکوني د ټولو څخه مخکې روان ؤ، هغه د دې خطر څخه یو څل مخکې تیر شوی ؤ ، د مارکوني تر شا دویم سړی هم قدم کیښودلو او بیا ټول پسې را روان شول.

د لمر سترګه پدې جهنم کې ډوبه شوی وه، د دې ګټه دا شوه چې خلکو ته د کندې ژور والی نه معلومیده، مارکوني د دیوال څخه تیر شو، ناڅاپې هغه یوه چیغه واوریده چې مخ لاندې روانه وه، د هغې څخه وروسته دویمه چیغه هم واوریدل شوه چې ښکته روانه وه، د دې پسې نورې چیغې هم واوریدل شوې .

کله چې هغوی ټول د دیوال څخه تیر شول او بیا وشمارل شول نو پنځه کسان پکې کم وه، مارکوني هغوی ته وویل چې د دې څخه مخکې نو داسې خطرناک ځای نشته او مونږ خپل مقصدی ځای ته را رسیدلی یو، هغه خپلو ملګرو ته وویل چې بیا به پدې لاره نه راځو بلکې د اسانه لارې څخه به ځو، شپه زیاته تیره شوی وه چې هغوی هماغه ځای ته ورسیدل چې لاندې یې شین چمن او ونې وې. مارکوني خپل ټول کسان هلته غلی او پټ کړل، هغه دوه کسان د ځان سره ملګر کړل او نورو ته یې وویل چې تاسې خپل خوراک وخورئ او ویده شی .

هغه د خپلو دوه کسانو سره د ځای او حالاتو لیدلو لپاره ولاړ، لاندې په ژوره کې مرکوني چپوالی ؤ، هیڅ رڼا او روښنایی نه ښکاریده، هغه د نژدې تللو څخه ویریده، هغه حمله تر سهار پورې وځنډوله، بیا خپلو ملګری ته ورغی .

***

اسماعیل او قدومی یوازې پاتې شوی وه، قدومی د داسې مجلسونو او غونډو سره عادت وه چې هلته به شراب او دولت د اوبو پشان بهیدل .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس مارکونی هغه داسې مرګونی ځای ته راوستی او د یو سړي سره یې یوازې پرېښې وه.

اسماعیل هغه پیژندله خو قدومی اسماعیل نه پیژندلو، اسماعیل د ګناه او جرمونو د دنیا انسان و، هغه په ښکاره خو دومره ښه سلوک او رویه لرله چې قدومی هغه د هر قدرمن سړی ګڼلو اسماعیل د هغې سره له خبرو کولو ځخه ډډه کوله.

ماښام اسماعیل قدومی ته وریته غوښه ګرمه کړه او شراب یې هم ورته وړاندې کړل بیا یې ورته وویل چې خپل خوراک وکړی او بیا ویده شی، که کله خدمت پیدا شي نو ماته اواز وکړه، بیا د قدومی له خیمی ځخه ووت.

قدومی خپله خوراک وکړاوشراب یې هم وڅښل خو یوازې والی هغه زوروله، هغې پخپل حسن، ښکلا او ځوانۍ باندې فخر او ویاړ کاوه نو ځکه یې دا هیله لرله چې اسماعیل به هغې ته ځان نژدې کړی، پدې ویاړ کې کبر او غرور زیات و، اسماعیل هغې ته هیڅ داسې پاملرنه ونکړه چې قدومی یې هیله لرله، قدومی ته خوب نه ورتللو، هغه د خپلی خیمی ځخه ووتله او د اسماعیل خیمی ته ورغله، هغه هم لا ویښ و، د قدومی لپاره یې ډیوه ولګوله ، بیا یې ورځخه وپوښتل چې څه ته دی اړتیا پیښه شوه ؟

قدومی وویل چې زه ویریږم، بیا د اسماعیل خواته کیناسته او ورځخه وی پوښتل: ته شاید مسلمان وی ؟

اسماعیل ورته وویل: زما نوم اسماعیل دی خو زه د هیڅ دین پیرونه یم خو ته دا پوښتنه ولی کوی ستا خو د انسانانو سره کار دی ؟

قدومی وویل: هو! ته ریښتیا وایی.

د څو شیبو وروسته قدومی بیا په حیرانتیا سره وویل : ته اسماعیل د احمر درویش خاص او ځانګړی سړی؟

قدومی د مارکونی په هکله له اسماعیل ځخه وپوښتل چې دا ځوک دی او له کوم ځای ځخه راغلی دی، ماته مسلمان.هم نه ښکاری خو نوم یې سلیمان سکندر دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوډان اوسيدونکی
اسماعيل ورته وويل: هغه نه مسلمان او نه د مصر ، سوډان اوسيدونکی دی او نوم يې هم سليمان سکندر ندی .
قدومي وپوښتل: نو بيا دا څوک او د هغه اصلي نوم څه دی؟
اسماعيل وويل: زه د هغه نوم نشم ښودلايی! د دی راز د ساتلو لپاره ماته مال راکول کيږي، ته بايد د هغه په هکله هيڅ هم ونه پوښتی، ته د مال او دولت په بدل کې د دی سړی د خوشحالی او ساعت تيری لپاره راليږلی شوی يې، دا ستا کسب دی، هغه به تاته د خزانی څخه برخه هم معلومه کړي وی !
قدومي وويل : هغه چې زما سره د کوم شی ژمنه کړی هغه پدی دښته او بيابان کې ډېره کمه ده، زه خو په خزانه کې د برخی په هيله راغلی يم .
اسماعيل وپوښتل: ايا تـه پدی ډاډه يـې چې هغـه خزانـه بـه ده تـه پـلاس ورشي د کومی په هيله چې ته هم ورسره راغلی يې او بيا بـه تـا تـه پـه هغی برخه پکې درکړی؟
قدومي په کبر سره وويل: زه دومره ارزښناکه نجلی يم چې ما خلک د خزانو په بدل کې اخلی دا سړی خو زما قيمت هم نشی پوره کولای .
اسماعيل په خندا وويل: ترڅو پوری؟
واوره قدومي! دومره کبر مه کوه! د چا سره چې خزانه وي هغه ته به بله قدومي پيدا شي او ته به د ليونيانو پشان په کوڅو کې لوغړنه ګرځی خو هيڅوک به دی هم پوښتنه نکوي.
قدومي وويل : ولی به يې نه کوم؟ دا سړی چې ځان سليمان سکندر بولی زما د مينی او محبت په جال او لومه کې داسې نښتی چې ماته يې قسمونه خوړل چې زه خزانه يوازی ستا په خاطر راوباسم، هغه ما سکندريی ته له ځان سره بيايی، هلته به د سمندر په غاړه لوی مانی او قصر جوړ وی ، بيا به زه نځا کوونکی نه وم! ايا ته پدی کې څه شک لری؟
اسماعيل قدومي ته وويل: شک ندی بلکې زه په يقين سره دا وايم چې هغه ډېر لوی دروغ ويلی دی - زه د مزدوری لپاره د هغه سره راغلی يم! د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمر درویش خبره زما لپاره د حکم حیثیت لري، هغه ماته وویل چې د ده سره ولاړ شه نو زه ورسره راغلم! دا زما کسب دی، زه کرایی گنهگار یم، زه په مال او دولت باندی خلک وژنم خو زه دروغ نه وایم، زه هیڅ وخت هم نیولی شوی نه یم، احمر درویش ما هر وخت ساتی، په ما کې بله خرابی یا خوبی دا ده چې زه د میرمنو قدر او درناوی کوم، زه پدی نه پوهیږم چې زه ولی داسې کوم، که ښځه پرده لرونکی وي او که بی پردی زه د دواړو درناوی او عزت کوم، زه ښځی ته دوکه نشم ورکولای، زه تا هم په ناخبری کې پاتی کیدل نه غواړم، زه تاته د دی راز ویل خپل مسئولیت گنم چې دا خزانه تاته د قصر او مانۍ جوړلو لپاره نه راباسل کیږي بلکې دا د مصر د ختمولو او غلامولو لپاره پکار اچول کیږي، پدی به په مصر کې صلیبی حکومت جوړ وی او د جوماتونو ځخه به کلیساوی جوړیږي، که دا کارونه پری ونشول نو بیا به د مصر ځخه د باندی وړل کیږي، زه پدی ښه پوهیږم چې ته د مصر سره هیڅ مینه نلری، زه هم ورسره مینه نلرم، ځکه مونږ دواړه کسب کار یو، گناه زمونږ کسب او عادت گرځیدلی، زه تاته یوازی دوه خبری کوم : ستا د ځوانی او حسن وخت ډېر لږ پاتی دی، دویمه خبره دا ده چې دی سړی ته د خپل ځان لپاره راوستی یې او په تا ساعت تیروی ، د هغه په نظر ته یوه فاحشه او بدکاره ښځه یې، که هغه په تا رحم او کرم وکړ نو دوه تنکی به په لاس کې درکړی، که هغه د چا لپاره قصر او مانۍ جوړوی نو هغه به کومه ځوانه نجلۍ وی ته به نه وی، ستا په ځیره باندی اوس د ویښتانو په شان نری او نازک خطونه ښکاری چې اوس خو ښایسته او ښکلی ښکاری، لږ وخت وروسته به دا ژور او زیات شي چې د هغې سره به ستا قیمت او ارزښت ختم شی .

اسماعیل په مسکا و او د هغه په خبرو کې ټوکی او طنز نه هم و، دوکه او غولول نه وه بلکې د دوستی او خپلوی احساس پکې ؤ، داسې حقیقت چې قدومی مخکې نه ؤ اوریدلی، هغی دا خیال کولو چې اسماعیل به په هغې حمله وکړی خو اسماعیل هغې ته هیڅ اهمیت او ارزښت ورنکر بلکی هغه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې څه ورته په ګوته کړه چې دا ټول ستا د څو ورځو لپاره میلمانه دي -
قدومي خو د خپل ځان د ستاینې اوریدلو عادي وه، هغې ځان د مصر
نامتو ملکه قلو فطره ګڼله، اسماعیل په هغې کې داسې احساس راپیدا کړ
چې هغه یې وزنګوله، د اسماعیل خبرې د قدومي زړه ته ښکته شوې، شپه
تیریدله او د قدومي د سترګو څخه خوب تښتیده، هغې د اسماعیل سره په
خبرو خبرو کې شپه تیروله غوښتل، هغې خپله دا هیله پټه نشوه کړای،
اسماعیل هم هغه ناهیلې نکړه، د شپې تر اخرې برخې پورې دواړو خبرې
کولې خو په آخر کې د قدومي سترګې پټې شوې.

کله چې د هغې سترګې خلاص شوې نو د اسماعیل په خیمه کې پرته وه
خو اسماعیل د خیمې څخه د باندې په کمپله باندې پروت ؤ، قدومي هغه
راپاڅولو او ورته وې ویل: ما خوب لیدلی دی، ډېر حیرانوونکی دی، ټول
مې په یاد ندي، چا راته ویل چې د سلیمان سکندر د خزانې څخه د
اسماعیل خبرې ډېرې قیمتي او ارزښتناکې دي.

قدومي وخندل چې خندا یې د یوې نڅا کوونکې په شان نه بلکې د یوې
معصومې نجلۍ په شان وه.

***

د لمر په راختلو کې لا څه وخت پاتې ؤ، مارکوني د خپل پلان سره سم
خپل کسان د شین ځای په سر باندې په مناسبو ځایونو کې ځای پر ځای
کړې وه، کله چې سهار روښنایي خپره شوه نو لاندې په شین ځای کې لغړ
او لوڅ انسانان راښکاره شول، مارکوني د خپلو ملګرو څخه یو زړور او
باتور سړی غوره کړی ؤ چې په هماغه مایل ځای باندې ځان ښکته وغورځوي په
کوم چې د هغه یو ملګری ښویدلی او د ځنګلي خلکو خوراک شوی ؤ.

مارکوني خپل غوره شوي ملګري ته اشاره وکړه چې ځان ښکته
وښويوي، هغه په ښوی ځای باندې کیناسته او ښکته وښویده، چې کله لږ
لاندې ولاړ نو څو ملاقونه یې وخوړل او په ځمکه پړ مخ پریوتو، بیا راپورته
او روان شو، درې، څلور ځنګلي کسانو هغه ولیده نو د هغه پسې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رامنډې کړې، هغوی د خوشحالۍ څخه چیغې وهلې، کله چې ځنګلي کسان هغه ته رانژدې شول نو څلور غشي په یو ځل له لیندو څخه د هغوی په لوري ووتل او د هغوی په سینو کې ونښتل، دوه نور لغړ کسان هم راپه منډه شول.

هغه هم د غشو ښکار شول. مارکونی د یوې غټې او لوی ډبرې پورې ډبله رسۍ وتړله او بیا یې لاندې وغورځوله، خپلو ملګرو ته یې وویل چې یو یو درسۍ په مرسته لاندې شین ځای ته ښکته شي.

ټول لاندې ښکته شول، مارکوني رسۍ راخلاصه کړه او ښکته یې وغورځوله، بیا خپله هم ښکته شو، ټولو توري په لاسونو کې ونیولې او مخ په وړاندې روان شول، څو لوخ او لغړ کسان ورته په مخ راغلل چې هغوی ووژل، کوم چې لږ لرې وه هغوی په منډه شاته ولاړل، د مارکوني کسان ورپسې شول، هغه د تښتېدونکو چیغې اوریدلې نو ځکه د همغو چیغو پسې روان شول، لږ وړاندې یې درې کسان ولیدل، هغوی درې واړه په یو کمر باندې پورته کیدل، مارکوني هم د هغوی پسې په منډه روان ؤ، هغه درې واړه د کمر بل لوري ته واوښتل، مارکوني هم په کمر ور پورته شو، بل لوري ته هغه د تورو ډبرو غرونه ولیدل، هلته د غار او تونل خوله ښکاریده چې یو سړی پکې کړوپ تللی شو، مارکوني په همدې تونل کې ننوت او توره یې پلاس کې نیولې وه، غار او تونل پراخیدلو، هغه د ځینو کسانو د منډو اوازونه واوریدل، هغه هم پسې په منډه شو، دا غار نه بلکې کیندل شوی تونل وه چې فرعون د مړینې څخه مخکې کیندلی وه، تونل څو مورونه لرل چې توره تیاره پکې وه، مارکوني د خلکو خبرې هم واوریدلې، هغه همداسې په منډه روان وه چې مخکې یې روښنایي ولیدله چې درې کسان پکې روان معلومیدل، دا د تونل بله خوله وه، مارکوني هغوی وژل نه غوښتل، د هغه پلان ډېر کامیاب ؤ، درې لغړ انسانان د تونل څخه ووتل، مارکوني هم پسې ورووت، د درې کسانو څخه یو ولویده، دا لویدلی سړی هماغه زوړ بوډا وه چې مارکوني په لومړنۍ سفر کې لیدلی وه، هغه ډېر

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا ۀ نو زيات نشو تېښتيدلای ، د تونل په خوله کې ډېرې او کاڼي وه ،
مخامخ يو تور غر مخ پورته تللی ۀ، مارکوني بوډا سړي راپورته کړ او په
اشارو باندې يې پوه کړ چې هغه دوه کسان راوګرځوي، بوډا هغوی ته اواز
وکړ نو دواړه ودريدل بوډا دواړه ځان ته راوبلل، هغه د مارکوني سره په
مصري ژبه خبرې پيل کړې او ويې ويل : زه ستا په ژبه پوهيږم او خبرې پرې
کولایی شم! که ته ما ووژني نو تا ته څه پلاس نه درځي!
مارکوني هم په مصري ژبه پوهيده او خبرې يې پرې کولای شوی هغه بوډا
ته وويل : زه تاسې وژل نه غواړم! زه هغه نور کسان هم وژل نه غواړم، ماته
د دې ځای څخه د.وتلو لاره په ګوته کړه!
بوډا د مارکوني څخه وپوښتل : ايا ته د دې ځای څخه وتل غواړې؟
مارکوني وويل: هو! زه ستاسی له پادشاهی څخه وتل غواړم .
بوډا د خپلو ملګرو سره څه وويل، هغوی ډېر ويريدلی وه، بوډا مارکوني
ته اشاره وکړه چې ته د دې دواړو سره ولاړ شه دوی به دې نيغی او سمې
لارې ته برابر کړي .
بوډا هم ورسره روان شو، د دوه غونډيو په منځ کې روان شول، هغوی د
کږو وږو لارو څخه تير شول او يو لوی ميدان ته ورسيدل، مارکوني حيران
شو چې پدې ځای کې هم داسې لاره شته دی چې هيڅ پيچومی نلري .
بوډا مارکوني ته وويل: څه اوس په خپله مخ ولاړ شه کنه دلته به لولپه
شې: مارکوني هغوی درې واړو ته وويل چې زه بيرته ځم چې هغه نور کسان
هم د ځان سره راوباسم! د مارکوني پلاس کې لوڅه توره وه چې هغوی درې
واړه ورڅخه ويريدل، هغوی درې واړه ورسره بيرته را روان شول.
مارکوني لاره ښه وليدله چې بيا پکې غلط نشي، هغوی د تونل څخه تير
شول او شين ځای ته ورسيدل، بوډا مارکوني هغه ځای ته بوتللو چې د ده
يو ملګری پکې منځکې همدې خلکو کباب کړی ۀ، مارکوني خپلو ملګرو
لټولو، هلته څو لغړ او لوڅ مړي هم پراته وه، ماشومان يې هم وژلي وه، بوډا

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


سړي داسې عام وژنه کله نه وه ليدلې، هغه ودريده او په زغم سره يې له مارکوني څخه وپوښتل : دا بې گناه چې مو ووژل څه پلاس درغلل؟

مارکوني ورته ووېل : تاسې زمونږ يو ملگري کباب کړ او ومو خوړ! هغه ستاسې څه خراب کړی وه ؟

بوډا ووېل : هغه د گنهکاري دنيا انسان وُ! هغه زمونږ مقدسې دنيا ته راغلی وه او هغه يې ناپاکه کړه!

مارکوني وپوښتل: تاسې دلته د څه لپاره اوسيږئ - د فرعون قبر او هديره چيرې ده؟

بوډا ووېل : زه د دې دواړو پوښتنو ځواب نشم درکولای !

مارکوني خپلو ملگرو ته ووېل چې د دوی ښځې دلته راولې هغوی ونه وژني!

د مارکوني ملگرو لس، دولس ښځې نژدې راوستې، چې دوه درې پکې زړې او نورې ځوانې وې! دوه، درې پکې ماشومان هم وه، ټول لوڅ او لغړ وه، هغوی غنم رنگې او تور وه، شکل او صورت يې هم ښه وُ، د هغوی ويښتان تر ملا گانو رسيدلي او ځليدونکي وه .

مارکوني بوډا سړي ته ووېل:ايا تاسې دا خوښوئ چې ستاسې په وړاندې ستاسې د ښځو بې عزتي وشي او بيا ووژل شي؟

بوډا ووېل :ايا تاسې د دوی څخه مخکې مانه وژنئ؟

مارکوني ووېل : نه !

بوډا ووېل: واوره د گنگاري دنيا اوسيدونکيه! ستاسې ښځې په جامو کې پټې وي ، تاسې هغه په پردو کې پټې ساتئ خو هغه د بد اخلاقۍ او بې حيايي څخه نه منع کيږي، تاسې د ښځو په خاطر حکومتونه او هيوادونه قربانوئ ښځې نځوئ او هغه د گناهونو وسيله گرځوئ، زمونږ ښځې سره د دې چې لوڅې او لغړې دي خو ستاسې د ښځو پشان بداخلاقه او بې حيا ندي ، زمونږ هيڅ نارينه د بل چا ښځې ته په هغه سترگه نه گوري لکه تاسې چې په کوم بد نظر باندې ښځو ته گورئ ، زه ستاسې کتل هم زمونږ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنځو ته نشم زغملی، تاسې د فرعون خزانه ټوله له ځان سره یوسی خو زما لوڼو ته به نه ورنژدې کیږي .

مارکونی وویل : زه ستاسي سره ژمنه کوم که د دی غرونو راز مو راته څرګند کړ! نو ستاسې عزت به ستاسې پلاس کې درکړم!

بوډا په طنز سره وویل : د ډاکو په وعدو او ژمنو باور نشی کیدای - د چا په سترګو کې چې حرص وي د هغه په وړاندی عزت اهمیت نلری! د هغوی په ژبه ژمنی کیږي خو بیا د همدی ژبو پوسیله ماتیږي، ته د داسې دنیا سړی یې چې په مال او دولت باندی ښځی قربانیږي، واوره ای نا بلد او نا اشنا! ته مصری نه یې، ستا په سترګو کې د سمندر څلا ښکاری د نیل روښنایی پکی نشته، ستا له بدن څخه ماته د بلی دنیا بوی راځی .

مارکونی وویل : زه د فرعون د هدیری په لټولو پسی راغلی یم! ماته هماغه ځای په ګوته کړی .

بوډا وویل: زه یې درته ښایم ! زه درته یوه خبره مخکې ویل هم غواړم هغه دا چې د خزانی څخه ته ژوندی نشی راوتلی او هغه پلاس نه درځی .

مارکونی وپوښتل : ایا ستاسې ملګری هلته پټ شوی چې ما وژنی؟

بوډا وویل: نه! ستا د وژلو لپاره نور زما سره څوک ندی پاتی، ستا خپل ملګری به تا ووژنی، ستا مړی به هیڅوک لدی ځای څخه ونه باسی .

مارکونی وپوښتل: ته په غیبو پوهیږی او د راتلوونکی وخت خبر ورکولای شی ؟

بوډا ځواب ورکړ: نه! ما تیر شوی وخت لیدلی دی ، چا چې مخکې وخت د زړه په سترګو او د عقل په رڼا کې لیدلی وی هغه په راتلوونکی باندی ښه پوهیږي، مرګ ستا په سترګو کې برېښی .

مارکونی په کړس کړس وخندل او وی ویل : ته وحشی او ځنګلی بوډا یې! ماته ووایه چې هغه هدیره چیری ده، زه د هغې د لټولو پسی دومره لری راغلی یم .

بوډا وویل : ستا په وړاندی ده! هغه مخاخ لوړ ځای کې !

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارکونی څه فکر وکړ او بیا یې خپلو ملګرو ته وویل : دا ښځې په عزت او درناوي سره وساتي، د دې بوډا خبرې اثرې کوي، د ده دوه ملګرو ته هم څه ونه وايي، د هغوی سره ملګرتيا پيدا کړي ، زه به تر هغې پورې قدومي او اسماعيل راولم، مارکونی په هغه لاره ولاړ چې د تونل له لارې بهرته وتلې وه .

***

مارکوني د هغې لارې څخه ووتلو کومه چې ورته بوډا سړي ښودلې وه، هغه ته دا معلومات وُ چې د دې لارې قدومي او اسماعيل ته څه ډول رسيداى شي، هغه په هماغه لوری روان شو، چې کله يې دوه ميله سفر وکړ نو هماغه ځای ته ورسيده چيرې چې دی د خپلو ملګرو سره دې خطرناک ځای ته ننوتی وُ، هغه خپلې خيمې ته ولاړ. هغه اسماعيل او قدومي دواړه په يوه خيمه کې ناست وليدل ، د هغه د څيرې رنګ بدل شو.

د حکم په څيرېې اسماعيل ته وويل: ما تاته ويلي نه وه چې ته به د خپل حيثيت په چوکات کې اوسيږې، ته د دې سره څه کار لرې چې ورسره ناست يې؟

قدومي وويل: ايا زه به پدې دښته او بيابان کې همداسې يوازې ناسته واى؟ ما هغه خپله ځان ته راغوښتې دی !

مارکوني قدومي ته وويل: ته ما يوازې د خپل ځان لپاره راوستې يې! زه تاته بدله او مزدوري درکوم، زه تا د بل چا سره ليدل نه غواړم ! پخپل کور کې سل کسان هم راغوښتلی شی خو دلته ته زما وينځه او خادمه يې !

مخکې شپه اسماعيل قدومي ته د مارکوني په هکله داسې څه ويلي وه چې د هغې په زړه کې شک پيدا شوی وُ، اوس هغې ته څرګنده شوه چې دا هسې سوداګر دی، کله چې مارکوني هغې ته خپله وينځه او خدمت کوونکې وويله نو د هغې په زړه کې کرکه ، حسد او نفرت په جوش راغی، هغه د ښه او بد انسان په توپير او فرق باندې پوه شو، حال دا چې اسماعيل هغې ته نه وُ ويلي چې زه ښه سړی يم بلکې هغه ورته ويلي وه چې زه د کرايي قاتل او وژونکی يم، قدومي مارکوني پرېښودلې هم نشو ځکه چې هغه د بدلې او مزدورۍ په اخيستلو سره راغلې وه، هغه خپله مزدوري لا

(c) ketabton.com: The Digital Library


مخکې له مارکوني څخه اخیستی او په کور کې یې ایښی وه، مارکوني د مزدورۍ څخه برسیره د هغې سره په خزانه کې د برخې ژمنه هم کړې وه، خو اوس داسې معلومیده چې مارکوني له خپلې ژمنې څخه ګرځیدونکی دی! قدومي دا ونه زغملې شول چې مارکوني د اسماعیل سره بد سلوک وکړي.

اسماعیل مارکوني ته په حیرانتیا سره کتل، هغه مارکوني له مټ څخه ونیولو او لږ لرې یې بوتللو بیا یې ورته په خپ اواز وویل : احمر درویش شاید تاته زما په هکله څه نه وي ویلي، ته ما نه پیژنې خو زه تا ښه پیژنم! ته زما د هیواد او مملکت ریښتی غوځوی، زه ډېر لوی ګونګار یم چې ستا سره په کرایه باندې راغلی یم؟ زه تا خپل پادشاه او مشر نشم منلی! زه به خپله پوره مزدوري او بدله اخلم! که خزانه راووتله نو په هغې که به هم برخه درڅخه غواړم.

مارکوني هغه ته د یو قوماندان په توګه وویل: ته به دا خبرې د آحمر درویش سره کوې ! ته دلته زما تر لاس لاندې راغلی یې، خزانه چې راوځي هغه به زما پلاس کې وي ! زه چې چیرې غواړم هغه ورلای شم.

اسماعیل د مخکې په شان په خپ اواز او مسکا سره مارکوني ته وویل: سلیمان سکندره ! زه پوهیږم چې ته مارکوني یې سلیمان سکندر نه یې، زه یو عادي مجرم یم، زه تاته وایم چې ستا سلوک او رویه به زما څخه د مجرم پر ځای یو مصري مسلمان جوړ کړي ، او دا درته هم وایم چې یو مسلمان بیا د مذهبي او دیني احساس تر اثر لاندې دومره راځي چې که هغه جذبه په مړي کې پیدا شي نو هم راپاځیږي او خپل کار کوي، ستا فایده پدې کې ده چې ما همداسې پخپل حال مجرم پریږدې او احساس مې راژوندی نکړې.

مارکوني پدې پوه شو چې اسماعیل خطرناک او پټ رازي سړی دی ، د هغه سره پدې وخت کې دښمني کول خطرناک کار دی. هغه د اسماعیل په اوږه لاس کیښوده او ورته وې ویل: ته هسې ورخطا شوې ، ما دا ویل دا ډېره چالاکه ښځه ده، دا زما او ستا په دماغو باندې سپرې نشي، زما او ستا په منځ کې اختلاف پیدا کوي او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوله خزانه ځانته وړي ! ما خپل دښمن مه بوله، احمر درویش تاته ندي ویلي چې هغه ستا په هکله څه فکر کړي!

اسماعیل د مارکوني څخه وپوښتل : ایا ته پدې باور لرې چې خزانه به پلاس درشي؟.پلاس راغلی ده! مارکوني ځواب ورکړ: زه ستاسې دواړو پسې راغلی یم!

اسماعیل په ژور نظر هغه ته کتل! قدومي هم ورته په ژور نظر کتل پیل کړل، د هغوی په څیرو باندې خفګان او ناخوښي څرګندېدله ښکاریده، مارکوني هغه ملګري ته اواز وکړ چې د آوښانو ساتلو لپاره یې ساتلي وُ.

هغه ته یې وویل چې خیمې راټولې کړي او هم ټول اوښان یو په بل پسې وتړي .

***

مارکوني، اسماعیل، قدومي، آوښان او خیمې ټول هغه ځای ته ورسول چیرې چې د هغه نور ملګري د ځنګلي خلکو سره د خزانې تر څنګ ناست وه، هلته د فرعون هدیره او قبر وُ، قدومي چې شین چمن او سموره سیمه ولیده نو ډېره حیرانه شوه، دا د یو غره په لمن کې شین او سمسوره ځای وه، د غره د لمنې څخه اوبه راخوتیدې، دا طبعي چینه وه، مارکوني د لوغ او لغړ بوډا څنګ ته ورغی، هغه د قبر او هدیرې ځای معلومول غوښتل .

قدومي د اسماعیل سره یوې او بلې خواته ګرځیده، هغې د یو کوچنی ماشوم مړی په وینو کې لت پت ولیده، هغه کوچنی مړی او په وینو کې ډوب وُ، قدومي له ویرې څخه ولړځیده، لږ مخکې چې ولاړه نو څو مړي یې یو ځای ولیدل دا د لویانو مړي وه، په هغوی کې غشي نښتي وه کله چې هغه د اسماعیل سره لږ وړاندې ولاړه نو څو نور مړي یې هم ولیدل چې په وینو کې لت پت پراته دي، په هغوی کې د څلور، پنځو ماشومانو مړي هم وه، د ټولو مړو خولې او سترګې خلاصې او په څیرو یې د غم او خفګان اثار څرګندیدل، قدومي خو د یوې حسیني او خوږې دنیا ښځه وه هغې داسې هیبت ناک او بوګنوونکې حالت په خوب کې هم نه وُ لیدلی. هغې چې کله د یو ډېر کوچنی ماشوم مړی په وینو کې لت پت ولیده نو د خولې څخه یې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


چیغه ووته- د مارکونی ملګرو چې چیغه واوریدله نو هغې لوری ته یې ورمنډه کړه، په قدومی بی سدی او بی هوشی راغلی او اسماعیل هغه په دوارو لاسونو را نیولی وه .

د مارکونی ملګرو ته وویل شول چې قدومی د مړو په لیدلو باندی چیغی کړی .

یو کس د قدومی لپاره د اوبو پسی منډه کړه، قدومی ډېر زر راپه خود شوه، هغې وپوښتل: دا وژل شوی څوک دی او ولی وژل شویدی؟

اسماعیل ته خو دا حالات هیڅ څرګند نه وه، د مارکونی ملګری هغی ته وویل چې دا خلک څوک دي او ولی وژل شویدی !

قدومی د اسماعیل په لوری وکتل! د هغه رنګ هم تک زیړ شوی ؤ.

اسماعیل وویل: زمونږ څخه دا خلک غوره وه چې د دی خزانی ساتنه یې کوله، دا لغړ او لوڅ سړی خواره د امانت ساتوونکی وه چې خپل ځان یې قربان کړ خو راز یې رسوا نکړ، که هغوی د فرعون خزانه راویستلی وای نو چا هغوی لیدل خو دوی د دی امانت ساتونکی وه او مونږ ډاکوان یو، هغوی ځنګلیان او مونږ خپل ځان پر مخ تللی ګڼو، دا ټوله د مارکونی بد مرغی ده .

زه د دی خزانی څخه هیڅ شی هم نه اخلم د کومی لپاره چې دومره بی ګناه انسانان وژل شویدی! قدومی وویل : د هغوی سره هیڅ ډول وسله نه لیدل کیږي، دا ټول بی وسلی او خالی لاس ښکاري.

پدی وخت کې مارکونی د بوډا سړی سره د یو کمر شاته تللی ؤ، بوډا هغه ته ویلی وه: پورته ولاړ شه، هلته به تاته یوه لویه ډبره ښکاره شي چې ته به پری د کمر ګمان کوی، که هغه ډبره دی لری کړه نو تاته به د فرعون د هدیری او قبر دروازه ښکاره شي چیری چې د فرعون مړی او خزانه هر څه پراته دی .

دا ډبره د کیښودلو د ورځی څخه را پدخوا تر نن ورځی پوری چا نده بی ځایه کړی ، د پنځلس پیړیو څخه راپدیخوا چا لاس هم ندی پری لګولی.

مونږ د پنځلس پیړیو څخه د دی هدیری او خزانی ساتنه کوو، زه د فرعون د مړینی پیښی داسې درته بیانولی شم لکه چې زما په وړاندی مړ شوی وی ،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کیسی ماته پلار او نیکه اورولی دي، هغه ته خپل پلار نیکه اورولی وي، پدی توګه د پنځلس پیړیو پیښې زما په سینه کې ساتلی شوی او ما خپل راتلوونکی نسل ته بیان کړی.

مارکونی په ورخطایی سره وویل : زه دا خبری بیا وروسته اوریدل غواړم! په ډبره باندی ور وخوت، د هغه پدی هیڅ باوری نه و چې ګوندی دا مخروطی ډبره به راجدا کیدای شي، هغه د یو او بل لوری څخه کتل خو هیڅ درز پکې نه معلومیده، نو بیرته لاندی راښکته شو.

زه پوهیږم چې ته پدی باور نشی کولایی چې دا ډبره دوه برخی لری! بوډا مارکونی ته وویل: پاسنی برخه چې د غره سره نښتی د غره برخه معلومیږي خو داسې نده بلکې دا د انسانی لاس کمال دی، د دی جوړښت طبعی معلومیږي خو دا انسانانو برابره کړیده، فرعون د خپلو سترګو لاندی جوړه کړی وه، د دی غره لاندی چې کومه دنیا اباده شویده هغه ټوله د فرعون تر سترګو لاندی اباده شوی. هغه د بهرنی نړی د خلکو د سترګو څخه د پټ ساتلو لپاره دا ډبره جوړه کړی، هغه کسانو چې دا ځایونه جوړ کړي وه هغه یې ټول بندیان کړل، کله چې فرعون مړ شو، د هغه تابوت یې دلته راوړ، نور ټول شیان او خزانه یې هم راوړله بیا یې خوله وریسی بنده کړه، وروسته یې وارثانو هغه ټول کسب کار خلک ووژل چې دلته یې کار کړی او په راز باندی خبر وه د مصر دولس کسان یې دلته په غارونو باندی میشته کړل او هغوی ته یې د مصر ښکلی او ښایسته نجونی ورکړی، هغوی یې د دی لپاره دلته میشته کړل چې د دی هدیری او خزانی ساتنه وکړی، زه او هغه کسان چې تاسې ووژل د دی دولس ساتونکو له نسل څخه یو.

مارکونی له بوډا څخه وپوښتل : مونږ دا ډبره لدی ځایه څه ډول لری کولایی شو؟

بوډا وویل : ستا سترګی چیری دی- ستا عقل چیری دی؟ د ډبری څوکه وګوره! ته د هغی سره رسی نشی تړلایی؟ که ستا په ملګرو کې قوت او زور وی نو رسی راکش کړی، ډبره به د خپل ځای څخه راجلا شی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تلوسه کې وُ، هغه خپل مارکونی د خزانې راویستلو ته ډېر ورخطاء او په تلوسه کې وُ، هغه خپل ملګری راوغوښتل، پرې او رسی یې راوړلی، هغه یې د ډبرې د څوکې سره کلکې وتړلی، هغه خپلو کسانو ته وویل چې په پوره زور سره پړی او رسی راکش کړی ، کله چې هغه زور ولګولو نو ډبره په ښوریدو شوه، یو ځل هغه دومره وښوریده چې لاندی خالیګاه ورڅخه ښکاره شوه، هغه خپلو ملګرو ته چیغې پیل کړی نو هغوی نور هم زور ولګولو، پدی سره ډبره له خپل ځای څخه وښوریده او روانه شوه، مارکونی خپلو ملګرو ته وویل چې لږه دمه وکړی، د لمر سترګه د تور غر شاته پټه شوه، د مارکونی سره د شرابو ذخیره وه، هغه ټولو ته شراب ورکړل او بیا یې ورته وویل دا وڅښئ او بیا دا ډبره د شکو پشان له خپل ځای څخه لرې وغورځوی .

ټول په شرابو ورپریوتل، مارکونی په جذباتی شکل وویل: زه به نن شپه دوه آوښان درته کباب کړم، لږ ځنډ وروسته شرابو د ټولو سترګیا لرې کړه او بیا کار کولو ته تیار شول .

پدی وخت کې لمر سترګه پریوتله، مشعلونه بل شول ، یو ځل بیا ټولو زور لګول پیل کړل. مارکونی پاس ولاړ وُ، هغه د مشعلونو په رڼا کې ولیدل چې لویه ډبره مخ لاندی ښویږي او روانه ده، هغه نوری چیغې هم پیل کړی چې زور زیات کړی ، ناڅاپی ډبره د خپل ځای څخه راجدا او د چاودنی په شکل له خپل ځای څخه روانه شوه، هغه ځای چې د مارکونی کسانو پړی کشکول هغه ډېر تنګ ځای وُ او شاته یې هم کمرونه او ډبری وی، ډبره په دومره چټکتیا سره لاندی ولاړه چې هیچاته د تیښتی وخت پیدا نشو، د ډبرو او کمرونو تر منځ دا دنیا یو دم د څو چیغو او نارو څخه ولړځیده او بیا سمدستی چوپه شوه، هلته ډېره روښنایی هم نه وه، مارکونی په منډه لاندی ښکته شو، د یو مشعل په رڼا کې یې ولیدل، د ډبری لاندی وینی روانی وی ، د چا لاس معلومیده، د چا پښه او د چا سر او داسې هم وه چې بدن یې د ډبری لاندی وه .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


مارکونی د چا د منډې او قدمونو اواز واوریده، فکر یې وکړل چې څوک به ژوندي پاتې وي نو یوه غونډۍ ته پورته شو ګوري چې څلور کسان ولاړ دي، یو بوډا، بل اسماعیل، دریمه قدومي او څلورم د مارکوني ملګرې چې ټول له ویرې څخه رپیدل .

مارکوني په قلاره قلاره غونډۍ ته راپورته شو، هغه څلور واړو ته وار په وار وکتل ، ټول چوپ ولاړ وه .

تر ټولو د مخه بوډا وویل : ما تاته ویلی وه چې مرګ ستا په سترګو کې ښکاري، ما خپل مسئولیت له یاده وویست او تاته مې راز څرګند کړ، زه پوهیدم چې دا د مرګ راز دی ، مرګ به زما مسئولیت پوره کوي ، ایا اوس هم بیرته تللی شې .

مارکوني په خپ اواز وویل: نه! زما دا ملګرې زما سره دی! دا به زما سره ملګرتیا کوي!

بیا یې د بوډا څخه وپوښتل: معلومیږي چې څوک وتښتیدل، هغه څوک وه؟

بوډا وویل: ستا څلور ملګرې زما د دوه ملګرو سره وتښتیدل، زما ملګرې هغوی ته د بهر تللو لاره نه په ګوته کوي، اوس به هغوی په همدی کندو کې مړه کیږي، ښه خبره دا وه چې هغوی د همدی ډبرې لاندې مړه شوي وایی، دا مرګ ورته اسانه دی ، د نن شپې لپاره دا کار بند کړه، زه به سبا سهار تا دننه بوځم .

***

مارکوني پدې مرګوني حالت او پیښې هیڅ غمجن نه ؤ ځکه هغه د خزانې په غم کې ؤ او اوس د خزانې خوله هم خلاصه شوې وه ، هغه بوډا له ځان سره په خوراک اوڅښاک کینولو او یو ځای یې ورسره خوراک اوڅښاک وکړ ، اسماعیل بوډا ته یو څادر ورکړ چې هغه په ځان باندې راتاوۍ کړې ، قدومي بالکل چوپه وه، قدومي هغه ښځې او میرمنې هم ولیدې چې مارکوني برمته کړې وې، هغوی اوس بل ځای ته وړل شوې وې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارکوني بوډا ته ووېل: تاسې زما يو سړی خوړلی وُ! د دې څخه مخکې تاسې څومره انسانان خوړلي دي؟

بوډا ووېل: څومره چې پلاس راغلي! زه پدې نه پوهېږم چې په مونږ کې د انسان غوښه خوړل د څه وخت څخه پيل شوي، ماته چې څه ويل شوي هغه د پنځلس پيړيو مخکې يوه وړاندې وينه ده چې چا ويلي وه: څوک چې د فرعون د مړي ساتنه کوي هغه به الله تعالی پخپل سره غيږ کې ساتي، هغوی به د سيوري او اوبو څخه بې برخې نشي، هغوی به د نړۍ د حرص څخه ازاد او خلاص وي، هغوی به د شرابو، ښځو، سرو او سپينو غم او انديښنه نکوي، هغوی ته به د دې اړتيا هم نه وي چې خپل ستر او عورت پټ کړي، د هغوی په زړونو کې به د يو بل مينه او محبت وي، په هغوی کې به هيڅ حرص نه وي، حرص انسان ډاکو، غل او خيانت کوونکی جوړوي ځکه هغه ځينې وخت د ښځې او ځينې وخت د مال حرص کوي، حرص د فساد ريښه ده ، د حريص انسان دين او مذهب نه وي، مونږ د دې لعنت څخه ازاد يو خو دا ويل شوي وه چې د فرعون ساتونکی به يو وخت د انسانانو غوښې هم خوري، د دې ځای څخه به د باندې وځي، انسانان به ښکار کوي ، که کوم ځناور يا ځاروی پلاس ورشي هغه به هم خوري، که دا کار ونکړي نو د دوی نسل به ختم شي .

قدومي : بوډا څخه وپوښتل ايا تاسې اوس هم فرعونيان خدايان بولی !

بوډا ووېل: انسان ډېر کمزوری دی، خپل خدای هر وخت بدلوي! ځينې وخت خپله انسان هم خپل ځان خدای بولي، اوس تاسې زما خدايان ياستی ځکه چې زما عزت او زما حيا ستاسې پلاس کې ده، ما دا راز ځکه تاسې ته درکړ چې ما تاسې خدايان وبللې، ځکه زه د مرګ او خپلو بچيانو د بې عزتۍ څخه ويرېږم، فرعون هم ستاسې پشان د خلکو په څټونو باندې د لوږې او غريبي چاره اېښې وه او خپل ځان يې خدايي بللو، انسانانو هم له مجبوريت څخه منلو، ځکه چې بې وزلي او غريبي انسان د حقيقت څخه ډېر لرې بيايي، د هغه انساني حقيقت او انسانيت مړ کيږي ، چا ته چې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله پاک اشرف المخلوقات وبلی وه هغه ورڅخه ختم او یوازې کالبد او اسکلیټ پاتې شی، کله چې د هغه ګیډه په لمبوشی نو بیا د هر کس او ناکس په وړاندې سجدې لګوی ، د انسان همدې بد مرغی پادشاهان پیدا کړل، ډاکوان او غله یې پیدا کړل، انسان یې حاکم او محکوم، ظالم او مظلوم وګرځولو.

وایې چې لوړې انسان د بدې سره بلد او اشنا کړ، دا خبره غلطه ده، انسانان زرو بد کاری کړل ، تاسې څوک یاستی او څه یې؟

بوډا ته څرګنده شوې وه چې قدومی د قاهرې نامتو نڅاکوونکې ده بیا یې له قدومی څخه وپوښتل: ته د چا میرمن یې؟ ته پدې کې کوم یو ته خپل خاوند وایې؟

قدومی د بوډا د پوښتنې څخه اندیښمنه شوه ځکه هغه لا له مخکې څخه اندیښمنه وه، د بوډا پوښتنې د هغې څخه خولې روانې کړې، بوډا چې کله هغه چوپه ولیده نو وی ویل: ته د خپل ښایست او ځوانۍ په سبب ځان خدای بولې، او ستا غوښتونکي هم تا خدای ګڼي، ما ځنګلي او وحشي مه ګڼه ! زما سره جامې شته چې زه یې کله اغوندم او بیا قاهرې ته ځم، ستاسې پر مختللي دنیا ګورم، چې کله بیرته راشم نو خپلې جامې وباسم، ما ستاسې په دنیا کې شهزادګیانې لیدلې چې په بګیو کې سپرې ګرځې، ستا پشان شهزادګیانې نڅاکوونکې او سندر غاړې لیدلې دي، هغه مې هم لیدلې چې نجونې نڅوي، ما د فرعونیانو د وخت کیسې او پیښې اوریدلې دي، او دننۍ وخت فرعونیان مې هم لیدلې دي، د هغوی ټولو پای او آخرمې هم لیدلی دی، ستا پای او آخر هم ګورم چې تاته اوس نه ښکاري، تاسې د خزانې په حرص کې دومره بې ګناه انسانان په وینو لت پت کړل، د دې ګناه د سزا څخه به بچ پاتې نشې، فرعون هم بچ نه وُ پاتې شوی، سبا سهار به تاسې دننه دنیا ته بوځم، د هغوی پای وګورې، که هغوی خدایان وایې نو پای او آخر به یې داسې نه وای ، الله تعالی هغه ذات دی چې دوی ټول یې دی ځای ته ورسول، ما هیڅکله هغه څوک په ربوبیت باندې ندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



منلی څوک چې د ځاورو لاندې د هډوکو په شکل پروت دی، مونږ د دی هدیرې او قبر ساتنه نه کوو بلکې د دنیا د حرص څخه د ځان ساتنې په خاطر مو یوه عقیده منلی ده چې د هغې ساتنه او حفاظت کوو.

بوډا بندی بندی خبری کولې، قدومی هغه ته کتل او د بوډا په خبرو کې ورته خپل پای او آخر ښکاریده، مارکونی مسکی مسکی کیده، هغه شراب څښل، هغه بوډا ته وویل: ته خپلو ښځو ته ولاړ شه، سهار وختی راپورته شه، مونږ دننه ننوتل غواړو!

بوډا ولاړ نو مارکونی قدومی ته وویل : راځی چې اوس مونږ او تاسې هم ویده شو.

قدومی مارکونی ته وویل: زه نوره ستا سره نه ځم!

مارکونی ورمنډه کړه نو قدومی په شا ولاړه، مارکونی هغې ته اخطار او ګوت څنډنه ورکړه، اسماعیل د مارکونی مخې ته ودریده، هغه څه ونه ویل خو د مارکونی په سترګو کې یې سترګې واچولې نو مارکونی پشا ولاړ، کله چې مارکونی ولاړ نو قدومی د اسماعیل په سینه سر کیښوده او د کوچنیانو پشان یې وژړل .

***

سبا سهار مارکونی بوډا ولټولو، د بوډا هیڅ درک نه ؤ، هغه ښځې ولټولې، هغوی هم نه وی، هغوی ته یې اوازونه او چیغې وکړې، یوی او هیڅ‌چاته اړتیا نلرله ځکه د هدیرې خوله خلاصه شوی وه، که بوډا هلته وی هم نو څه ګټه یې ځکه نه وه چې د هدیرې د داخل څخه هغه هم خبر نه ؤ.

بیا هغې دبرې ته پورته شول چېرې چې د هدیرې خوله راخلاصه شوی وه، مارکونی اسماعیل ، قدومی او خپل ملګری د ځان سره یو ځای کړل او لومړی مارکونی ښکته شو ځکه هلته کنده وه چې په تونل بدله شوی وه. هغوی د ځان سره مشعلونه اخیستی وه ځکه چې په داخل کې تیاره وه، چې کله وړاندی ولاړل نو تونل بند ؤ، مارکونی په مار تور باندی هغه ځای په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


زور سره ووهلو معلومه شوه چې د دې ځای شا خالي وه، دا د ډبرې دروازه وه، کله چې يې هغه ډبره ښه ووهله نو خاليګاه پکې پيدا شوه، کله چې هغوی ښه زور پرې واچولو نو د چاودنې په شکل يې اواز وکړ او په شا ولويده چې د هغې د لويدو په سبب په تونل کې د زلزلې په شان جټکې راپيدا شوې، د دروازې د خلاصيدو سره سم د هديرې څخه د بد بوی داسې څپه راغله چې ټول شاته راوټښتيدل، خپلې خولې او پوزې يې بندې او ټوکران يې ورڅخه تاو کړل، لږ ځنډ وروسته د مشعلونو سره يو ځای تونل او بيا هديرې ته ننوتل، د دروازې څخه وروسته د زينې پټه پاڼې ښکته شوې وې.

په زينه باندې د انسانانو هډوکي او کوپړې پرتې وې، د هډوکو په خوا کې تورې، برچې او ډالونه هم پراته وه، دا د پيره کوونکو هډوکي وه، هغوی يې په ژوندانه باندې د دروازه پيرې ته ودرولې او بيا يې ورپسې د تونل خوله بنده کړې وه، د زينو څخه وروسته هغوی لويې خونې ته ښکته شول، خونه د غره په تل کې کيندل او تراشل شوې وه، داسې معلوميده لکه چې اوس جوړه شوې وي، هلته يوه ښکلې کشتۍ هم اينبودل شوې وه چې بادبان يې نغښتل شوی و، په کشتۍ کې هم د انسانانو هډوکي او کوپړۍ پرتې وې، دا د کښتۍ وانانو هډوکي او کوپړۍ وې، يوه بله تياره لاره بلې خونې ته تللې وه چې هلته يوه ډېره ښکلې او سينګار شوې بګۍ ولاړه وه، د دې بګۍ په مخکې د اتو آسونو هډوکي او کوپړۍ پرتې وې، د بګۍ په سيټ باندې د يو انسان هډوکي او د سر کوپړې پرته وه، پدې خونه کې د څو نورو انسانانو هډوکي او کوپړۍ هم پرتې وې، د دې څخه مخکې يوه بله خونه وه چې هغه د ماڼۍ او قصر په شان جوړه شوې وه، چت يې لوړ او په ديوالونو باندې قيمتي ډبرې لګول شوې وې - د يو ديوال سره زينه او په هغې باندې د ډبرې څوکۍ اينبودل شوې وه چې په څوکۍ باندې د فرعون ډبرين بت ناست و.

په زينو باندې د انسانانو هډوکي او کوپړې پرتې وې، قدومي د يوې کوپړۍ سره د سرو زرو او قيمتي ډبرو اميل او هار وليده چې په هغې کې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی، د څو نورو
یو شین غمی لګیدلی وُ، غوږوالۍ او ګوتی هم پرتی
هډوکو سره هم کانۍ او امیلونه پراته وه، مارکونی یو امیل او هار راپورته
کړ، د یو نیم زر کلنو په تیریدو سره بیا هم د دی هار او امیل ځلا هماغسی
برښیدله، د مشعل په رڼا کې هغې رنګا رنګ وړانګی غورځولی.

مارکونی امیل د قدومی په غاړه کې اچولو چې هغې چیغی کړی او د
اسماعیل شاته پټه شوه، مارکونی په کړس کړس وخندل او وی ویل: ما
درته ویلی وه چې زه ستا ښځه د مصر نامتو ملکه قلو پطره جوړوم، ویریږه
مه قدومی! دا ټول امیلونه ستا دی.

قدومی په لړزیدلی اواز سره وویل: نه! ما پدی هډوکو او کوپړیو کې خپل
پای او آخر ولیده، دا هم زما پشان وی، دا د هغه خدای محبوبه وه چې اوس
یې هډوکی پراته دی، ما د هغوی اخر او پای ولیده، هغوی کبر او غرور
خدایان ګرځولی وه، اوس ما خپل الله ولیدلو! هغه دومره ویریدلی وه چې
اسماعیل یې راکش کولو او هغه ته یې ویل: ما د دی ځای ځخه وباسه! ما
زر تر زره وباسه! زه د هډوکو پنجره یم.

د قدومی په غاړه کې هم امیل وه، هغه یې د غاړی ځخه راوویست او په
هډوکی یې ور وویشت، د ګوتو ځخه یې قیمتی ګوتی راوویستی او په
هډوکی یې ورغورځولی او بیا یې چیغی کړی: ما خپل پای او آخر ولیده،
ما خپل الله ولیده، ما د دی ځای ځخه وباسی.

مارکونی یوی بلی خونی ته ولاړ، اسماعیل قدومی ته وویل: په سد شه
که زه او ته لدی ځایه ولاړو نو دا ټوله خزانه به دا دوه صلیبیان یوسی،
اسماعیل یوه بله لاره ولیده، مشعل د هغه پلاس کې وه، هغه قدومی
یوه چوتره باندی تابوت اینبی وه، ځیره یې لوځه وه، دا د دویم ریمنیس
هماغه لوری ته بوتلله چې هغه ډیره پراخه خونه وه، د خونی په منځ کې په
فرعون مړی وُ چې خلکو به د هغه په وړاندی سجدی کولی، مړی مو میایی
شوی وه، ځیره یې بالکل روغه پاتی وه، سترګی یې خلاصی وی، اسماعیل
د هغه ځیری ته تر ډیره پوری کتل، قدومی هم ورته کتل، بیا دواړو یو بل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته وکتل ، هغوی چې یوی او بلی خواته وکتل نو د هر ډول هډوکی پراته وه، هلته ښکلی او ښایسته بکسونه هم ایښودل شوی وه، د یو بکس کُنډه خلاصه وه، اسماعیل چې بکس خلاص کړ نو د سرو زرو او قیمتی ملغلرو څخه ډک و، په هغه باندی د انسان هډوکی پراته وه، د بکس په خوا کې هډوکی او کوپړه هم پرتی وی .

اسماعیل وویل : آه انسانه ! د مرګ څخه مخکې مخکې دی انسان د دی سرو زرو او قیمتی ملغلرو د پورته کولو کوښښ کړی و، هغه فکر کاوه چې د دی ځای څخه به ژوندی ووځی، خو د نفس بندیدو په سبب همدلته د خزانی په خوا کې مړ شو، بوډا ریښتیا ویلی وه چې د انسان دښمن لوږه نه بلکې حرص دی .

اسماعیل بکس ته لاس کړ او بیا یې قدومی ته وویل: ته هم د دی شیانو په حرص او هیله دلته راغلی وی واخله چې څه تاته هم درکړم!

قدومی د هغه لاس ونیوه او وی ویل:اسماعیل! زما حرص او هیله مړه شوی، اوس قدومی مړه وشمیره .

اسماعیل بیا پـه بکس کې لاس ښکته کړ نو قدومی پری چیغه کړه ! ځان ساته اسماعیل!

اسماعیل هم استاذ و، هغه یو لوری ته ځان وغورځولو، او بیا سمدستی راپورته شو، ګوری چې مارکونی توره پلاس په هغه حمله کوي، د مارکونی توره په بکس ولګیده او بیا یې چیغه کړه: دا خزانه زما ده !

پدی وخت کې د مارکونی صلیبی ملګری هم را ورسیده، د اسماعیل سره خنجر و چې هغه پری د توری مقابله نشوه کولایی، قدومی هلته نژدی یوه برچه ولیده، مارکونی په اسماعیل باندی ګذار کولو او هغه په مشعل باندی منع کولو، د مارکونی صلیبی ملګری هم په اسماعیل باندی حمله پیل کړه، دواړو صلیبیانو چې کله خزانه ولیده نو لیونیان شول، قدومی ته د هغوی دواړو پام نه و چې هغه څه کوی، کله چې د مارکونی شا قدومی ته واوښته نو هغې پری په پوره قوت او زور سره د برچې وار وکړ، بیا یې برچه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


راوویستله او بیا یې پرې ووهلو چې پدې سره مارکونې وغورځیده، د مارکونې صلیبي ملګرې پاتې شو هغه په قدومي باندې د تورې وار کولو چې اسماعیل په خپل خنجر د هغه ګیډه څیرې کړه .

قدومي چې په خزانه کې د برخې اخیستلو لپاره تللی وه اوس یې خپل امیل، قیمتي ګوتې، غوږوالۍ او هر څه هلته وغورځول او د اسماعیل سره یو ځای د فرعون د هدیرې څخه د باندې راووتل. اسماعیل چې کله د هدیرې د دروازې څخه راوتلو نو بل شوی مشعل یې هلته وغورځولو او راووت، په قدومي چې کله د باندې تازه هوا ولګیده نو اسماعیل ته یې وویل: مونږ د کوم ځای څخه راغلي یو؟ ایا ته ما پیژنې؟ زه څوک یم؟

اسماعیل وویل : زه هم همداسې احساسوم! شاید مونږ خپله تول ګناه دننه غورځولې وي ؟

د دې سیمې څخه د وتلو لاره دواړو ته معلومه وه، هغوی د باندې راووتل د باندې یوازې څو اوښان ولاړ وه د نورو درک نه لګیده، هغوی په دوه اوښانو باندې سپاره شول او د قاهرې په لورې ولاړل .

***

راتلوونکې شپه نیمه تیره شوې وه، غیاث بلبیس د قدومي او اسماعیل تول کیسه د لومړي سر څخه تر اخره پورې واوریدله او بیا یې سوړ اوسیلی شوې څکه هغه ویلي وه چې تاسې د دې خزانو څخه ځانونه لرې وساتې !

غیاث بلبیس د امنیه عمومي قوماندان وُ، اسماعیل او قدومي دواړو هغه پوره پیژندلو، هغوی اوس د خپلو کړو ګناهونو کفاره اداء کوله، هغوی چې کله د دښتې څخه راغلل نو د احمر درویش پر ځای غیاث ته ورغلل ، هغه ته یې تول کیسه بیان کړه، او دا یې هم ورته وویل چې د دې تول کار پلان جوړونکی احمر درویش دی .

غیاث بلبیس سمدستي علي بن سفیان راوغوښت هغه ته یې هم دا کیسه وکړه، احمر درویش څه عادي سړی نه وُ ، هغوی دواړو سلطان

ویې ویل: ماته د سلطان صلاح الدین ایوبي خبرې رېښتنې ښکاره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلاح الدین ایوبی راوپښن کړ او اجازه یې ورځخه وغوښتله چې احمر درویش ونیسي، هغوی ته اجازه وشوه، هغوی د پوخ ځخه ځه کسان راخیستل او د احمر درویش کور یې تالا شي کړ، هلته هغه کاغذونه پیدا شول چې د دفتر ځخه مخکې ورک شوی وه.

سهار د علی بن سفیان او غیاث بلبیس په مشری کې د پوځ یو ګروپ غازیان د فرعون د هدیرې په لورې ولاړل. سلطان صلاح الدین ایوبی هغوی نه ویلی وه چې هدیره د پخوا پشان بیرته بنده کړي، هیڅوک هم دننه مه پرېږدي، اسماعیل ورته لاربنودنه کوله، هلته چې ورسیدل نو د وینی کیسه او داستان معلومیده، هغوی د پوځیانو په مرسته د تونل خوله د پخوا پشان بنده کړه، رالویدلی ډبره په زور سره بیا خپل ځای ته ورسول شوه او هلته کېښودل شوه، یو ځل بیا فرعون د خلکو د سترګو ځخه پناه شو.

سبحانک اللهم وبحمدک اشهدان لا اله الا انت استغفرک او اتوب الیک

❀❀❀

❀❀

❀

خُبیب "احمد"

عبدالرحمن "نوری"

1398/11/13

- محترمو لوستونکو! ددی کتاب دریم ټوک د چاپ لاندی دی.

BCS = 4th 5

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مذهب او تمـــدن

لیکوال : سید ابوالحسن علــی " ندوی "

ژباړن : سید فضل مـــــــولا " لتون "

* * *

## عیسایت یعنی څه ؟

لیکـوال : علامه محمد تقي "عثماني "

ژبـاړن : حافظ محمد شریف " راشد

* * *

## د صحابو د ژوند پلوشی

لیکوال : دکتور رافت الباشـــا

ژبـاړن : محمـد گلاب " بشـار"

* * *

## اسان فقه [ د مذاهبو په رڼا کې ]

لیکوال : مولانا عاصم الحـداد

ژباړن : مولانا خلیل

* * *

## پرده

لیکوال : سید ابوالاعلی " مودودی "

ژبـاړن : قریب الـــرحمن " سعید "

* * *

## اسلامی سیاست

لیکوال : مولانا گوهر رحمان

ژبـاړن : قریب الـــرحمن " سعید

* * *

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library




د پیغام خپرندوی مرکز

Scanned by CamScanner

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library